
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

PROPERTY OF
ACKU
10838

افغانستان

دتاريخ په رنا کې

ليکوال
استاد احمد علي کهزاد

ژباړن
اورنګزيب ارشاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانش خپرندویه ټولنه
+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳: [redacted]

کتاب پېژندنه

نوم: افغانستان د تاریخ په رڼا کې

لیکوال: استاد احمدعلي کهزاد

ژباړن: اورنګزیب ارشاد

خپرونکی: دانش خپرندویه ټولنه

چاپ نېټه: مارچ ۲۰۰۱، کب ۱۳۷۹

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز: جاویداحمد هميم - کفایت الله جواد

چاپ ځای او کمپوز: دانش کتابتون - ډهکی نعلبندی
قصه خوانی - پېښور

تېلیفون: ۲۵۶۴۵۱۳

E-mail: danish2k2000@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم

د خپرندوی یادښت

خوښ یو چې یو ځل بیا د ګران افغانستان د یوه نومیالي تاریخپوه (ښاغلي علي احمد کهزاد) د څو کاله پخوانۍ پوهنیزې هڅې (افغانستان در پرتو تاریخ) پښتو ژباړه (افغانستان د تاریخ په رڼا کې) ترچاپ وروسته خپروو او تاسې خوږو مینه والو ته یې وړاندې کوو.

دا غوره او ارزښتمنه هڅه د پښتو لیکوال و ژباړن ښاغلي اورنګزیب ارشاد په قلم سرته ورسېده چې په خپل وار د پښتو ژبې او کلتور د ودې او پراختیا په برخه کې یو ګټور کار ګڼل کېږي.

موږ د دغه کتاب ښاغلي ژباړن ته پر کورودانې ویلو سربېره د نورو ښو هڅو او بریالیتوبونو هیله ورته کوو او له ښاغلي تاج الدین عاجز نه هم مننه کوو چې د متن په بیا کتنه کې یې خپل هر اړخیز زیار وګاله.

په پای کې هیله من یو چې د دغه نوي ګام اوچتېدا تر ډېره د درنو لوستونکیو لوست تنده ماته کړي او په خپل وار سره مو د ژمولۍ فرهنګي بڼ یو نوی غاټول شي.

PROPERTY OF ACKU

مننه

دانش خپرندویه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بڑلیک

	کڼه سړليک	مخکڼه
۱.	قره کمر	۱
۲.	هزارسم	۵
۳.	هيرمند اوارغنداو سيمه	۸
۴.	منډيڪ	۱۲
۵.	منډيڪ	۱۵
۶.	پنجوايي	۱۹
۷.	شمشېر غار	۲۲
۸.	آريايي کور	۲۶
۹.	ويدي سندرې او افغانستان	۲۹
۱۰.	آريا اويجه	۳۲
۱۱.	سوما- يا- هوما	۳۵
۱۲.	دميني يوه لرغوني تاريخي کيسه	۳۸
۱۳.	دافغانستان موسيقي	۴۱
۱۴.	پاراداتا يا پيشداديان	۴۵
۱۵.	ياما دطالع دلمر زوی	۴۸
۱۶.	ريبنې، اريايي روحاني حکيمان اوشاعران	۵۱
۱۷.	زردښت او دبلخ داسپه کورنۍ سره	۵۴
۱۸.	زراتشترا، سپين تمان اوبلخ	۵۷
۱۹.	کاتا - کاث ياس	۶۱
۲۰.	داوېستا دنظره دافغانستان د خاورې لرغونتوب	۶۳
۲۱.	په اوېستا کې دغرونه يادونه	۶۶
۲۲.	دسکندر دتېريدلو لار	۷۰
۲۳.	په افغانستان کې دسکندر دتلو لار	۷۳
۲۴.	په اسيا کې ديوناني هڅوب دمرکزيت له نظره	۷۶

۲۵.	دافغانستان نجیبه طبقه اریاسپه یااسواران	۷۹
۲۶.	دسکندر مقدوني په مقابل کې مقاومت	۸۲
۲۷.	سکندر په عامیانه داستانونو کې	۸۵
۲۸.	دسکندر او جنګیز دلښکرو په مقابل کې د..	۸۷
۲۹.	دهریرود په سیمه کې دسکندریې ښار	۹۰
۳۰.	سکندري سار یا سکندري کلاه	۹۴
۳۱.	اویوتیدم باختري یوناني پاچا	۹۷
۳۲.	دکاپیسې ـ باګرام دښارپه پلان کې دیوناني	۱۰۰
۳۳.	پروان یاجبل السرج کې دقفقاز سکندریه	۱۰۳
۳۴.	په افغانستان کې یوناني میتولوژي	۱۰۶
۳۵.	په پخواني افغانستان کې دیوناني لیك دود رواج	۱۰۹
۳۶.	په افغانستان کې یوناني لویي سکې	۱۱۱
۳۷.	مرکزي اسیا او چین ته دافغانستان دګریك او....	۱۱۴
۳۸.	په لرغوني افغانستان کې دموسیقۍ دري آلې	۱۱۷
۳۹.	په لغمان اوکندهار کې داشوکا ډبرلیکونه	۱۲۰
۴۰.	په کندهار کې داشوکا د ډبرلیك کشف	۱۲۴
۴۱.	په افغانستان کې دبودیزم خپریدل	۱۲۸
۴۲.	شابهار	۱۳۱
۴۳.	په افغانستان کې بودایي مبلغین	۱۳۴
۴۴.	کوشانیان دافغانستان په تاریخ کې	۱۳۷
۴۵.	کجولوکدفیزس	۱۴۰
۴۶.	کنیشکا تاریخي پاچا او امپراطور	۱۴۳
۴۷.	سور کوتل	۱۴۶
۴۸.	هخامنشیان او دتاریخ پرمخ دافغانستان خاوري	۱۴۹
۴۹.	بغلان	۱۵۲
۵۰.	دبغلان ارزښت دلرغون پیژندنې له نظره	۱۵۵
۵۱.	سره کوتل نړیوال هنري باختر مقام تثبیت کړ	۱۵۸
۵۲.	دکنیشکا عبادت ځای	۱۶۱
۵۳.	دکنیشکا مجسمه	۱۶۴
۵۴.	هغه استوپه چې بنسټګر یې کنیشکا دی	۱۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۵	ديوناني اوباختري هنري مکتب يوناني او	۱۷۱
۵۶	افغانستان دګريك اوبوديك مجسمه توږني مکتب	۱۷۴
۵۷	دسره کوتل کتيبې پر پر ډبرينو خښتو يوناني توري	۱۷۸
۵۸	افغانستان دروحانيونو له خوا په چين کې	۱۸۱
۵۹	خروشتي ليك دود	۱۸۴
۶۰	بلخ کوچنی شاهي بنار (شاه وران) يا (راجاګريه)	۱۸۸
۶۱	نوبهار معبد (عبادت ځاي) يا- ناواويهارا	۱۹۱
۶۲	دبلخ نوبهار يا ناواويهارا	۱۹۴
۶۳	دوريښمو لار اودهغې په اوږدو کې دافغانستان ...	۱۹۷
۶۴	اياتکارزريران يا ددقيقي بلخي دشاهنامې منبع	۱۹۹
۶۵	نيسا	۲۰۲
۶۶	ساکيان، سکستان، سجستا، سيستان	۲۰۵
۶۷	تخار ـ تخاري ـ تخارستان	۲۰۹
۶۸	کاپيسي ـ بګرام	۲۱۳
۶۹	دکاپيسنا بنار	۲۱۷
۷۰	دکاپيسې وروستۍ ورځې	۲۲۰
۷۱	(سريکه اويهارا) معبد يا(شالوکيا) اوياهم ...	۲۲۳
۷۲	په بکتريان کې ناهيده اودهغې (عبادت ځای)	۲۲۶
۷۳	وارا	۲۲۹
۷۴	د "زراسپه" يا "آزر اسپه" بنار	۲۳۲
۷۵	تخاري ژبه دباختر اوتخارستان دخلکو آرنۍ ژبه	۲۳۵
۷۶	باختري يابلخي ژبه اودسره کوتل دډبرليك	۲۳۸
۷۷	کابل اودتاريخ په دورو کې يې پخواني نومونه	۲۴۲
۷۸	بودايي کابل	۲۴۵
۷۹	دکابل شاوخوا بودايي پاتې شوې ودانۍ	۲۴۸
۸۰	کابلي رتبيل شاهان	۲۵۱
۸۱	برهمني واکمني ياهند او کابلي شاهي	۲۵۵
۸۲	دکابل پخواني ديوالونه	۲۵۸
۸۳	دکابل لمنو کې دابادیو پراخوالي ستراتيژې	۲۶۲
۸۴	دچکړې منار	۲۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۵.	خم زرګر	۲۶۸
۸۶.	جبل السراج (دهندوکش ور)	۲۷۲
۸۷.	دلوګر تاريخي او جغرافايي موقف	۲۷۵
۸۸.	استوپه يا توپ	۲۷۸
۸۹.	توپ دره	۲۸۱
۹۰.	بامیان دسیاحت او نړۍ ګرځیدنې له نظره	۲۸۴
۹۱.	صلصال و شاه مامه	۲۸۷
۹۲.	دسرخ در اژدها	۲۹۱
۹۳.	دبامیانو زمریان یا شاه شکاري	۲۹۳
۹۴.	دبامیانو د((جي)) په سمځه کې یوبودایي کتابتون	۲۹۷
۹۵.	دککرك تنګی "لس متری مجسمه"	۳۰۱
۹۶.	ضحاك بنبار	۳۰۴
۹۷.	په پخواني افغانستان کې دلمر پرست دقانون سوابق	۳۰۷
۹۸.	مرنجان غوندۍ دکابل دښار په منځ کې یوه	۳۱۳
۹۹.	دتپه مرنجان بودایي معبد او هغه نتایج چې	۳۱۶
۱۰۰.	یعقوب لیث صغاري اودکابل زرین اوسیمین بتان	۳۲۰
۱۰۱.	پایتاوه	۳۲۳
۱۰۲.	میرزکه اومسکو کاتو مجموعه یې	۳۲۶
۱۰۳.	سجاوند او شهرت یې په اسلامي دور و او	۳۳۰
۱۰۴.	دسکاوند بت خانه	۳۳۳
۱۰۵.	د ارزګان ډبرلیك	۳۳۷
۱۰۶.	سمنګان	۳۴۰
۱۰۷.	دهندوکش تهذیب	۳۴۴
۱۰۸.	پخوانی نورستان دقانون له نظره	۳۴۷
۱۰۹.	تور پوشان نورستاني او امیر تیمور کورګان	۳۵۱
۱۱۰.	دپخواني نورستان دخلکو دخدایانو ډولونه	۳۵۵
۱۱۱.	ننګرهار او ځینې پخواني بنارونه یې	۳۵۸
۱۱۲.	دچغان غوندۍ	۳۶۱

پای

د

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 10838

قره کمر

په جګو سیمو کې دسمځمښتو د ژوندانه بهیر

دلرغونیو ډبرینو پېرونو دژوندانه لومړنۍ منځۍ هغه پړاو رابنیي چې پوهان یې پۀ جګو سمځو کې دبشري ژوندانه پېر بولي.

په جګو سمځو کې د ژوند کولو له پاره دلوړو غرونو لمنو ته اړتیا ده. زمور دهېواد جغرافیایي چاپېریال رابنیي چې هاغه مهال انسان د غرونو په لمنو او کمرو کې بنه استوګنځي لرل. په تېره بیا دهندوکش شمالي لمنې چې له ارتو درو او ناوو سره نښتې وي، ددا راز ژوند له پاره خورا ور بنکارېدې.

په افغانستان کې ((قره کمر)) په لوړو ځایونو کې د غار اوسېدونکیو د ژوند څرګندویي کوي او هغه چا چې پر دغه غار دځېرنې زیار ګاللی امریکایي "داکتر کارلتن کون" دی، چې له تاریخ نه په وړاندې دوره کې تخصص لري.

قره کمر د ایبک (سمنګان) په (۸) کیلومتری کې د پلخمري او تاشقرغان ترمنځ د هغه کلي ترڅنګ پروت دی، چې د (سرکار) په نامه یادېږي او د هغه غره د لمنې په جنوب ختیزه برخه کې واقع دی، چې پر نومورې کلي شمالي څنډې (ایبک) حاکم دی.

د دغه غار لوړوالی د سیند له سطحې څخه (۲۳۰۰) فټه او له بنېرازې سیمې څخه (۴۵۰) فټه دی، چې لږ تر لږه ۱۲۵ متره کیږي.

په دې ترتیب د غار د لوړوالي او د ښبرازې سیمې له مخې په اسانۍ سره کولای شو، چې د هغې د اشغال تاریخ په لوړو غارونو ژوند کولو، په هغه ردیف کې ولولو.

د غرونو په لوړو او اوچتو برخو کې د هغوی د اوسیدلوعلت له دارونکیو حیواناتو څخه ویره، هواره سیمه تر نظر لاندې نیول و دښکار څارل و تعقیبول وو.

داکتر کون د قره کمر د غار په پراخه پیمانه تر نظر لاندې نیولو په اړه وایي: "له هغه ځایه یې ترڅو میلو پورې پلنه دره لیده او د ښکاریانو لپاره ډېر مساعد ځای ځکه و، چې خپل ښکار به یې ترلې پورې ښه لیدلای او څارلای شو.

د غار مخه د جنوب په لور ده او ټوله ورځ د لمر په وړانګو روښانه او تودېږي. همدارنګه اوبه یې هم نژدې دي او حیوانات یې ډېرلږ شاوخوا کې ټک راټک کوي، پرته له دې ګټو او ښېګڼو په پخوانۍ زمانه کې، چې دا غار د ژوند ځای و د سون مواد یې هم په شاوخوا کې ډېر پیدا کېدل.

د غره د ډبرو جوړښت له نرمو کانو شوي او د ځمکنۍ پوړیز جوړښت په (ژورسیک) طبقې پورې اړه لري.

د امریکایي پوه له څېړنو څخه داسې څرګندېږي، چې د قره کمر غار د "نیمې کاسې" بڼه لري. د غار ځمکه په بېلا بېلو یوښونو پوښل شوی و، چې ډېر ژور یې نسواري رنګ درلود او په مخ باندې یې تقریباً درې د رسوبي پوړونه لیدل کېدل او اوس د دې طبقو مخ خړ رنګه خټو نیولی دی، همدارنګه په نومورې غار کې د اوسپنې په دوره کې هم استوګنه شوې او د قره کمر اوسېدونکیو په دې دورو کې د اوزو رمې درلودې او د رمو په ساتنه او شپونتوب بوخت وو او د دیوالو هغه برخې، چې تراشل شوي او ځینې پرچې تربڼه پربوتي پورته خبره تائید وي.

د قره کمر د غار د خاورې په ټولو طبقو کې د ژوند او ژواک نښې ننبانې ښکاري د حیواناتو هډوکي او له ټېرو نه د کار جوړې شوې وسیلې یې هم څرګندې وې، نو کولای شو دا ادعا وکړو، چې نومورۍ غار په لرغوني زمانه یا د تېرو د دورې په اوږدو کې د اوسېدلو یو مصئون او خوندي ځای و، مګر د تېرې د نوې دورې څه نښې ننبانې پکې نه شته.

د قره کمر په غار کې د ژوند د دغو دورو تشخیص د هر ارزښت لري، ځکه چې په ځانګړې توګه د تیږو لرغونې دورې پورې اړه لري او اوس په افغانستان کې دغه یواځینی ځای دی، چې د غرو په لوړو غارونو کې د تیږې د پخوانۍ دورې د ژوند پراوونه موږ ته راپېژني.

د ((ډاکتر کارلټن کون)) د څېړنو له مخې موندل شوي اثار دکار له وسیلې، اور لګونکې ډبرې، د حیواناتو هډوکي، ایره او سکرو څخه عبارت دي، د دغوله مخې کولای شو په نومورې غار کې د ژوند څلور دورې وټاکو. دا ښکاره ده، چې پناه ورونکي او د غار د څلورو دورو اوسېدونکي ښکاریان وو.

د قره کمر د لومړۍ دورې اوسېدونکیو، چې د ژوند اثار او ښښې یې د ځمکې په نسواري رنګه پوړ کې پیدا شوي د تیږو ډبر ابتدایي لوښي درلودل، چې طبیعي بڼې ته یې لاس نه دی ورورړل شوی او دې ډول بېلګو ته په اروپا، امریکا او اسیا کې په معموله علمي اصطلاح ((ډموستېرین)) د دورې د کار وسیلې وایي او د (نه اندرتال) تیپ دانسانانو له وسایلو سره اړه پیدا کوي دغه وسیلې د قره کمر په شاوخوا د غره په لمنو کې هم لیدل شوي دي او له امکانه لرې نه ده، چې یا د قره کمر اوسېدونکیو هلته اچولي وي او یا د غار تر اوسېدلو د وړاندې دورو یادګار وي.

د قره کمر د غاراوسېدونکیود خپل ژوند په دویم پړاو کې، چې د دوی د ژوند دریمه برخه څرګندوي ډېرین چاقوګان ډېر زیات درلودل، چې د غار لومړۍ طبقې د رسوباتو په نیم متر ژورتیا کې یې څو زر. دانې، لیدل شوي دي، په دې مرحله کې په ښکار کې ډېر ماهر شوي او د باکر په ډېره یې د اور بلول زده کړي وو او خپل غار یې په اور تودولو. د هغوی لوښو لا تر دا وخته طبیعي بڼه درلوده او له درنو اوربلوونکیو ډبرو(پندوباکر) او تېرو ډبرو څخه یې کار اخیسته.

د قره کمر د غار د دریمې دورې داوسېدونکیود ژوند سویې له دویمې دورې سره زیات توپیر نه درلود. دتیږود وسیلو په وروستنۍ دوره کې د تیږو د منځنۍ دورې (مزدلې تیک) د وسیلو سره ورته والی لیدلی شوی دی، سره له دې چې د غار د رسوباتو ښکتنې پوښ کې د خاورینو کلالې لوښو ټوټې او کودړې لیدل شوي، خو آرتي لامل یې دادی، چې د قره کمر په غار کې د ژوند ابتدایي دورې (له باکري تیږو څخه د کار وسیلې

جوړول، د حساب لـه مخـې د لرغونـي زمـانې لـه لـورې پـراو سـره سـمون خـوري او د اوسـني وخـت د تجزيـې د سـنجش لـه مخـې، چـې د (۱۴ نمـبر کـاربن) د غـار د سـکرو پـرچـې چـې پـه فيـلاد لفيـا او شـيـکاګو کـې پـيدا شـوي. د غـار ډېره پخوانـی هسـتوګنه، لـه نـن څخـه دمخـه ۵۰ او ۳۰ زره کالـه وړانـدې زمانـه څرګندوي او څرنګه، چـې د غـار د ښکتنـی برخـې د ځينـو پخوانيـو سـکرو د توتې د کيميـاوي تجزيـې لـه مخـې (۱۰۵۸۰) کالـه وړانـدې زمـاني سـره پرتلـه کيـږي، کولـی شـو ووايـو، چـې لـه نـن څخـه (۱۰۰۰۰) کالـه وړانـدې ښکاريـانو پـه قـره کمـر کـې ژونـد ژواك درلـود پـه افغانسـتان کـې د ۱۴ نمـبر کـاربن تجزيـه د تيـرو پخوانيـو، منځنيـو او نويـو دورو سـره ښه موافقـت څرګنـدوي، ځکه چـې د لـس زره کالـو په شـاوخوا کـې د لويديـزې اسـيا پـه زيـاترو برخـو کـې پـه غـارونو کـې د ژونـد دوره پـای تـه رسـېدلې او د تيـرو نـوې دوره پيـل شـوې ده نـو دې پـايلې تـه رسـيږو، چـې لـس زره کالـه وړانـدې د هندوکـش ښکاريـان د غرونـو لـه ډېرو لـورو پنـاه ځايونـو څخـه راوتلـي او د هـوارو سـيمو او سـترو سمسـورو درو پـه لـور يـې يـون کـړی دی.

۳۷/۴/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

هزار سم

د تیږو له لرغونې دورې څخه تر اسلامي دورې پورې

د کاروانونو د پخوانۍ لارې په اوږدو کې، چې بلخ یې له بامیانو او کابل سره تاړه د هغې په شمالي برخه (هندوکش په شمال کې) مو ډېره مهمه نقطه درلوده، چې د هغې اهمیت، جغرافیایي مُوقعیت د کاروانونو د لارې بېلوالی . د سمځو پاتې شونې د ((مکالیت)) شته والی (هغه غټې ډبرې، چې پر ځمکه به یې ښخولې او د بشر د پخوانیو ودانیو ننبې ننبانې دي) د تیږو د دورې د کار وسایل او د رنګه لعاب دارو تیګرونو ټوټې څرګندوي. دا نقطه ((هزار سم)) نومېږي او څرنګه چې (سم) د (سموچ) لنډون دی کولای شو هغه ځای ته (هزارسموچ) یا زر سمځی ووایو.

(هزار سم) د جغرافیایي جوړښت له مخې یوه فرعي دوره ده، چې د خلم د دري په ښکتنۍ برخه کې واقع او دهغې کارواني لارې پر سر ده، چې مخکې مو یاده کړه.

دوه مهم بودایي مرکزونه په شمال کې د ایبک تخت رستم یا سمنګان او د هندوکش په جنوب کې بامیان هغه منځنۍ نقطه ده، چې د دې ستر غره د لرې په زړه کې ځای لري.

((هزارسم)) دهغه سمځو نوم دی، چې د دې دري ابادي د یو ((بودایي ښار)) په ټوکه خاطري رایادوي، چې تراوسه د دري په اوږدو کې کتار، کتار پاتې دي او د بودایي خلکو د اوسېدلو استوګن ځایونه وو، چې د هغې زمانې د ځینو رنګه انځورنو ننبې ننبانې اوس هم په ځینو سمځو کې له منځه نه دي تللي.

(هزارسم) لـه بودايـي عصـر نـه وړانـدې (د لومـړۍ پـېړۍ لـه پيـل نـه د اوومـې زيـږدې پـېړۍ تـر نيمـايي وروسـته) هـم اسـتوګنې او ودانـۍ درلـودې او د هغـو دورو پـاتې شـوني اثـار يـې د څيړنـې وړ دي.

د ايتاليـايي لرغـون پـېژندونکـي پـلاوي لـه څېړونـو څخـه چـې د ۱۹۴۱م کـال د منـي پـه موسـم کـې يـې هلتـه ترسـره کـړې وې داسـې څرګنـدېږي، چـې هـزار سـم او د هغـې فرعـي درې د تيـږو لـه لرغونـو دورو څخـه تـر اسـلامي دورې د مغلـو لـه يرغـل څخـه دمخـه د هندوکـش لـه مـهمو او آبـادو مرکزونـو څخـه ګڼل کـېده. د هغـو مطالعـاتو لـه مخـې، چـې پـه غـارونو کـې پـه ژونـد پـورې اړه لـري د (پالـه او لـي تيـک) دوره يـا لرغونـې دتيـږودوره (هزارسـم) يـا (قـره کمـر) د دواړو سـاحې د جغرافيـايي موقعيـت د نزدېوالـي لـه مخـې او همداشـان پـه لـوړو سـاحو کـې د غـارونو د موقعيـت لـه مخـې دېر سـره ورتـه والـی لـري او د چـاقوګانو پـه شـکل او د تـېرې نوکـې لرونکـې وسـيلې او يـو دول وړو نسـبتاً ګردوغـابنورو وسـيلو شـته والـی د ((پليسـتوين)) د تيـږو پـر لرغونـې دورې ژونـد پـورې اړونـدې نـښې ښبانـې دي. ايتاليـايي پـلاوي عقيـده لـري، چـې د ((هزارسـم)) ګاري د دې دورې د خلکـو داسـتوګنې او د حيوانـاتو د ښکـار لپـاره دېرې مسـاعدې او برابـرې وې، ځکـه چـې دا غارونـه پـه لـوړو برخـو کـې پراتـه وو او اوسـېدونکي يـې د حېوانـاتو د يـو نـاڅاپـي بريـد نـه پـه امـن کـې وو او د ښکـار لپـاره سـارايي ژوي پـه نـږدې څلـورو خـواو کـې دېر لږ پېدا کـېدل.

د غـارونو پـه نـژدې لمنـو کـې ځينـې ځانګړې د کـار وسـيلې لکـه د يـو څيـز يـا ځای د سـوري کولـو لپـاره وسـيله، د هـډوکو يـا لرګيـو د پـرې کولـو وسـيلې ليـدل کـېږي، چـې کـېدای شـي دتيـږو پـه نـوې دوره پـورې اړه ولـري او د دوی د فراغـت لـه دورې سـره يـې اړه او ارتبـاط هـم لـرې نـه ښکـاري. لـه دې څخـه داسـې معلومـېږي، چـې پـه هندوکـش کـې ښکـاري اوسـېدونکي د تيـږو د لرغونـې دورې تـر تېرولـو وروسـته لـه لـوړو غـارونو څخـه ښکتـه راغلـي او د درې پـه منځنيـو هغـو ځايـو کـې، چـې اوبـه کـول او خړوبـول يـې اسـان وو پـه کرونـده بوخت او خپـل ژونـد يـې پيـل کـړی دی.

د ايتاليـايي پـوه پـه ګروهـه ((هزارسـم)) لـه هغـه وختـه د يـو واړه کلـي يـا ښار بـنه غـوره کـړه، چـې کـاروانونو د هندوکـش پـه دواړو خـواو ځانتـه لاړې

پرانستې او د غرونو په زړونو کې مرکزي اسیا او دهند شمال او جنوب خوا ته وخوځیدل.

د ((هزارسم)) په موقعیت مو وړاندې د کاروانونو د لارو بیلوالي ته نغوته وکړه، له هزار سمه رستم تخت، سور کوتل، بغلان او قندوز په لوري لاړې همدارنګه له رستم پلازڅخه یعنې له سمنګان څخه خلم، بلخ او له هزارسمه د بامیانو او کابل پر لور هم لاړې تللې وې. دا او همدا راز نورې لاړې د درو په کرښو چونو او د هندوکش پر کوتلونو تېرې شوې او د کاروانونو له هغو پخوانیو لارو سره، چې د هند او چین ترمنځ وې یو ځای کېدلې.

ایتالیویانو ((هزارسم)) د بودیزم په دوره کې د یو لوی بنار په توګه پېژندلی، چې د وړو فرعي درو په ګډون یې ((۳۵۰۰۰۰)) مربع مترہ پراخوالی درلود.

لکه څرنګه چې په مختلفو ډوروکې دژوند ننبنې ننبانې لکه دطبیعي غارونو په بڼه (مګالیت) یا دهغو سترو طبیعي ډبرو په ډول، چې تورښل شوي او د دایرې په شکل په ځمکه کې ښخې دي، همداراز هغه سمځې چې شمېرې سلګونو او زرګونو ته رسېږي او هغه له تېرو جوړې شوي سترې چاردیوالي اوکندرې او بالاخره د خټو پخې ودانۍ تولې دلته موجودې دي

دتېرو له لرغونې او اوسنۍ دورې نه نیولې د جستو تر دورې پورې د ژوند ټول پراوونه او تر هغې وروسته د کروندې تر وخته او بیا تر هغې، چې د کاروانونو لار خلاصه شوه له هغه مهاله د بودایي دین تر خپرېدو او بیا تر اسلامي دورې پورې، دا ټول هله مطالعه کولای شو. چې د چنګیز یرغل د هغه ځای ښکلا او پرتم نسکور او رنګ کړ.

۱۷/۵/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیر مند او ارغنداو سیمه

تر تاریخ دمخه د ژوند او استوګنې یو مرکز

څوکاله کېږي، چې له تاریخ نه دمخه دورو باندې د افغانستان د جغرافیایي موقعیت په هکله څلور خواینیدې څېړنې شوي دي، چې یو خوا د سند په سیمه کې د (اندوس مدنیت) او بله خوا د شمال په لور په هغو غونډیو کې، چې د آمو د سیند په بنې غاړه کې پرتې دي د (انومدنیت) همدارنګه دریمه خوا، د ایران په خاوره کې، د (سیالك او جبال مدنیتونه) او همدارنګه نور کشف او موندل شوي دي دغه مهال د افغانستان دخاورې هغه نقشه، چې د لرغونپوهنې په پلټنې پورې اړه ولري (له تاریخ نه دمخه دوره) یې سپینه پاتې وه.

له نیکه مرغه (۲۲) کاله وړاندې د ۱۹۳۶ زیږدي کال فرانسوي پروفیسور هاکن د همغه وخت افغانستان ته د کښدنو یا سپړلو لپاره ولېږل شو. د پلاوي مدیر (پروفیسر ګیرهمن) په همکاری، چې د قبل التاریخ متخصص و او هغه وخت یې په ایران کې کار کاوه د لومړي ځل لپاره یې د قبل التاریخ دورې د پلټنې کار د هیرمند په سیمه یا په بله وینا په افغاني سیستان کې طرح کړ او د ((نادعلي)) په شاوخوا کې، چې د (زرنګ) یعنې د سیستان د پخوانۍ پلازمینې یوه برخه خرابې کنډوالۍ

پکې هم شاملې دي په دوه غونډيو سوړ داغ او سپين داغ کې کېندنې پيل کړې.

په لومړۍ يا ده شوې غونډۍ کې چې نژدې ۳۰ مټره يې له سمسورې خمکې څخه لوړوالی درلود، د غونډۍ د سطحې په لومړيو لس مټرو کې زر کلن (ترمخ ريږدي پخوانۍ) اثار او نښې نښانې پيدا شوي. سره له دې، چې د کېندنو کار د ځينو عواملو له املې پاتې شو، خو معلومه شوه، چې د هيرمند په سيمه کې هغه معنوي غونډۍ له تاريخه وړاندې پيړ نښې نښانې دي.

د افغانستان په خاوره کې هغه سيمې چې انسانانو ته د غارونو له ژوند نه را وروسته پکې د ښکار او ژوند لارې چارې برابرې وې او د ژوند لپاره اوبه و هوا او د زراعت لپاره يې له مساعده خاوره لرله، درې لويې سيمې دي. لومړۍ سيستان يا د هيرمند د (ارغنداب په ګډون) دويم د باختر سيمه چې په دې دواړو لويو سيمو کې ستر سيندونه هېرمند او امو له خپلو مرستيالانو سره جريان لري او ښې حاصل خيزې او پراخې کروندې يې خړوب کړي او نسبتا توده هوا يې د نباتاتو په وده او د حيواناتو په روږدولو او روزنه کې ډېره مرسته کوي.

که چېرې د لرغونې تاريخ غږ ته غوږ شو د تېرو زرګونو پېړيو له منځه دزاړه مدنيت د کاروانونو اواز غوږونو ته رارسېږي.

په دې دوه پراخو ساحو کې له تاريخ نه وړاندې د اوسېدلو د ځايونو د تثبيت لپاره يوازې په افغاني سيستان کې ګام پورته شوی، د دې ترځنګ د هيرمند د مرستيالانو سيمه يعنې په (ارغنداب) او (ترنک) کې هم تر يو ځايه کار شوی او همدارنګه دا کار د فرانسوي پلاوي او د هغه پلاوي له خوا، چې د امريکا د نيويارک طبيعي تاريخ د موزيم د بشري پېژندنې د څانګې له خوا تاکل شوی او په (۱۹۴۹) (۱۹۵۰) (۱۹۵۱) افغانستان ته راغلی وو او د افغاني واکمنو د موافقې او اجازې پر اساس يې کار پيل کړ او دا کار يې په يوه لويه ساحه کې، چې د ((فراه)) او ((جودين)) نه نيولې تر ((پنجوايي)) او د کندهار جنوب پلو ته حتی د (ترنک) تر سيمې پورې يې د قبل التاريخ داوسېدنو ځايونو د تثبيت کار ترسره کړ، له دې څېړنو نه معلومه شوه، چې په دې سيمو کې داسې نقطې شته، چې کولی شو د قبل التاريخ د ژوند پاتې شونې نښې نښانې ورڅخه پيدا

کړو، سره له دې چې د سیستان هغو بادونو، چې د حذر له سواحل نه رالوزې او هغه رسوبات، چې د هېرمند سیند او مرستیالان یې د هوارې ځمکې پر مخ هوار کړي او د پخوانۍ زمانې د اوسېدونکیو ځایونه یې تورلي او یوه برخه یې پټه شوې ده. سره له دې په لاندې درې ځایونو کې یې ډېرې ننبنې ننبانې موندل کېږي:

لومړی: د هیرمند هغه سیموکې، چې له پخوا زمانې وچویه ده او دا سیمه د لویدیز چاربرجك سره ننبتې او په سیمه ایزې اصطلاح کې ورته (رودبیابان) وایي.

دویم: د (فراه) او شاوخوا سیمو کې.

دریم: د کندهار په شاوخوا او یا په تولېه هغه سیمه کې، چې د ارغنداو او ترنك ترمنځ ده)

د قبل تاریخ څېړنې په دغه درې یادو شویو لویو سیمو کې د خاورې په کتنې سره محدودې پاتې نه شوې، بلکې له ۱۹۵۰ او ۱۹۵۱ کال څخه راپدې خوا، چې ۸ کاله تېر شول، په څو نورو سیمو کې چې پورته سیمو پورې اړه لري لکه (سید کلا غونډۍ) (نورانې غونډۍ) (موراسې غونډۍ) او د (منډیګك تپه) مقدماتي هڅې پیل شوې او همدا راز د (منډیګك غونډۍ) چې د کندهار شمال لویدیځ پلو په ۵۰ کیلومتری کې پرته ده، پدې وروستیو ۵ کالو کې په ډېره لویه پیمانه کېندنې او سپړنې روانې دي، چې په همدغه مجموعه کې به دهغې په اړه نورې مقالې هم ولولئ.

سید کلا غونډۍ د کندهار ختیځ پلو په ۹ میلې کې د زراعتي ځمکو په منځ کې پرته ده او (موراسې غونډۍ) د کندهار جنوب لویدیځ خوا ته په ۱۲ میلې کې د (پنجوایې) په کلي کې واقع ده. له دغو غونډیو څخه په ابتدایي او مقدماتي هڅو کې خاورین کلالي لوښي لاس ته راغلي دي. دغه د سید کلا د غونډۍ نه په لاس راغلي خاورین لوښي او د موراسې غونډۍ کشف شوي لوښي د څرخ په واسطه جوړ شوي دي. دغه ډوله مجسمې د (سند) د مدنیت په وادۍ کې هم سابقه لري او په کویټه (ژوب دره) کې، چې په بلوچستان کې واقع دی هم په لاس راغلي دي.

همدارنګه د دوه کوپو لرونکو غوایانو مجسمې ځینې په سید کلا غونډۍ (کندهار) اویو څه یې په کویټه او د ((سند په سیمه کې)) کشف

شوي دي نو له دې څخه څرګندېږي، چې له تاريخ وړاندې زمانه کې د هيرمند او ارغنداو او همدارنګه د سند د سيمې د مدنيت ترمنځ اړيکي ټينګې دي، چې هنري او فرهنګي صبغه يې ښکاره او څرګنده ده.

د (منډيګك) غونډۍ، چې د کندهار شمال لويديځ ته پرته ده او له تاريخ دمخه دورې اثارو لپاره پکې کيندنې ادامه لري، دا څرګندوي، چې د ارغنداو له تاريخه وړاندې مدنيت ذ ځينو توپيرې ټکيو په لرلو د سند وادۍ له مدنيت څخه لرغونتيا لري.

لنډه دا چې د خاورې له مخې څېړنو او هڅو، چې په هيرمند اوارغنداوکې منځ ته راغلي څرګنده کړې، چې دا د افغانستان د سيستان دا دوه لويې سيندونه له تاريخ نه وړاندې دوره کې د بشر د ژوند لپاره په ځانګړې توګه د (نيولي تيك) په دوره يعنې د تيږې په نوې دوره کې ډېره مساعد وو او افغاني سيستان د يو منځنۍ فرهنګي ځای په توګه د سند د سيمې، آمو سيند او ختيځ ايران د غونډيو ترمنځ د ارتباط نقطه ګڼل کېدله او د دې اړيکيو عوامل تر ډېرې اندازې له هغو غونډيو څخه چې موږ يې نومونه واخيستل، کشف شوي دي.

۱۶/۲/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

منډيکک

د يارلس ځله يو پر بل (سرپر سر) ودانۍ د پښتنې زره کلن ژوند ننبۍ ننبانۍ

تل د خلکو لـه ژبـو اورو او پـه مقـالو کـې لولـو، چې افغانسـتان پښـتنه زره کلـن تـاريخ لـري. دې خـبرو تـرڅو کـالو وړانـدې ډېر انـدې ارخ درلـود. څه د خلکـو پـه نقـل قـول او يـو څه پـه اريـايي سـرودونو، اسـطورو او پـه نيمـه تـاريخي او نيمـه افسـانوي اقوالـو متکـې وې، خـو لـه دې ټولـو راپـدې خـوا زمـوږ اتکـا علمـي ارخ پـېدا کـړی دی او د افغانسـتان د يـوې سـيمې پـه يـوه غونـډۍ کـې، چې د منډيکك پـه نـوم يـاد پـږي داسـې نـښې ننبانـې پـه لاس راغلي دي، چې د پښتنه زره کلو تـاريخي پـراو او تـر تـاريخ دمخـه زمانـه کـې د افغانسـتان اوسـېدونکيو د ژونـد د يـوې ګـوښې څرګندويـي کـوي.

منـډيکك هغـه غونـډۍ ده، چې لـه هـواړې برخـې نـه تقريبـا ۳۱ مـتره لوړوالـی لـري او د کندهـار شـمال لوديـځ پلـو تـه پـه ۵۰ کيلـو مـتری کـې د کشـك نخـود پـه سيمه کـې د شاه مقصود د غـره پـه خـوا کـې پرتـه ده.

کـه يـې پـه يـو پـراخ چوکـاټ کـې راونيسـو دا لويـه غونـډۍ د دوه لويـو سيندو(ارغنداب او هيرمند) ترمنځ سيمه کـې پرتـه ده، چې پـه همغـه پلـو يـې ترڅنګ د کشـك نخـود سيند، چې دا يـو سيلابي خـوړ دی، چې زيـاتره وخـت وچ او کله کله پـه بـاراني موسـم کـې څپانديـږي.

پـه يـوه ګـوښه کـې د منـډيکك د غونـډۍ ننی موقعيـت انسـان لـه حيرانتيـا سـره مخـامخوي، خـو پـه لرغونـو او ترتـاريخ دمخـه دورو کـې دا ځای حتمـا د دوو خوړونـو د تـګ لـوري پـه منـځ کـې د کـاروانونو د تـګ لاړې پـر سـر و او پـه مجموعـي ډول د دوه سـترو رودخـانو هيرمنـد اوارغنـداو ترمنـځ دغـه ټولـه ساحه يـو لـه هغـو ساحو څخـه ده، چې تـر تـاريخ دمخـه يـې افغانسـتان کـې د ژوند و ژواك مـهم مرکـز ګڼلـی شـو.

د کیندلو له پیله، ان تردا څو ورځې وړاندې پورې چې د فرانسوي لرغون پېژودونکي او د قبل التاریخ متخصص ((موسیوکزال)) له خوا یې د کېندلو پای اعلان او د کیندلو یوولس پړاوونه په پرله پسې ډول د (منډیګك) په غونډۍ کې ترسره کړل او پنځلس پوړیزه ودانۍ یې په مختلفو وختونو کې پرله پسې کشف کړه.

د منډیګك د غونډۍ ۳۱ متره لوړوالی په حقیقت کې د پنځلس ګونو مختلفو ابادیو له لرې والي یا (بنوبډلو) په وجه صورت نیولی، چې د ۳ زره مخزیږدیو کلونو په اوږدو کې پرله پسې ابادې شوي، دزیږدي په حساب، ۳ زره کاله وړاندې ۱۳ طبقې ابادۍ پرله پسې په مختلفو وختونو کې منځ ته راغلي او له ۲ زره کالو راپدېخوا نومورې غونډۍ خوشې پاتې ده.

په بله وینا افغانستان په ټوله اسلامي دوره کې یاده شوې غونډۍ شړه او له خلکو خالي پرته وه ان تر اسلام ۴ سوه کاله وړاندې هم هلته ژوند ندی شوی او هلته د ابادۍ ټول وختونه دزیږدي له ۳ زره کلو وړاندې وختونو پورې اړه لري.

د کندهار د منډیګك د غونډۍ د قبل التاریخ مدنیت ټول د برونز او جستو په دوره پورې اړوند دی، ځکه چې د اشغال په دې وروستۍ دوره کې، چې د ابادۍ او ژوند شواهد د غونډۍ پر مخ ښیي د اوسپنې د دورې ډېر واړه او ناڅیز آثار په لاس راغلي.

په غونډۍ کې د لومړۍ او پنځلسمې مرحلې ترمنځ د ارغنداو او هیرمند د سیمې اوسیدونکیو په خپل ژوند کې مختلفې دورې په بدلون سره تېرې کړې دي. خښته یې اختراع کړې او بیا یې په لمر کې وچه کړې ده او د خښتو د دیوالونو په جوړولو مشغول شوي، ورو ورو په ترتیب سره یې د خټو د لوښي پیدا کړي دي دخاورینو لوښیو پخولو کې یې نورهم زیار وکښې او وربانديې ښه نقشونه لکه د حیواناتو او مرغانو انځورنه (چې دا مخصوصاً د قبل التاریخ د دورې و، (چې نن ورځ هغه نسل له منځه تللی) منځ ته راوړل.

د منډیګك په غونډۍ کې د ژوند په لومړیو دورو کې ځینو خلکو مالداري او کوچیاني ژوند لاره او بیا وروسته ځای پر ځای او مستقر ژوند پیل کړی او بیا پخه پیل شوې ده. آبادي، همدا راز یې تر ۸ یا ۹ نورو

مرحلو دوام کړی. په همدې ترتیب د تیږو او خټو لوښیو غوره والی موندلی او په ۸ یا ۹ مرحله کې د تپې اشغال عالي درجې ته رسېدلی.

د دې مرحلې لومړۍ د (کویټه) بلوچستان د قبل التاریخ له لوښیو سره د بر ورته والی لري، د غونډۍ د شپږمې مرحلې د اشغال نه وروسته د (مس او جست) فلزاتو شواهد وکتل شول د مشهورې کیمیاوي تجربې له مخې د ۱۴ نمبر کاربن په اصول، چې په امریکا کې یې صورت نیولی د منډیګك د غونډۍ د ژوند کوونکیو د ژوند مرحله له ۲۶۲۵ م ز سره سمون خوري.

وروسته له هغې، چې د منډیګك غونډۍ د اتمې دورې د ودانۍ تقریبا ۲۰ متره د سمسورې سیمې له سطحې لوړ شوې وه، یوه نوې دوره یې په مجلله توګه منځ ته راوسته، چې د هغې لویې ودانۍ د جوړښت نښې نښانې په خښتو جوړې شوي لویې ستنې یې د پام را اړونې وړ دي، چې ۳ زره کاله وړاندې تر میلاد د دې ودانۍ موجودیت د لرغون پېژندونکیو د هېښتیا لامل ګرځېدلی.

د منډیګك غونډۍ پرته له انځور لرونکیو لوښیو او څیزونو، چې د حیواناتو او مرغانو انځورونه پرې ښکل شوي، د حیواناتو وړې مجسمې او مخصوصا د ښځو هغه مجسمې (هیکل) هم کشف شوي دي، چې (الهه مادر) (دمور رب النوع) یا مع بانو په نامه ته د نمانځنه عبادت کیدو.

له دغو مجسمو نه د یوې په غاړه کې یې غاړکۍ یا (ګلوبند) دی او په هغه زنځیر کې چې د دواړو سینو په منځ کې یې ځړېدلی دی یو ډول ګانې هم لیدل کېږي.

د ۳۰۰۰ کاله وړاندې تر میلاد په وروستیو او ۴ زره کالو وړاندې د ۳ زریزې په اخر او د څلورمې زریزې په پیل کې د دغو ګانو موجودیت د ارغنداو د سیمې د قبل التاریخ د خلکو د مدني ژوند پراخوالی څرګندوي او معلومېږي، چې د افغانستان اوسېدونکي او د (موهنجودیرو)، چې د سند په سیمه کې واقع دی ۵ زره کاله وړاندې یې د ژوند (د قبل التاریخ دوره) په یوه شان تېره کړې ده او امکان لري، چې د منډیګك تپه خپله د قبل التاریخ دورې لرې څه دمخه پراوونه تري څرګند شي.

۲۵/۱/۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

منډيکک

د برونز (مفرغ) د زمانې د نښو نښانو له کشف کېدلو پسې، چې د تېرې پېړۍ په اوږدو کې د ختيځ په بېلابېلو برخو کې منځ ته راغلي او هغه هڅې، چې له پنځوس کلو راهيسې د هند په نيمه قاره (هند او اوسني پاکستان) کې يې پدې دوري پورې اړوندې ترسره شوي دي، انتظار کېده، چې يوه ورځ به په افغانستان کې هم پدې برخه کې کشفيات وشي.

د کيندنو د پلاوي پخواني فرانسوي مدير ((موسيو ګيرشمن)) له هغو لومړنيو هڅو نه وروسته، چې پر ۱۹۳۶ کال يې د افغانستان د سيستان په نادعلي کې وکړې، پورتنۍ مفکوره ډېره پياوړې شوه، خو له ۱۹۵۰ کاله وروسته، چې د کندهار سيمې له تاريخه وړاندې د سروې لپاره په پام کې نيول شوې وې وخېړل شوې او پکې يو مهمه غونډۍ کشف شوه، چې په علمي ډول يې کيندنې په څلورو مرحلو کې خلاصه کوو.

دا غونډۍ ((منډيکک)) نومېږي او هلته د بشر اوسېدلو له وروستي تاريخ نه دري زره کاله تېر شوي، نومورې غونډۍ ته په دغه اوږده زمانه کې باد او باران مخروطي بڼه ورکړې او د ارغنداو د دري په خوا کې په موازي ډول او د کندهار ګرشک د سرک په ۲۰ ميلۍ کې او تقريباً په همدغه فاصله د کندهار د ښار په شمال ختيځ کې په څو سوه مترۍ کې يو خورې پروت دی، چې پرته له سيلابه وچ دي.

البته دا خبره ډېره د حېرانتيا وړ ده، چې يوه غونډۍ چې د سوداګرۍ له لارو لرې او په داسې يوه نقطه کې، چې د ښار جوړونې او ابادۍ لپاره مساعده نه وي پرته ده؟ خو که چېرته دموسم په وجه مهاجرتونه او د قبايلي کوچيانو حرکت پام کې ونيول شي، نو ښکاره ده چې د غونډۍ په شاوخوا

کې د شپې تېرونې لپاره د ډېرو تورو خبمو د درلودلو کافي ځای شته، چې سهار تر کډه کېږي، نو بیا په هغه سیمه کې د خلکو د اوسېدلو هېڅ ډول نښې نښانې نه ښکاري، نو هېڅ شك نه شته، چې دلته به د قبایلي کوچیانو د عنعنوي لارو نه یوه لاره او د کاروانیانو د تېرېدو ځای و او همداراز د پخوانې وخت نورې نښې نښانې هم شته او د هیرمند په غونډۍ کې هم همدغه مفکوره ثابتد پدلی شي. کوچیان خلك، چې پخپله او د هغوی څاروي، چې ګیاه او څرځای ته اړتیا لري، نو د همدې اړتیا له مخې تل د غرونو او هوارو ځمکو ترمنځ په حرکت کې وي په پورتنیو یادوشو سیمو کې یې همېشه تګ راتګ درلود.

شك نه شته، چې نن ورځ په دغو حدوداتو کې د کرنې ځمکه لږه ده او هغه هم د کاریز په اوبو خړوبېږي، مګر په هغه پخوانۍ زمانه کې، چې منډیګك اباد د خلکو استوګنځی و د خپلې اړتیا وړ اوبه یې له خوړ څخه ترلاسه کولې.

د کیندئو د لومړۍ دورې په دوران کې د یوې لومړۍ هڅې په ترڅ کې څرګنده شوه، چې نومورې غونډۍ د ابادۍ ۱۳ بیلا بېل پراونه تیر کړي، چې د څلور زرم کال له پیل نه د لومړي زرم کال تر پیل پورې دا ټوله دوره په برکې نیسي.

د نومورې غونډۍ د اشغال د وروستۍ دورې اثار د زېرمه ځای په بڼه راڅرګند شول، چې د هغې دیوالونه ټول د پخسې نه جوړ وو.

هغه ځای، چې پکې د غلو دانو زیرمه د مستطیل په شکل احاطه شوې ښکارېدله سره له دې، چې دا زیرمه ځایونه کوچني وو، خو په ماهیت او اصل کې که ورته فکر وشي له هغو زیرمه ځایونو سره پوره ورته والی لري، چې په (هرپه) (د انډوس په حوزه= سند) کې کشف شوي دي. نومورې زیرمه ځایونه د ځمکې دوه دري پوړونه نیولي دي او د غونډۍ پر اشغال پر یوې اوږدې دورې دلالت کوي. ډېرینې تېره څوکې نېزې، د جستو دري نوکې نېزې، په میچنغوزو کې د ایښودلو لپاره د ختمو مخصوص غونډاري ثابتوي چې د غونډۍ اوسېدونکیو د خپل زیرمه ځای د ساتنې لپاره دفاعي وسایلو ته لاس ور وړ. د جستو د نېزو او داسې نورو نښو نښانو له مخې د منډیګك د غونډۍ وروستۍ دوره ته د میلاد نه مخکې د لومړي زر کالو له پیل څخه یعنې له نن نه درې زره کاله وړاندې زمانه ښکلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذ زیرمه ځای له پورونو بنکته د ژوند په اوږده جریان کې د کوم فعال ژوند د دوري څه نښې نښانې نه بنکاري او داسې څرګندې ږي، چې د منډیکك غوندې د یوې مودې لپاره تشه پاتې شوې او که چېرته پکې استوګنه شوې هم وي، نو موقتي وه او دهغې نښې نښانې هم د ایرو، د اوربلونې له ځایونو او داسې نورو نه معلومېږي. وروسته بیا د نورو ابادیو له نښو نښانو څخه څرګندې ږي او مورې ته بنیې، چې د منډیکك غوندې د خپل ژوند په اوږدو کې د خپل عمر ډېرې مهمې دورې تېرې کړي دي.

هغه کنډواله، چې دلته ورسره مخامخ شوي یو د یوې لویې ودانۍ پاتې شونې ده، چې دا له خامو خښتو جوړه او د وخت په تېرېدو یې نیمه مخروطي بڼه غوره کړې او په باندینۍ خوا کې یې فیل پایې لري، چې حتی نن ورځ هم ورته ډېر ارزښت ورکول کیږي او مخصوصاً د عمارت شمالي اړخ ته، چې ډېرې فیل پایې یې تراوسه پاتې دي له دې څخه د ودانۍ لویوالی ډېر ښه څرګندې ږي.

متاسفانه، چې د کیندنو د اوسنۍ وضعې له مخې د دې ودانۍ اصلي هویت او پېژندنه نشو کولی، ځکه چې تراوسه، چې کوم اثار په دې ودانۍ کې لاس ته راغلي هغه د جستو چاقوګان دي، چې د جستو تېغ او د هډوکي لاستی لري او ډېرې ښایسته د (تیګري) توتې دي، نو له همدې امله دومره اټکل کېږي، چې دا ځیزونه د کوم نظامي هدف او غرض په خاطر نه دي جوړ شوي او همدارنګه د استوګنې کوم عادي ځای هم نه و، که چېرته له پخې خټې څخه جوړې د مور رب النوع مجسمې ماتو توتو باندې استناد وکړو، نو کولای شو، چې نومورې ځای ته د یو عبادت ځای نسبت وکړو، مګر دا قضاوت هم مخکې له وخته دی، د اور کوتې ماته شوې مجسمه له هغو اثارو سره ورته والی لري، چې په (بلوچستان) او لرې د سند په سیمه کې پیدا شوي دي.

دا پرتمینه ودانۍ د دیوالونو او فیل پایو په مخ په سپین رنګ، رنګ کړې شوي اثار هم لري او داسې ښکاري، چې په ښلا ښلو وختونو کې څو ځله رنګ شوي وي.

لنډه دا چې د منډیکك د غونډۍ ښلا ښل پورونه له لاندې نه پورته خوا ته په لاندې ډول دي.

د څمکنۍ لـه مـخ نـه پورتـه پلـو تـه تـر ۹ پـورې پـورې د نیمـه کـوچیـانو د ژوندانـه نـښې ننبـانـې لیـدل کـېږي او داسـې څرګنـدېږي، چـې یـوه مـوده د منـډیګك د غونـډۍ لومړنـي اوسـېدونکي مـالدار او نیمـه کـوچیـان وو د کورونـو د جـوړښت دول یـې پـه پخسـه آبـاد و او بیـا د لومـړي ځل لپـاره خښتـې اوهغـه هـم خـامې خښتـې څرګنـدېږي اوتردریولاندینیـو پورونـو پـورې ادامـه لـري.

خټیـن لـوښي پـه لومـړي پـور کـې سـاده او پـه ابتدایـي دول وو او وروسـته یـې محسوسـې ترقـي احسـاس کـېږي او لـوښي یـې لـه پخـې خـټې څخـه جـوړ ښکلـي کیـږي اوپـنـه تدریـج سـره د هر ښه کـېږي تـر هغـې وروسـته د هر ښکلـي نقـش او انـځور لرونکـي خټیـن لـوښي راڅرګنـدېږي. د حیوانـاتو، الوتونکـو، ګلانـو دجـګو جګوښکـرو غـرڅه،دښکلـو اوپـېچلـو بڼکـو والافیـل مـرغ او داسـې نـور انځورونـه پـه جـګو پایـه لرونکـو جـامونو لیـدل کـېږي. خټیـن انځورکـرای شـوي لـوښي لـه اتـم پـور څخـه وروسـته د هر پـېدا کـېږي او همدارنګه یـې پـه نـهم پـور کـې شـمېر د هر زیـاتېږي او دا لـوښي لـه هغـو لوښیـو سره د هر ورته والی لـري، چـې پـه کویـټه کـې کشـف شـوي دي.

فلـزات جسـت اوس لـه شـپږم پـور څخـه پیـل کـېږي د هغـو ازمېښتونولـه مخـې، چـې د ۱۴ نومـره وړانـګې پـه واسـطه یـې د پنـځم پـور لـه سـکرو یـې منـځ تـه راغلـي د نومـوړي پـور تـاریخ ۲۶۲۵ م ز کـال تـه یـې نسـبت کیـږي. د دې پـور لـه کنـډوالو څخـه د یـوې لویـې ودانـۍ نقشـه څرګنـده شـوه، چـې شـرح یـې تاسـو دمخـه ولوسـتله او د هغـې تـاریخ د کشـف شـوو نـښو نښانـو پـه بنـا د دریمـې زرمـې دویمـه نیمـایي ګڼلـی شـو، دا سـتره ودانـي هـم پـه تدریـج سـره پـه راتلونکـو دورو کـې رنـګه شـوې ده او نـوي را رسـېدلي خلـك پـر غونـډۍ استوګن شـوې، چـې د هغـوی زیرمـه ځایونـه پـه دریـو پورونـو کـې د منـډیګك د غونـډۍ پـه ښکتنـۍ برخـه کـې ترسـترګو کـېږي. پـه همـدې ترتیـب ویلـی شـو، چـې د منـډیګك غونـډۍ هغـه ابـادي ده، چـې لـه پېنـځه زرو نـه تـر دوه زرو کلـو وړانـدې دلرغنـداوپـه سـیمه کـې د جسـتو (برنـزو) د دورې ژونـد لـه ضمنـي بدلونونـو ترڅنګ څرګنـدوی.

۷/۲/۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنجوايي

له کندهار ښاره جنوب لويديځ خواته لس کروه لرې يو شمېر کلي پراته دي، چې د (پنجوايي) په نوم يادېږي، اوسنۍ پنجوايي هغه سيمه ده، چې ډېره ښېرازه، سمسوره او حاصل خېزه ده او مېوې غلې دانې پکې ډېرې دي. په ځانګړې توګه د انګورو باغونه يې ډېر شهرت لري، مګر که کيسو، داستانونو او تاريخي ماخذونو او سرېږه پردې د لرغون پېژندونکي څېړنو ته پاملرنه وکړو وينو، چې تقريبا له ۵ زرو کلو وړاندې دا کوچنۍ سيمه، له زراعتي ځمکې نه نيولې د غره تر غارونو پورې چې دا سيمه يې د جنوب له خوا راچاپېره کړې د ارغنداو رود تر غارو (کين خواته) يو انساني استوګنځای دی او ترتاريخ وړاندې او تاريخي دورې يې په ښپلا ښپلو وختونو کې تېرې کړي دي. ښايي ډېرو لرېو خلکو د (شمشېر غار) او (تور غار) نوم او همدارنګه د (مراسمې غونډې) نوم اوربدلی وي.

شمشېر غار او تور غار د لرغونې زمانې دوه غارونه دي، چې د پخوانيو خلکو د استوګنې ځايونه وو. د لومړي ځل لپاره پر ۱۹۳۰ کال هغه وخت، چې د زيږ کاروان پلاوی افغانستان ته راتلو، يوه ورځ مې له پروفيسر هاکن سره يو ځای شمشېر غار وليدل، عام خلک د دې غارونو په باره کې عجيبې کيسې کوي د سرو زرو د خښتو او د هغه څرخ په باره کې چې په پرو کې يې چرې تړلي خبرې کوي او هلته ورننوتل هم ناشونی کار بولي.

غار ته تر ننوتلو وروسته يوه ستره کړده احاطه راځي، چې د وخت په تېرېدو د ځينو موادو د ويلې کېدو په وجه او يو ډول اهکي موادپه ديوالونو راځځېدلي، چې ډېر عجيب غوندې شکلونه يې جوړ کړي دي، چې طبعا يې ځايي خلك له حېرانتيا سره مخامخ کړي او هغې ته په علمي اصطلاح کې ((کلفهشنګ)) او ((شفشاهنګ)) وايي وروسته له هغې په ۱۹۵۱ ز کال کې موسيو ديو يو تن پوه، چې لرغون پېژندونکی و او د نيويارك د طبيعي تاريخ د وګړو پوهنې د پلاوي غړی و دې غارونو ته ورننوت او هلته يې تر کيندنو وروسته له کوشاني دورې څخه نيولې تر نن پورې د ژوند د مختلفو دورو نښې ننبانې ترلاسه کړې.

تور غار، چې نسبتا بنکته واقع دی د پنجوايي د خلکو له خوا بند کړای شوی، ځکه چې د هغوی يو شمېر ماشومان هلته ورك شوي دي. دا غارونه ډېر اوږده دهلېزونه لري که چېرته څوك پکې ډېر وړاندې ولاړ شي لاره ورځخه ورکېږي. له دې غارونو څخه حتما په هغه دوره کې کار اخيستل شوی، چې موږ يې د غارونو دوره بولو او لکه څرنګه، چې په تاريخي دورو کې هم ورځنې کار اخيستل شوی نو همدا وجه ده، چې د تيږو د دورې د ژوند ننبنې ننبانې يې پاتې شوي نه دي.

فيرمسرويس امريکايي د همغه پلاوي رئيس، چې وړاندې يې ما يادونه وکړه په همدغه ۱۹۵۱ز کال کې د پنجوايي له غونډيو څخه په يوه غونډۍ کې چې ((مراسي غونډۍ)) يې بولي لنډې کيندنې وکړې او ويې ويل، چې پنجوايي د لرغونتيا د تثبيت له نظره ډېر ارزښت لري، ځکه چې له دې غونډۍ نه د لومړي ځل لپاره له پخې خټې د مور ربه النوع (مع بانو) يا الهه مجسمې په لاس راغلې.

لکه څنګه، چې ټول پوهېږو، چې دا الهې د اولې تيلك په ۹ مه دوره يا د تيږې په نوې دوره کې د ټولې پخوانۍ دنيا د قبرس او بهر روم له سواحلو نه نيولې تر هند او چين پورې مشهورې وې او د سند له سيمې (موهنجودیرو) او (هرپه) او بالاخره د کندهار له شمال غرب د (منډيګك) له غونډۍ نه يې بيلګې په لاس راغلې. په هر حال ويلی شوو چې هغه خلك چې له مودو راهيسې د پنجوايي د غرونو په غارونو کې اوسېدل بالاخره له غارونو نه د غرونو لمنو ته راښکته شوي او د ارغنداو کين پلو ته په غارو څنډو کې په بز ګرۍ بوخت شوي دي او پنجوايي يې يو استوګنځی و او د

بزرګرې کسب او کار به يې هلته کاوه، پنجوايي د هغو اوسېدونکيو له وخته، چې ۵زره کاله وړاندې پيل کېږي تراوسه پورې يوه حاصل خېزه سيمه ده.

د ((اشوکا)) د ډبرليك کشف په اوسني کندهار کې د چهل زينې په ګاونډ کې، چې له پنجوايي نه ډېره فاصله نه لري، رانبيي چې د دريمې مخزېږدې پېړۍ پرمهال هغه ځای کې، چې د کندهار د زاړه ښار کنډوالې پرتې دي، اباد و او خلك به پکې اوسېدل او دارغنداوکين پلو غاړو کې له ابادو سيمو څخه يو همدغه ځای و.

دموريا پاچا يا (اشوکا) په زمانه کې حتما په دغه ځای کې ابادي وه او له نښو نښانو څخه داسې ښکاري، چې اسکندريه ارا کوزی او يا کېدای شی د يونانيانو يو ستر ښار به همدغلته جوړ شوی وي.

په اسلامي دورو او د دې عصر په ماخذونو کې هغه عربي دي او که فارسي، هر ځای چې د (رخد) يا (رخج) نوم راغلی دی، نو خامخا هلته پنجوايي هم ياد شوی دی او دا يو بشپړ طبيعي کار دی، ځکه چې پنجوايي د (رخج) له ډېرو مهمو کوچنيو کليو څخه شمېرل کېږي ابوالفدا په خپل تقويم البلدان کې پنجوايي په دوه ښو (پنجوان) او پنجوايي ياد کړی او هغه د رخج له ښارونو څخه شمېري. په داسې حال کې چې ابن حوقل د رخج سيمه له سجستان (سيستان) سره څېرمه ګڼي او پنجوايي د هغو له ښارونو څخه يو ښار ګڼي. همدارنګه له پنجوايي نه د هغولويو او وړو لارو ټاکنه، چې د (بست) او (غزني) پر لور تللې وي، له مورډ سره به دنورو ډېرو ابادو سيمو او ځايونو په پېدا کولو کې ډېره مرسته وکړي.

په پای کې دا يادونه کوو، چې د افغانستان سويلي لاره، چې د ارغنداو له غاړو څنډو څخه د غزني او ملتان پر لار د سند وادۍ پر لور تلله ډېر ارزښت يې درلود، چې متاسفانه تراوسه يې مورډ د هغې رښتينې اهميت ته پوره پاملرنه نه ده کړې.

۲/۴/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 1083 8

شمشېر غـار

ﷲ کلـو راپدېخـوا طبیعـي غـارونو د پلتـنې لپـاره د یـو شـمېر بـېلا بېلـو پوهـانو پـام ځانتـه رااړولـی دی، د دې پـام اړونـې علـت ښکـاره دی، ځکـه چـې ټول پوهـېږو پـه غـارونو کـې طبیعـي غارونـه پـه هـر ځای او د ټولـې ځمکـې پـر مـخ او پـه ځانـګړي تـوګه د بشـري ژونـد پـه لرغونـو دورو کـې د انسـانانو اسـتوګنځایونه او پنـاه ځایونـه شـمېرل کـېږي د نـړۍ پـه ډېرو ځایونـو کـې د زړو کیسـو لـه مخـې غارونـه د خـارق ألطبیعـه مخلوقـاتو د اوسـېدلو ځایونـه وو، پـه همـدې خـاطر ډېرو کیسـو او اسـطورو غـارونو تـه د تقـدس او سپېڅلتیا جنبـه ورکـړې.

پـه غرنیـو هېوادونـو لکـه افغانسـتان کـې طبیعـي غارونـه ډېر دي، چـې د هغـو د نومونـو د فهرسـت جـوړول او د موقعیـت ټاکـل یـوه پـه زړه پـورې موضـوع ده، چـې پـه راتلونکـو بـېلا بېلـو شـرایطو کـې بـه د مطالعـاتو او څېړنـو لپـاره لارې چارې برابـرې کـړای شـي.

تجربـو ښودلـې ده، هغـه غارونـه چـې د بشـري عمـر پـه یـوه دوره کـې د انسـانانو اسـتوګنځایونه وو د عـرف پـه لحـاظ د عوامـو پـه منـځ کـې د نـوم او

نښان لرونکي ګرځېدلي لکه، چې ډېر ښه او څرګند مثال يې همدغه ((شمشېر غار)) دی.

په همدې ډول د (قره کمر ۰ غار د سمنګان په شمال کې د (هيبک) يا (ايبک) يا د چهل تن او چهلِ ستون غارونه او داسې نور.

شمشېر غار کندهار ته په ۱۵ ميلي لويديځ- سويل لوديځ او د پنجوايي د کلي په ۳ ميلي کې شمال- شمال ختيځ ته واقع دی او ورته ډېر نژدی کلی ((بادوان)) نومېږي، چې د ارغنداو د رود خاني شرقي غاړې ته پروت دی

شمشېر غار د عمومي جغرافيايي موقعيت له مخې د افغانستان د سويل لوديځ ته ديوې دښتي سيمې په څنډه کې، چې (ريګستان) يې بولي واقع دی.

(دوري) رودخانه، چې تقريبا د ۳۰ ميلو په واتن د پنجوايي جنوب لويديځ پلو ته د ارغنداو رودخاني ته لوېږي. د کندهار د غرنی کاريزي ځمکې او دښتې د لمنو ترمنځ بيلونکی حد دی. دا نيمه دښتي او شګلنه دښته په حقيقت کې د هغې پراخې ځمکې يوه برخه ده، چې د (تار) يا سند دښتې د هند او د پاکستان له لوديځ نه پيل شوې او د افغانستان له سويل لوديځو سيمو نه تېرېږي او د ايران کويرلوط هم په برکې نيسي دا دښته په پخوانيو وختونو کې لکه د اوس په ځېر وچ بيابان نه و تر يو حده د استوګنې وړ او په ځينو برخو کې يې ابادی درلودلې.

شمشېر غار د پنجوايي په شاوخوا غارونو کې تر ټولو ښه ښکاري د ارغنداو له غاړو نه تقريبا ۱۰۰ متره جګوالی لري همدا راز د غره له ښې نه د غار تر خولې پورې ورختل ۱۳-۳۰ دقيقې وخت نيسي.

اصلا شمشېر غار دري پوښل شوې برخې لري او که چېرته په ځانګړې توګه وشمېرل شي، نو مجموعا پينځه پناه ځايونه پکې څرګندېږي. د لومړي پناه ځای اوږدوالی ۱۶ متره دی او پلنوالی يې په دوه مختلفو برخو کې ۱۱ مترو ته رسېږي او لوړوالی يې د غار د خولې نه پرته، چې ډېر تنګ دی ۲متړو ته رسېږي.

دويم پناه ځای ۱۷ متره اوږدوالی او ۱۳ متره سور لري او لوړوالی يې د ۶ مترو په شاوخوا کې دی، وروسته له دالان څخه د ۱۱ مترو په اوږدوالي دريم پناه ځای راځي، چې دا د دې غار تر ټولو لويې پناه ځای

دی د دې پنـاه ځای اوږدوالـی ۳۵ مـتره، پلنوالـی يـې ۲۵ مـتره او لوړوالـی يې ۱۰ مـترو تـه رسـېږي. همدارنـګه پېنـځم پنـاه ځای د ځلـورم لـه احـاطې نـه ۴ مـتره لـوړ او خولـه يـې دومـره تنـګه ده، چـې پـه مشـکله پکـې تـګ راتـګ کـېدای شـي.

د هغـو ځېرنـو او کيندنـو لـه مخـې، چـې پـر ۱۹۵۱ز کـال د نيويـارک د طبيعـي تـاريخ د موزيـم د لرغـون پېژندونکـي هئيـت غـړي مسـتر لـوی لـه خـوا په شمشـېر غـار کـې ترسـره شـوې ثـابت شـو، چـې دا غـار د (پلېوسـن) په دورو کـې پـه ځمکنـي پـوړ کـې جـوړ شـوی دی او تـر تـاريخ دمخـه دورونـو کـې ترېنـه کـار نـه دی اخيسـتل شـوی، نـو کـولای شـو، هغـې تـه يـو تـاريخي غـار ووايـو، ځکـه چـې د هغـو شـواهدو لـه مخـې، چـې پـه لاس راغلـي د مسـيح د زمـانې پـه پيـل او يـا ۱۳۰۰ کالـه وروسـته لـه مسـيح نـه تـر مغلـو پـورې او کـه داسـې ووايـو، چـې تـر ۱۲۲۲ م کـال پـورې پکـې د بشـر د ژونـد نـښې نښانـې ليـدل شـوې دي.

پـه شمشـېر غـار کـې د تـاريخي کرونـو لـوژی لـه نظـره د لانـدې دورو نـښې نښانـې ليـدل شـوې دي:

۱ـ **لومـړی کوشـاني دوره:** دا دوره سـل کالـه وړانـدې تـر ميـلاده پيـل او سـل کالـه وروسـته تر مسـيح پـورې دوام کـوي.

او هغـه تيکرونـه، چـې د ټاپـې پـه واسـطه ښکلـي کـړای شـوي د دې دورې څرګندونـه کـوی.

۲ـ **دويمـه کوشـاني دوره:** لـه مسـيح نـه وروسـته لـه ۱۰۰ څخـه تـر ۳۰۰ کلـو پـورې د تيکـر رنـګه ټوټې او د تيکـر نـورې هغـه ټوټې، چـې سـور رنـګ تـه ورتـه وې دا دوره راپېژنـي هغـه د اوسـپنې درې کنجـه جـوړې شـوې وې چـې تـېرې ځوکـې يـې درلودلـې او زيـاتره (سيسـتي) قومونـو پـورې اړه لـري هم لـه دې پـوړ نـه پېدا شـوي دي.

۳ـ **دريمـه کوشـاني ساسـاني دوره:** د دې دورې وخـت لـه ۳۰۰ څخـه تـر ۷۰۰ کلـو پـوزې دی.

د ساسـاني دورې لـه يـو څه پرمختـګ سـره د تيکـري مخصوصـې ټوټې او د دې دورې د ښارونـو مخصوصـه انـځورګري د ساسـاني دورې پـه ټاکنـه کـې هېڅ شک منځ ته نـه راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴_ لومړی اسلامي دوره: له ۷۰۰ څخه ۱۲۲۲ میلادي کال پورې:
د سلجوقیانو د عصر یو شمېر مخصوص تیکري رابنیي، چې شمشېر غار
د مغلو تر دورې پورې د خلکو د اوسېدو ځای و او په وروستنیو دورو کې
په پرله پسې ډول هلته خلك نه دي اوسېدلي او داسې نښې نښانې هم نه
شته، چې د وروستیو وختونو ښکارندویې وکړي. د تیکر لعاب داره رنګه
انځورګري شوې پارچې، چې هغه په ځانګړې توګه د اسلامي دور کېدی
شي څرګندوي، چې د اسلامي دورې په لومړۍ پېړۍ کې هم شمشېر غار د
خلکو د اوسېدو ځای و، په شمشېر غار کې د یو شمېر شین رنګه تیکرو
شته والی، چې هغه د مغلو تر هجوم وړاندې د غلغلي په ښار کې هم لیدل
شوي د پورتنۍ نظریې په رښتینولۍ کې مرسته کوي.

له همدې امله شمشېر غار د مسیح له پیل نه تر ۱۲۲۲ کال پورې ۱۴
یا ۱۵ پېړۍ دخلکو د اوسېدلو ځای و او د کندهار د ښار ترڅنګ د یو
تاریخي غار په توګه (د نښو نښانو له مخې) هلته د خلکو ژوند د
افغانستان د تاریخ د مختلفو دورو د کوشانیانوله لومړۍ دورې څخه د
مغلو تر وروستۍ دورې پورې راپېژني.

۴/۱۱/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

اريايي کور

د ژبې د ورته والي له نظره

يو له هغو مهمو موندنو څخه چې د ۱۸ مې پېړۍ په دويمه نيمايي کې وشوې د کډ کور کشف دی، چې يو شمېر اريايي قبايل په تېره هغه، چې په لرغونو دوروکې په هند ، ايران او نورو کاونډيو هېوادونو کې تيت شوي دي. لکه د ورونو په څېر خوا په خوا او د يوې کورنۍ د غړو په شان يو ځای اوسېدل.

۱۷۶۱ کال ته د دې مفکورې د پېدا کېدو او د دوی د يو مرکز موندنې نسبت ځکه کولی شو،چې پردغه کال يو تن فرانسوي مبلغ، چې (انکيتل ډوپرون) نومېد له فرانسې نه هند ته راغلی او هلته يې وروسته له ډېرو پلټنو او څېړنو او له پارسي پوهانو سره تر تماس نيولو وروسته د اوېستا متن مطالعه کړ او ۱۷۷۱ کال کې د لوړې ځل لپاره د هغې ژبې د اروپا علمي ټولنې ته وړاندې کړه، په نتيجه کې دې علمي ټولنو وکتل، چې د دې کتاب د ژبې يعنې (زند) او په هند کې د پخوانې سنسکرېټ د ژبې ترمنځ ورته والی موجود دی. همدغه کال ته نژدې په ۱۷۶۷ کال هم يو تن فرانسوي پوه، چې د (کوروډو) په نوم شهرت لري يو مکتوب يې د فرانسې د ادبياتو او ادبي اثارو د ساتنې اکاډيمۍ ته وليکه او د لومړي

ځل لپاره يې د سنسکرېټ، يوناني او لاتيني کلماتو ترمنځ د ورته والي موضوع ښکاره کړه.

د اوښتا د ژبارنې او څرنګوالي او له سنسکرېټ سره يې د ژبې د ورته والي يو پلو ته او د اروپايي پخوانيو ژبو له يوناني، لاتيني او بيا يې له هندي سنسکرېټ ژبې سره ورته والی له بله پلوه د اروپا په علمي ټولنو کې عجيبه غږ پورته کړ، چې په پای کې يې يوه بې ساري او حېرانونکې موضوع منځ ته راوړه او هغه اروپايي پوهان، چې د اسيا په برخه کې څېړنې کوي نومورې موضوع ته لا ډېر متوجه شول.

په دې وختونو کې د سرويليم جونز انګرېز له خوا (د بنګال اسيايي شاهي انجمن) يوه ټولنه په کلکته کې تاسيس شوې وه، چې د تاريخي څېړنو په لړ کې يې افغانستان ته هم ډېر خدمتونه کړي دي، پر ۱۷۸۶ کال د نومورې انجمن مؤسس، چې ډېر کلونه يې د رياست دنده پر غاړه درلوده د يوې وينا په ترڅ کې څرګنده کړه، چې د سنسکرېټ، يوناني ژبو، لاتيني او حتی جرمني او سلتي ژبو ترمنځ ډېر نژدېوالی او ورته والی موجود دی. څو کاله نور هم د دې ختيزو او لوديديزو ژبو د نژدې والي په هکله کانفرانسونه ورکړای شول او بيانيې واورول شوې. ترڅو چې د ۱۹ مې پېړۍ په پيل کې په علمي دلايلو (فيلولوژي) ثابت شو، چې دا نژدېوالی او ورته والی خامخا شته او کومه نتيجه، چې تر لاسه شوه دا وه، چې د سنسکرېټ، زند، يوناني، لاتيني، جرمني او سلتي ژبو ويونکي يو د بل خپلوان دي او لکه د يو کور د غړو په شان، چې يو ځای اوسېږي دغه ژبې به هم يو ځای اوسېدلې وي.

تر دې وروسته پوهان د هند، جرمن يا اريايي قومونو د ګډ کور د پېدا کولو په لټه کې شول، چې بيا يې پدې برخه کې بېلا بېلې نظريې ورکړې چې دلته د هغو نظريو له سپړنې نه تېرېږو.

په دې کې شک نه شته، چې د دې اريايي ګډ کور په باب د لويو قومونو په مفهوم د (هند او جرمن) په اړه بېلا بېلې نظريې موجودې دي او په لومړي قدم کې دا دواړه يو له بل نه لرې پرتې سيمې له مرکزي اسيا او د قطب شمال له نژدې سيمو څخه نيولې د خزر تر غاړو، د قفقاز غرونو او د دانيوب او بالکان تر څنډو او نورو ځايونو کې پرتې وې، چې هره يوه نظريه په دلايلو ولاړه ده. که چېرته د دې ګډ کور ساحه لږه راکوچنۍ کړو يعنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو خلکو د کور په پلتنه کې شو، چې په پخوانیو لومړیو متونو کې یې ځان د (آریا) او (ایریا) په نوم یاد کړ او یا په بل عبارت د هغو اریایي قبایلو د ګډ کور پلتنه وکړو، چې په افغانستان، هند او ایران کې تیت شوي په هغه صورت کې به د مسئلې حل ته متفق او ډېر ورلنډ شو، ځکه چې دغه ډله اریایي قبایل له ژبې ورته والي پرته ډېرې کیسې، اسطورې، حماسي ادبیات او نور ډېر مشترک ځیزونه لري او سربېره پردې (ویدي) او (اویستایي) ادبیات داسې پارچې لري، چې تر ډېره ځایه د هغو ګډه مبداء سره نژدې کوي، په دې کې هېڅ شک نه شته، چې د افغانستان خاوره د دوه هېوادونو هند او ایران په منځ کې واقع ده او په دې کې هم شک نه شته، چې همدا اوس کم ترکم په شلو اریایي ژبو د همدغې خاورې د غرونو په ښلو بیلو ځانګو کې خبرې کېږي، چې یو شمېر یې سنسکرېټ اویستایي ژبو پورې اړوندې او ننبلي او حتی داسې لهجې هم شته، چې تقریباً په مساوي ډول له واړو شاخونو سره ژبنی پېوستون لري.

نو لکه څرنګه، چې ((مکس مولر)) فرانسوي خپل نظر څرګند کړ د باختر سیمې د هندوکش شمال پلو ته د آمو د سیند سیمه او که تردې یې په پوره او پراخه مانا ووایو د سر دریا او د آمو د سیند ترمنځ پرته سیمه هغه ځای دی، چې کولای شو دسنسکرېټ او زند د ژبني ورته والي له نظره د هغې ډلې قبایلو شریک کور مبدا یا مرکز وګڼو، چې په افغانستان، هند او ایران کې خواره شوي دي.

۴/۷/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویدي سندرې او افغانستان

(د جغرافیایی خاطرو له نظره)

افغانستان یو تاریخي او لرغونی هېواد دی، په تاریخي دورو کې که له ۱۰۰-۲۰۰، ۱۰۰۰-۱۵۰۰ او یاله ۲۰۰۰ نه پورته هم لاړ شو تر کومه ځایه، چې لاسوندونه له مورِ سره مرسته کولای شي نو زمورِ د خپل هېواد په ځینو برخو کې ځینې نښې نښانې ګورو، چې د بشر په خاطرکې د دغه هېواد لرغونی پس منظر رابنیي،خو متاسفانه یا له نېکه مرغه، چې تاریخ په یو ځای کې ودرېږي نو هغه د رسم الخط د څرګندېدو وخت دی او وړاندې تر هغې، چې خط او کتابت موجود نه و هغې ته له تاریخ نه وړاندې یا قبل التاریخ زمانه وایي.

زمورِ په هېواد کې تراوسه د تاریخي او تاریخ نه دمخه دورې حدود څرګند او روښانه نه دي، مورِ یوه بله دوره هم لرو، چې په هغې کې لاخط اختراع شوی نه دی، خو د خلکو حافظې دومره قوي او پیاوړې دي، چې د خلکو د غټو کتابونو مفاهیم او مندرجات لکه د یو معنوي میراث په توګه د ورسپارلې دندې په ډول له یو نسل نه بل نسل ته لېږدولي. دا دوره د افغانستان په پخوانیو دورو کې ډېره اوږده، غني او له هنګامو ډکه وه. داستانونه، اسطورې، سندرې، سلالې، رومانونه او ویاړلې حماسې په همدې دوره کې منځ ته راغلي، چې پکې یوه دوره وروسته د هغو خاطرو انعکاس ثبت او تر ننه رارسیدلی ددغې نالیکلې او غیر کسبي دورې خاطرو ته (نیمه تاریخي دوره) یا (اسطوره یې دوره) او یا هم (حماسي داستاني دوره) وایو.

دا دوره ډېره پیاوړې، ژوره او اساسي دوره وه ځکه چې د ادب ستره ساحه او زمورِ تاریخ له ټول پراخوالی سره پکې نغښتی دی.

دلته له ډېرو خاطرو سره کار نلرم او غواړم، چې یوازې په ویدې سندرو کې د افغانستان د جغرافیې د ځینیو برخو یادونه وکړم.

ویدي سندرې عبارت له یو لړ موزونو غږونو، ځوانو او تازه ترانو او منظومو څخه دي، چې زرګونه کاله وړاندې اریایي قبایلو هغه په خپلو

کورونو کې ویلي او بیا یې له یادولو وروسته سینه پر سینه یو بل ته ترهغه پورې انتقال کړي څو چې قلم ولیکلي، ثبت شوې او د کتاب بڼه یې خپله کړه.

(وید) یا (ویدا) په سنسکرېټکې د اریایي مهاجرو د (مقدسې پوهې) او د (عبادت سندرې) مانا درلوده او د وخت له غوښتنو سره سمې پکې د طبیعي منظرو د ښکلا او د اریایي ارباب الانواعو ستاینې شوي دي. دې سندرو ډېره مفصله لړۍ درلوده، چې لومړۍ او پخوانۍ برخه یې له منځه تللې او یوازې د هغه وخت د خاطرو برخه پکې پاتې ده، چې مهاجرې پرکنۍ د هندوکش په شاوخوا کې ځای پر ځای شوي او بیا وروسته د شمېر په ډېرېدو سره د مرکزي افغانستان له غرونو رابښکته شوي د وخت په تېرېدو په طبیعي لارو یعنې خوږونو تللي او (سپیته سندهو) یعنې (هفت دریا) یا پنجاب ته یې مخه کړې ده.

((شمالي تربن)) نوم، چې په ویدې سندرو کې یې مومو د (بلهیکا) نوم دی. باید ووایو، چې ټول څېړونکي په ګډه سره دا بلخ او باختر بولي او پر همدې بناء د هندوکش سویل پلو ته د (کوبها) رود ته رسېږو، چې عبارت د کابل له سیند څخه دی د رودونو په سندره کې د ((کوبها))، چې د لویې رودخانې په ستاینه کې (سندهو) یعنې (سند) ویلی شوی او د سرود په پنځم او لسم جز کې داسې راغلي: " ای سندهو تو! لومړی خپلې څپاندې اوبه د تریشتاما، راسا اوکوبها له سیندونو سره ګډوې او بیا په خپله هماغه تګلاره د ګوماتي (ګومل) او کرومو (کرم) په لور پرانیزې." لکه څنګه چې په دې پارچه کې لیدل کېږي پرته د کابل له رودخانې د اندوس یا سند نور مرستیالان لکه (ګومل) او (کرم) هم یاد شوي دي. په یوه بله سندره کې (ماروټ) ته، چې د باد د رب النوع خطاب ورته شوی وایي:

" ای ماروته له اسمانونو او د هوا له منځ نه نژدې راشه ډېر ژر مه ځه، مه پرېږده، چې د (راسا) (کرومو) او کوبها د اوبو جریان ودرېږي او مه پرېږده (سندهو) سند جریان تم شي راشه، چې له تانه ګټه پورته کړو" په سندره کې وروسته له بلخ او د کابل سیند نه لرې څه د سویل پلو ته د (کرم) یا (کرومو) سیند لیدل کېږي. د (کرومو) سیند د (کرم) له سیند څخه عبارت دی، د کرم دره د کابل د دري په څېر یوه طبیعي لاره ده، چې د سویلی افغانستان له غرونو څخه د جنوب په لور خلاصه شوې او دا سیند د سند دسیمې بنسټ خوا ته غاړې خړوبوي او لکه، چې مو د سیندونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندره کې ولیدل د کورمو د سیند نوم له کابل سره یو ځای یادشوی. د کرم په دره کې نن سبا توري، وزیر، مسعود، درویش خپل، احمد زي او اتمان زي قومونه اوسېږي. د دې سپمې اوبه د سپین غره له سویلي خوا څخه سرچینه نیسي، دا دره یوه له هغو درو څخه ده، چې بنه آب و هوا، بنکلا او ډېرې میوې لري.

همدارنګه په ویدي سندرو کې د (ګوماتي) یعنې د (ګومل) د سیند یادونه هم شوې (ګوماتي) او (کرومو) یعنې ګومل او کرم همېشه یو ځای یاد شوي او د افغانستان د نقشې له مخې چندان فاصله هم نه لري، اریایي مهاجر وړاندې تر دې، چې د (سندهو) له سیند نه ورتېر او پنجاب ته ورننوځي ډېره موده یې د (کابل) (کرم) او (ګومل) د سیندونو ترڅنګ سیمو کې تېره کړې او هلته یې ډېرې سندرې ویلي دي. همدارنګه د افغانستان په ختیزو سیمو کې هم ځینې سیمې شته، چې په سندرو کې یې یادونه شوې ده لکه: (راسا) چې معمولاً هغه د کونړ سیند تعبیروي او په ویدي سندرو کې یې څو ځله یادونه شوې ده. دا سیند د رودونو په سندره کې د کابل د سیند په مرستیالانو کې یاد شوی دی لکه څنګه چې یې موقعیت د سوات او کابل سیندونو ترمنځ ښودل شوی، نو ځکه نښې نښانې رابنیي، چې دا (راسا) د کونړ سیند دی، چې د کابل د سیند له سترو مرستیالانو څخه ګڼل کېږي.

همدارنګه په ویدي سندرو کې د څو نورو سیندونو یادونه هم شوې لکه (سوتي) (تریشتاما) او (اتي تابها) چې یو یې د سوات د سیند یادونه ده او دوه نور یې د کابل د سیند کوچني مرستیالان شمېري. همداراز یو بل رود د (سراسواتي) په نوم راغلی، چې یو شمېر یې (اراویتي) یا ارغنداو سیند بولي، پرته له دې په ویدي سندرو کې د یوې بلې سیمې یادونه هم شوې، چې هغه (ګندهارا) ده، چې ټوله ختیزه سیمه د کابل له درې څخه تر پېښور پورې ده او (ننګرهار) د دې علاقې د زړه حیثیت لاره، چې د افغانستان ختیځ ولایت یې احتوا کړی دی. په همدې ترتیب بنکاره څرګندېږي. چې ویدي سندرو له ببلو ببلو سیمو نه په ځانګړې توګه د افغانستان د ختیزو او سویلي سیندونو یادونه کړې ده او داسې بنکاري، چې د دې سندرو ویونکي په ډېر ښه ډول د خپل جغرافیایي موقعیت څخه خبر وو او ډېر معلومات یې لرل.

۲۷/۴/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

آريـــان اويجه

يـو لـه ډېرو مـهمو مسـايلو څخـه چـې ټولـه اريـايي ټولنـه، هنـدي او ايرانـي ټولنـه او پـه عمومـي ډول هنـدي او اروپـايي ټولنـه ډېره ځانـګړې دلچسـپي ورسـره لـري اريـايي پـالنځی (روزنتـون) يـا زانـګو ده. آريـايي زانـګو يـا استوګن ځای هغـه موضـوع ده، چـې لـه کلونـو کلونـو راهيسـې يـې د ختيـځ او لويديـځ د ډېرو پوهـانوپاملرنـه ځانتـه رااړولـې ده او د هغـې پـه بـاره کـې بـېلا بـېل موضوعـات منځ تـه راغلـي.

تـر هـرڅه لومـړی بـايد دا څرګنـده شـي، چـې اريـايي اسـتوګن ځای يـا زانـګو څه شـی دی؟ ځکـه چـې هنـد او اروپـايي قومونـو د يـوې سـترې بشـري ټولنـې پـه تـوګه د تـاريخ پـه اوږدو کـې تـر پـېدا ېښت او پراختيـا وروسـته مختلـف مرکزونـه درلـودل، چـې لـږتر لـږه يـې يـو د (لومړنـی زانـګو) او پـاتې نور يـې د سترو ځانګو پـه تـوګه ګڼلای شـو.

د هنـد او اروپـايي قومونـو د لومـړی زانـګو يـا ټاټوبـي پـه اړه د ختيـځ او لويديـځ د يـو شـمېر پوهـانو ترمنـځ د نظـر اختلافـات او د يـو شـمېر نـورو ترمنـځ د نظـر يووالـی شـته دی، دا زانـګو لـه مرکـزي آسـيا نـه نيولـې د خـذر تـر جنـوب، بالقـان او د دانيـوب ترسـيمې پـورې مختلـف ځايونـه ټاکلـي، چـې دلتـه يـې يادونـه لـه دې مقـالې نـه دبـاندې ده.

د استوګن ځایونو له سترو ځانګو نه یوه همدا د اریایي ټولنې ځانګه ده چې د هند و ایراني) په شهادت یې نومورې د (آرینا) یا (ایریا) په نوم یادول او ډېر په افغانستان، هند او ایران کې تیتې شوي دي، چې په اویستا کې دغه د اریایي قومونو استوګن ځای (آریاناویجه) یاد شوی دی په بل عبارت په (وندیداد) کې د اوستا له ډلې نه اویستایي لومړې قطعه ځمکه د اریایي میمون له ۱۶ قطعو ځمکو نه یوه همدا ده، چې (آریانا ویجه یا آریا نم ویجو) ورته وایي. پوهانو د آریانا ویجه د قلمرو د ټاکنې په باب ډېرې څېړنې وکړې او بېلا بېل نظریات یې وړاندې کړل، خو په غالب ګومان، چې د دې ځمکې د سهي موقعیت د ټاکنې وسیله پخپله اویستا ده،ځکه چې د شپاړس ګونو خاورو د ترتیب او هغو اشارو له مخې، چې د اویستا په بندونو کې ورته شوي، داسې څرګندېږي، چې (آریاناویجه) هغه قطعه ځمکه وه، چې نسبتاً لوړه او له ځینو رودخانو سره نښتې، چې نوم او نښان یې د یو شمېر ځانګړنو سره موجود دی، نو د دې مطالبو په پام کې نیولو سره کولی شو، چې دا قطعه ځمکه د اکسوس (آمو دریا) درو د سرچینې ته نژدې او یا داسې ووایو، چې د اکسوس، ایکزارت یا امو سیند او سردریا ترمنځ د فرغاني په سیمه کې تثبیت کړو.

د اویستا په یو جز (وندیداد) کې د (آریاناویجو) موقعیت د (وانوهي دیتیا) او بل (وانګوهي) چې دا د ژبو پېژندونکیو او پخوانۍ جغرافیه پېژندونکیو د څېړنې له مخې د ((یتیا)) په اصل کې د سیند نوم و او همدارنګه یې (وانګوهي) قانون او (داد) ترجمه کړی، هغه نوم چې د دې دواړو کلمو له ترکیب نه جوړ شوی داسې مانا ورکوي. د (دیتیا) سیند چې له هغې خوا نه قانون، عدل او انصاف منځ ته راغلی، چې دا قانون د زر تشتري دین او د عدل و انصاف یې د واکمنو واکمنۍ تعبیر کړې ده، چې دا دواړه تعبیره ډېر په ځای او حقیقت ته نژدې دي، لکه څرنګه چې د زرتشتري دین، عدل او انصاف د آمو سیند ته نژدې په بلخ کې د واکمنو له خوا منځ ته راغلی په همدې وجه څرګندېږي، چې (آریاناویجه) د آمو د سیند غاړو څنډو ته ډېر واټن نه لري.

یو تن بنداهش د یو لړ غرونو لکه د کودو راس غر او یو شمېر سیندونه چې له آریاناویجه څخه تېریدل لکه (دایي تیك) او (دراګا) نومونه اخیستل. همداراز بنداهش د (دایي تیك) د سیند په باب وایي، چې دا

سيند له (ايران وج) نه راغلى او د غرنيو سيمو له منځ نه تيريږي. وړاندې وايي، چې د (درګاه) رودخانه په آريانا ويجو کې ده او د هغې پر غاړو د زرتشت پلار پورو شپه استوګنه کوله.

د دې څرګندونو په اساس، چې د (دنديداد) او (بنداهش) له خوا شوي بنکاره څرګندږي، چې د امو سيند د رودخانې سيمه د (آريانا ويجه) د خاورې په ټاکلو کې مهمه ونډه لري. که چېرته د دې دوه سيندونه په پام کې نيولو سره يوه ژوره کتنه وشي د (ديتيا) او (دراګاه) چې عبارت د (آمو له سيند) او (سردريا) څخه دي، نو په دې اساس کولى شو، چې د دوو يادو شو رودخانو ترمنځ اريايي لومړۍ قطعه ځمکه او د هغوى استوګن ځای (اريانا ويجه) په فرغانه کې وټاکو.

په دې کې شك نه شته، چې که چېرته يوازې په (ديتيا) يعنې آمو سيند باندې تکيه وشي د يادې شوې خاورې مرکز به لاډېر د دې رودخانې سيمې ته او حتى د کين پلو غاړو ته د بکتريان په خاورو کې قرار وموميږي، خو لکه څنګه چې دوه سيندونو د آريانا ويجه له خاورې سره نژدې والى درلود او وروسته د لومړۍ ټوټې ځمکې څخه په ۱۵ نورو قطعو کې هم د آريايانو د حرکت او مهاجرت په ترتيب سره يادونه شوې ده. لکه (سغده) (مورو) (بخدي) او نور، چې عبارت تر سغديان د مرو سيمه او بلخ دي، نو د تحليلي منطق له مخې ويلى شو، چې دا روزنتون يا زانګو او ټاټوبى له همغې (فرغانې) څخه عبارت دى.

د افغانستان په شمال کې د هندې او ايرانې اريايي ټولنې استوګن ځای (اريان ويجه) له دې ټوټه ځمکې سره تل په تماس او ورته ډېره مساعده وه. همدارنګه په اريايي منابعو، داستانونو او اسطورو کې يې مهم نقش بنکاره او څرګند دى.

۱۷/۲ ۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوما - يا - هوما

اريايي خوندور او قوي شربت، چې بوتې يې د افغانستان په غرونو کې د هر شنه کښې.

يوه ډېره په زړه پورې موضوع، چې د اريايانو د ژوندانه په لومړۍ دوره کې د هغوی د ژوند په ګڼو اړخونو لکه ټولنيزې چارې، دود، عادات او حتی مذهبۍ پوري اړه لري او که ووايو، چې د افغانستان له غرونو سره يې اړيکې هم بې ربطه نه دي. هغه يو ډول خوندور قوي شراب دي، چې د (ويدي) او (اويستايي) عصر اريايانو په يو ډول پېژندل. دې شرابو څو ترکيبونه درلودل، چې تر ټولو مهم ترکيب يې په غره کې يو خودرويه بوټی و، چې عصاره نومېده او دوه نور ترکيبونه يې په ډېره پېمانه شيدې او ګبينه وو. پورته ياد شوی بوټي ته يې اصلا (سوما) ويلي، چې همدا کلمه په اوستا کې د (هوما) په بڼه راغلې، لکه چې مورږ د لغت پوهنې د قانون له مخې پوهېږو، چې د (ويدي) ژبې د (س) توری په اوېستا کې په (هـ) اوښتی، نو ويلی شو، چې د (هوما) حرف همغه (سوما) دی او سوما هغه غرنی بوټی دی، چې د لوړو غرونو په لوړو څوکو کې راټوکيږي. په همدې وجه د سوما بوټی د ټوکېدلو د محل په خاطر، چې اوېستا کې يې بادونه شوې د افغانستان لپاره يو خاص ارزښت لري، ځکه چې د اوست په ـــ د برخه کې، چې (هوم يشت) نومېږي او د (هوما) د شرابو ستاينه پکې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې له نورو مطالبو څخه يې داسې څرګنديږي، چې د (سوما) يا (هوما) بوټی د افغانستان په ټولو غرونو کې او په ځانګړې ډول په هغو غرونو کې، چې (د ګوربت له الوتنې څخه هم پورته وي) چې مطلب ورڅخه د هندوکش لوړه څوکه ده، شين کيږي. له دې سره سره د ويدې سندرو له يادونو او په اوښتا کې تر ليکلو وروسته دې نتيجه ته رسيږو. هغه وخت چې اريايان د هندوکش دواړو خواو ته اوسېدل او په هغه دوره کې، چې د افغانستان له لوړو غرونو څخه يې يو پلو او بل پلو ته هجرت کاوه د سوما بوټي يې د افغانستان په منځنيو غرونو کې موندل او د هغې له ځانګړي خاصيت نه يې خبر وو، چې د شيدو او ګبينه تر ګډېدلو وروسته يې تري شراب جوړول.

هغه پوهان، چې د اريايي ټولنې (هند و اريانې) د ټاټوبي د څرګندولو لپاره يې هلې ځلې کړې د افغانستان په غرونو کې يې د اريايانو د اوسېدلو له دلايلو څخه يو همدغه د سوما يا هوما د ګياه موجوديت دی. په دې کې شک نه شته لکه څنګه چې د سوما شراب اريايانو کارول او د هغې په خوړلو ورته خوښي حاصلېدله او په عين حال کې د مستۍ او نشې سبب هم ګرځېدل.

اريايي شاعرانو يا (ريشې) په سندرو کې د سوما د بوټي ټولول د ښکلو جينکو په ګوتو د هغه بوټي شکول او په لويو او هوارو کانو يې د هغې شيره ايستل ښودلې، د شيرې صافول يې د پسونو له وړيو جوړې ټوټې نه او بيا يې په پخو خټينو لوښو کې تر اچولو وروسته اوبه، شيدې او ګبينه ورسره ګډ کړي، چې دا بيان هغوی په ډېره ښکلا او شاعرانه ژبه کړی دی.

معمولا به نجونو او ځوانو ښځو شپې د سپوږمۍ په رڼا کې د غرونو په لمنو کې د سندرو په ويلو د سوما بوټي ټولول، د ويدي د دورې شاعرانو به د سوما قوت بخښونکی بوټی له ځوان غوايي (سخوندر) سره ورته باله او بيا د هغې شيره يې له اوبو سره د ګډولو پر مهال د ځوان غوايي په چمن کې د ورګډېدلو سره تشبيه کوله، کله چې به يې سوما له شيدو او ګبينه سره ګډ کړ، نو يو ډول زېړه، شيره يې يا سپوږمۍ ته ورته رنګ به يې پيدا کړ، خو تر خوړلو وروسته به يې چې په بدن کې ورته کومه خوشالي پيدا کړه، نو په شاعرانه تشبيهاتي انداز کې يې هغه اسماني شربت باله او

د هغه شربت له څکلو نه به يې د خوږ او ارزښتمند ژوند انتظار کاوه او له همدې املې يې هغه د (ارتيا) يا تل پاتې خوشالۍ په نوم يادوه او داسې تصور يې کاوه، چې د دې په څکلو به د خيال په حال کې د يامايا (جمشيد) ترخوا رسېږي، جام وجم چې څومره زموږ په ادبياتو کې شهرت لري هغومره يې تر تاريخ دمخه دوره کې زموږ په ذهنيت، زړو اوافکارو فکر مندي او زموږ پرچاپېريال يې اغېز درلود. د همدې لرغونتيا له مخې څو زره کاله کېږي، چې (جام) و (جم) په خپلو کې پېوست او دوارو نومونو زموږ د زرګونو کلو تاريخ نيولی او خوندي کړی دی.

په ځينو ويدي سندرو کې يې ((سوما)) د سپوږمۍ په مانا هم راوستی او داسې فکر يې کاوه، چې سپوږمۍ اصلا له شيدو نه ډک يو لوښی دی او په همدې خاطر ډيره سپينه رنا لري. اريايانو تصور کاوه، چې د ځمکې خلکو د خوښۍ د محفل په څېر په اسمانونو کې هم د نورانې زراتو او ستورو له خوا محفلونه جوړېږي او د هغوی په عقيده د سپوږمۍ په کراره، کراره د وړکتوب وجه دا وه، چې له اسماني لويې کاسې نه د سوما مشروب څښل کېدل يا خوړل کېدل ترڅو د کاسې څنډه، چې د سپوږمۍ نرۍ دوره وي هم له سترګو پناه کېدله او بيا به لمر د ساقي نقش غوره کړ او بيا به يې لويه اسماني کاسه له سومانه ډکه کړه.

په هر حال د ويدي سندرو په مجموعه کې د سوما په نوم سندره او د اوېستا په يشتونوکې د (هوما) په نامه يوه يشتي موجوده ده او دا د اريايانو په پخوانيو افکارو کې د هغې ژوره اغېزه څرګندوي، چې د دوارو دورو او دوارو عصرونو اريايانو دا بوټی او دا خوشالونکی او خوندور مشروب پېژانده او د دې بوټي د پېدا کېدلو منبع او د شين کېدلو ځای د تولو د وينا و له مخې د افغانستان غرونه وو او لکه څرنګه چې په دې غرنيو سيمو کې شيدې او ګېښه ډېر و او دي، نو ځکه د دې مشروب جوړول د افغانستان په غرونو کې د اوسېدونکيو اريايانو په منځ کې ډېر دود و او تل به يې جوړاوه.

۴/۲/۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې يوه لرغونې تاريخي کيسه

((زريادريس)) او ((اوداتيس))

د افغانستان ادبيات له لرغونيو زمانو راپدېخوا دوه لوي او برجسته مخونه لري، يو حماسي اوبله د مينې يا عشقي. د افغانستان د ادبياتو تاريخ د (ويدي) له لرغونې زمانې راپدېخوا، چې اريايانو د دې خاورې په غرونو کې ژوند پيل کړی وروسته تر هغې يې په سلګونو او زرګونو کلونو کې دا اغېزه څرګنده کړې او لکه څه رنګه، چې اولسي ادب پر ليکلي ادب لرغونتيا او لوړوالی درلود، نو ځکه د کلونو په اوږدو کې يو شمېر جنګي، حماسي او عشقي سندرې د عاميانه شعرونو په بڼه او تصنيفونو په څېر لکه د غږ انګازه (انګی) ژبه په ژبه او غوږ په غوږ تر موږ رارسېدلي دي. په هغه مرحله کې، چې اريايانو د افغانستان د غرونو په لمنو کې ژوند کاوه د هر بنکلا خوښونکي، مينه پال او خيال پروره وو، چې بنکلا کې ژوند بخښونکي او بدرنګي يې لکه د يوې درنې تيږې او يا له يو درونده ګرز سره، چې د انسان په سر ولږېږي، ورته باله. په اريايي سندرو کې د مينې کيسې ډېرې دي، چې د هغو خاطرو او د تاريخي پېښنو صحنې په څو بنکليو درو لکه د کابل، کرم، ګومل او سوات کې تراوسه پاتې دي، چې په هغو کې يوه د دوه مينو کيسه ده، چې يو يې زريادريس او بله واداتيس نومېږي، لومړی يې يو قوي او د بنکلي اندام لرونکی ځوان، دويمه بنکلې او بنايسته پېغله وه، چې د هغو د مينې د کيسو انعکاس د

مقدوني سکندر د تشريفاتو رئيس (فارس مي تن لن) د څلورمي مخزيږدې پيړۍ په اوږدو کې زمونږ غوږونو ته رارسوي.

بايد هېر نه کړو، چې د دې دوه مينو نومونه تر زيږدې څلور پيړۍ وړاندې زمونږ د هېواد په ادبي ماخذ کې له منځه نه دي تللي، لکه څرنګه، چې په ويدي سندرو کې (اوداتيس) د يوې معشوقې په توګه د (ګومل) په وادۍ کې يادې شوې او همدارنګه د (زريادريس) نوم د (زريران) په بڼه په اوښتا کې راغلی، د (ياتکارزريران) حماسي منظومه ده، چې د هغې متن د (پهلويك) يا (پهلوی اشکاني) په ادب کې په لاس لرو او د قيقي بلخي د هغوی خاطره په خپلو حماسي شعرونو کې زمونږ غوږونو ته رارسوي.

د سکندر د تشريفاتو رئيس (فارس مي تن لن) ليکي، چې د قوي ځوان او ښکلي پېغلې (زريادريس) او (روداتيس) چې دا پېغله د ساس د قبيلې د پاچا لور ده، د دوی دواړو د مينې کيسې د خلکو په منځ کې ډېر شهرت لري. د دې داستانونو اصلي بڼه داسې ده چې:

(زريادريس) او (اوداتيس) دواړو يو بل په خوب کې ليدلي و او يو په بل مين شوي وو او د سوزونکې مينې په لرلو يو د بل د پېدا کولو هڅه او لټه يې کوله. ډېره موده وکړېدل يو بل يې ولټول، خو سره ويې نه ليدل تردې پورې، چې (زريادريس) هغه ښکلې څېره چې په خوب يې ليدلې وه، هېره کړې وه، چې بالاخره د خوشالۍ په يوه غونډه کې په يو ناڅاپي توګه په داسې حال کې، چې ډېرې ښکلې جامې يې اغوستې وې خپل مطلوب وليد.

فارس د تشريفاتو رئيس ليکي، چې د (زريادريس) او (اوداتيس) د مينې کيسه په اسيايي قومونو کې ډېر شهرت لري او د دې دواړو عاشق او معشوق تصويرونه کولی شو د عبادت خانو په تاخچو کې د سلطنتي مانۍ په ديوالونو او همداراز کولی شو په کورونو کې پېدا کړو. (فارس) د تشريفاتو رئيس، چې کله له سکندر مقدوني سره د افغانستان خاورې ته داخل شوی و د هغو کلونو په اوږدو کې چې د مقدوني سوبمن زمونږ په خاوره کې په حرکت و دا ښکلی داستان يې اوربدلی و، له دې څخه څرګنديږي، چې د پخوانۍ دورې (ويدي) د مينې د کيسو انعکاس، چې په افغانستان کې د سکندر تر حملې سلګونه کاله دمخه په غرونو کې منځ ته راغلی او کيسې يې د خلکو په ژبو وې.

هغه کسان، چې د لرغونو ادبي او تاريخي دورو له کيسو رزمي او عشقي کيسو سره اشنايي لري، پخپله پوهېږي، چې د يو شمېر داستانونو پيل لکه (خسرو او شيرين) (ويس او رامين) (ليلى و مجنون) او نور څومره د تاريخ ژورو ته رسېږي. زمونږ په هېواد افغانستان کې حماسي او عشقي کيسې د پرې پخوانۍ دورې لري، چې د هغو د پر شمېر په اوښتايي او ويدي دورونو کې او بيا تر هغې وړاندې هم د لرغونتيا له مخې تر تاريخ دمخه دورو پورې اړه لري. لکه څرنګه، چې حماسي داستانونه دقيقي او فردوسي په څلورمه پېړۍ کې راټول کړي او بيا يې د نظم په بڼه ويلي د اوښتا او همدارنګه په ويدي سندرو کې يې، چې تر يادونه کړې هغه عشقي کيسې هم د پره لرغونتيا لري او هغه څه، چې يونانيانو د دريمې او څلورمې مخزېږدې پېړۍ په اوږدو کې اوربدلي دي، کولاې شو دا د هغو کيسو انعکاس وګڼو، چې په پخوانيو دورو کې د خلکو په منځ کې معمول او دود وې او دا چې ويل شوي دي، چې (اوداتيس) د (ساس) د پاچا لور ده، له امکان نه لرې نه ده. (کيدای شي)

ساس يا ساك قبيله عبارت له اسکايانو څخه وه، چې له مرکزي اسيا نه افغانستان ته راغلي وو، لکه څرنګه چې تعبير کوو، چې (زريادريس) د بلخ شهزاده دی دا هم له امکان څخه لرې نه ده، چې بلخي شهزاده سره د څوان بلخي او د سکايانو د پاچا لور د پرې مينې دومره شهرت پېدا کړی وي.

لکه څرنګه، چې د باختريانو جنګونه له تورانيانو سره او اسمايان د هغوی پهلوانان ګڼل شوي په فارسي ادبياتو کې ستره پانه لري او هېڅ له امکان څخه لرې نه ده، چې د عشق او مينې په نړۍ کې هم يو باختري څوان له يوې اسکايي شهزادګۍ سره مينه کړې وي او د مينې او عشق داستان يې لکه په کوم د ول، چې وويل شو منځ ته راغلى وي.

۲/۲/۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان موسيقي

د بشر د لطيفو او ښکلیو احساساتو اظهار، چې د ذهن په پرله پسې بدلون سره د متظرفه صنایعو د ښېلا ښېلو څانګو په ښه منځ ته راغلي (موسيقي) ده، چې د شعر، انځورګرۍ، مجسمه جوړونې او معماری پرعکس وزن او قافيې قلم او رنګ، خښتو او ډبرې ته اړتیا نه لري او د ژوند د خوشالیو د ننني جذبات دي، چې له انسان پرته په حیوان او الوتونکیو هم اغیزه لري. کولای شو، چې موسيقي تر شعر او موزونه وینا لومړۍ وګڼو، ځکه امیر خسرو بلخي دهلوي موسيقي ناوې او شعر د هغې زیور ګڼي او ښکلې ناوې بیا ګانې ته هم اړتیا نه لري.

سره له دې، چې د موسيقۍ غږ له شعر او موزونې خبرې څخه ښکلی او زړه راښکونکی دی، د انساني پوهې او فهم بنسټ، چې په حیواني شعور باندې حکومت کوي د ښې خبرې په جوړولو یعنې شعر له موسيقۍ سره، موسيقي يې له يوې بې مانا نغمې څخه يوې مانا لرونکې نغمې ته بدله کړه. موسيقي د شعر په چوکاټ کې او شعر د موسيقۍ په پرده کې د بشري ذهنیت د مدنیت په بدلون کې هغه پراو دی، چې په عمومي ډول تاریخ له هغې څخه خاطرې اخلي او په افغانستان کې دا پراو ډېر ستر او تاریخي پیل لري، چې زمور د هېواد او ګاونډیو هېوادونو د موسيقۍ بنسټ پرې ولاړ دی.

لکه څرنګه چې افغانستان د ژبو، دینونو او د (هند او اریاني او مرکزي اسیا) تولنې فرهنګي مرکز بلل کېږي، نو بیا داسې هم ویلی شو، چې (اریایي سندرې) چې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د غرونو په لمنو کې راپېدا او بیا يې پراختیا او پرمختیا وموندله، نو بیا ((اریایي

موسيقي)) هم همداسي دروکنه او دا موسيقي د ((باختر موسيقی)) په نوم يادولی شو، چې د هغو د پايښت ځای د هندوکش لمنې دي او انعکاس يې په کلاګانو د غرونو په لمنو او د سپين غره په درو کې هم خوندي پاتې دي.

اریاي باختري موسيقي د هندي، ايراني او مرکزي اسيا د موسيقی پيل يا بنسټ دی، دې موسيقي خپله لومړی او ابتدايي بڼه(عبادتي موسيقی) او يا (مذهبي موسيقي) وه او له سندرو سره يې د اريايانو په کورونو کې پرمختيا کړې او بيا له مهاجرو سره، چې هند او ايران ته تلي لږ بدلې ده. دې موسيقی د(ويدي) په وخت کې يوه بڼه درلوده او بيا يې په اوښتايي عصر کې بدلون مونډلی او د هغې موسيقی لومړی رنګ او تاثير په هند او ايران کې د نويو بڼوونځيو لپاره لاره پرانستله. (ويدي) سندرو د ياما پاچا په وخت کې، چې په بلخ کې د اريايي واکمنو لومړی پاچا پېژندل شوی د موسيقی په بڼه او (ګاتونه) چې بل شکل يې (کات) او (ګات) دی، چې د موسيقی د يوې پردې مانا يې درلوده او دا په باختر کې د زرتشتي پېر په موسيقی کې د پراوونو د بدلون څرګندويي کوي.

د ډنمارك د بشر پېژندنې د هئيت څېړنو ثابته کړې ده، چې تراوسه هم په نورستانيانو کې چې د هندوکش د اريايانو وارثين دی يو ډول (ګيتار) له يو ځانګړي غږ سره شته، چې لرغونتوب يې له څلورو زرو کلو څخه اوړي او يو چينايي داستان هم د دې څرګندوی دی، چې يو نيم زر کاله وړاندې تر ميلاد يوه مخصوصه شپېلی (توله) د باختر له خاورې چين ته راوړل شوه دا نظريات څرګندوي، چې باختر د يو مرکزيت په حيث د موسيقی د يو مهم بڼوونځي په حيث د اسيا په زړه کې ځای لري او د دې بڼوونځي تاثير که هغه په هند او ايران کې وي او که په چين يا مرکزي اسيا کې ثابت او څرګند حقيقت دی.

د باختر مذهبي يا عبادتي موسيقي په هند کې همغه شان مذهبي پاتې شوه، مګر په ايران، مصر، هخامنشي او ساساني کې موسيقی ځانته درباري بڼه خپله کړه او په افغانستان کې اريايي مذهبي موسيقي (حماسي موسيقي) سره په فرعي ډول د سکندر مقدوني تر راتللو پورې پاتې وه.

په افغانستان کې د يونانيانو تر يرغل او هلته تر استقرار وروسته پوره دوه پېړۍ يې زمور موسيقي ته (د ډراماتيکي موسيقی) بڼه ورکړه او له

نڅا سره د ګډې موسیقۍ بنسټ یې کېښود، چې هغې ته (کونسرت بالت) وایي لکه چې د هغې موسیقۍ ځینې برخې د کوشانیانو د وخت مجسمه جوړونکیو هم ساتلې وې.

د بودایي دین له خپرېدو او د کوشاني ځواکمنې امپراتورۍ تر رامنځ ته کېدو وروسته په ځانګړې توګه په درېیو لومړیو پېړیو کې، چې د کوشانیانو د فتوحاتو لمن تر هند او مرکزي اسیا پورې وغځېدله، نو موسیقۍ دري ځانګړې خواوې پېدا کړې:

الف : درباري موسیقي

ب : مذهبي موسیقي

ج : ولسي موسیقي

په دې دري واړو مذهبي او نورو بودایي موسقیو، چې ارام او نرم روح یې درلود د بودایي دین له خپرېدو سره یې عمومیت پېدا کړ او په ډله ایزه بڼه ساز او اواز ډېر شو او خلک یې د یوې داسې ګوښه ګیرۍ خوا ته رابنکل، چې د کنیشکا امپراتوري ووېرېده، چې مبادا دا خلک ټول تارک دنیا نه شي، چې بالاخره به له کور او ژوند نه لاس ومینځې، په نتیجه کې د پتو عکس العملونو او د شهزاد ګانو له خوا د ساساني ایران موسیقۍ ته نژدې ورته، چې درباري بڼه یې درلوده. همدارنګه هنري ارامه مذهبي موسیقي، د افغانستان درباري موسیقي او ولسي موسیقي یې هیجاني بڼه ځانته غوره کړه او د (بالقونو د کنسرت) ډېرې ډلې جوړې شوې.

د اسلامي دورې په پیل کې درباري موسیقي تقریبا له منځه تللې ده، خو کلیوالې یعنې (فولک سانګ) موسیقي په یو هیجاني روح ژوندۍ او باقي پاتې شوه.

همغه شان، چې اسلامي نویو ادبیاتو په لومړیو درې څلورو هجري پېړیو کې ورو، ورو نوې او تازه بڼه پېدا کړه، موسیقۍ هم ورسره په خپله ولسي بڼه ژوندۍ شوه او بیا یې ورو، ورو درباروونو ته لاره ومونډله.

د غزنویانو له پرتم نه په ډکه دوره ۵-۶ هجري پېړۍ کې چې له ۱۱-۱۲ مسیحي پېړۍ سره برابره ده بیا د (رزم) او (بزم) د روح له ژوندي کېدو سره حماسي او بزمي موسیقي د عامیانه یا کلیوالې موسیقۍ تر څنګ راژوندۍ شوه مطرب غږونکي رامشګر او نڅاکوونکي د چنګ او بانګ غږ له ډول او سلطاني سرني سره پورته کړ او د نڅا له خوږلنۍ نه ډک غږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهي ودانۍ له کړکيو څخه په لوړ اواز ووت، چې انعکاس يې د شاعرانو له ذهنونو وتلو خبرو او د هغه وخت د ليکوالانو له اثارو څخه زموږ غوږونو ته رارسېږي.

د غزنويانو فتوحاتو که هغه په هند او ماورالنهر کې وو او که په ايران کې، يو ځل بيا د افغانستان د موسيقۍ غږونه مخصوصا د هغې درباري موسيقي يې له هندي، ايراني او د مرکزي اسيا له موسيقيو سره هم غږې کړه او په هند کې د غوريانو فتوحاتو او د اسلامي جذباتو پيدا کېدنې په هندوستان کې د قوالي موسيقۍ بنسټ کېښود. په هېواد کې د مغلو فتوحاتو موسيقۍ ته نوې بڼې ورکړې او ځلا ورکړه او دې موسيقۍ له خپلې افاقي جنبې د موسيقۍ له نوو او مروجه الاتو سره د چين په لور نوې خپرونې وکړې او د هرات د تيموريانو په دوره کې د موسيقۍ متقابل نفوذ او اغېزې د افغانستان د بابر د لمسيانو په زمانه کې، چې د مغلو د سلطنتي پلازمينه او مرکز له افغانستانه د هندوستان زړه ته ولېږدول شونو يو شمېر اهنګونه زموږ له سيمې هند ته لاړل او همدارنګه يو شمېر هندي اهنګونه له هند نه افغانستان ته راغلل، مګر زموږ کليوالې موسيقي د يو شمېر ولسي اساساتو له مخې ځای په ځای پاتې او دوام يې وکړ. په هند کې موسيقۍ د مذهبي اړخونو له توپير نه پرته د مجلسي او قوالي جنبو په پياورتيا سره دوام وکړ او هلته يې د مذهبي ايجاباتو او غوښتنو له مخې ډېره وده وکړه، مګر په افغانستان کې يې له کلويو او د غرونو په لمنو کې له اوسېدونکيو پرته اوربدونکي پيدا نه کړل.

افغاني موسيقي چې د تاريخ له پيل نه يې روزنه موندلې او د غرنيو خلکو په ازاد چاپېريال کې يې د وخت په تېرېدو سره عبادتي، رزمي، درومدي يوه برخه او درباري بڼه خپله کړې، چې د پنځه زره کلن تاريخ په اوږدو کې ليدل شوې له مقابلو تاثيراتو سره، چې د ګاونډيو هېوادونو لخوا منځ ته راغلي په خپله اولسي افغانستاني بڼه تراوسه د هېواد په ځينو برخو کې موجوده ده، د هغې له مخې چې هر کله وغواړو د خپلې ملي موسيقۍ بنسټ کېښودلی شو.

۷/۹/۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

پارادا تا يا پيشدادیان

۱ د اجتماعي ژوند د بدلون يوه ستره دوره

د بشري تولنې د ځينو برخو زړښت او د لرغونتوب نسبي د هغوی لرغونی نسل دی، چې د لرغوني زماني وخت يې تاريخ نه شي مشخص کولی، مګر د هغه وخت تاريخي قبيلې يا کورنۍ او د بې‌لابېلو تاريخي دورو د پاچاهانو نومونه او کارنامې يې ډېرې مشهورې دي.

سره له دې، چې زمونږ هېواد افغانستان د جغرافيايي ساحې له حېثه وړوکی دی، مګر د هغه ژور تړون له مخې، چې له اريايي قبيلې او نژاد سره يې لري د تاريخي عنعنو او اسطورو په لرلو سره د بشري تولنو په منځ کې يوه ستره ځانګړتيا لري.

اريايي تولنه لا په هغه وخت کې، چې هندي او ايراني ځانګې تړې نه وې ببلې شوې او تول په يوه کور کې، چې هغه د هند او ايران ترمنځ د افغانستان په شمال همدارنګه د هندوکش په شمال کې، د امو سيند په شمال کې هغه سيمه، چې د سردريا او امو سيند ترمنځ واقع ده، چې فرغانه په (اريانم ويګو) کې يا (اريانا ويجه) يا (اران وج) چې د تولو مشترک زېږن ځای دی اوسېدل او له ځان سره خاطرې لري، چې کولی شو د خاطرو په نوم يې يادې کړو.

د هند و اريانې تولنو د ژوند دوره په يوه دوره، يو وخت او يو زمان کې وه، چې د هغوی د پراوو تاکل له شکونو څخه خالي نه دي. د افغاني، هندي او ايراني قبيلو ګډو اريايي نېکونو هغه وخت، چې يې لا هجرت ته تن نه ورکاوه او د امو سيند په سيمه او يا يې په شمالي او جنوبي سيمو فرغانه يا باختر کې اوسېدل او د نيمه مالداری او نيمه بزګری په کار بوخت وو، د کورنيو او پاچاهانو په اړه خبرې او بحث کوي، چې د هغوی

خاطرو او د هغوی د کارنامو خاطرو تر ننه پورې زمونږ د حماسي ادبياتو برخه تشکيل کړې ده.

ويدي او اوبستايي سندرې، چې دواړه د دې ټولنې د پېدايښت په ځای کې چې د افغانستان شمال او سويل دی پيل شوي او کومې خاطرې، چې د دې سيمې په سيندونو، خوړونو او غرونو کې موجودې دي له څېلمې د دې پاچاهانو نومونه اخلي.

د ډېر تعجب ځای دی، چې دا پاچاهان په متفرق او خواره واره ډول ياد شوي نه دي، بلکې ډله، ډله او کورنۍ، کورنۍ ياد شوي دي. تر ټولو پخوانۍ پاچايي کورنۍ، چې زمونږ په اسلامي دورونو کې فارسي ادبياتو هغوی د پيشدادیانو او حتی د بلخ د پيشدادیانو په نامه ياد کړې هغه د (پاراداتا) کورنۍ ده. که دا کلمه تجزيه کړو په هغې کې دوه برخې پېدا کولی شو يوه (پارا) چې د مخکې په مانا ده او بل (داتا) چې د (داد) د کلمې لومړی شکل دی، نو سمدستي څرګنديږي، چې (پيشدادیان) ترجمه او يا عين همغه پخوانۍ (پاراداتا) د (بلخي) په صفت ياد کړی وي پر غلطه نه دی تللی، ځکه په هغو دورو کې چې اوبستا په خپل ځلنده باب کې (د پاراداتا) يادونه کوي، نو بلخ د (بخدي) په نامه او د لوړو ببرغونو لرونکي ښار په توګه يې ستاينه کوي.

د پاچاهانو کورنۍ يا قبيله (پاراداتا) عبارت و له:

۱ ـ هوشيانغا ۲ـ ثخمه او روپا ۳ـ (يما) يا (ياما) ۴ـ تريتونا او نور، چې په فارسي ادبياتو کې هغه په هغو نومونو، چې مورږ تري خبر يو په لاندې ډول پېژنو:

۱ ـ هوشنګ ۲ـ ظهواث ۳ـ جم يا جمشيد ۴ ـ فريدون او نور.

په دې کې شک نه شته، چې د (پاراداتا) کورنۍ د واکمنۍ دوره د اجتماعي ژوند د بدلون او مراتبو له نقطه نظره، د اريايي ټولنې (هند او اريانې يا باختري) پر هواره ځمکه او ښار اوسېدنې له زمانې سره برابره ده په بل عبارت د غار اوسېدنې دوره او (پاله اولي تيک) او (نه اولي تيک) دورې يعنې د تيرې پخوانۍ دورې تېره شوې او اريايانو د امو سيند سويل پلو ته د باختر په سيمو کې په بزګرۍ، کليوالي او ښاري ژوند پيل کړی و، مګر تر اوسه يې د بشري ژوند د لومړنيو اختراعاتو لکه اور او داسې نورو خاطرې د هغوی په ذهن کې وې.

انسان که د اوښتا د پښتونو هغې سلسلې ته، چې د (پاراداتا) له پاچاهانو څخه بحث کوي په غور سره وګوري د کلماتو له منځ او طرز تفکر څخه د يوې بشري ټولنې ځانګړنې، د ژوند د ارتياوو پيدا کول، د ښار نشينې، د کښت او کروندګرۍ او د مملکت داري د يوې دورې پيل کتلای شي.

وبه ويني، چې خلك تازه پر ځمکو ځای پرځای شوي د کلاګانو او کليو په جوړولو بوخت دي، په ځمکو کې شلغم شيندي او ونې کري او د ژوند ټولو ټولنيزو ارتياوو ته پاملرنه کوي، د ونو د ډولونو همداراز د څارويو او الوتونکيو په ډولونو او ښه کولو يوازې کوښښ نه کوي، بلکې پدې هم بوخت دي، چې خپله وينه، نژاد او تخم صاف، پاك او بې الايشه وساتي.

د (پاراداتا) يا (پيشدادیانو) کورنۍ له څو پاچاهيو څخه جوړه وه، چې بنايي د واکمنۍ ټوله دوره به يې له سلو يا دوه سوو کلو څخه نه اوږي. مګر ټول پوهېږو، چې اسطورې په کومه اندازه لکه چې ما څرګندې کړې، د دې کورنۍ د هر يو پاچا لپاره پې څو سوه کاله او يا يو زر کاله د عمر اوږدوالی او يا د سلطنت د دورې نسبت ورکوي، چې دا پخپله د اريايانو او په ځانګړې توګه د باختري ټولنې د اريايانو په ډېر ښه صورت د ډېرو ښو افسانوي تخيلاتو په حقيقت ولاړ د ټولنيز بدلون پورونه رابنيي، چې کېدای شي څو زره کاله يې په برکې نيولي وي. دا چې د اوښتا د پښتونو څو لنډې پانې په حقيقت کې د تاريخ څو زره پانې دي، چې په فکر کولو، استدلال او منطق سره کولای شو (چې د دې هرې کلمې او هرې کرښې په شرح کې رسالې او غټ کتابونه يې په شرح او اجتماعي تحول د (هند او اريانې) ټولنې چې يو پلو ته دبحيره خذر سواحل او ايران دی او بل پلو ته زمونږ د وطن د غرونو په لمنو کې چې له هغه ځايه د هند خاورې ته تيت شوی وليکو تدوين او مطالعه يې کړو، نو کولای شو د ټولنيز بدلون د هرې کلمې او کرښې په شرحه کې يې غټ غټ کتابونه وليکو، همدغه د (هند او اريانې) ټولنې، چې يو پلو ته د بحيره خذر لرې او ايران پروت دی او بل پلو ته يې زمونږ د غرونو په لمنو کې چې له هغه ځايه د هند خاورې ته خواره شوي ډېر څه ليکلای تدوين او مطالعه کولای شو.

۱۴/۹/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاما

د طالع د لمر زوی

(د اریایي ژوند د بدلونې د دورې یو ممثل)

سره له دې، چې افغانستان د لرغونتیا له مخې څو زره کلن تاریخ او تر هغه دمخه دورو د مشخص تاریخ په لرلو سره سره ډېرې نورې اوږدې دورې هم لري، چې پر هغې یې باید هر اړخیزې څېړنې وشي، دا ډېر د خوښۍ ځای دی، چې د دې هېواد ډېرو لریو، پخوانیو او تر تاریخ دمخه دورو مطالعه هم تر ډېره حده په هغو منابعو ولاړه ده، چې ډېر ارزښت لري.

په دې کې شک نه شته، چې هر هېواد ترتاریخ دمخه د داستانونو او اسطورو دورې لري، مګر په جرئت سره ویلی شو، چې د افغانستان، ایران او هند د اسطورو، داستانونو او حماسیو دورې ډېرې پراخې او مستندې دي. د اسلامي دورو ادبیاتو، تاریخ او کیسو د (جم) او (جمشید) د نامه څو څو ځله یادونه کړې. د اریایي دوه لومړیو منابعو یعنې (ویدي) سندرو او اوېستا کتاب هغوی د (یاما) یا (یما) په نوم پېژني او په حقیقت کې د ټولې اسلامي دورې معلومات او منابع له همدغو دوه منابعو څخه سرچینه نیسي. ویدي سندرو هغه د (یاما) په نامه او د اوېستا کتاب هغه د (یما) په نوم یاد کړي. لومړی منبع د هغه پلار د ((ویواسوات)) او دویمې منبع د

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ویوانـکارا)) پـه نامـه یـاد کـړي دی او هغـه یـې د (طـالع لمـر) ترجمـه کـړی اوښـتا هغـه (یمـا کشـابته) او ویـدا (یاماراجـان) باللـی، چـې د دواړو مانـا(یامـا بادشـاه) کیـږي. یامـا پـه اوښـتا او ویـدا کـې د ځلېدونکـي نـور شـېندونکي، نورانـي، نورورکونکـي او وړانـګې لرونکـي پـه مانـا یـاد شـوی او جمشـید د دوه ترکیبـي کلمـو پـه صـورت کـې دا پخوانـی مفـهوم پـه اسـانۍ سـره افـاده کـوي.

د یامـا پـه بـاره کـې د (ویـدا) او (اوښـتا) د معلومـاتو روح تقریبـا یـو شـان دی کـه لـه جزویـاتو څخـه ورتـېر شـو داسـې څرګنـدېږي، چـې یامـا لومـړی رئیـس، لومـړی لارښود او لومـړی مشـر او د اریـایي طبقـې، چـې دهنـد او اریانـا ټولنـې وې لومـړی پـاچـا و او پـه قـوي احتمـال د اکسـوس سـیمې تـه د دې ټولنـې د قومونـو د رسـېدلو پـر وخـت او پـه هغـه سـیمه کـې یـې ځای پـه ځای کېدلـو د هغـه او د هغـه د نیکونـو او لمسـیانو خـاطرې پـه ډېره انـدازه پـه (بخـدي) یـا (بلـخ) کـې سـره غونـډې شـوي او د یـو لـړ بلخـي پـاچایـانو سلسـلې خـارجي بـنه غـوره کـړې ده. هغـه کسـان، چـې پـه (ویـدي) لو (اوښـتایي) متونـو کـې د تـاریخي مدارجـو د تثبیـت لـه نظـره وارد دي پـه اسـانۍ سـره پوهـېږي، چـې (یمـا) یـا (یامـا) د زردشـت زمـاني او عصـر پـه پرتلـه ډېره لرغونتیـادرلوده. دزردشـتي خلکـو دخبرولـه مفـهوم او خـدای تـه یـې لـه مناجاتوځخـه پـه ډاګه څرګنـدېږي، چـې د(یامـا)دوره دزردشـت لـه دورې ډېره پخوانـۍاولرغونې ده.

کـه د(ویـد) او (اوښـتا) کلمـاتو او اصطلاحـاتو تـه پاملرنـه وشـي پـه اسـانۍ سـره څرګنـدېږي، چـې (یامـا) او دهغـه عصـر د دوه منـابعو لـه نظـره د اریـایي یـا بشـري مدنـي تـاریخ لـه لومـړۍ عقلانـي دورې سـره سـمون خـوري. د اوښـتا د مندرجـاتو لـه مخـې مـوږ ټول پوهـېږو، چـې څنګـه (یامـا) کرنـې تـه پاملرنـه وکـړه او همدارنـګه د ونـو د ډېرولـو، ابیـارۍ او د انسـانانو د ښه نسـل د ډېر والـي لپـاره مقـررات او همدارنـګه د مرغـانو او حیوانـاتو د نـژاد لـه پـاره پاملرنـه او د لومـړي ځل لپـاره یـې د ابـادۍ بنسـټ کـېښود.

دا ډول معلومـات دومـره عمومـي او افـاقي اړخ لـري، چـې پـه یونـاڅاپـي ډول د بشـري دورې لومـړۍ دورې او داجتمـاعي ژونـد لپـاره یـې اخیسـتي ګامونـه پکـې ترسـترګو کـېږي او یـا لـږ تـر لـږه د اریـایي ټولنـې د ژونـد نظـامي خـاطرې پـه فکـر کـې راځي.

د ((یاما)) د کارونو پیل او دهغه زماني د کارونو تفصیل په حقیقت کې د اریایي قبایلو د ژوند د لومړۍ دورې تاریخچه ده او منطق هم همداسې حکم کوي، چې باید (ویدي سندرې) او د (اوبستا) مندرجات، چې دواړه د اریایي دورې پخوانۍ اولومړنۍ منابع ګڼل کېږي، د دې ټولنې د ژوند د لومړیو دورو شرح ده. البته دا خبره د افغانستان د لرغوني تاریخ په دورو کې د ډېرې پاملرنې وړ ده، چې (یاما) او د هغه دوره، چې هر څومره عمومي او افاقي اړخ ولري، نو بیا هم زمونږ د هېواد په شمال د باختر په سیمه کې د بلخ له ښار سره بې اړیکیو نه ده، هغه صفات، چې نومورې (یاما) یې لري د بلخ لومړنی پاچا یې شمېرو، ځکه چې هغه له ډېرو قدرمنو پاچاهانوڅخه چې بلخي پیشدادیان یې بولي دی او پیش دادیان همغه د (پارادات) کورنۍ یا قبیله ده، چې لغوي مانا یې کټ مټ (پیش دادیان) کېږي.

نو همغه (یاما) یا (یما) چې وروسته د اسلامي دورو په دري ادب کې یې د جمشید په نوم شهرت ترلاسه کړی او د ده مربوطه زمانه یوپلو افاقي او عمومي اړخ لري او له بل پلوه د ځانګړیو خصوصي اړخونو په لرلو سره زمونږ خاوري او هېواد سره اړیکې پیدا کوي.

د (یاما) د وخت مطالعې د افغانستان، ایران او اریایي نړۍ د اسطوره یي دورو په تاریخ کې ډېر ارزښت لري، چې که چېرته یې په جزیاتو لیکل وشي، نو ډېر پنډ کتابونه به تري جوړ شي. په افغانستان، هند او ایران کې د اریایي تاریخ تېنګښت او خپرېدل په همدغه عصر او زمان پورې تړلي دي او ټول هندي، افغاني او ایراني ادبیات، رزمي او حماسي کیسې له همدغه لرغونیو اوسېدونکیو څخه الهام اخلي.

نو ویلی شو، چې د (یاما) د وخت او پخپله د (یاما) یا (جمشید) مطالعه تر تاریخ دمخه خلکو، د ژوندون د اریایي د لومړۍ دورې، د هند و اریانۍ ټولنې د بدلون پراوونه سره په خپلو کې تړي او روښانوي.

۲۲/۳/۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

ريښې، اريايي روحاني حکيمان او شاعران

اريايي ټولنې د خپل ټولنيز ژوند له مراتبو نه په يوه مرتبه کې، چې له هغې نه يې په زرګونو خاطرې د سندرو په قالب کې پرېښې د خپل ژوند په يوه حساس پړاو کې ورداخل شوي، چې د هغې مطالعه ټولې (اريايي) ټولنې يا هند او اروپايي ټولنې ته له هر اړخه ډېر ارزښت لري. د اريايي ټولنې لومړۍ ځای او لومړی روزنتون، چې هر ځای وي هغه به وي، خو کله چې دوی د سندرو لرونکي کېږي، د سندرو په شهادت د هندوکش د غرونو په لمنو کې که هغه شمال پلو ته وي او که سويل پلو ته، ژوند کاوه. د اريايي سندرو مجموعه، چې د پوهانو او څېړونکيو د مطالعې له مخې يې طبقه بندي شوي په جزويات او کتابتونو يې ووېشله، چې تر ټولو پخوانۍ ته (ريګ ويد) وايي. د سندرو همدغه او نوري مجموعې په اتفاقي ډول او يا د کوم فرمايش له مخې منځ ته نه دي راغلي او د هېڅ يوه شاعر شاعرانه انداز پکې مشخص نه دی.

که د مجموعو ځينې برخې د يو تاکلي شاعر او يا د هغه کورنۍ ته نسبت وکړو، نو کولای شو ووايو، چې که دا سندرې د يو شمېر اروپايي شاعرانو د ذهن پېداوار وي، نو د وخت په تېرېدو سره دومره تکرار شوي، چې د يو ټولنيز تصنيف بڼه يې غوره کړې، چې په عمومي ډول يې شاعران معلوم نه دي او د يوې ټولنې يا يو قوم مال ګڼل کېږي، له دې سره سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې سندرو موجد يا بنسټګر، موسس او يا يې ويوونکي هغه شاعران وو، چې په مربوطه زمانه کې يې د (ريښې) په نوم ياد کړي.

په دې کې شک نه شته، چې د (ريښې) د کلمې اسانه ترجمه (شاعر) دی، خو دا شاعران د اوسني شاعر د کلمې په مفهوم يوازې شاعران نه وو، بلکې د زمانې په هکله يې پوره پوهنه لرله او کافي اطلاع به يې درلوده، د علم او فضل په درياب کې ډوب له نبوغ سره يې د روحانيت لاره نيولې و بنه فقيه عالم به و او په ټولنه کې به يې لکه د يو لارښود په څېر د ټولنيز او قومي اصولو په رڼا کې خلکو ته لارښوونه کوله او هر وخت به په کورونو او کليو کې ګرځېدل، خلکو ته به يې د لارښوونې ترڅنګ نصيحتونه هم کول. همداراز د کورونو له منځ نه نيولې تر کليو او قبيلو پورې د دې ټولو ټولنيزې لارښوونې په ربښه يا شاعر پورې مربوطې وې.

تر کومه ځايه، چې له ويدي سندرو نه څرګندېږي، د (ريښې) کلمې د مفهوم جامعيت مونږ ته اجازه راکوي، چې (ريشي) د (حکيم) او (حکيم فرزانه) ترجمه کړو.

همدارنګه کولای شو، چې دا کلمه (روحاني) او يا (سپېڅلې روحاني) ترجمه کړو او همدغه شان د ټولنيز نقش له نظره په اسانۍ سره کولای شو دا کلمه لارښود او لارښوونکی هم تعبير کړو. په حقيقت کې همدغه مانا او ټول مفهومونه د (ريښې) په کلمه کې ورګډ دي او دا ريښې هغه خلک وو، چې د يوې کورنۍ له دننيو لانجو او شخړو نه نيولې بيا د کلي د ملک تر تاکلو، په اریاي جامعه کې د قوم د ملک تر تاکلو پورې په همدغه پورې اړه درلوده او تردې لويو ټولنيزو مسايلو کې لکه جنګونه او مهاجرتونو او نورو کې يې وينا او ګډون ډېر اغېزمن و. په همدې خاطر، چې هغوی روحاني، اجتماعي او اداري ارځ درلود، نو ځکه يې په اريايي ټولنه کې نقش ډېر مهم او ارزښتمند و، نو درناوی يې پر ټولو لازم او ضروري ګرځېدلی وو.

لکه څنګه، چې مې پورته ورته اشاره وکړه اريايي شاعران يا (ريښې) که په لومړيو دورو کې د افرادو په ډول وو، نو وروسته د کورنيو په شکل رامنځ ته شول.

لکه څنګه چې د اريايانو اجتماعي وظيفه د کورنيو دننه د معنوي ميراث زده کړه وه، نو اريايي مشرانو هڅه کوله، ترڅو د معنوي ميراث د

زده کړي ترڅنګ د کورنيو په منځ کې د مادي ميراث زده کړه هم نسل په نسل ور زده کړي او دلته (ريښې) يا شاعرانو ډېر کوشش کاوه ترڅو د دوی زامن او لمسيان داسې وروزي، چې معنوي ميراث په دوی کې خوندي شي.

تر کومه ځايه، چې د اريايي سندرو له مطالعې څخه څرګنديږي (ريښې) يا شاعران ډله، ډله او يا کورنۍ کورنۍ يو ځای ژوند کاوه. همدې ته په کتنه د (ريګويدا) هر جز د ريښې د يوې ډلې اويا يوې کورنۍ پورې مربوط بولي.

له دې سره سره د (ريګويدا) د کتاب لس جز و، په عمومي ډول د يو رنګ خواصو لرونکي نه دي او تر کومنه ځايه، چې ادبي او لغوي څېړنه شوې په شپږ جزونو کې، چې له دويم څخه تر اووم پورې د ګډو عواملو په لرلو مشهور دي، همدغه مشترک عوامل، چې په دا شپږ جزونو کې په نظر راځي، مدققين يې دې ته اړ کړي، ترڅو دې شپږ جزونو ته د کورنيو چارو کتاب ووايي. دا اصطلاح د اريايي کورنيو د ټولنيزې روزنې له روح سره برابره ده، ځکه د شاعرانو کورنيو هڅه کوله ترڅو هغه شعرونه او سندرې، چې د کورنۍ پلرونو ويلي دي سينه په سينه خوندي کړي او په دې ترتيب د دې لپاره، چې د سندرو ويونکي بېلا بېل کسان وو، خو په يو کور کې د ګډ ژوند په وجه هغه ګډې ځانګړتياوې په هغوی کې پاتې دي. په هر حال (ريښې) يا روحاني حکيمان هغه اريايي منش شاعران وو، چې د اريايي فرهنګ له مخې ټولنيزې رهبرې او ټولنيز ژوند ته د خلکو تمايل هم د دوی دنده وه. دوی د اريايي قومونو د رئيسانو، سردارانو او ملکانو ترڅنګ ډېر ممتاز، محترم موقعيت او مقام درلود، د اريايي ټولنې په منځ کې د دوی په باره کې هغه څه، چې ورته پاملرنه شوې دا معلومات زمونږ لاس ته رارسېدلي دي او د پخوانۍ افغانستان د تاريخ يو منځ يې د اريايي سندرو په يو نظر روښانه کړی دی.

۵/۲/۱۳۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردښت او د بلخ له اسپه کورنۍ

سره د هغه اړيکي

زردښت، زردهشت، زرتښت او زوراستر دا ټول په مختلفو صورتونو کې ثبت په بلخ کې د يو مشهور حکيم، د سيمې د رئيس، مصلح، تولنيز او مذهبي شخصيت نوم دی، چې د لرغونې زمانې په ختيځ او لويديځ کې يې شهرت درلود د ده د ستر شخصيت د لرلو په وجه د لرغونې زمانې بېلا بېلو قومونو لکه ايرانيانو، هنديانو، يونانيانو او روميانو په منځ کې په مختلفو بڼو څان ښکاره کړی او د هغو لپاره يې ډول ، ډول داستانونه او کيسې منځ ته راوړي، که د اريايي قبايلو په (ويدي) او (اوېستايي) دوروکې د فکري، اجتماعي، ادبي او لساني تاريخ بدلون ته په غور وکتل شي څرګنديږي، چې زردښت هم د ويدي عصر د هغو حکيم مشربو شاعرانو په سلسله کې راځي، چې ريښې به يې بلل او نومورې وروستی ريښې ګڼلی شو، ځکه چې د اوېستا عصر د هغه په کتاب او د هغو په اجتماعي او مذهبي اصطلاحاتو پيل کېږي.

په ويدي عصر کې بلخ، کاپيسا او کندهار يعنې په افغانستان کې د هندوکش شمالي او سويلي ولايتونو لويې لويې ريښې يا شاعران ليدلې دي، که څه هم د دې ريشې يا شاعرانو ظاهراً دنده د شعر ويل او يا سندرې ويل وو، مګر هغوی په عين حال کې حکيمان، عالمان، پوهان، عاقلين، شريف، په نژاد پاک د تولنې مصلحين او دقوم لارښودونکي وو او ببلا ببلو برخو کې د هغوی کارنامې په ويدي سندرو کې اورو. زردښت د مراتبو له نظره د همدغو ريښې يا د وخت د حکيمانو، عالمانو او عاقلينو وروستی شخص دی، چې د کنشاسب د واکمنۍ په وخت، چې د اسپه

کورنۍ د شاهانو له جملې څخه یو زر (۱۰۰۰) کاله وړاندې تر میلاد په بلخ کې راپیدا شوی دی.

د زردښت د کورنۍ اړیکي او کورنۍ تړون د بلخ له اسپه کورنۍ سره زمود د هیواد په لرغوني تاریخ کې یوه ډېره پېرې سلسله ده، چې د هغې روښانول د دې تولنیز مشر او مصلح په انتساب کې یو وړوکی شك هم نه پرېږدي.

د زردښت یا زراتشترا نوم له دوه کلمو (زر) او (زرد) نه مرکب ده، چې هغه دواړه تراوسه په دري ژبه کې یو ته (طلایي) او بل ته (زرد) یعنې ژېړ ویل کېږي. په دویمه کلمه کې د (اشتر) یا شتر نوم روښانه دی او په همدې ترتیب د هغه نوم له مخې په اصطلاحي ژبه هغه د (صاحب اشترزرد) یعنې د زېړ اوښ څښتن او (صاحب اشتر طلایي) یعنې د (طلایي اوښ څښتن) ویلی شو.

د زراتشترا د خسر نوم (فراشترا) و، چې لومړی کلمه (مفدم) او دویمه (اشتر) یعنې اوښ ترجمه کولای شو، چې په اصطلاحي ژبه ورته (صاحب اشتر اهوار) ویلی شو، چې په دې دواړو نومونو کې په ښکاره ډول د (اشتر) یعنې اوښ کلمه په نظر راځي. له زردښت سره په ډېرو ټرلو نومونو کې د (اسپ) او (اسپه) کلمې د پام وړ ګرځي، چې لومړی یې په دري کې د اس اوسپې لپاره یو ډول ویل کېږي او دویمه د پښتو په ژبه کې صرف د اسپې لپاره ویلی شو.

نو د زردښت پلار پوروش او مور یې د غددو نومېده دا هغه دي، چې د نسب سلسله یې اسپه کورنۍ پورې تړون لري او اسپه کورنۍ په بلخ کې د ډېرو نجیبو او باشرفو خلکو له ډلې نه شمېرل کېدل، چې د ډېرو رمو او اسونو، اوښانو د ګلو په لرلو یې د باختر په ټولو برخو کې شهرت او قدرت ترلاسه کړی او بالاخره یې د قدرت او اعتبار په وجه د بلخ له پېښ دادیانو څخه وروسته او (ګاوي) کورنۍ څخه وزارت او سلطنت ته ورسېدل.

په اوستا کې د اسپه کورنۍ د نوم ډېره یادونه شوې او هغه کسان، چې له دې کورنۍ څخه پاچاهي ته رسېدلي دا دي:

(اروات اسپه(د تندو اسپو څښتن، (وسیست اسپه) یا (ویشت اسپه) د بیدارو اسپو څښتن، چې دا دواړه په وروستو دورو کې د (لهر اسپ) او دویم یې د (کشتاسب) په نومونو ښه پېژنو.

زردښت په بلخ کې د اسپه کورنۍ د دويم پاچا ويشتاسپه يا کشتاسب په وخت کې د يو مصلح او لوی ټولنيز او مذهبي شخصيت په توګه رامنځ ته شوی دی، خو لکه څرنګه چې د هغه د زېږېدلو نېټه معلومه نه ده، نو د هغه د زماني لپاره يې لوړه نېټه يو زر کاله وړاندې تر ميلاده ټاکلې ده، چې مورخ هم د پخوانۍ افغانستان د کرونولوژۍ په تاريخ کې دا نېټه منلې ده. وروسته له دې، چې زردښت په خپلو مذهبي اصلاحاتو او اجتماعي رفورم په لرلو سره وکړای شول، چې د بلخ د پاچا کشتاسپه په دربار کې شهرت ترلاسه کړي، چې وروسته له هغې څخه يې د کشتاسب له وزير (جام اسپه) او د هغه له ورور (فراشترا) سره د خپلوۍ اړيکې ټينګ کړل، هغه په دې ډول، چې پورته وويل شول د (فراشترا) لور يې ځانته واده کړه او خپله يوه لور يې، چې (پوروچيست) نومېده لکه د نکاح په ډول بلخي وزير جام اسپه ته ورکړه، چې د دې خپلويو په وجه يې د بلخ د اسپه کورنۍ او قبيلې له مشرانو سره ډېر نژدې اړيکې ټينګ کړل.

د دې کتنو له مخې څرګنديږي، چې زردښت بلخ يا د باختر سيمې ته له کومې بلې سيمې څخه نه دی راغلی، بلکې اصلاً د بلخ د نجيبو کورنيو له ډلې څخه دی او نيکونه يې د سيمې د سردارانو او شريفو خلکو له جملې څخه وو، چې د پسونو د رمو او اوښانو او اسونو د ګلو د لرلو په وجه يې ښه پېژندويې او ډېر شهرت شوی و او د بلخ د پاچا ګشتاسپه له وزير او د هغه له ورور سره د ده د خپلوۍ اړيکې په بلخ کې د ده د کورنۍ د نجابت ښه ثبوت دی.

زردښت په ټولو متونو او (ګاتا) کې، چې هغه په اوستا کې د ده د ويناو تر ټولو پخوانۍ مجموعه ده د (سپنتمان) په صفت ياد شوی دی، چې په هغې کې د پښتو د (سپين) په کلمې باندې يو ناڅاپي سترګې لګېږي او دا ترکيبي صفت يې (سپينه تومنه) يعنې سپين ناد يا (سپين لمنې) ترجمه کړی دی، چې په اصطلاحي صورت يې (پاك نهاد) ، (پاك دامن) او يا (پارسا) ترجمه کولای شو او دا صفت د هغه په څلورم نيکه کې د اسم خاص په توګه راغلی، چې پخپله زردښت ته د يو کورنۍ رنګ په نوم ارزښت لري.

۶/۲/۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

زراتشترا، سپين تمان او بلخ

د اسلامي دورې په ډېرو تاريخي او ادبي متنونو کې څو ځله د بلخ او زرتښت د نوم يادونه شوې، داسې يو شمېر ختيځ پوهان شته، چې د هغه د زېږېدنې ځای آذربايجان رانيسي، مګر يو ډېر شمېر کسان شته، چې وايي نوموړی په بلخ کې زېږېدلی او پخوانې اريايي د باختر د سيمې ديني قوانين، رسم او رواج د ده له خوا منځ ته راغلي.

تر کومه ځايه، چې د زرتښت د نسب او نيکونو په هکله له څېړنو او د اوېستا له شهادتونو څخه څرګنديږي داسې ښکاري، چې د (ګاتا) ويونکي نيکونه نسل په نسل په باختر کې اوسېدل او د زور بلخ په ډېرو نجيبو کورنيو کې شمېرل کېږي. همدارنګه د يوې درنې کورنۍ د سوابقو په لرلو او د خپلو نوو افکارو د تبليغ او اصلاحاتو په راوړلو او همدغه شان له باختري وزيرانو سره د خپلوۍ اړيکيو دی برقرار ساتلی.

د زردښتي دين د تبليغ او د پاچاهۍ دربار د تاکنې په ځای کې، چې دغه تبليغ په هغه ځای کې صورت نيولی، هېڅ څوك او هېڅ يوه پخوانۍ او اوسنۍ منبع شك نه لري، ځکه چې ټول په دې متفق دي، چې يو د عبادت کولو دين، چې اصلاً دا قانون د (مزديسنا) په نوم يادېده په بلخ کې د ګشتاسپه په دربار کې د زرتشترا له خوا څرګند شو. له (ګاتانو) نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګند ېږي په هغه سيمه کې، چې خلک يې لکه د کوچيانو په څېر په صحرا کې ګرځېدلي او ژوند ژواك يې هم لکه د کوچيانو وو او اريايي دين هلته رواج او سابقه درلوده او خلکو مختلفو څيزونو ته عقيده درلوده او ډېر معتقد وو، فديې او قربانۍ ته يې ډېر ازربنت ورکاوه، زرتښت هلته خپل دين ظاهر او څرګند کړ.

مدققينو وروسته تر مطالعو دا وموندله، چې دا سيمه د هندوکش په شمالي سېمو کې د بخدي، باخترش او يا د بکتريان سيمه ده. لکه څرنګه، چې د کشتاسپه په عصر او دربار کې د نوي دين په موضوع خبرې کوو، نو بايد پوه شو، چې د زراشترا معاصر پاچا کشتاسپه څوك و؟ او چېرته يې سلطنت درلود؟.

زراتشترا په اوېستا کې له (ويشتاسپه) سره داسې خبرې کولې، چې فکر کېږي ګواکې له يو ژوندي پاچا سره ګړېږي.

ځينې شرقي او غربي څېړونکي د ګشتاسپه په ټاکنه کې تېروتې دي هغوی ګشتاسپه د داريوش پلار ويشتاسپه بولي.

اوس نو پخپله د داريوش په اعتراف، چې وايي پلار يې اصلا پاچاهي نه ده کړې او اوېستا قطعا د هخامنشي نسل نه پېژني، نو ويلی شو، چې ويشتاسپه د زرتښت معاصر دی او زرتښت د هغې پاچاهۍ ملاتړی دی، چې پايتخت يې بلخ، له باختر نه تر سيستانه يې حکم چلېده او د بلخ د (اسپه) شاهي کورنۍ غړی و، چې اوېستا هغه د (لوی کی ويشتاسپه) په نوم ياد کړی، دقيقي د بلخ پياوړی رونداو ناکام شاعر د ګشتاسپه دربار نه د زرتښت د لارې پېدا کولو په باب داسې وايي:

چويکچند گاهی بر امد برين ـ درختی پديد امد اندر زمين
زايوان کشتاسب تا پيش کاخ ـ درختی کشن بيخ و بسيار شاخ
همه برگ او پندو پارش خرد ـ کسی کزچنان برخورد کی مرد
يکی باک پيدا شد اندرزمان ـ بدست اندرش مجمرعود و پايان
خجسته پی و نام او زردهشت ـ که اهر يمن بدکنش رابکشت
به شاه جهان گفت پيغمبرم ـ تراسوی يزدان همی رهبرم

وړاندې مو وويل، چې د (ګاتها) له لارښونو نه څرګند ېږي، چې زردښت په سيمه کې نوی دين اعلان کړ، چې هلته خلك زيات شمېر ارباب الانواعو ته عقيده درلوده. دا همغه د ويدي عصر اريايي ارباب الانواع دي، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کې د اریایانو په خپریدلو معمول شوي و او زراتشترا، چې د ویدي دورو وروستی ریښتیني (شاعر)، حکیم، عاقل او پوه دی، چې په پخوانیو معتقداتو کې یې اصلاحات راوړي په هغو ټولو ارباب الانواعو یې د باطل کېدلو کربنه رابنکله او د یو واحد ذات پرستش یې اعلان کړ.

دا سمه خبره ده، چې اریایانو یوه موده په افغانستان او په ځانګړې توګه په باختر کې ټولو نوراني عناصرو ته شخصیت ورکړی او هر یو ته په یو مقام قایل شوي دي او بیا د اوبستایي دورې توحید پرستی ته هم وروسته له هغې د (مهر و اناهیتا) بودایي دین نمانځنه که هغه د هندوکش په سویل کې و او که په شمال کې، معمول شو. مګر د اسلامي وروستیو دورو مورخینو او لیکوالانو پخوانۍ سوابق د هغو له بېلونکیو ځانګړنو سره توپیر ونشو کړای، لکه چې له وشتاسپه نه وړاندې یو شمېر بلخي پاچاهان یې ستوري پرست یاد کړي او یو شمېر نورو لیکوالو د بودایي نسبتا وروستیو دورو بودایي معبد د بلخ له پخوانیو داشونو (اورځایونو) سره نه دی توپیر کړی، همدلته ترېنه موضوع ګډه شوې ده.

دقیقي په خپلو شعرونو کې د کشتاسپه د پلار لهراسپ د زړښت او زوی ته یې د تخت او تاج د سپارلو او همدارنګه خپله لهراسپ د بلخ په معبد کې د معتکف کېدلو پُه اړه پارچې لري او په هغو کې اشاره کوي، چې لهراسپ (لمر) ته په عبادت کولو لکه څنګه، چې د جمشید لاره او دود و مشغول شو، وړاندې تر کشتاسپه، ویشتاسپه او زرتشترا نه په بلخ کې دود و.

د زرتشترا نوم یې په مختلفو اسلوبونو تجزیه او ترجمه کړی دی. معمولا دا کلمه له دوو توکو (زرته) او (اشترا) څخه مرکبه ګڼي، چې د (ژیړ اوښ لرونکی) او یا د ګړندي اوښ روزونکی یې ترجمه کړی. د زراشترا د خسر نوم (فراشترا) و هغه یې فرا یعنې مقدم او (اشترا) یعنې اوښ (شتر) ترجمه کړی او هغه په اصطلاحي ډول د (ښه لاړوي اوښ څښتن) ترجمه کړی د (اسپه) یا (سپنته) یا (سپنتمان) صفت په پښتو کې په عین شکل د (سپین) په مانا پاتې دی او د هغې مانا (سپینه کورنی) او (سپینه تومنه) ده، چې په اصطلاحي ډول کولای شو، هغه د سپېځلي اروا خاوند ترجمه کړو.

د (پاک) او (خجسته پی) صفتونه، چې مو د دقیقي په شعرونو کې ولیدل، غالبا د همدغې کلمې ترجمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زردښت د پلار نوم (پوروش) د نیکه نوم یې (سپیتمان) او د غور نیکه نوم یې (هیچت اسپه) و، چې له هغه نوم څخه یې کورنی نوم اخیستی دی. د هغه د نیکونو په نوم کې د (اسپه) له کلمې څخه څرګندېږي، چې د بلخ له مشهورې اسپه کورنۍ سره اړیکي لري او د بلخ له یوې نجیبې ټولنې سره اړوند ېږي د همدغو اړیکیو پر اساس وروسته تردې، چې ددین تبلیغ یې وکړ او اصلاحات یې راوړل د اسپه کورنۍ له وارثینو سره یې خپلوي وکړه.

همدارنګه د بلخ د پاچا ګشتاسپه د وزیر (جم اسپه) د ورور (فراشترا) لور یې ځانته واده کړه او خپله ځوانه لور (پورچیست) یې د بلخ د پاچا وزیر (جم اسپه) ته ورکړه دا ټول اړیکي داسې ثابتوي، چې زرتشترا نسل په نسل په بلخ کې اوسېدلی، په همدغه ښار کې پېدا شوی او همدلته یې تبلیغ پیل کړی او بالاخره په همدغه ښار کې د تورانیانو د یوې حملې په ترڅ کې وژل شوی دی.

۱۸/۲/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاتا_ کاث یاس

یو له هغو لرغونو کتابونو څخه چې د حکیم او پوه (زراتشترا) له خوا په بلخ کې منځ ته راغلی (اوېستا) ده، چې له (وید) نه وروسته یې دویم اریایي کتاب ګڼلی شو، اوېستا پر پینځو برخو وېشل شوی دی:

۱_ لینا، ۲_ ویسپرد، ۳_ وندیداد، ۴_ یشت او خورده اوېستا.

د اوستا لومړي اوولس (۱۷) فصلونه (لینا)، چې له (ګاتا) څخه عبارت دی، دا د اوېستا پخوانی او اصیله برخه تشکیلوي او هغه د زراتشترا خپلو خبرو عبارت بولي.

په دې کې شك نه شته، چې اوېستا په دغه موجوده بڼه کې تازه او نوی د ساسانیانو پر وخت منځ ته راغلی او لومړی منشور کتاب دی. پوهان په دې عقیده دي، چې اوېستا لومړی لکه د (ویدي) مجموعې په څېر منظوم لیکل شوی او ټول په نظم ویل شوی و. د اوېستا له نورو برخو سره د ګاتا اساسي توپیر دا دی، چې (ګاتا) منظوم دی او د اوېستا نورو برخو خپل شعري رنګ د لاسه ورکړی او د نثر په ډول راپاتې دی. باید په یاد ولرو هغه آثار او کتابونه، چې د اریایانو د ژوند د لومړۍ دورې او تاریخ ته یې نسبت کیږي ټول په منظوم شکل وو، خو د وخت په تېرېدو سره یې وزن او قافیه زیانمنه شوې منظوم کلام د منشور بڼه خپله کړې او خپل ارزښت یې له لاسه ورکړی، لکه چې له اوېستا نه پرته د یو بل کتاب درك هم لرو، چې په مسیحي دربمه پېړۍ او یا ترهغې دمخه یې منظومه بڼه ډرلوده او وروسته د ساسانیانو پر وخت یې منشوره بڼه خپله کړې دا اثر عبارت دی له (یاتکارزریران) یا (یادګار زریر)، چې په (برشوي) یا پهلوي پارتي اشکاني ژبه منځ ته راغلی و، چې بیا وروسته د ساسیانو په دوره او حتی په شپږمه هجري پېړۍ کې په پهلوي ساساني ژبه منځ ته راغلی، چې بیا تقریباً په عین بڼه بلخي شاعر دقیقي د څلورمې هجري پېړۍ په اوږدو کې په دري ژبه وکیښل، نو ویلی شو، چې د (ګاتا) او د اوستا د نورو برخو توپیر په دې کې دی، چې (ګاتا) منظوم او نوره برخه منشوره ده.

پوهان باوري دي، چې یشت یعنې د اوېستا څلورم جز، چې د دې کتاب یوه بله برخه ده د هغې د اوسنۍ بڼې د شعري ترکیب روح هم احساسولی شي، لکه څرنګه، چې د وخت په تېرېدو سره د دې ډول اثارو ډول، ډول ترجمې، تفسیر او تعبیرونه منځ ته راغلي، لږ لږ د کلماتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمبدو او ډبرېدو سره او د يو شمېر نورو کلماتو د ګډون په وجه يې شعري بڼې بدلون موندلی دی.

په هر حال (ګاتا) پهاوبستا کې يوازينی منظومه مجموعه ده او دا د ګاتا کلمه د لغوي مانا له نظره (سندره) ترجمه شوې ده، د دې کلمې اصلي تلفظ (ګات) دی، چې د دې ترڅنګ (ګاس) شوی او بيا په دري ژبه (ګا) شوی دی، چې د ظرف زمان، ظرف مکان او د موسيقۍ د اهنګ په مانا هم راغلی دی.

د اکثرو پوهانو په عقيده (ګاتا) د اوبستا ډېره پخوانی برخه ده او د هغې لرغونتوب، د کلام ترکيب، شکل، ماهيت او د کلماتو قيافه ثابتوي. يو تن له فرانسوی ختيځ پېژندونکی (ډارمستټر) په دې عقيده لري، چې د (ګاتا) اکثره لغات د (زند) په عاميانه ژبه کې له منځه تللي، ځکه چې بايد هېر نه کړو، چې د اوبستا او ورسره د (ګاتا) ژبه د (زند) او يا د (اوبستا ژبه) ګڼي.

د (ډارمستټر) په عقيده د (ګاتا) اکثره لغات د زند په عاميانه ژبه کې له منځه تللي، مګر د اريايي سندرو په مجموعه کې د (ويدي) ژبې ورته کلمات او کورنی يې پاتې دی، چې دا نه يوازې د (ګاتا) د لرغونتوب پراونه او مراتب ثابتوي، بلکې بله مسئله هم تائيدوي، چې د (ويدي) سندرو ويوونکي او هغه کسان، چې په (ګاتا) ژبه يې خبرې کولې، سره خوا پر خوا اوسېدل او حتی په يوه سيمه کې يې ګډ نژادي، فرهنګي او ادبي پيل درلود.

(ګاتا) د تاريخ، ادب، اخلاقي او فلسفي افکارو له نظره يوه حلقه ده، چې د ويدي عصر د ادبي اثارو ډېرې برخې اوبستا ته مربوطوي. داسې څرګندېږي، لکه چې د ژبې او ادب له نظره دواړه ارتباط لري همدغه شان يې د ويوونکيو ترمنځ هم ډېر نژدې اړيکي موجود وو.

(ګاتا) له پنځو منظومو څخه جوړه ده، چې هره يوه يې فصلونه لري، چې هغې ته (ها) وايي او بيا هره (ها) په قطعاتو او مصرو وېشل شوې، چې هرې قطعې ته (وجس تشتي) او هرې يوې مصرعې ته (فسمن) وايي، چې کولای شو (وجس تشتي) د خبرو پارچه ترجمه کړو او قطعه د دې مفهوم د افادې لپاره بهرتينه کلمه ده. همدارنګه (فسمن) د اندازې او مقياس په مانا ده او په ادبي مفهوم يې هم ديوتاکلي مقياس څو کلمې په برکې نيولې او د دې ادبي مفهوم (مصرع) افاده کولای شي.

له دې سره سره (ګاتا) د ۲۳۸ قطعو او ۸۹۴ مصرعو لرونکې ده.

۷/۱۱/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبستا له نظره د افغانستان د خاروی لرغونتوب

د افغانستان خاوره د پخوانۍ او لرغونې ده. د دې خاورې د لرغونتیا د پوړونو د افق په پس منظر کې سوونه پېړۍ او زرګونه کلونه نغښتي دي.

تاریخ حافظه د دې لرغونې خاورې د ډېرو لومړیو دورو پېژندګلوي په یاد نه لري ترکومه ځایه، چې په اسطورو او داستانونو د لرغونو پاچاهانو او نومیالیو پهلوانانو په حماسیو او رزمي کارنامو پورې اړه لري مورږ ته یې یو شمېر خاطرې را رسولې دي، چې د هغو مطالعه یو ځانګړی او په زړه پورې بحث دی.

د هغو پخوانیو منابعو په ډله کې، چې د اوسنیو پوهانو لاس ته راغلي او له هغو منابعو څخه یې د افغانستان د ځینو ځایونو د هویت په اړه معلومات ترلاسه کړی، کولی شو ووایو، چې هغه (اریایي سندرې) او یا اریایي رزمي، حماسي او مذهبي لرغونې خاطرې هغه په نظم دي که په نثر. په مجموع کې یې (اریایي خاطرې) ګڼلی شو او بیا دا خاطرې د زمان او مکان د چوکاټ له مخې د (ویدي) او اوبستا یې خاطرو په نوم ویشي. سره له دې، چې دا خاطرې پرله پسې دي، خو کولای شو په دواړو کې داسې مطالب ومومو، چې د ژوند یو مشترك طرز تفکر او د هغوی ادب رابنیي. د دواړو یاني ویدي او اوبستایي عصرونو په خاطرو کې د افغانستان ډ ځینو برخو یادونه شوې، خو باید وویل شي، چې په لومړۍ ډله کې کمې او دویمه کې ډېرې خاطرې په ځای پاتې دي.

دلته د اوبستا له دیني اړخ نه تېرېږو. باید ووایو، چې دا د هغو خاطرو مجموعه ده، چې د یوزر کاله دمخه تر میلاد د اریایي ټولنې د اوسېدلو پرځای او د ژوند په څرنګوالي رڼا اچوي.

د (اوبستا) د دریمې برخې په لومړي باب کې ، چې (وندیداد) نومېږي د یو شکله انسان ته ورته شادیانو (ببزوګانو) او له نیکه مرغه دځمکې یادونه شوې ده، چې هره یوه یې د اریایي قبایلو استوګن ځای شوي، چې هغه ټول په مجموع کې پراخه سیمه وه او په اوبستایي عصر کې یې اریایي هېواد تشکیل کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبستايي خاوري قطعات پر شپارس قطعو مشتمل و، چې د هندوکش د لوی غره څلور خواو ته پرله پسې پرتې وې، تر کومه ځایه، چې پرې څېړنه شوې هغه سیمې، چې د دې غره له بېلا بېلو ځایونو څخه خړوبېدلې هغه د اوبستايي ځمکې مقدسه برخه ده، چې دا دی له هره یوه یې په ځانګړې توګه یادوو:

۱_ *اریانم ویجو* : د دې دوه کلمو تحت الفظي مانا (د آریایانو تخم ځای) دی او په اصطلاحي ډول کولای شو (آریایي تعلیم ځای) ورته ووایو، چې پوهان دا ځای د امو سیند او سردریا پورتنۍ سیمه، چې اوسنۍ فرغانه ده، ټاکي.

۲_ *سغره* : لکه څنګه، چې یې له نوم څخه څرګنده ده دا د سغدیان سیمه ده، چې د امو سیند بنۍ څنډو ته پرته ده.

۳_ *مورو* : دا د مروی له سیمې یا ارغنداو څخه عبارت دی، چې د مرکزي افغانستان له غرونو څخه سرچینه نیسي او د مروی له شاوخوا تېرېږي، چې دا ډېره بنکلې او حاصلخېزه سیمه ده.

۴_ *بخدي* : چې د بنکلي خاوري په نوم یاده شوې ده دا همغه (بخل باميك) (بلخ الحسنا) (بلخ بامي) او یا (بلخ ګزمن) ده، چې د اوستایي له ډېرو غوره او مهمو قطعاتو څخه وه.

۵_ *نیسایا* : دا د اویستایي سیمې پنځمه قطعه خاوره ده، چې د هغې موقعیت یې د مرغاب او بلخ ترمنځ ټاکلی، سره له دې، چې یو شمېر خلك یې نیسایا، عشق اباد او یو شمېر یې میمنه بولي.

۶_ *هروي وه* : د دې قطعې ځمکې د موقعیت ټاکنې په هکله هېڅوك تردید نه لري، چې دا عبارت د هرې له منطقې څخه ده، چې معمولا یې د هرې رود په نوم یادېږي په وروسته دورو کې د ذې سیمې د اوبستايي دورې د نوم په شکل کې تر لږ څه بدلون وروسته د (اري) یا (هري) په نوم پاتې دی او دا نوم تراوسه پورې په دې رودخانه کې څرګندېږي.

۷_ *ویکره ته*: هغه پوهان او مدققین، چې د لرغونې دورې په جغرافیه پوهېږي دا سیمه د کابل علاقه بولي.

۸_ *اوروایا اوره*: یو شمېر مدققینو د دې سیمې د موقعیت په ټاکنه کې چوپه خوله دي او یو شمېر نورو یې د ((طوس)) یا غزني سیمه پېشنهاد کړې ده . په ځینو ماخذونو کې ((ارګون)) او د هغې د چاپېریال ځمکې

مجموعه يې (روه) يادې کړې او (روه) يا (اروه) د تلفظ له مخې چندان لرې کلمې نه دي. د هغه ځای د اوسېدونکيو ځانګړنې، غرور او ځان وينې وه.

۹_ *خننتا* : يو شمېر پوهانو دا ځای د (هيرکانيا) يا ګرګان علاقه تعبير کړې ده.

۱۰_ *هري ويتي*: هري ويتي يا (اراويتي) د ارغنداو د سيند ګوتې نوم و، چې دا د کندهار د بنار له شمال او شمال لويديزې برخې څخه تېرېږي. دا ډېره بنکلې، حاصلخېزه او د اوبستا لسمه قطعه خاوره تشکيلوي.

۱۱_ *ای تومنت* : ا تومنت همغه (ريتومندرس) ده، چې يوناني جغرافيه ليکونکي يې يادونه کړې او د هلمند رودخانه ترې مطلب ده او د دې لويې رودخانې حوزه، چې په اسلامي دورو کې يې (نيمروز) باله يو له متمدنو مرکزونو څخه و.

۱۲_ *رايا ګايا ره ګه*: د راګارا ځينې برخې يې (ری) بولي، چې کنډوالې يې د ايران ترشرقي سيمې پرتې دي او په بدخشان کې هم د (راغ) په نوم يوه علاقه لرو.

۱۳_ *کخره* : دارمستتر فرانسوي د دې سيمې موقعيت په خراسان او يا په غزني کې بنيي.

۱۴_ *ورنا يا ورنه*: د دې سيمې څرګند موقعيت معلوم نه دی.

۱۵_ *هپته هندو* : يا اووه سيندونه يعنې اوسنی پنجاب.

۱۶_ *رانګه يا رانګاه*: د اوبستا د شپارسمې قطعې ځای هم تراوسه معلوم نه دی او تول پوهان په متفق ډول تراوسه د دې نقطې په تاکلو بريالي شوي نه دي.

په هر حال لکه څرنګه، چې د پخوانيو او اوسنيو نومونو له يادونې او لنډې شرحې نه معلومېږي، ترکومه ځايه، چې پوهان د اوبستا د شپارسو سيمو د موقعيت په تاکلو بريالي شوي، تر ډېره ځايه د دې سيمو چاپېريال. د هندوکش چار چاپېره منطقې او د (اکسوس) امو سيند او (اندوس) يعنې سند د سيمو ترمنځ پرته وه او که چېرته يادې شوې سيمې يو له بل سره خوا په خوا وشمېرو د افغانستان ټوله خاوره پکې راځي، نو بنکاره څرګندېږي، چې د اوبستايي عصر اريايانو مسکن او استوګن ځای، چې د هندوکش څلور خواو ته پراته وو، وګړو يې په خپلو کې په ښه ټوګه سره پېژندل.

۲۷/۴/۱۳۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوبستا کې د غرونو یادونه

(اوبستا) د اقلیم پېژندنې له مخې ډېر ارزښتناك جغرافیایي معلومات لري اوپه یو سطحي نظر څرګندېږي، چې د اریایانو د ویدي عصر په نسبت د اوبستایي عصر د اوبو، خاورې او اقلم پېژندنه څو ځله ډېره او مفصله ده، لکه چې د اوبستا په لومړۍ برخې یا لومړي فصل کې، چې (وندیداد) نومېږي ټول له جغرافیایي موضوعاتو نه بحث کوي او د اوبستایي ځمکې ۱۶ قطعې ډېرې مشهورې دي. هغه څه، چې د اوېستا د جغرافیي په برخه کې د ډېرې پاملرنې وړ دي، هغه د غرونو نومونه او دهغو مفصله شرح ده.

ټول پوهېږو، چې د ځمکې پېژندنې په بحثونو کې د غرونو پېژندل او د هغو نومونه اخیستل او هغه هم د اوبستایي عصر د خلکو په منځ کې یو ستونزمن کار دی او حتی په اوسنیو نقشو کې ګورو، چې په غرنیو سیمو کې د ځایونو د نومونو یادونه ډېره لږه شوې ده، ځکه چې په داسې ځمکو کې سروې کول سخت کار دی، خو داوبستا د غرونو په اړه مفصل بحث رابنیي، چې له غرنیو سیمو سره اشناوو او تر کومه حده، چې څېړنه شوې، نو هغه غرنۍ سیمه، چې اوستا پېژندلې او هغه برخه یې، چې هغې ته پاملرنه شوې د افغانستان اوسنۍ خاوره په برکې نیسي.

اوستا د (یشتونو) په دوه ټاکلو برخو کې له غرونو څخه بحث کوي یو په (زمیادیشت) یا (نوولسم یشت) او بل په (هوم یشت) یا (لسم یسنای). له دې سره سره دا دواړه یشته په ځانګړې توګه لومړی (زمیادیشت) ټول د غرونو یادونې ته وقف شوی او د هغو غرونو لړۍ، چې هلته یې یادونه شوې ګڼه (شمېره) یې له څلوېښتو غرونوڅخه اوړي.

زمیادیشت په حقیقت کې د غرونو یو لړلیک دی، چې د یو شمېر غرونو په څانګړې توګه د نومونو یادونه شوې او یو دېر شمېر نورو ته یې د موجودیت په اړه اشاره شوې، چې شمېر یې دوه زره دوه سوه څلورځلوېښتو (۲۲۴۴) ته رسېږي.

(هویشت) لکه څنګه چې یې له نوم نه څرګنده ده ،(یشتي) ده، چې د هوما له بوټي نه بحث کوي هغه داسې یو بوټی و، چې په ځینیو غرونو کې به شین کېده، کله چې به یې دهغې له شیرې سره شیدې او ګېنه ورګډ کړل، نو د څکلو یو قوي او خوندور شربت به ترې جوړشو.

په دې یشت کې د همغو غرونو ډېره یادونه شوې، چې د (هوما) بوټی به هلته شین یا زرغونېده.

په اوېستا کې د غرونو بحث او هغه هم په تفصیل سره کوم اتفاقي شی نه دی، دا بحث لکه څنګه، چې مې ورته اشاره وکړه د دقیقو معلوماتو له مخې یې صورت نیولی، په ځینو مواردو کې موقعیت په ځینو وختونو کې لوړوالی او د سیندونو دوه نورې برخې، چې له هغې نه یې سرچینه نیولې یادونه شوې او له هغې نه داسې اندازه لګېږي، چې د اوېستایي عصر اریایانو د خپل ژوند چاپېریال او ماحول ډېر ښه پېژانده. د (زمیادیشت) په پای کې، چې د ۲۲۴۴ غرونو شمېره راغلې رابنیي، چې پرته له هغو تاکلیو غرونو څخه چې د نومونو یادونه یې شوې ده، نور ټول سره په خپلو کې ترلې او پېچلي پراته دي، چې دا یې په شمېره کې خلاصه کړې او پورتنۍ شمېره یې رابنولې ده.

که چېرته نن هم څوک د افغانستان د غرونو د پاسه په الوتکه کې پرواز وکړي، نو په ډېرې اسانۍ سره به په خپلو سترګو دا ۲۲۴۴ غرونه درک کړي.

د دې یادونې اړتیا نه شته، چې له هر ډول هڅو سره بیا هم پوهان د اوېستا د ټولو غرونو د موقعیت په تاکنه کې بریالي نه شول او حتی د یو شمېر غرونو، چې په اوېستا کې یې د نوم یادونه شوې هم تاکلي نه شو او د یو شمېر غرونو په تاکلو کې یې نظریې مختلفې دي لکه قلات کې (اران).

د افغانستان د خاورې ډېره برخه غرنۍ ده او دا ۱۶ قطعې اوستایي ځمکه تر ډېره حده د افغانستان خاوره رابنیي نو وایو چې کولای شو د

اوبستا ټول او یا اکثره غرونه او یا د دې غرونولړې د افغانستان په خاوره کې وټاکو. دا دی د دې غرونو یوه برخه درپېژندل کېږي:

۱ـ *هریتي باز* : دا لومړی غر دی، چې په زمیادیشت کې یې یادونه شوې او د اوستا په اصطلاح د څمکې چارچاپېره پروت او ترختیځ پورې یې اوږدوالی موندلی و. (کایکر) المانې باور درلود، چې دا د پامیر د غره لړې ده، چې څوکې یې د اسمان په څېر دنګې دي اوله ختیځ نه د لودیدیځ پر لور پروت دی.

۲ـ *زردهازا* : دویم اوچت او لوی غر، چې په زرمیادیشت کې یې یادونه شوې هغه د (زردهازا) غر دی او د دې غره په اړه هم اوبستا مدعي دی، چې د څمکې چارچاپېره اوږد پروت و. "هو" د څمکې چارچاپېره امتداد د اوبستا اصطلاح ده، چې په حقیقت کې د غره د سلسلې اوږدوالي ته اشاره ده. د دې غره له لړې نه یوه فرعي څانګه د (اوشیدا او شیدا رانا) په نامه یاده شوې، چې هغه غر یې د (اوشیداشار) په نامه هم یاد کړی، چې کولای شو هغه د (پوهې او رنایی) غر ترجمه کړو. دارمستتر د دې غره د موقعیت په هکله د سیستان په هامون کې لتون کوي، خو لکه څرنګه، چې وایي د هلمند سیند تربنه سرچینه نیسي، نو په څرګنده معلومېږي، چې له دې غره نه یې مقصد د بابا د غره لړې ده.

۳ـ *سیامکه* : سیامکه عبارت له تور غر څخه دی، همدغه غر په (بنداهش) کې د (سیاك اوْ مند) په نامه یاد شوی (سیاك او مند) د فرانسوي دارمستتر په عقیده همغه تور غر دی، چې د هري رود شمال ختیځ پلو ته واقع دی.

۴ـ *وفره یانت*: دا نوم په لږ څه توپیر په بنداهش کې د (وفراوْمند) په شکل راغلی، چې د دې غره مانا (واورین او واوره لرونکی غر) ده. (تور غر) او (د واورو غر) دواړه د هندوکش شاخونه وو او یو د بل په مقابل کې پراته وو.

۵ـ *سپینه ورنه* : کولای شو دا دوه کلیمې (سپین پوښ) ترجمه کړو، چې سپین پوښ غر هم له جګو غرونو څخه و، چې ډکال ډېره مودې په سپینو واورو پوښل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶_ *سپیته کونا غیري*: (سپینه) د سپین په مانا (کونا) د (کون) او (رنګ) په مانا همدارنګه و (غیري) د غره مانا لري او د دې کلمې مرکب نوم (سپین کونی غر) کېږي، چې په پښتو کې تراوسه په سپین غر شهرت لري او دا د هغه غره لرې ده، چې له شمال ختیځ نه جنوب لودیځ ته د افغانستان جنوبي برخه کې واقع ده، چې د ننګرهار او پکتیا له ولایتونو څخه د هر بنه لیدل کېږي.

۷_ *یو پای ري سنا*: د (عقاب له الوتنې نه لوړ غر) چې د هندوکش د غره له لرې څخه دی، چې د افغانستان له منځنۍ برخې نه تېر شوی او د دې غرنۍ سیمې د ملاتېر تشکیلوي، په همدغه ترتیب، چې کتل کېږي. نو اوسنا د افغانستان غرونه په بنه توګه پېژندلي او د دې لرې مشهوري او ستري برخې یې په نومونو او صفتونو لکه سپین او تور، واورین (په واورو پوښل شوی)، او د عقاب له الوتنې لوړ یاد کړي دي، چې ترا وسه یې کې شمېر اصطلاحات پاتې دي او له منځه نه دي تللي.

۳/۱/۱۳۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکندر د تیرېدلو لار

د ختیزو هېوادونو د تاریخ له سترو پېښو څخه یوه، چې په عیني وخت کې د ختیځ او لویدیځ د اړیکیو په تاریخ کې د هر ارزښت لرې په اسیایي هېوادونو کې د سکندر مقدوني فتوحات دي.

په دې لیکنه کې د ختیځو هېوادونو د سکندر له فتوحاتو او د هخامنشي د امپراتورۍ په مقابل کې یې موقعیتونو سره کار نه لرو، یوازې پر یوې موضوع غږېږو، چې هغه په افغانستان کې د سکندر مقدوني د تېرېدلو لاره ده:

سکندر د ۳۳۰مخ زېږدي په پسرلي کې د هرې رود (روداریوس) سینمې ته راورسېد دلته پر دغه وخت یو بنار موجود و، چې یوناني منابعو هغه د (ارته کواتا) په نوم یاد کړی دی. سره له دې، چې د دې بنار دقیق موقعیت تراوسه تاکل شوی نه دی، خو د هرې رود په سیمه کې یې د شته والي هېڅ شک نه شته. سکندر په دغه ځای کې د یو بل بنار جوړول پیل کړل، چې د (سکندریه اری) په نوم شهرت لري او دا په افغانستان کې د سکندر لومړی اباد کړی بنار دی.

سکندر او یوناني لښکر د هرې رود له سیمې نه جنوب پلو ته روان شول په موجوده لاره تر فراه اویا لږ څه په منځني ډول د سیستان هامون ته ورسېدل، ځکه چې یوناني مورخین په دغه سمت کې د (شرنجیانو) یا (زرنجیانو) او یا ووایو د زرنګ د خلکو یادونه کوي او سکندر د دې سیمې په یوه برخه کې د یوې بلې سکندریې په جوړولو پیل کوي، چې هغه په (سکندریه پرو فتازي) شهرت لري او هغه معمولا د (فراه سکندریه) ترجمه کوي، چې باید د هغې د موقعیت لټون یا د اوسني فراه په شاوخوا کې او یا د زرنګ ترڅنګ په کنډوالو کې وشي، خو له احتماله لرې نه ده، چې دا سکندریه دې د اوسني (پشاوران) له ساحې نه لرې وي.

په هر حال د دې سکندریې موقعیت په یقیني توګه تاکل شوی نه دی، خو د سیستان هامون ته نژدې و.

سکندر له دې ځایه وروسته د جنوب ختیځ په خوا روانېږي او د فرانسوي ختیځ پېژندونکي موسیو فوشه د نظریې له مخې د (قلعه بست) د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنډوالو پر لار د هلمند له رود نه تېرېږي او د ارغنداو د سيمې خوا ته راځي. دلته دريمه سکندريه چې (سکندريه اراکوزي) ورته وايي بنا کوي. موسيوفوشه باور لري، چې د دې سکندريې موقعيت بايد د ارغنداو د غارو بنيې پلو ته وپلتل وشي، دا چې اوس د کندهار د زوړ بنار شمالي پلو ته د اشوکاکتيبه، چې زمانه يې دري پېړۍ دمخه تر ميلاد تاکل شوې، تازه کشف شوه، ايا کولای شو، چې د دې سکندريې موقعيت او يا لږ تر لږه د هغه وخت مهم بنار (اراکوزي) په همدغه ځای کې وګڼو؟

په هر حال دريمه سکندريه، چې سکندر د افغانستان په خاوره کې او هغه هم د هري رود په سيمه کې بناء کړې وه، دا چې په هر ځای کې وه، وه به خو په دې کې شک نه شنته، چې د سکندر د تېرېدلو لار، همدغه موجوده لار ده چې د کندهار د زاړه بنار تر مخ تېره شوې ده

د سکندريې وجود په هرات، فراه، زرنګ او کندهار کې رابنيي، چې سکندر د هري رود له سيمې تر ارغنداوه پورې د افغاني سيستان په شاوخوا کې لويه دوره وهلې او بالاخره د ارغنداو سيمې ته، چې د کندهار زاړه بنار ته نژدې ده رسېدلی دی.

څلورمه سکندريه، چې زمونږ په خاوره کې يې جوړه کړې په (قفقاز سکندريه) مشهوره ده، چې له اختلاف سره د جوړېدلو ځای يې (پروان) يا اوسنی (جبل السراج) رابنيي. دا چې سکندر له کندهاره پروان ته له کومو ځايونو تېر او پر کومه لار راغلی؟ يو شمېر وايي، چې د ارغنداو د سيمې لار يې نيولې او ځان يې (جاغوري) ته رسولی، يو شمېر نور باوري دي، چې په همدغه موجوده لار غزني ته راغلی دی، همدغه شان له غزني نه يې پروان ته راتلل هم چندان روښانه نه دي. هغه څه، چې د هر روښانه دي دا دي، چې سکندر کابل ته نه دی راغلی او له دې بنار نه تېر شوی هم نه دی، نو د ده په باره کې ويلی شو، چې له کابل نه شمال پلو ته د ۳۰ کيلو مترو په واټن د ارغنداو پر لار د پغمان د غرونو په پای کې د کاپيسا سيمې ته ورداخل شوی او دا هم څرګنده ده، چې پروان ته تر رسېدلو دمخه يې په هغه ځای کې توقف کړی، چې د پنجشير، شتل، سالنګ او غوربند رودونه يوځای شوي، چې اوس د (برج عبدالله) په نوم شهرت لري. دلته يې د يوې مستحکمې کلا تر جوړولو وروسته په پروان کې په يو نوي پول د لوی بنار جوړول (د هندوکش په پای کې سکندريه) پيل کړه.

سکندر دوه ځله په تلو راتلو له هندوکش نه تېر شوی، د لومړي ځل د تېریدو په وخت هغه ځای، چې د هندوکش په شمال کې نومورې ورته سنون شوی (د راپاسک) ده، چې (اندراب) یې بولو. تول پوهېږو، چې له پروان څخه اندراب ته له څو لارو، څو درو او کوتلونو ورتللی شو، چې د حاواك لاره هم یوه له همغو لارو څخه ده او همداراز د (کوشان) او (سالنګ) درو لاري هم ورغلي دي. معمولا وایي، چې سکندر باختر ته د خاواك پر لاره تللی دی او زه په دې باره کې داسې وایم، چې سکندر په واپسی کې د (کوشان) درې د غوربند (خواجه زید) پر لاره شمال ته تللی دی.

په هر حال په شمال کې وروسته تر جنګونو سکندر په باختر کې د هندوکش له جنوبي سکندریې نه پروان ته داخل شو او له دې ځایه یې د پنجشیر د درې سیند د ختیځ پلو ته ونیوه او د ریزه کهستان، نجراو او تګاو د غرونو په لمنو ورتېر (لمپاکا) یا لغمن ته ورسېد.

ختیځ پلو ته د سکندر په اوږه کې لغمان یوه مهمه نقطه ده. موسیوفوشه باوري دی، چې دلته یې یو ښار د (نیکیا) یا (مینه) په نوم جوړ کړ او هغه یې د یونانیانو د فتحې او سرې ښار په نوم وبالله.

فرانسوي ختیځ پېژندونکي د دې ښار موقعیت د (منداور) او د لغمان د چارباغ ترمنځ (قرغیو) نه نژدې سیمه رانبیي او وایي، چې دلته سکندر د یونانیانو د بري په مناسبت رب النوع ته ډېرې قربانۍ وراندې کړې او خپل عسکر یې په دوه ډلو ووېشل، چې وړوکې ډله ینې خپله واخیسته او د کونړ د درې په لاره یې د سوات مخه ونیوه او بله ډله یې، چې په هغې کې د عسکرو شمېره ډېره وه د دوه تنو جنرالانو پرویکاس او هفستیون په مشرۍ د کابل د سیند لار ونیوله او جنوب پلو ته لاړل، چې بیا دواړه ډلې د اندوس یا د (سند رود) په غاړه یو ځای شوې.

سکندر د کونړ په دره کې له اوسني چغه سرای نه تېر په بدهن یا پېچ دره کې د نوروستانیانو له پخوانیو نیکونو سره مخامخ شو، چې وروسته بیا د اسمار له سیمې نه تېر سوات او بونېر ته تر رسېدلو وروسته د سند سیند ته ورسېد، چې هلته د هغه د جنرالانو له خوا پرېږېدو جوړ کړی شوي پول باندې له نومورې سیند نه تېر شو. نور د هغه تعقیب د دې مقالې له هدف څخه دباندې دی.

۱۸/۴/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې دسکندر

دتلو لار

هغه پوهان او د لويديځې نړۍ ګرځېدونکي، چې له افغانستان سره د لرغوني تاريخ او جغرافيې له نظره ډېره مينه لري، يوه په زړه پورې مسئله د سکندر مقدوني د تلو د لارې تاکل دي.

د دې يادونې اړتيا نه شته، چې د مقدوني سردار فتوحاتو د ختيځ او لويديځ ترمنځ د دوستۍ او راشه درشه ور پرانيست:. دا حقيقت لکه څنګه، چې د ګنو اسيايي سيمو په اړه ربښتونی دی همدغه شان زمونږ غرني هېواد په اړه هم ډېر ربښتونی دی، ځکه چې د اريانا لرغوني هېواد او اوسنی افغانستان ډېرې لرې پرتې سيمې وې، چې د سکندر مقدوني د فتوحاتو په اثر او دلته د يونانيانو تر رسېدلو وروسته د لومړي ځل لپاره د روم بهر له نژدې هېوادونو او نورو لويديځو سيمو سره يې پراخوالی ومونده.

سکندر لکه د بربښنا په څېر په ډېرې ټيزۍ سره د ايران دهخامنشي دريم داريوش مقاومت مات کړ او ۳۳۰ مخزېږدي پر پسرلي د موجوده افغانستان لويديځ سرحدي ولايت اړي، اريايا هرات ته ورسېد. د دې ولايت مهالي حکمران، چې يوازې يې له سکندر سره مقاومت نه شو کولای، هغه ته يې ښه راغلاست ووايه. مقدوني سردار هغه د پخوا په شان د هغه ولايت حکمران وټاکه او خپله باختر ته متوجه شو، ترڅو ژر تر ژره د هغه ولايت حکمران، چې دپاچاهۍ اعلان يې کړی و له منځه يوسي.

په دې کې شک نه شته، چې په افغانستان کې د سکندر د تلو د لارې لومړۍ برخه د هرې رود له سيمې ختيځ پلو ته د بلخ (بکتر) ښار و. په دې خوا يې يو څه فاصله وهلې وه، چې يو ناڅاپي د (ستي برزن) پاڅون هغه ببرته ګرځېدلو ته اړ ويست.

په دې وخت کې د ولایت مرکز (ارته کوافا) و او د هغه د اوسېدلو ځای د هرات موجوده ارګ او یا د اختیارالدین کلا وه. د هرات واکمن، چې د سکندر نظامي مشاور هم و، یو شمېر یونانیان یې وژلي او ښار یې په خپل لاس کې اخیستی و، خو کله چې سکندر راوګرځېد د هرات له واکمن سره تر خونړیو جګړو وروسته یې د (ارته کوافا ښار) فتح کړ، سکندر چې د هرات له خلکو نه په ویره کې و، اړ و، چې یوه نظامي کلا هلته جوړه کړي، چې دا یې د افغانستان په خاوره کې لومړۍ نظامي کلا وه، چې سکندریه اړې په نوم یې شهرت پیدا کړ.

سکندر وروسته تردې پېښې بلخ ته له تللو یې ډډه وکړه او خپلې د تللو لارې ته یې جنوب پلو ته بدلون ورکړ او د زرانګیایا، درانجیانا، ساکستانا ولایت ته داخل او له یشد سیستان څخه د ((پرونتازیا)) د ښار پر لور مخ په وړاندې لاړ. د دې ښار موقعیت په (پشاوران) کې ټاکي، چې کندوالې یې د هامون یا دسیستان دسیند شمال لور ته نژدې پرتې دي او دا ځای د ۱۸۰ میلو په واټن د هرات جنوب پلو ته واقع دی. د سکندر دویم استوګن ځای یا پرونتیازیا سکندریه په همدغه پشاوران کې یادوي او ګڼي.

سکندر د رانجیانا له ولایت څخه، چې دا د هامون سیمه وه او په هغه وخت کې اباده او ډېره ګڼه ګونه یې درلوده له هیرمند نه په منحنې ډول ورټېر او د ارغنداو سیمې ته چې د اراکوزي ولایت و، ورداخل شو. دا ولایت اوس د کندهار په نوم یادیږي او دا هغه نوی ښار دی، چې د سدوزیانو د بنسټګر احمد شاه درانې له خوا جوړ کړای شوی. د کندهار د موجوده ښار لویدیځ پلو ته (له مرکز نه د پنځه کیلو مترو په فاصله) یو شمېر کندوالې پرتې دي، چې د کندهار زوړ ښار یې بولي. همدغه سرک، چې اوس د ارغنداو له یوې خوا د کوکرانو تر یوې برخې تېرېږي د کاروانونو د پخوانیو لارو استازیتوب کوي.

د اشوکا کیتبه، چې د (دویمې مخزېږدي پېړۍ په نیمایي کې) د موریاکورنۍ پاچا و، دا ثابتوي، چې دا ښار د هندي موریایانو همهالی او په ډېر احتمال د سکندر د راتلو په وخت اباد و او سکندر هلته خپله دریمه سکندریه پر ۳۳۹مخزېږدي د اراکوزي په نامه جوړه کړه.

کولای شو، چې د سکندر د تګ لار له سکندریه ارکوزي یعنې د کندهار له زاړه ښاره تر غزنې او دهغو غرونو لمنو پورې، چې د موجوده سرک شمال ته واقع

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي وتاکو. اینالیایي لرغون پېژندونکی د هوایي عکاسۍ له مخې په دې باور دی، چې د اوسني غزني په چار چاپېره سیمه کې د یونانیانو یو بنار و او د غزني جغرافیایي مرکزیت هم دا نظر تائیدوي.

د سکندر خط سیر له غزني نه وروسته بیا هم غرونو ته په نژدې نژدې ساحه کې له وردګ، میدان او ارغندې نه تېر شوی، خو کابل ته نه دی راغلی او همغسې له ارغندې څخه مستقیم د پغمان غرونو له لمنو د کاپیسا سیمې ته داخل شوی او دلته بیا اوسني خواجې سرای ته نژدې یو شمېر کنډوالي لرو، چې په (سارسکندري) او (حصار سکندري) مشهورې دي.

سکندر د ۳۲۸ مخزېږدي کال په ژمي کې هغه ځای ته نژدې، چې د پنجشیر شتل، سالنګ او غوربند سیندونه سره یو ځای شوي ورسېد او د بګرام په شمال د عبدالله برج په سیمه کې د سکندر د موقتي توقف ځای څرګندېږي.

د افغانستان په خاوره کې څلورمه یا پنځمه سکندریه، چې سکندر جوړه کړې هغه د پخواني پروان یا اوسني جبل السراج د هغې نقطې ښي پلو ساحل کې واقع ده، چې د څو سیندګوټو اوبه سره یو ځای شوي دي کولای شو ووایو، چې پدغه ډله کې د قفقاز سکندریه او د پاروپامیزاد سکندریه هم شته. د سکندر یون له دې کلا څخه، چې د هندوکش په پای کې پرته وه، د ۳۲۷مخزېږدي په پسرلي کې د پنجشیر درې له لارې او دخاواك له کوتل نه شوی دی او د ده مخې ته لومړی د هندوکش په شمالي برخو کې اندراب راځي، چې په یوناني ماخذ کې د (دراپاسکا) په نوم یاد شوی دی، له دې ځایه وروسته د سکندر یون د بکتر تر بنار پورې په دقیق ډول معلوم نه دی.

د ایبك او تاشقرغان لاره غرنۍ او دقندوز پر لور پرته لاره جلګه یي ده. سکندر هم له بلخ نه د امو سیند شمال لور ته او هم د بلخ لویدیځ لور ته د مرغاب تر سیمې پورې تللی دی، چې په بالامرغاب کې د مارجیان د سکندریې پاتې شونې د دې نظریې شاهدې دي، له بلخ نه د پروان سکندریې ته د سکندر راتګ غالبا د (کوشان) د درې پر لار، چې د قفقاز له سکندریې نه د څېښ پر لور په عمومي ډول له ریزه کوهستان، نجراو، تګاو، لغمان او کونړ له کوزنۍ برخې د اوسني اسمار تر خوا تېر او سوات ته ورداخل شوی دی او سند اندوس د سیند تر غاړه وړاندې تللی دی. هغه په دغه لنډه لیکنه کې تر دې ډېر او په دقیقه توګه تعقیبولی او څېړلی نه شو.

۱۲/۳/۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسيا کې ديواني هڅوب د مرکزيت له نظره د افغانستان اهميت

افغانستان د اسيا او مهاجرتونو څلور لارې دي، همداراز د تمدن، فرهنګ او افکارو د تصادم د تماس نقطه، د بنوونې مرکز د مفکورو د ګډون او ذهني مظاهرو ځای او بالاخره د ادبي، هنري، فلسفي او مذهبي نظريناتو د خپرېدلو له مرکزونو څخه شمېرل کېږي.

د اسيا په تاريخ او که لږ په څرګنده ووايو د منځنۍ ختيز او لويديزې نړۍ په تاريخ کې يوه مهمه نقطه وجود لري، چې د (يونان او شرق) ترمنځ رابطه يې بولي او کولای شو د هغه وخت په مانا يې د (ختيځ او لويديځ) تماس وبولو ځکه چې د دوه زره پنځه سوه کاله وړاندې نړۍ له نن نه ډېره محدوده وه او تقريبا ټول ختيځ او لويديځ له هندوکش نه د مديترانې تر جزيرې پورې ساحه کې خپور و، خو شرقيانو او غربيانو ته پرته له دې دوه يادشوو سترو سيمو نه دباندې نور هر ځای مجهول او نامعلوم و.

سکندر، چې په هغه وخت کې د نړۍ تر وروستۍ دبنټې رسېدلی و پرته د سند له شرقي خوا ځمکو او د پنجاب له ابادیو نه نور څه نه و او د سکندر په هکله چې يو شمېر خلکو يو افسانوي شخصيت باله او پرته له ده بل څوك نه و، چې د يورپ له مجهولې دنيا څخه راپورته شوی وای. په هغه وخت کې د نورې دنيا په مقابل کې دا دوه د شرق او غرب قطبونه د هندوکش د غرونو په ماحول کې د هغه هندوکش، چې کلکو تيرو يې د يونانيانو په ذهن کې يوه داستاني بڼه خپله کړې وه، سره يو ځای شول. ګڼ خلك، چې په ختيځ کې د سکندر فتوحاتو ته ډېر ارزښت ورکوي، وجه يې دا ده، چې د ده د فتوحاتو په ترڅ کې د لومړي ځل لپاره د ختيځ او لويديځ ترمنځ مستقيم تماس پيدا شو. که چېرته په غور ورته وکتل شي د سکندر ټول فتوحات په ختيځ کې ترسره شوي. يواځينی ځای، چې يونانيت په پېړيو هلته دوام وکړ د هندوکش ماحول يا افغانستان و، له دې څخه به تېر شو، چې يونانيانو دوه سوه کاله په باختر او بيا له باختر نه پر ټول افغانستان او د هند په يوه برخه يې حکومت کړی دی. هغه څه، چې د افغانستان په غرونو کې د سکندر د تېرېدلو په مهال دلته پاتې دي د يوناني تمدن، فرهنګ او هنر روح دی.

سکندر د خپل تګ پر لار له (هري رود) څخه تر (اباسینده) څو سکندریې جوړې کړې. په دې سکندریو کې یو شمېر یونانیان ځای پر ځای شول له هغوی سره د هغو فرهنګي چارې، رسم الخط، ژبه، هنر د ابادی څرنګوالی او د هغوی نور کړه وړه او رواجونه هر پلو ته خپاره شول. د هغوی هر ډول مذهبي اسطورې یوناني (میتولوژي) د زردښتي له محلي اسطورو او وروسته له بودایي اسطورو سره ورګډې شوې. الفبا او یوناني رسم الخط په شمال او جنوب کې په عمومي توګه رواج وموند لکه، چې وروسته تر ۲۳۰۰ کلو د اشوکا کیتبه په کندهار او وروسته تر ۲۰۰۰ کلو د کنیشکا کیتبه په بغلان کې تر شمال او جنوب شاهدي ورکوي، چې تر میلاد دمخه پېړیو کې د یوناني الفبایې رسم الخط د افغانستان په ټولو برخو کې معمول او رواج یې موندلی و.

د هغو سکه لرونکو فلزي پیسوله مخې، چې د مختلفو نسلونوله خوا جوړې شوې وې او د چینایي سیلاني((هیوان تسنګ)) د یادونې له مخې ویلی شو، چې دې رسم الخط دا چې هر ډول تحول یې لیدلی، خو اوومې مسیحي پېړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې نژدې یو زر کاله معمول او په خلکو کې رواج درلود. هغه چا چې د کابل په موزیم کې د بګرام نفیس اثار اوپه ځانګړې توګه یوناني ګچي مدالونه، چې په ډېره صافه او هنري بڼه جوړ دي،لیدلي وي اویا یې د افغانستان په مختلفو برخو کې په زرګونوله ګچ نه جوړې شوې مجسمې له نظره تېر شوي وي، هغوی بڼه پوهېږي، چې په افغانستان کې یوناني مجسمې تورښل، مسجمه جوړونې، هنري روح او د هنر دوستۍ روح څومره په ژوره پیمانه او څومره ډېر رواج شوی و.

له دې کتنو څخه، چې کومه نتیجه په لاس راځي، هغه دا ده، چې پخوانۍ اریانا یا افغانستان د څو پېړیو په اوږدو کې، چې له دوه خواوو نه یې د مسیح عهد پیل شوی و د فرهنګ، تمدن او یوناني هنر مرکز و، چې هغې ته ګریس (اسیا) یا (اسیایي یونان) ویلای او د اسیا په تاریخ کې د دې خبرې بنکاره بیانول ډېر ارزښت لري، ځکه هغه کسان، چې د اسیا په فرهنګي، هنري، ادبي او د تاریخي بدلونونو په مطالعه او څېړنه بوخت دي او په ځانګړې توګه، چې د مرکزي او ختیځي اسیا، هند، چین او نورو په تاریخ کې د دغو مواردو مطالعه کوي، په ډېرو څیزونو کې د یونان د ادب او هنر نښې نښانې ګوري او تل یې دا پوښتنه په ذهن کې راګرځي، چې دا تاثیر څنګه له یونان نه دلته راغلی.؟

په دې کې خو شک نه شته، چې یونان د سکندر د فتوحاتو په وجه له اسیا سره تماس پیدا کړ، خو کله چې سکندر مړ شو لویه امپراتوري یې تجزیه شوه د نورو سلطنتونو په راتلو د یونانیانو تماسونه لنه منځنۍ اسیا سره له منځه لاړل. خو په عوض کې یې د هندوکش په شاوخوا کې د وه سوه کلن (یوناني باختري) سلطنت دوام او هلته یې د یو شمېر مېشتو یونانیانو سره د پخوانۍ یونان د فرهنګ او تمدن روح پاتې شو. چې بیا په هغو وختونو کې، چې د یوناني سلطنت نوم پاتې نه و، خو د لوېو کوشانیانوپه ټوله دوره کې هماغه د یونانیانو په صبغه، افکارو، ادبیاتو، فرهنګ، د الفبا رسم الخط مجسمه توږنې او نورو رواج ومونډ او د ټول افغانستان په اطرافو کې خور شو په همدې ترتیب مور چې د یوناني هنر او تمدن تاثیر په هند یا سنګیانګ، چین او حتی په جاپان کې ګورو دېره برخه یې له افغانستان څخه خوره شوې، ځکه چې دلته او په دې هېواد کې د معارف، فرهنګ او یوناني هنر ذخیره منځ ته راغلې وه. او لکه څنګه چې څرګنده ده د شرقي اقصې، مرکزي اسیا او نورو له یونان او مدیترانې سره اړیکې نه درلودې.

د افغانستان د پخوانیو دور له کړو وړو او رواجونو څخه یو هم همدغه د (یونانیت روح) درلودل دي، چې دلته یې په دېره اندازه ریښې وغځولې او تر دېره وخت یې دوام وکړ. چې د هغې انعکاس تر ننه پورې زمور په عرف، عادتونو او کیسو کې پاتې دی

د افغانستان ګاونډي هېوادونه، چې د یونانیانو له تمدن او هنر نه متاثره شوي دېر علت یې د افغانستان جغرافیایي موقعیت او له هغوی سره د نژدې والي او قرابت وجه ده، چې د یو یوناني ثقافت د مرکز په توګه یې د هغوی په راکړه ورکړه، کار او کردار او په نورو څیزونو اغېزه کوله. په دې کې شک نه شته، چې په افغانستان کې د هخامنشي تمدن روح له یوناني روح سره ګډ شوی و او له همدغه ګډون او تماس نه یو شمېر مشترک څیزونه هم منځ ته راغلي لکه. د هنر په برخه کې یو شمېر مدرسې د مثال په توګه ((ایراني او یوناني)) ((یوناني باختري)) ګریک او بکتریان ((یوناني و بودایي)) او ګریک او بودیک مدرسې یادولی شو.

چې بیا وروسته له هغې یې فرعي شاخونه. لکه ((ایراني بودایي)) یا ((ساساني بودایي)) رامنځ ته شوي دي.

۹/۴/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان نجيبه طبقه اریاسپه

یا اسواران

هېڅ داسې یو څوك نه شته، چې د اروپا د منځنۍ پېړۍ د تاریخ او د صلیبي جنګونو د مطالعې په وخت کې یې د اروپا د نجیبې طبقې یا شوالیه نوم لوستلی یا اوریدلی نه وي. هغوی خپلې جنګي کلاګانې درلودې او د کلاګانو ترڅوا یې ډېرې پراخې ځمکې لرلې او تر شاوخوا یې د ډېرې واکمنۍ څښتنان وو، چې بزګران یې نه د بزګرانو په څېر، بلکې د یو جنګي ډلې او حتی د یو غلام او مریې په څېر کارول

په افغانستان کې که هغه لرغونې دورې دي او که د اسلام له ظهوره وروسته منځنیو پېړیو او که بیا وروسته تر هغې په ټولو دورو کې مو شوالیه یا (نجیبه طبقه) درلوده، چې په هغو کې د اروپا د منځنیو پېړیو د شوالیه د خویونه راجمع وو، مګر په عمومي ډول د هغوی عیبونه په هغوی کې نه لیدل کېدله په بل ډول ووایو، چې زمونږ نجیبه طبقه (شوالیه) د قوم له اصیلو خلکو اوقومي مشرانو څخه وو، چې اصلا د اجتماعي طبقه بندۍ په پیلامې کې، چې له هغې څخه په زرګونه کاله اوړي، کولای شو هغوی د خپلواکو په نوم یاد کړو او د بلې طبقې پیدا کېدل تر ډېره حده د اس په روزنه، د اسونو د رمو او ګلو په لرلو د اسونو په سپرلۍ ان سوارکارۍ پورې ترلې او مربوط ؤو.

مونږ ټول پوهېږو، چې د (اریا) د کلمې لغوي مفهوم نجیب او ازاد و، په هغه صفت، چې اریایي ټولنې د خپل روزنتون په پیاوړتیا کې مخصوصا د امو سیند په سیمو او فرغانه کې هغه مهال، چې د پامیر له لمنو نه د

باختر تر وروستيو لويديزو لويو برخو يې ژوند کاوه، هغوی به له خپلو بدو عناصرو نه د خپلې خپلواکۍ او اصيلواله دمفهوم خوندي کولو په خاطر د مرکزي اسيا خلکو ((توريا)) او تور پوستان په ويدي کې يې هنديان د (اسيو) په نوم يادول.

اريايي باختري ټولنې د هندوکش په شمالي برخو د امو سيند په سيمه کې، چې د دوی د ژوند روزنتون وو، له اس او د اسونو له ګلو سره يې ډېره بلدتيا درلوده او د امو سيند ، فرغاني او باختري سېمو اصيل اسونه چې تراوسه پورې شهرت لري، د اريا له ټولنې سره داسې منسوب او پيوست دي، چې نه شو کولای يو له بله يې جلا کړو او لکه څنګه، چې يې په لنډ ډول مطالعه کوو له نورو څخه د اريايي ټولنې د تفکيک او اصيوالې له نبنو نښانو څخه يوه هم د دوی اسونه او د اسونو درلودل و.

په پخوانيو اريايي ټولنو کې د (اریاسپه) په شکل يوه ترکيبي کلمه لرو، چې له دوه کلمو (اريا) او (اسپ) نه ترکيب شوې ده، د دې کلمې لغوي مانا (اريايي اس لرونکي) دي، چې په اصطلاحي صورت کې (اریاسوار) يا اريايي سوارکار) ترجمه کولی شو، د هغې مجرد مفهوم (سوارکار) دی، چې په وروستيو دورو په پهلوي ادب کې دا کلمه د (اسواران- په بڼه څرګنده شوې ده او زمور د ادبياتو په تاريخ کې يې مشخص مفهوم درلود ، چې هغه د نجيبو او سوارکارو له طبقې څخه عبارت و، چې دا طبقه د دهقان له طبقې نه پورته ګڼل کېده، مګر په اروپايي ټولنه کې دهقان د شوالیه طبقې ترلاس لاندې غلام او بردهګان وو، حال دا چې د افغانستان د پخوانۍ او منځنۍ پېړۍ په ټولنه کې هم نجيبه طبقه حسابېدله، خو نه يوازې په اجتمّاعي چارو کې د سوارانو له طبقې وروسته شمېرل کېده، بلکې سوارانو د جنګي او زړورو اسونو ګلې درلودلې دهقانان يې په ځمکو کې په کرنه بوخت وو او د ټولنې فرهنګي طبقه يې تشکيلوله.

په دې کورنيو کې ډېر فرهنګي اثار، تاريخي او ادبي خاطرې خوندي وې او دوی ټول د فرهنګي ميراث وارثين ګڼل کېدل. په افغانستان کې د نجيبو اسوارانو طبقې سوابقو ډېر امتداد پيدا کړی او اوږد وخت لري.

دباختريه ځمکه کې د دوی دپيداکېدلومراحل اواجتماعي پراختيا او پياوړتياکې دويدي په سرودونو او داوېستاپه متن کې مطالعه کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ويدي دوري اسپه کورنۍ په اوښتايي عصر کې د لويو کورنيو په شکل منځ ته راغلي او د اسونو ګله داري د ځينو کورنيو په منځ کې د شخصيت پيدا کولو عامل وګرځيد ، چې په دې منځ کې سلطنتي کورنۍ، وزيرانو او نومورکو پهلوانانو نوم ووښت، لکه څنګه چې بلخ کې د اسپه سلطنتي کورنۍ ډېر شهرت لري او د کورنۍ د غړو نومونه يې په اوښتايي بڼه اروت اسپه، کشتاسپه او نور مشهور دي او د يو شمېر وزيرانو او قومي مشرانو نومونه هم پدې کتار کې راتلی شي، لکه ارجت اسپه.او کرماسپه او نور، چې د لهراسپ، ګرشاسپ او جاماسب په بڼه، چې له هغوی سره ډېره اشنايي لرو. په عربي اصطلاحاتو کې د داسې نجيبو سوارکارو په څېر اثار په اسانۍ سره موندلي شو، لکه (ابوالفوارس) او (ابوالاسوار) او د پښتو په (سور) او (سپور) کې هغه خاطره باقي پاتې ده.له همدې امله د دې لنډې ليکنې له مخې ويلی شو، چې په افغانستان کې د شوالیه وو تاريخچه ډېره اوږده او لرغوني سوابق لري، چې د اريايانو په اجتماعي تحول او د اسونو د ګلو په تربيه د سردرياب او امو سيند په سيمو کې پيل شوي دي، اريايي نجابت، زړورتيا او وسله والي د اس له کلمې سره يو ځای شوي په باختري ټولنه کې يې تبازر کړی پياوړتيا او پرمختايي موندلې ده.

د امو سيند سيمې او بيا د باختر او زابلستان سيمې د اصيلو اسونو په لرلو، چې شهرت يې په لرغونو وختونو کې په ختيځ او لويديځ کې خپور و، پيل يې د اريايي اسوارانو غورځنګ او حرکت وو، چې د هغوی نقش د افغانستان په ټولنه کې و او که په پخوانيو وختونو کې او که هغه په منځنيو پېړيو کې ښکاره او څرګند و، چې د اروپا د شوالیه وو په پرتله د هغوی تاريخچه، څرګندېدنه او کارنامې ډېره لرغونتيا لري.

۸/۱۱/۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکندر مقدوني په مقابل کې مقاومت

تول په دې پوهېږو، چې ولې او څه ډول سکندر مقدوني په ختیزو سیمو کې د ایراني امپراتورۍ، هخامنشي پر قلمرو برید وکړ، تول په دې پوهېږو، چې یوناني عسکر په خومره چټکتیا د مدیترانې د سیند (بحر روم) له څنډو نه د هرې‌رود څنډو ته ورسېدل او په دې هم تول پوهېږو، چې څنګه د هخامنشي دریم داریوش په دري جنګونو (کراتیک) ، (ګوګامل)، (اربلس) کې ماته وخوړه او ځواکونه یې تیت و پرک شول.

پر دغه وخت له ختیزو ولایتونو پرته افغانستان د هخامنشي امپراتورۍ په لاس کې و او محلي امیران د (ساتراپونو) په نامه په هر ولایت کې نایب الحکومه اویا حکمرانان وو.

لکه څنګه، چې د یوناني او رومي مؤرخینو له یادښتونو نه څرګنده ېږي، چې سکندر او یوناني لښکر د هرې رود (اریوس) د سېمې تر نیولو وروسته له ډېر سخت مقاومت سره مخامخ شول. دا مقاومت د هري رود له غاړې نه د اندوس (اباسین) تر غاړو پورې د کلاګانو په ساحو د لویو جلګو په میدانونو او د غرونو په لمنو کې هر ځای محسوسېده، خو په باختر کې مرکزي او ختیزو غرنیو سیمو، تنګو، لوړو او سختو درو کې د مقاومت ډېر شدت و او لاپسې ډېرېده، لکه چې د هغې انعکاس تراوسه زمونږ د فوکلوري ادب په داستانونو او کیسو کې پاتې دی.

د سکندر په مقابل کې لومړی مقاومت د اوسني هرات په ((ارته کوانا)) کې، چې له بنار سره یوه ډېره مستحکمه کلا ده، منځ ته راغی.

د دې ولایت حکمران، چې ((ستي یرزن)) نومېد له خپلو تولو ځواکونو سره کلا پرېښوده او ۲۰ فرسنګه لرې په یوه لوړه قطعه کې، چې سخت ځنګل یې درلود د مدافعې لپاره ځای ونیو. دا چې سکندر په ځنګله کې پرمخ پرو هراتیانو حمله کولای

نه شوه. نو ځنګله ته يې اور واچاوه او په دې ترتيب يې د هغوی مقاومت ختم کړ د دې لپاره. چې د بيا حملې مخه ونيسي، هلته يې يوه کلا د (سکندزيه اريان) په نامه جوړه کړه، خو سکندر لاد سويل پر لور ډېره فاصله نه و تللی. چې د هرې رود سيمې زړورو خلکو د يونانيانو پر ضد پاڅون وکړ او اناګزيپوس د سکندر نظامي مشاور يې له يو ډېر شمېر يونانيانو سره وواژه.

وروسته هغې سکندر د فراه او سيستان پر لور ښکته راغی، چې هلته د سکندر په خلاف يوه توطيئه د هغه د يو تن جنرال فيلوتاس له خوا کشف شوه. چې د محاکمې په نتيجه کې له تهمت نه پاك او پر ځای يې د خپل ګارد قوماندان دمتريوس په قتل ورساوه. سکندر د فراه رود هامون او د ارغنداو له سيمې نه په لږ څه اسانۍ سره تېر شو. ليکن چې هر څومره مخکې تلو تر شا يې مخصوصا د هرې رود په سيمه کې ورته ستونزې پېدا کېدلې، ځکه چې د هغه ولايت حکمران ((ساتي برزنس)) او د منطقې غښتلي خلك پرله پسې د يونانيانو پر ضد پورته کېدل، په کلاګانو او استوګن ځايونو به يې حملې کولې.

سکندر په کراره، کراره د کابل سيمې ته رسېږي لومړی په مستقيمه توګه د هندوکش د سپينو واور خوا ته نژدې د پنجشېر د رود اوشتل(اوسنی برج عبدالله) خوا ته او بيا وروسته تر رود هغې خوا پروان ته رسېږي او ژمی همدلته تېروي.

د هندوکش له اوسپدونکيو او د باختر له لويو سيمو نه دسکندر تېربدل هغه ته ډېرې ستونزې منځ ته راوړې.

د باختر حکمران بسوس، چې د پاچاهۍ اعلان يې کړی و د سکندر د مخنيوي لپاره يې ډېر ترتيبات نيولي وو. وايي چې د باختر نوي پاچا امر کړی و، چې د خوراکي او ارتزاقي موادو زېرمې وسوزوي او د غنمو ګودامونه په تنګو ځايونو کې ښکته کړي او ځاروي دې حلال کړای شي، ترڅو چې يوناني عسکر د خوراکي موادو د نه پېدا کولو له امله له مشکل سره مخامخ او په هلاکت ورسېږي، چې په ډېرو ځايونو کې د غلو د انبارونو د سوزولو په وجه يې سکندر ته ډېرې ستونزې مخې ته کړې. په شمالي صفحاتو کې لومړی ځای، چې سکندر ورغی هغه (اندراب) و، د باختر نوي پاچا ((بسوس)) او يو تن قومي مشر، چې ((ګز پارتس)) نومېد خلك يې د يونانيانو مقابلې ته هڅول نو د يونانيانو کار يې دومره ستونزمن کړ، چې پخپله سکندر او جنرالان يې پوره دوه کاله له دې خوا څخه د آمو سيند هغې خوا ته تلل، خو د ملي مقاوت په کمولو نه بريالي کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باختر سوارکارانو، چې له پخوا راهیسې د اس په سپرلۍ کې شهرت لري، د باختر په بېلا بېلو برخو کې به یې په ځانګړې او یو ناڅاپي توګه د یونانیانو پر لښکر حملې کولې، چې هغوی ته یې کار ډېر سخت کړ اوله ډېرو ستونزو سره یې مخامخ کړي وو.

تر دوه کاله جګړو او تېریو وروسته باختري سردار ((بسوس)) ونیول شو او یونانیانو، چې ډېرې زیاتې مرګ ژوبلې یې لیدلې وې، بریالي شول او د هندوکش جنوب ته یې مخه کړه.

یو شمېر نورې لویې ستونزې، چې سکندر ورسره مخامخ شو هغه له پروان نه د سند د رود تر غاړو دلاړې مقاومتونه وو.

سکندر او یوناني عسکر له کاپیسا نه د نجراو، تګاو، لغمان، کونړ، اسمار، سوات او بونیر پر لار د غرونو په لمنو او تنګو درو کې په تېرېدلو له ډېرو سترو ستونزو سره مخامخ شول.

په دغه غرنیو سیمو کې د کلیو اوسېدونکیو په عمومي ډول خپل کلي او کورونه پرېښودل او د غرونو سرونو ته وختل. له هغه ځایه به یې په یونانیانو باندې کانې او لویې کلکې ډبرې او پرښې راغورځولې او هغوی به یې په تنګو، تنګو ځایونو کې ایسارول.

د غرونو پر سر د کلاګانو نیول ډېر سخت او مشکل کار و، چې څو ځله د یوناني جنرالانو د سختو تېپونو سبب شو او حتی نژدې پخپله د سکندر ژوند پای ته رسېدلی و. د کونړ د درې اوسېدونکیو چې حتما د نورستانیانو نیکونه وو، ډېر کلك مقاومتونه وکړل، چې انعکاس یې زمونږ په ملي داستانونو کې څرګند پرې. په همدې ترتیب سره سکندر د افغانستان د غرونو په لمنو کې نژدې څلور کاله پاتې شو او تقریبا دوه په درې برخې عسکر یې د افغانستان په جنګونو کې له منځه لاړل او ډېر شمېر یې ټپیان شول، چې په همغو سکندریو کې چې د افغانستان په خاوره کې یې جوړې کړې وې مدفن(خښ) کړای شول.

دمخه تر دې، چې سکندر د هند د فتوحاتو نقشه راواخلي خپل عسکر یې بیا پوره کړل او ډېره برخه یې زمونږ له هېواد نه زړور او جنګیالي زلمیان په خپل لښکر کې د عسکرو په حیث شامل کړل او د هغوی په مرسته یې د سند له رود هاخوا فتوحاتو کې ډېر بری ترلاسه کړ.

۲۷/۶/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکندر په عامیانه داستانونو کې

پر ختیزو هېوادونو د سکندر مقدوني د لښکرو یرغل، چې په هغه جمله کې زمونږ هېواد هم راځي او دا یرغل زمونږ په تاریخ کې د پر ارزښت لري او هغه مؤرخینو، چې د هغو په وخت او یا یې وروسته له هغه احیاناً یې د پېښنو ګزارش په ځینو مواردو کې له یو شمېر مبالغو سره ثبت کړي دي، خو په دې ټول پوهېږو. چې په ختیځ کې د سکندر په وړاندې پېښنو دی څلور کاله د افغانستان د غرونو په لمنو کې په ډېر قهر متوقف کړی و، دوه کاله د هندوکش په جنوب او دوه کاله یې په شمال کې پاتې شو او د نفوذ د ډېروالي او د یوناني سلطنت د دوام په خاطر یې اووه یا اته کلاګانې (سکندریه) د دې هېواد په بېلا بېلو برخو کې جوړې کړې، چې په کلي ډول د هغو له جملې نه د هري رود په سیمو کې، فراه رود، اغنداو او په ځینو نورو برخو کې لکه پروان خبر یو او یو شمېر نورې یې د آمو سیند تر خوا سیران ته نژدې جوړې کړې وي، چې معمولاً د هغو ځینې پاتې شونې له ماروشاق (بالامرغاب) او د ریرش رودخانې یعنې کوکچه تر آمو سیند (آی خانم) پورې پېدا کولی شو، چې د هغو په باره کې ګڼ شمېر مقالې له راډیو افغانستان نه خپرې شوې دي.

په دې کې شک نه شته. چې په افغانستان کې سکندر څلور کاله په جبري توګه پاتې شوی، لوی لوی دېوالونه یې چاپېر کړي، کلاګانې یې جوړې او څو سوه یا څو زره یوناني ټولي یې دلته پرېښې دي. په همدغه وجه یې نوم، رسم الخط، فرهنګ ادبیات د مجسمه جوړونې هنر، طب او د هغو هنري نمایش او روزښت. زمونږ په هېواد کې ژوړې او دوامداړې خاطرې پرېښې دي، چې لرغون پېژندونکي ورځ تر ورځ تري پردې لرې کوي او څرګندوي یې.

هغه څه، چې په دې مقاله کې یې یادونه کوم په عامیانه داستانونو او روایاتو کې د سکندر او د هغه د خاطرو یادونه ده، چې د اروپایانو په توګه یې اوسنی خوند اخیستی، چې د نظم او نثر ډولونه یې ځانګړی کتاب غواړي

په دې کې شک نه شته، چې په ټوله نړۍ او بیا په ختیزو هېوادونو او په ځانګړې توګه په هند، ایران او افغانستان کې په پاچاهانو او امپراتورانو پورې مربوطو ولسي فولکلوري داستانونو ډېر دود لاره او په ډېره دلچسپۍ به ضبط او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حوندي کېده او په دې کې هم شك نه شته. چې د سکندر نوم په لاندنيو نومونو کې خای نيولی ((داراگان))، ((اکاسره))، هخامنشي پاچاهان او ساسانيان داستان وبونکي او شاعرانو د دارانامو، شاهنامو او خداينامو په کتار کې سکندر نامې هم راوړې او پر دې لار يې د سکندر او د هغه کارنامو ته د عوامو له خاطرو څخه د داستانونو او منظومو لاره پرانسته.

په افغانستان کې عاميانه داستانونو يو شمېر کلاګانو او د لويو چاپېرو دبوالونو نسبت سکندر ته ورکوي لکه د هرات بنار، کندهار او سکندري بنار يا سکندري حصار (له کلا چاپېرد بوال) چې دا سرای خواجه ته نژدې واقع دی او همداسې څو نورې کلاګانې او بنارونه.

د افغانستان د خلکو مقاومت د سکندر او د هغه د يوناني عسکرو په مقابل کې په هغه داستان کې منعکس دی، چې دسکندراو د هغه د مور ملکه اولمپياس ترمنځ يې د مکاتبې په بڼه صورت نيولی او مـا د هغې ډرامې په ليکلو کې ځنې کار اخيستی، چې سرليك يې د (پاروپـاميزاد مېړونه) او يا (سکندر په افغانستان کې) دی مور تولو اوربدلي او لوستلي دي، چې سکندر د دې هېواد له يوې بنکلې نجلۍ سره چې (روشانه) نومېدله، واده وکړ. په جنګ کې د سکندر اوددې نجلۍ دبرخوردپه باره کې ډېر بنکلي عاميانه داستانونه موجود دي، چې له دغو څخه په جنګ کې دافغاني مېرمنو دزړورتوب او مېړانې عرف، عادتونه، محلي ودونو اونورتاريخي مطالب په لاس راځي، چې زمور دهېوادپه ګوټ ګوټ کې تراوسه پورې د سکندر په هکله ډېرې کيسې په مختلفو بڼو نقل شوي او کېږي لکه:

د سکندر ملاقات له خضر سره، اب حيات پسې د سکندر هڅه، ظلمات ته د سکندر ورتلل، د سکندر ملاقات له هېبنده حېرانوونکيو خلکو سره.

د سکندرمور د زړه جمې مونډلو لپاره د يو کوهي د پاسه ورځي او هلته اوري، چې په هر قدم کې يو سکندر خښ دی او داسې نورې کيسې.

په دې کې خو هېڅ شك نه شته، چې د سکندر بريو شرق ته يو ټکان ورکړ او لکه چې اروپاييان وايي د ختيځ او لويديځ رابطه يې جوړه کړه، خو بايد ووايو، چې بريو يې زمور هېواد کې څلور کاله طول ووېست او دا چې د سکندر نوم په داستانونو او کيسو کې پاتې و هغه د ده په کلاګانو او لويو چاپېره دبوالونو او بنارونو کې د ده د يونانيانو ځای پر ځای کول و، چې د ولس له مېشتو خلکو سره بې په مرکو او مجلسونو کې ژبې او رسم الخط په پېرېو دوام ومونډ. چې د هغه نوم او کړه وړه په ولس کې د کيسو يوه برخه وګرځېده، چې سينه په سينه پاتې او خوله په خوله يې نقل وشو.

۸/۸/۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکندر او چنګیز د لښکرو په مقابل کې دهرات د(اورتاکانا) د کلا مقابله

د بهرنیو د یرغل او تېري په وړاندې مقاومت او مقابله د دې هېواد د تاریخ له عنعنوي ځانګړنو څخه ده. تاریخي شواهد رابنیي، چې هر کله د یرغل شدت او جدت ډېر شوی دی، په هماغه تناسب یې په مقابل کې مقاومت ډېر شوی دی.

د تېري او تجاوز په مقابل کې د مقاومت او مقابلې روحیه د ټول هېواد د اوسېدونکیو په منځ کې یو شان وه. هلته د زمان او مکان موضوع مطرح نه وه، چې داخبره دپخوانیو وختونو په کیسوکې تراوسه پورې په هر ځای کې مشهوره ده.

د سکندر مقدوني او د چنګیز د اولادونو په مقابل کې د هرات د تاریخي ښار او د هري رود د سیمې مقاومت د ۱۵۰۰ کلو په اوږدو کې د دغه هېواد د ټولو اوسېدونکیو لپاره د اتلانو حېثیت لري.

کله چې سکندرمقدوني له خپل لښکر سره پر ۳۳۰ مخزېږدي د هري رود ښېرازه سیمې ته ورسېد د دې سیمې خلکو د (برزآن) په مشرۍ په مدافعه لاس پورې کړ. کوم آباد ښار، چې په دغه وخت کې د هري رود د حوزې مرکز و، په یوناني منابعو کې د (اورتاکانا) په نوم یادېده، چې دې ښار ډېر د نګ او کلک دېوالونه درلودل، چې هغه یې د ((آریامتروپسو)) یا ((آریا)) د ولایت د مرکز په صفت هم یاد کړي دي.

په دې کې شک نه شته، چې دغه مهال افغانستان د هخامنشي امپراتورۍ برخه وه او د سکندر تر رسېدلو دمخه د لویو ولایتونو، لکه بلخ، سیستان او د خراسان حکمرانانو د دریم دارا په مقابل کې پاڅون کړی او د هغه په قتل کې یې لاس درلود، خو د سکندر په رارسیدلو سره هر یو له یونانیانو سره د مقاومت په خاطر له خپلو هېوادونو څخه ور ووتل.

سره له دې، چې د هرات د خلکو مشر (برزان) د بنار چاپېر بنه قوي او لوړ دېوالونه درلودل او د دې سيمې خلك هم پرې راټول وو، نوموړي د خپلې نظامي نقشې له مخې له يوناني عسکرو سره په لومړۍ ننبته کې تسليمۍ ته حاضر شو او سکندر له ويرې خپل نظامي مشاور (اناکزيپوس) د هرات په کلا کې پرېښود او خپله د فراه پر لور روان شو. لافراه ته نه و رسېدلی، چې (برزان) د هرې رود اوسېدونکيو په ملاتړ پاڅون وکړ او د سکندر نظامي مشاور يې په قتل ورساوه.

سکندر اړ شو، چې بېرته هرات ته ولاړ شي، کله چې هلته ورسېد د هراتې سردار (برزان) د پلويانو له خوا، که هغوی د (اورتاکانا) په لويه کلا کې وو او که دباندې ټولو ورسره مقاومت وکړ. کله چې کلا د سکندر د عسکرو له خوا محاصره شوه، نو هراتي سردار اړ شو هغو غرونو ته د مقاومت لپاره پناه يوسي چې ورته نژدې وو او ګڼ ځنګل يې درلوده، له دې ځايه يې سکندر ډېر ناراحته کړی و، خو هغه مهال چې يونانيانو ځنګل ته اور ورته کړ، نو بيا هراتي سردار (برزان) تسلمبدو ته اړ شو.

د سکندر مقدوني له يرغل نه (۱۵۵۰) کاله وروسته پر (۶۱۸)هـ ق کال چې ۱۲۲۱م کال سره سمون خوري د چنګيز خان له دهشتي توپاني څپې هرات ته نژدې شوې. تولی چې د تاتار د خان زوی و او د پلار له خوا دنده ورسپارل شوې وه، ترڅو د نيشاپور له فتح نه وروسته هرات ته ولاړ شي او دا وخت د خوارزم شاه سلطان جلال الدين نکبريني له خوا ملك شمس الدين جوزجاني د هرات واکمن ټاکل شوی و. د هرات د تاريخي نامې د ليك او د روضة‌الصفا د څرګندونو په اساس د ۹۰ يا ۱۰۰ زرو په حدودو کې جنګي مېړونه د بنار د دفاع او د چنګيز له زوی سره د مقابلې لپاره جګړې ته آماده وو.

چنګيز او د هغه زامنو، چې د افغانستان په لوړو او مستحکمو کلاګانو کې له ځان سره مقاومت ليدلی و او زيان ور اوښتی و، نو دا يې غوره ګڼله تر پايه هڅه وکړي، چې له جګړې نه مخکې له خلکو سره ارتباط ونيسي، ځکه هغوی غوښتل، چې بنارونه او لويې کلاګانې پرته له جګړې په آرامۍ سره ځانته تسليم کړي، نو ځکه يې لومړی استازي ورواستول، ملك شمس الذين تسليمي ته غاړ کينښوده او ټول استازي يې ور ووژل، د هرات د لويې کلا شاوخوا د تولي او ملك شمس الدين د لښکرو ترمنځ سخته جګړه ونښته، هراتيانو او ملك شمس الدين جوزجاني د تولي له لښکرو سره پوره اوږه ورځې جګړه وکړه اوپه اتمه ورځ ملك شمس الدين د يو غشي په واسطه ټپي او مړ شو.

د ده له مړيني وروسته د ښار مقاومت له ماتې سره مخ شو او د تاتاري شهزاده د ژمنې او وعدې له مخې د ښار دروازې خلاصې شوې او تاتاري لښکر ښار ته تر ننوتلو وروسته ۱۲ زره تنه هراتيان، چې د هر شمېر يې جنګي مېړونه، کارکوونکي او د فيصلو کولو صلاحيت لرونکي اشخاص وو، ووژل. لکه څنګه چې د سکندر د يرغل پر مهال خلکو په اجباري ډول تسليمي غوره ګڼلې او بيا يې پاڅون کړی و او د سکندر نظامي سلاکار (اناکرزيپوس) يې ووژلی و، همدغه شان پر ۶۱۸ هجري چې په زور يې تسليمي پرې منلې وه، سملاسي يې له کوتوال څخه سرغړونه او دښار واکمن ملك ابوبکر منکتاي يې هم ووژه او د فيروزکوه د ملکانو له ډلې يې يو تن، چې اصلا سبزواري و او په هرات کې اوسېده، د خپل ملك په توګه وټاکه او بيا د ښار د ټينګښت او له چنګيزي لښکرو سره د مقابلې په فکر کې شول. لکه څنګه چې ۱۵۵۰ کاله وړاندې سکندر له سبزوار يافراه ته نژدې سيمې نه راوګرځېد او د (اورتاکانا) لويه کلا يې محاصره کړه، د هراتيانو او يونانيانو ترمنځ سختې جګړې پيل شوې، همدغه شان چنګيز هم کله، چې د هرات د خلکو له پاڅون او سرغړونې خبر شو د سکندر په څېر دی هم ډېر په غوسه شو او د دويم زوی (ايلچکدای نويان) په مشرۍ يې اتيا زره تنه واستول، چې مقابل مقاومت له ماتې سره مخامخ کړي.

لکه څنګه چې د سکندر په مقابل کې د هراتيانو دويم ځل مقاومت ډېر شدت درلود او ډېر وخت يې ونيو، همدارنګه د (يلچکدای نويان) په مقابل کې د هراتيانو دويم ځل مقاومت او دريځ له لومړي ځل نه ډېر کلك، پياوړی او دوامدار و، ځکه چې نژدې اووه مياشتې وخت د ښار محاصرې ونيو په پای کې يې په ډېر زور او اجباري ډول پر جمادي اول ۴۱۹هجري قمري کال د هرات ښار تسليم کړ او د تاتاريانو وينې تويونکيو عسکرو تر هغه، چې کولای شول خلك ووژل، ځايونه يې وسوځول او مالونه يې تري يورړل. دې ضربې د يو قطعي هلاکت حکم درلود، ځکه چې د ځينو روایاتو له مخې د هرات په ښار کې له څلوېښتو تنو ډېر څوك پاتې نه وو، خو لکه څنګه چې وروسته له سکندر نه د هرات ښار اباد او معمور شو، همدغه شان وروسته د چنګيز تر مړيني د هغه د دريم زوی (اوګتای قاان) د سلطنت په دوره کې د هرات د ښار اوسېدونکيو وروسته له ۶۴۰ هـ ق نه بيا ابادی ته مخه وکړه.

۲۵/۲/۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هري رود په سيمه کې د سکندريې بنار د ابادۍ په هکله د سکندر او د هغه د مور مکاتبه

تول په دې پوهېږو، چې سکندر ۳۲۸ مخ زېږدي د ايران د هخامنشي ځواکونو له ماتې او د دريم داريوش له وژنې وروسته د هري رود سيمې ته نژدې شو او ختيځ لور ته د يون پر وخت لومړی په هرات کې له لرغونې کلا سره مخامخ شو، دا لرغونې کلا چې په يوناني مناخذونو کې د ((اوتاکانا)) په نامه شهرت لري ډېره ستره او کلکه کلا وه، چې د هرات د خلکو د مقاومت مرکز ګڼل کېده، د هغې وينا له مخې چې پخپله يونانيانو ليکلې وايي، چې سکندر او د هغه جنرالان د لومړي ځل لپاره د يوې داسې مظبوطې کلا او جدي مقاومت سره مخامخ شوي دي.

دسکندر او د هرات د خلکو ترمنځ د جګړې، بري او ماتې کيسه او پېښه يوه ځانګړې موضوع ده، خو لکه څنګه چې په تاريخ کې يې يادونه شوې ده سکندرچې کله د دې خلکو مقاومت او بيا بيا پاڅونونه وليدل، په وېره کې شو او هوډ يې وکړ، چې دلته يوه سکندريه جوړه کړي، چې هغه د (سکندريه هريوس) او يا د هري رود په سکندريه شهرت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي دورو په ماخذونو کې د هرات د لرغوني بنار د جوړونې او جوړونکي په هکله ډېر داستانونه او مختلفې کیسې موجودې دي، چې یقیني توګه تر اسلام دمخه د پخوانیو زمانو په اسطورو کې یې انعکاس او انځور پیدا کولی شو.

شیخ ابو نصر عبدالرحمان د عبدالجبار فاني زوی اوتر هغه وروسته سیف د محمد زوی او د یعقوب لمسي دا داستانونه پرله پسې په خپلو آثارو او تالیفاتو کې را اخیستي او نقل کړي دي او بیا سیفي هروي په خپل وار سره د هغو انعکاس زمور غوږونو ته رارسولی دی. ډېره عجیبه دا ده، چې دسکندرد ډېرو ستونزو انعکاس د افغانستان په غرونو کې د هري رود له سیمې تر امو سیند او سند پورې په شفاهي او لیکلي ډول له لرغونو اوسېدونکیو نه تر ۱۰-۱۱ هـ (۱۶ او ۱۷ مسیحي) پورې د دې هېواد د اوسېدونکو په منځ کې لاس په لاس ګرځېدلی او د هغو شفاهي او تحریري لیکنو نه څرګندېږي، چې سکندر د دې ستونزو په اړه له خپلې مور ملکه اولمپیایس سره په یونان کې مکاتبه درلوده.

په داستانونو کې د یوه له منځ نه په تحریري بڼه ماخذ په ماخذ او بالاخره د سیفي هروي په ذریعه تر مورږ رارسېدلی دی، چې د هري (هرات) په سیمه کې د بنار جوړونې په اړه د سکندر له خپلې مور سره مکاتبه ده.

که چېرې دا واقعي تاریخ د تعبیرونو په قالب کې وښیو، نو باید ووایو، چې سکندر دمخه تر دې، چې په هرات کې د بنار په جوړونه پیل وکړي له خپلې مور سره یې مکاتبه او مشوره کړې ده.

د دې داستان له مخې، چې سکندر د هري رود سیمې ته ورسېد او ویې غوښتل چې د ستړي کلا جوړول پیل کړي، د سیمې له خلکو نه یې مشوره وغوښتله، مګر خلکو د دې پخوانۍ کلا د جوړولو مشوره ورنه کړه، سکندر دغلته پوره دوه کاله زړه نا زړه پاتې شو تر هغې وروسته یې مور د هغه د حال پوښتنه وکړه، بالاخره یې خپلې مور (ملکه اولمپیاس) ته ولیکل، چې د دې سیمې خلک زما اطاعت نه کوي او د هغې ستړي کلا جوړول،

چې زه يې غواړم د جوړولو مشوره هم نه راکوي. دسکندر مور له خپل زوی نه هيله څرګنده کړه، ترڅو د دې ښار د مختلفو ځايونو اوکوڅخه يوه اندازه خاوره ورواستوي،چې دهغې له رنګ، بوی او خوند څخه د څه کيفيت تر معلوملو وروسته يوتدبيرونيسي.

سکندر يوګډی خاوره په څو غوټو کې خپلې مورته واستوله د دغه غوټو خاوري په مختلفه بڼه وې، يوه پسته خاوره يوه کلکه بلنه سپينه او څلورمه تېوره وه.

ملکه اولمپياس د هري رود د سيمې د بېلا بېلو برخو خاوره په خپل دربار کې د فرش د لاندې خوره کړه او وروسته له هغې يې د يونان مشران او استازي راوبلل او دسکندرد انتظار مطابق يې په هري رود کې دسکندرله خوا د نوې ستري کلا د جوړولو مصلحت تري وغوښت د يونان مشرانو له سوچ او فکرکولو وروسته مخالفه رايه ورکړه او ويې ويل، چې د هري رود سيمه د يرغل پر لاره واقع ده او هلته د لويې کلا جوړول زمونږ مصلحت نه دی..

کله چې مشران رخصت شول، ملکې هغه خاوره تولې کړه او په بله ورځ يې بيا د قوم استازي راوغوښتل د خپلې پوښتنې او دسکندرد انتظارپوښتنه يې مطرح کړه. داپلاټولومشرانودبلې ورځې په خلاف په يوه خوله دهري رودپه سيمه کې دستري کلا په آبادولو کې موافق وو او په دې کې يې خپله ګټه اومصلحت ليده.

ملکه اولمپياس سمدلاسه پوهه شوه، چې د هري رود په خاوره کې کوم تاثير شته، نو خپل زوی ته يې وليکل، چې په هغه خاوره کې، چې تاسو ياست ډېر عجيبه تاثير دی، چې د هغه ځای خلک يې هر يو د رايې مخالف او بې اتفاقه کړي دي، له هغوی نه مشوره مه غواړه او سمدلاسه د ستري کلا په هکله، چې په پام کې يې لري اقدام وکړه وروسته له هغې، چې سکندرخنګه غوښتل د کلا په جوړولو يې پيل وکړ او لکه څنګه چې پوهېږو د افغانستان په خاوره کې يې لومړی لويه، ستره او مظبوطه کلا د هري رود په سيمه کې جوړه کړه، چې په يوناني ماخذونو کې د (سکندريه

هریوس) او یاد (سکندریه هریون) په نامه شهرت لري او کولای شو، چې هغې ته د هري رود سیمې سکندریه ووایو.

دا ستره متحکمه کلا د یو شمېر یونانیانو مرکز او استوګنځی شو او څه موده دسکندرد نظامي سلاکار ((اناکزیپوس)) استوګنځی هم و، تر هغه وخته، چې سکندر د فراه رود پر لور لاړ او دا سلاکار د هرات د خلکو له خوا ووژل شو او دا ثابته شوه، چې د دې خاورې تاثیر لکه، چې نمونه یې یونان ته استول شوې وه، د هري رود اوسېدونکي په خپله خاوره کې د پردیو په پاتې کېدو او اوسېدنه راضي نه وو اوپه بیا بیا پاڅونونو له دښمن سره جنګېدل.

لکه څنګه چې ما وویل دا داستان پرته د ماخذونو له متونو څخه د افغانستان د اوسېدونکو په خاطرو کې ثبت دی او خوله په خوله یې نقل کوي.

لکه څنګه چې مې ۱۸-۱۹ کاله دمخه هغه د لومړي ځل لپاره واورېده د هغې په اساس مې یو تاریخي درام د (مردان پاروپامیزاد) په نامه ولیکه. دغه داستان پرته له دې، چې د سکندرپه مقابل کې یې د ملي مقاومت انعکاس او دسکندرپه څوانو عسکرو د غرونو په لمنو کې څه تېر شوي و، لیا ٹي څه چې زمونږ غورځونو ته یې هم رارسوي.

هغه مخالفت او ممانعت، چې د هري رود پخوانیو اوسېدونکیو دسکندرپه مقابل کې د نوې ستري کلا د جوړولو په اړه کاوه ربنتینی وګنځ او له بله پلوه د تاریخ په لحاظ دا هم څرګنده ده، چې سکندرمقدوني لرغونې، ستره او مظبوطه کلا په هري رود کې جوړه کړه.

۱۶/۱۱/۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکندري سار يا سکندري کلا

د سکندر مقدوني شخصيت په افغانستان کې دومره شهرت لري، چې لوستونکي او نالوستي ټول هغه پېژني او يا يې لږ تر لږه د هغه نوم اوربدلی دی، دا د حېرانتيا ځای نه دی، چې سکندر مقدوني د هري يا هرات پر سيمه د حملې او يا تېرېدنې پر وخت تر اراکوزي (الرخج، رخد، کندهار) اکسوس (امو سيند) او اندوس (اباسين، سيند) پورې د دې سيمې د خلکو د شديد مقاومت له املې په مختلفو برخو کې کلاګانې جوړې کړې چې د هغو کلاګانو ځايونه د حوزو په نومورو سيندونو کې چې په تاريخي ماخذونو کې يې يادونه شوې او د ځينو ځای او موقعيت هم تر يو حده د لرغون پېژندونکيو له خوا ټاکل شوی دی او ځينې نورې خاطرې يې د خلکو په حافظو کې پاتې دي.

د کوم حصار يا کلا په باره کې، چې دلته بحث کوو نظر ماخذونو او تاريخي کتابونو ته د خلکو پر ژبو ډېر شهرت لري او که تر دې يې څرګنده ووايو په هېڅ يو ماخذ او کتاب کې د دې ستري کلا يادونه شوې نه ده، مګر د سيمې اوسېدونکيو د هغې لپاره نوم ټاکلی دی او له سکندر سره يې د ارتباط په مناسبت په اولسي ژبه کې يې (سار سکندري) بولي.

دا ستره کلا او يا يې خرابې او پاتې شوني د پخوانۍ کاپيسا په سيمه (په اوسني کوهدامن کې) خواجې سرای ته نژدې موجوده ده که چېرته پخوانۍ د پښو لارې په نظر کې ونيسو، نو ويلی شو، چې دا کلا د کابل او خواجې سرای ترمنځ واقع وه او البته د کلا خرابه له سرای خواجې سره ډېر نزدې والي لري او د جنوب ختيځ پلو ته د (۲) کيلو متروپه واټن واقع ده، کوم کسان، چې د دې زړې کلا د کنډوالو لېدلو سره علاقه لري، نو بايد د تلو راتلو په لاره بلد وي او دا لنډ معلومات سيلانيانو او جهان ګرځندو ته هم ګټور دي. د سکندري کلا لاره همدغه د کابل شمالي پلو ته موجوده لاره ده. له کابل نه نژدې ۲۵ کيلومتره وروسته د ختيځ پلو ته د انګورو باغونه، زراعتي ځمکې او يو لړ غونډۍ تر سترګو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ځای کې باید موټر ودرول شي او په پښو د باغونو په کوڅو کې د خاورو غونډۍ پلو ته متوجه شي او د سیمې له خلکو پوښتنه کول که په هره نقطه کې حاضر وي یوه حتمي خبره ده. دلته د باغونو په منځ کې کوڅې، هواري زراعتي ځمکې او د انګورو باغونه کوز څرګند ېږي او په پورته خوا کې نږدلې کنډوالې له ورایه ښکاري تر هغې، چې لویه ویاله یا وړوکی خوړ رارسېږي او د دې خوړ په هغه خوا کې له تیږو او خاورو جوړې غونډۍ د پاسه د لویې کلا کنډوالې څرګند ېږي. د هغې سیمې د نژدې کلیو خلك دغه د خاورو ډېرۍ ته، چې شواهد او اثار یې په دننه کلا کې څرګند ېږي معمولاً (سار سکندري) وایي او دا له احتمال نه بهر نه ده، چې د سار د کلمې نه یې مقصد (سار) (حصار) (شار) او یا (شهر) وي داسې لوستوال خلك هم شته، چې دې کنډوالو ته (حصار سکندري) وایي او که چېرته د ستراتیژیکې او (سوق الحبشې) له نقطې نظره وکتل شي، نو په قطعې توګه ویلی شو، چې دا کنډوالې د پخوانیو او کلکو کلاګانو پاتې شوني دي.

همدغه ویاله یا خوړ چې د مخه موږ یادونه وکړه د کلا لویدیځ او شمال پلو ته یې یو ډول طبیعي خندکونه جوړ کړي، د دې کلا ډېرې برخې ګودال او شنډلي دي چې ننني ننباني یې موجودې دي، نو په همدغه ترتیب نومورې کلا د شنډلو ډېوالونو د اوبو لارې او په چارچاپېره کې طبیعي خندق او لاړه ده او خپله کلا د یوې مورې د پاسه، چې دا مورې د ډېرو او خاورو لرونکي ده، پرته ده.

د کلا چاپېره یو ډېر بردار (سورور) ډېوال له مستحکمو برجونو سره موجود و او نن یې وران شوو ډېوالونو د ماهي د شا په څېر بڼه غوره کړې ده. احتمال لري، چې دې کلا څلور دروازې درلودې ختیز او جنوبي برخو د دروازو موقعیت بڼه تشخیص کېدلای شي او پرته له شك نه ویلی شو، چې د دې کلا عمومي ستره دروازه جنوبي پلو ته ده. له دروازې نه، چې کومه لاره دننه تللې وه له لنډ شان دوزې وروسته یو برج ته ورغلې وه، چې دا د کلا مرکزي او لوړه برخه وه.

د سار سکندري په کنډوالو کې تراوسه کومه علمي پلټنه نه ده شوې او د هغې سیمې د لنډو کلیو خلك د دې کلا خاورې خپلو زراعتي ځمکو ته د سرې په ډول وړي. د دې خاورو د وړلو په وجه په ډېرو ځایونو کې په دهلیزونو کې څرګندې شوې خنبتې، چې د ډېوالونو په جوړولو کې تري کار اخیستل شوی ډېرې غټې، غټې او خامې دي، د اندازې او لوبوالي له مخې د بګرام له خنبتو سره هېڅ توپیر نه لري. لکه څنګه چې پوهېږو بګرام د دویمې مخزېږدي پېړۍ په نیمایي کې د یونانیانو پر وخت د لویو کوشانیانو په دوره کې جوړ شوی، چې له لومړۍ تر

دریمې مسیحې پیړۍ یې د خپل عروج دوره ترسره کړې، لکه څنګه چې یې د جوړولو استنباط له ق م نه کیږي، نو بیا (سارسکندري) د مقدوني سکندر له خوا جوړه شوې ده، نو باید چې هغه د پروان د سکندري بنار سره د یوې زمانې وګڼو.

دا کلا حتمي د کوشانیانو په دوره کې جوړه او آماده وه، چې د ابادۍ او جوړېدو د تحول تاریخ یې د کاپیسا بګرام له بنار سره په موازي ډول مطالعه کولی شو.

هغه مقالې، چې کابل رادیو ته مې لیکلي د هغو ابادیو په اړه دي، چې د کوهدامن کوهستان په سیمه کې دي، چې د هغو نسبت سکندر مقدوني او تر هغه وروستنیو یونانیانو ته کیږي، لکه د عبدالله برج ستره کلا او د پروان سکندري بنار، نو بیا داسې کوم دلیل نه لرو، چې (سار سکندري) دې په دې کتار کې ونه شمیر و.

وړاندې مو یادونه وکړه، چې تراوسه په دې کنډوالو کې کېندنې نه دي شوې، خو د خلکو له خوا د خاورو وړلو په وجه پخوانۍ شواهد لکه مسکوکات، نګینې، مرۍ او نور چې د یونانیانو او کوشانیانو په دورو اړه لري، موندل شوي دي، د دې دورې د مسکوکاتو شهادت د نومورو دورو لپاره د دې تاریخي کنډوالو د ارتباط ښه نښه ده او د تاریخي سنجش او موازنې له مخې په اسانۍ سره سمون او مطابقت لري.

د بهرنیو پوهانو له ډلې څخه هغه چا، چې دلته لنډه شان مطالعه کړې ده مشهور فرانسوي ختیځ پېژندونکی مویو ګیرشمن دي، چې د دویمې نړیوالې جګړې پر کلونو په افغانستان کې د فرانسې د لرغون پېژندنې د پلاوي مدیر و او په اتفاق سره مو یو ځای د صدق آباد، ریزه کوهستان او د سار سکندري کنډوالو دپاتې شونیو څخه لیدنه ترسره کړه. نومورې فرانسوي پوه دې ته متمایل و، چې دا کنډوالې د «اورتسپانا» د بنار پاتې شونې و بولي، چې معمولاً د هغې موقعیت د کابل سیمه ګڼي. بل فرانسوي ختیځ پېژندونکي موسیو فوشه د اورتسپانا د بنار موقعیت د بودایي کابل مربوط د چکړې او خورد کابل سیمه یادوي په هر حال دا ځانګړې بحث دی، چې د هغې شرح دلته نه شي کېدای او د سار سکندري د کنډوالو کیندنې د دې لنډې مقالې هدف یوائې د دې کنډوالو نوم، نښې او موقعیت پېژندل دي، چې له کابل نه د شمال په لور د ۲۵ کیلو مترو پر واټن پروت او ترڅنګ یې نن یو لوی او له خلکو ډک کلی (خواجه سرای) پروت دی.

۷/۵/۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايوتيدم باختري يونانی پاچا

په باختر کې د يونان له لويو پاچاهانو څخه يو هم ((ايوتيدموس)) دي، چې هغه په ساده ژبه (اوتيدم) لوستلی شو. هغه نه يوازې په باختر کې د يونان د خپلواکې شاهي کورنۍ غړی و، لاچې بنسټګر او د سرکښ هم و، چې وروسته د (ديودوت) له کورنۍ څخه په باختر کې د يونان سلطنتي کورنۍ د هغه په نامه شهرت لري.

يوتيدم پر ۲۷۰ م زکال د بلخ د سلطنت په تخت کښناست او تر ۲۳۰ م زکال پورې يې نژدې څلويښت کاله سلطنت کړی دی. لکه چې ټول پوهيږو، چا چې په باختر کې د يونانيانو مستقل سلطنت اعلان کړ هغه (ديودوت) و، مګر د هغه د تروالۍ لانديې سيمې ډېره برخه د هندوکش شمالي برخه وه يا ووايو، چې په باختر کې محدود پاتې شو او زوی يې دويم (ديودوت) هم له همغه ټاکلو پولو نه دباندې ونه وتلی شو، د پلار د واکمنۍ په حدوداتو کې پاتې شو تر هغې پورې، چې (ايوتيدم) ته وار ورسېد.

تر کومه چې تاريخي پېښې رابنيي اصلا ايوتيدم د دويم ديودوت تر وژلو وروسته تاج او تخت ترلاسه کړی. لکه څنګه چې پردغه وخت يوناني شاهي دولت د (سلوسي) کورنۍ سره د باختر د نوتشکيله يوناني دولت سره سيالي او د ښمنې درلوده د يو شمېرنظريو له مخې دويم ديودوت ديو شمېر يوناني تحريکاتو له مخې د يوتيدم په لاس ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باختر د يوناني پاچاهانو په ډله کې ايوتيدم پيښوړی مقام لرونکی دی، ځکه چې هغه په سياست، واکمنۍ، فتوحاتو، نوې ابادۍ او همداراز د هغې دورې د تجارت په پراختيا او روابطو کې تر ډېرو واکمنو پورته ګڼل شوی. کله چې يوتيدم په بلخ کې واکمنۍ ته ورسېد، دوو مهمو مسئلو د هغه پاملرنه ځانته واړوله. يو د بلخ د سترې کلا ټينګښت او په هېواد کې د ابادۍ پراخوالی او بل د هندوکش دواړو خواوو ته د جغرافيايي واحد له نظره د ايالتونو، ولايتونو او سيمو ترمنځ اړوندي اوترې و.

استرابون يوناني جغرافيه ليکونکی، چې تقريبا د باختري يوناني پاچا (ايوتيدم) هممهالی و، بلخ يې د (اريانا مرغلرې) په صفت ياد کړی او د اريانا حدود يې د يو ستر هېواد په حېث ياد کړي د (اريانا د مرغلرې) صنعت او د (هزار قلعه) اصطلاح، چې دا زمان د باختر په باره کې ويل شوي، څرګندوي چې ايوتيدم د خپلې واکمنۍ په اوږده دوره کې د هېواد په مرکز او ولايتو کې ډېر اوږده او تلپاتې کارونه کړي دي.

ايوتيدم د سلطنت پر تخت له کېناستو سره سم له يو يا دوه خطرونو سره مخامخ و له يوې خوا دلويديځ له پلوه د سلوسي يوناني شامي دولت په ځانګړې توګه د هغوی پاچا انتوکوش غوښتل، چې د هغه خپلواکي تر پښو لاندې کړي او له بله پلوه د هندوکش جنوب ته هندي (موريايي) دولت تېرى کړی و او د ارغنداو د سيمې ترځنګ نژدې برخې يې نيولې وې. دا وخت د باختر او شام ترمنځ جګړه وشوه انتيوکوش يوناني شامي د باختر پر لور لښکر وخوځاوه، د ده او د باختر يوناني پاچا ترمنځ لومړی شخړې د هري رود په سيمه او بيا يې د بلخ د لويې کلا په چاپېريال کې صورت ونيو او تقريبا دوه کاله د بلخ يونانی پاچا په محاصره کې پاتې شو بالاخره د باختر د خپلواکۍ د پېژندنې او د تېرې کونکيو د پر شا تللو په اړ صلح منځ ته راغله.

وروسته تر دې انتيوکوش د هندوکش له درو څخه کابل ته ستون شو او د جنوب او لويديځ له لارو يې خپلې منطقې ته مراجعه وکړه. کابل ولايت او ارکوزي

(کندهار) څخه د تېرېدلو پر وخت يې د هندي موريايي ځواکونه او د هغوی وروستی واکمن (سوناګازنس) شاته کړ او دا ځايونه يې تخليه کړل. په نتيجه کې لکه څنګه، چې دا ختيز او لويديز يرغلګر پر وړاندې تللو بريالي شوي وو، خپلو متقابلو خاورو ته راستانه شول او د باختري سلطنت خپلواکي يې ومنله او "ايوتيدم" چې د دې وخت په لاتجه کې پرېوتی و له بلخ نه د هندوکش په دواړولويو سيمو باندې د يو مستقل واکمن پاچا په توګه وپېژندل شو او د (اريانا) ټول ايالتونه او ولايتونه يې په ځان راټول کړل په بله وينا د هېواد د خاورې وحدت يې عملي کړ او حتی د يادې شوې خاورې له قلمرو څخه د باندې که هغه شمال شرق پلو ته له پامه نه هاخوا د سنګيانګ په لور وه او که هغه شمال غرب پلوته په پارتيا (د کشف رود او اترک حوزه) وه او که هغه لمر خاته پلو ته د اباسين په غاړه کې و، پر فتحو بريالی شو. يو له نويو کارونو څخه يې د هېواد په دننه کې د امارتونو تشکيل و، چې دوه يې د (پاروپاميزوس) او (اراکوزي) د امارت په نامه يادېدل لومړی امارت د (مارکوس) (مرغاب) د حوزې له نژدې نه چې هري رود هم ورپکې شامل و او دويم امارت په جنوب لوديځ کې د ارغنداب حوزې ته نژدې په دې برو برخو محدود و.

د ايوتيدم سکې د ده د اوږدې څلوېښت کلنې واکمنۍ او د پراخو لاس لاندې سيمو د سلطنت په وجه څو ډوله او ډيرې دي، چې د هغوله جملې څخه يې دوه ډوله ډېرې مشهورې دي، يوه يې ګرده نقره يې سکه ده، چې يو پلو ته يې له فولادي خولې سره دپاچا تصوير دی او بل پلو ته يې د (هرکول) مجسمه ده، چې په يوه لويه هواره تيګه ناست څرګندېږي. دويمه ګرده طلا يي سکه ده، چې په يو مخ يي د هر کول نيم بڼي خوا ته مخ بنکاري او په بل مخ کې يې اس په ځغاسته دی او په هغې کې يې (بازيلوس ايوتيدموس) يعنې (ايوتيدم پاچا) ليکلي دي.

۲۰/۱/۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کاپيسي ـ بګرام د ښار په پلان کې

د يوناني او محلي ښار جوړونې بنسټونه

د تاريخ د متنونوپه شهادت ويلی شو، چې د کوهستان او کوهدامن په حوزه کې مو د کاپيسي په نامه لرغونی ښار درلود، چې په ۵-۶ پېړۍ کې د سيروس او ايراني هخامنشي داريوش له خوا اباد شوی و. د دې لرغوني ښار موقعيت په څرګند ډول معلوم نه دی، خو په دې کې شک نه شته، چې په بګرام کې به د برج عبدالله ترڅنګ واقع و، خو د پېړيو په تېرېدلو اوپه وروستيو دورو کې د نوو ابادیو په جوړولو او هغه سيمه په زراعتي ځمکو له بدلون سره د هغه ښار اثار پاتې نه دي، نو مور د بګرام په خرابيو کې دوه ساحې په مشخصه توګه ليدلی شو او تقريبا دواړه سره ښښتي دي، چې زمور د ورځنيو اصطلاحاتو له مخې يوه يې د ((برج عبدالله)) او بله يې د ((بګرام)) په نامه ګڼلی شو، چې هغه دواړه دوه پېړۍ يا تر دې هم ډېر دمخه تر ميلاده د يونانيانو له خوا جوړې شوې دي.

امکان لري، چې په برج عبدالله کې د دې ستړي او کلکې کلا بنسټ پخپله سکندر اينبی وي او که داسي نه وي، نو باختري يونيانو به د هغه د امر په سر ته رسولو کې اقدام کړی وي، مګر د بګرام په باره کې د لرغون پېژندونکو د ربښتيني کتنې نه څرګنده شوې ده، چې دا ښار دوه پېړۍ دمخه تر ميلاده د يونانيانو په لاس جوړ شوی دی:

د ښار جوړونې له نظره د بګرام د کندوالو مطالعه ډېره پر زړه پورې ده او دا کار له کيندلو پرته ممکن نه و، خو له نېکه مرغه کله، چې په دويمه نړيواله جګړه کې د موسيو ګيرشمن فرانسوي له خوا کيندنې وشوې، داسې نتيجې لاس ته راغلې، چې د هغې په رڼا کې د بګرام د ښار پلان او تدافعي سيستم يې څرګند شو او معلومه شوه، چې د ښار پلان د يونان د کلاسيکو ښارونو پر اساس وضع شوی او په دفاعي سيستم کې يې له محلي اساساتو نه کار اخيستل شوی دی.

نومورې فرانسوي پوه د مطالعاتو له مخې د کاپيسي ښار د عمومي جوړښت له نظره د يوناني ښارونو په اصولو د (هيپودام) په شکل يعني په مربع ډول جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی و، چې یوې جادې یې له یوې ضلع نه تر بلې ضلع پورې امتداد درلود او د بنار عمده ځایونه د جادې دواړو خواوو ته جوړ شوي وو په همدې ترتیب د بنارې پلان له نظره د کاپیسې - بګرام بنار د یوناني بنار (دورا- اوروپس) له بنار سره یې کامل ورته والی درلود، چې پاتې شونې یې په امریکا کې د (یال) د پوهنتون پوهانو په لویدیزه اسیا کې کشف کړي وو.

د یوناني بنار جوړونې پر اساس د بګرام او دیورا بنارونه ډېر ورته والي لري، چې موسیو ګیرشمن یو شمېر ورته والی داسې بیانوي: په دواړو یادوو شوو بنارونو کې هغه دېوال، چې د جلګې په لور واقع دی مظبوط والي ته یې ډېر ارزښت ورکړی شوي دی په دواړو بنارونو کې هغه لارې، چې دسیند پلو ته وتلي دي، په سیند حاکمې دي، په دواړو بنارونو کې عمومي دروازې جنوبي خوا ته د جلګې پلو ته ویستل شوي دي او د بنار اساسي جاده له همغې دروازې نه پیل شوی او پای یې سیند ته رسیږي.

په دې کې شک نه شته، چې د دې دواړو بنارونو ډېر ورته والی د دې سیمې د اراضي د ورته والي پر اساس منځ ته راغلی، مګر د موسیو ګیرشمن په نظر د دې دواړو بنارونو جوړونکیو د یوناني بنار جوړونې له اصولو څخه خبر وو او د دواړو بنارونو جوړونه یې د یوناني بنارونو په موازنه ترسره کړې ده. لکه څنګه چې دا نظر د (یورا) په بنار کې ثابت دی، نو هېڅ بل دلیل نه شته، چې د کاپیسا - بګرام په اړه رسالت ونه لري. البته د دې یادونې حاجت نه شته، چې ډ بګرام د بنار په تدافعي اصولو کې د ایراني نظریاتو، چې محلي بڼه یې خپله کړې وه کار اخیستل شوی، چې د هغو اثر په یوناني بنارونو کې نه شته.

د (کاپیسا- بګرام) دبنارجنوبي پلوته لویه ضلع او ورسره نژدې برخو او مخصوصا هغه لوی برجونه چې دبنار په کنجونو کې وضع شوي دسیمه ایزې تدافعي مفکورې استازیتوب کوي چې سوابق یې په اردواو دهماغې زمانې په غربي نړۍ کې نه لیدل کیږي. نوموړي فرانسوي لرغون پیژندونکی دخپلو پورتنیو نظریاتو دثبوت له پاره دلوستونکي پاملرنه دخوارزم یعني هغې سیمې ته اړوي چې دامو سیند دښې خوا بنکتنیو غاړو کې پراته سیمه ده چې یوه موده دیوناني پلوو باختري واکمنو په لاس کې وه. پدې کې شک نشته چې پروفیسر تولستف روسي لرغون پیژندونکی چې دافغانستان او شوروي د دوستۍ دټولنې مشر و خوارزم کې یې یو لړ پراخې کیندنې او څېړنې ترسره کړیدي. لکه څنګه چې مې وویل دخوارزم څمکه دامو سیند دکوزنۍ برخې پره لاره په دواړو خواوو لکه چې یې پورته یادونه وشوه پرته ده، لکه چې دوخت په تیریدلو بادونو شګه وړاندې راوړي اکثرا پخواني بنارونه یې پټ کړیدي او دښارونو خرابې چې هرڅومره داموسیند تر لارو لرې پرتې دي زړې اوچې هرڅومره ورته نژدې پرتې دي نوې بنکاري.

دامفکوره لرغون پیژندونکیو داسې څرګنده کړې چې په دري لومړنیو مخزېږدیو پیړیو کې جوړ شوي دیوالونه برجونه نلري او تیرکشونه ډیر نژدې په خپله دیوال کې کښل شویدي چې(جانبازکلا) یې ډیره ښه بیلګه ده لږ وروسته خو په همدې دوره کې په داسې حال کې چې دیوالونه تیرکش لري او ټول مربع شکله برجونه له ۱۸ نه تر ۲۶ مترو پورې څرګندیږي اوپرته له مربع او مستطیل ډولو کلاګانو څخه دګردوکلاګانو جوړول هم پیدا شوي. د دیوال په امتداد کې دبرجونو فاصلې دخوارزم دکلاګانو اوبګرا ترمنځ ورته والی پیدا کړی دی.

دبګرام ښار دستري کلا دبرجونو اودیوالونو اثار دموسیو ګیرشمن دکیندلو په وجه څرګند شو دښاردلویې کلا اوږدوالی(۴۰۰) متره او عرض یې د (۴۵۰) مترو په شاوخوا کې و. دښار دستري کلا دپنډو دیوالونو اثار په دري خواوو ختیځ،لویدیځ او سویل کې معلومیدل او دبرجونو بنیادونه وروسته ترکوششونو څرګند شول. دښار شمالي پلوته یوځوخوړونه دپنجشیر درودخاني پر لور متمایل وو. چې خامخا یې هغې خوا ته هم لاره درلوده چې اوس یې هوري د زراعتي ځمکې ښه خپله کړي دښاردیوال په خپل اوږدوالي او سورکې وتلي ننوتي ځایونه درلودل چې دعسکرو دځای پر ځای کولو له پاره یې ښارته استحکام ورکاوه، دښار جنوب غربي کنج ډیر کلك و ځکه هلته دستر برج پاتې شوني موندل شوې دي چې یواځې غربي خواته دیوال ۵۰ متره اوږدوالی لري حال دا چې دشمال کنج برج په څوځله وړوکی و او فقط ۱۶/۶ متره اوږدوالی او ۸/۹۰ متره سور یې درلود.

دښار ستره دروازه چې دداخلیدلو اساسي لاره وه دجنوبي دیوال په منځ کې دکوهدامن دجلګې پر لور کښل شوې وه. له دغې لارې څخه دښار په منځ کې یوه کوڅه تیره شوې وه او دجنوبي ضلع لورته د رودخانې پر غاړه .دبرج عبدالله ترځنګ ختمه شوې وه اوله همدغه ځایه دښار اوسیدونکیو اوبه اخستې

نو لکه څنګه چې په تاریخي نظریاتو دلرغون پیژندوونکیو پر ځیرنو، دلویدیزې اسیا له پخوانیو کلاګانو اوښارونو او خوارزم سره یې شرح اودمقایسې یادونه وشوه دکاپیسا- بګرام ښار دډیر توافق لرلو پر وجه چې له یوناني ښارونو سره یې لري دهغې استحکام زمونږ په محلي مفکورو اومنطق باندې استوار و.

دانقطه ډیر ارزښت لري چې دیوناني ښار جوړونې ته قانوني نظر کولی شي چې دبګرام په پلان کې یې مطالعه کړو. پدې چې لویو کوشانیانو دیونانیانو ځای ونیو خو په اصل کې دښار په پلان کې یې کوم ډیر بدلون رانه وست او ټول پخواني جوړشوي اساسي خطونه پاتې شول چې لرغون پیژندونکي هم همدغه نظریه تائیدوي.

۱۳۳۸/۲/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروان ياجبل السراج کې

دقفقاز سکندريه

دمقدوني سکندر له عادتونوڅخه يو د ختيځ پر لور فتح شويو ځايونو کې دمستحکمو کلاګانو اوښارونو جوړول و چې دده په خپل نوم (سکندريه) باندې شهرت لري، لکه په مصر کې چې (سکندريه) له ۲۳۰۰ کلونو را په ديخوا په همدغه نوم موجود ده.

ألبته ددغو کلکو ښارونو او کلاګانوپه جوړولوکې داسيا دمختلفو نقطو اوافريقائی جنګياليو اووسله لرونکيو خلکو دمقاومت روح ډير دخالت لري، ځکه چې سکندر ځای پر ځای داودانی دخپلو عسکرو داستوګنې له پاره دمجبوريت او اړتيا له مخې جوړې کړي نه دشوق او ښکلا لپاره.

سکندر دافغانستان دخاورې په مختلفو برخوکې دخپل تګ لوری له شمال لويديز برخو يعنې له اوسني هرات څخه دسند رودترغاړو پورې څوکلکې کلکې کلاګانې جوړې کړي چې دتاريخ دپانو په شهادت دهرات، فراه او کندهار له سکندريو نه پوره اطلاعات په لاس لرو، يوله همدغو کلاګانو يا سکندريونه همدغه د (قفقازسکندريه) ده چې دهغې محل يا موقعيت دپوهانو دځيړنو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

رناکـي دپخوانـی پـروان يـا پـه جبـل السـراج کـي دسـالنګ ددري خولـي ته نژدي سيمه ټاکلی شو.

ولي مؤرخينـو او يونـانی جغرافيـه ليکونکيـو دامسـتحکمه کـلا د(سـکندريه، قفقاز) په نامه يادە کړې ؟ په دي کې شك نشته چې دقفقاز دغرونو لړی، دترکيې پـه شـمال ختيـځ، دايران آذربايجـان او دشـوروي آذربايجـان پـه سـرحداتوکې پرتـې او ديونان خاورو ته نسبتاً نژدې وې او يونانيانو هغه بنې پيژاندې.

کله چې ئې سترګې دهندوکش پرواورينه لوړه څوکه ولويـدې نـو دورتـه والـی پـه وجه يې قفقاز وباله او تصور ئې کاوه چې دغرونـو دغـه لړی چې داسـيا پـه زړه کـې پرتـه ده دشرق نهائی حدودات دي او ددې لپـاره چې دسکندر فتوحـات يـو خـارق العاده پرمختګ وښيي فکر يې کـاوه چې ددنيـا پـاي تـه رسـيدلی او پـه حقيقـت کـې دسند رود اود رود ترصدختيزې علاقې ددنيا د ختيځ پای ښکاريده.

او دپروان کلکه کـلا (سـکندر) تـر اوسـه زمونږ پـه منځ کـې معمولـه او مشـهوره ده، دپروان نـوم زمونږ پـه لرغونـي ادب کـې د (پروانتـا) ديـو غرنـي نامـه پـر بـڼه پـه (اوېستا) کـې يـاد شوی دی چې هميشـه سـوړ بـاد چې دسـالنګ لـه واورينـو غرونـو څخه راپورته کيږي لري او د(پروان بـاد) بـاندې مشـهور دی، تـر دې پـورې چې امـير حبيب الله خان ۲۳۰۰ کاله دسکندر تر آبادی وروسته په هماغه ځای کې ديـو سـتر ارګ جوړول پيل کړل. که چيرته اولسی داستانونوته پاملرنه وشي داسې بريښي چې دسکندر لـه يرغـل او دهخامنشـيانو لـه بريـو دمخـه مـو پـه (پروان) او (بګرام) کـې مستحکمې کلاګانې درلودې چې دغوربند، شتل، پنجشـير اوسـالنګ سـيندونو لـه اوبو څخه جوړ ډګ سيند ددواړو کلاګانو په منځ کې تيريده.

په اولسي داستانونو کې داسې نقل شوي چې په يو وخت کې دوه پـاچاهانو چې يـو (مروان) او بـل (پروان) نومـيد چـې يـو دبـګرام او بـل دپـروان واکمـن و د دواړو کلاګانو ترمنځ يې درودخانې دپاسه يوځنځير غځولی او ددواړو کلاګانو پـه برجونـو پورې تړلی شوی و چې دواړه برجونه په خپلو کې سره وصل شوي وو.

دواړو واکمنـو پـه خپلـو کـې سـره ويلـي وۀ چې کلـه ددښمـن لـه خوايـوه تـه خطـر متوجې شي سم له لاسه به دځنځير په خوځولو بل تـه خبـر ورکـوي او دواړه بـه پـه ګډه دښمن له منځه وړي.

وايې چې له دې دواړونه يو تن دبې احتياطی په وجه څو ځلـه بـل تـه دخطر خبر دځنځير په واسطه ورکړ، کله چې به دويم ګړی سره له لښکر مرسـتې تـه ورسـيد وبـه يې کتـل چې دښمـن نشـته او دوي پرې مسـخرې کړيـدي، کـوم ځل چـې پـه ربښتيـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمن په کلا يرغل کړی و او دوي هر څومره دځنځير په واسطه خبر ورکړ مرستې ته ونه رسيدل، ځکه چې بيا هم پرې دمسخرې شك شوی و، او په نتيجه کې کلا سقوط وکړ. داويلی نشو چې دابې احتياطي دچا له خوا شوې وه خو نتيجه داشوه چې بګرام او پروان دواړو سقوط وکړ. کله چيرته داداستان ذ سکندر دزماني له يرغل او بريو سره تطبيق کړو نو ويلای شو چې لومړی بګرام او بيا پروان سقوط کړی دی.

سکندر د ۳۲۸ مخزيږدي کال دمنی پر موسم بګرام ته ورسيد او دپنجشير درود پر غاړه په اوسنی (برج عبدالله) کې پاتې شو او بيا له رودخاني نه هغه پلو ته په پروان کې دهندوکش دلوړ غره دپاي سيمه دسالنګ ددرې په خوله کې په ډير تلوار ديوې مستحکمې کلاپه جوړولو پيل وکړ.

څرنګه چې سوړ ژمی و او دهندوکش پر واورين غره داوښتلو امکان نه و نو دپروان دسکندر يې جوړولو له پاره ډيره هڅه او زيار ايستل پکار و. يوناني عسکرو اودکاپيسا ددرو خلکو په ګډه په دوه دري مياشتو کې کلا اودهغې برجونه اباد کړل او د سکندردخپلو يوناني عسکرو سره ژمی په همدغه کلا کې تير کړ.

کله چې سکندر دراتلونکي کال پر پسرلي د ((بسوس)) دمقابلې لپاره چې دپاچاهۍ اعلان يې کړی و دشمال پرخوا لاړ، يوشمېر عسکريې له دې ويرې چې دکاپيسا او کابل خلک کوم عکس العمل ښکاره نه کړي دپروان په سکندريه کې پرېښودل.

دپروان دسکندريې داصلي ابادۍ کومه نښه نښانه پاتې نه ده، خو د ۱۹ پيړيو په اوږدو کې چې کومې سکه لرونکې پيسې هلته موندل شوي او اوس هم پيداکيږي څرګند وي چې دلته يو وخت دژوند کولو يومهم مرکزو.

۱۳۴۸/ ۸/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې يوناني

ميتولوژي

ميتولوژي يوه يوناني ترکيبي کلمه ده چې په هغې کې (ميت) او (الوژي) يعنې افسانه،داستان، د ډول ډول خدايانو کيسې او له هغوي سره معرفت او پيژندګلوي دزړې زمانې دقومونو کيسې دمعشوقواوودونو داستانونه، قهروغضب، دوستي اومخالفت دومره پراخ، زړه راښکونکي او رنګين دي چې دپخوانيو يونانيانو پرمختګ يې په هنر اومختلفوڅانګو لکه انځورګرۍ، پرګرۍ، موزيک او نوروکې همدوي نه مربوط او وابسته بولي، او وروسته ديونان له کلاسيکي دورې نه ددې ميتولوژي يوناني داستانونو اغيزه داروپا په راپيداشوي هنر او ادبياتوکې بې پدله نه ده.

يو له هغوموضوعاتو نه چې په ختيځ کې، د سکندر له برېدواو دافغانستان په سکندريو کې ديونانيانوترپايښت وروسته ددې دواړو په روابطوديونان خاوره ددقت او کتنې ور ده، په افغانستان کې همدغه ديوناني خدايانو ډولونو دکبسو انعکاس دی چې هغه هم دوه متقابلې جنبې لري، يوداافغانستان داوسيدونکيو په منځ کې ديوناني ميتولوژی،افسانوي،اسطوره ئي او داستاني خاطرو انعکاس دی او بل ديونانيانو په منځ کې دپهلوانانو،او سبمه ايزې ميتولوژی اسطورې اوداستانونوتاثير او انتشار دی، چې دلته يواځې دلومړی جنبې نه يعنې، د افغانستان په غرنيو سيمو کې ديوناني خدايانو ډولونو له افسانوي اغيزې څخه لږ بحث کيږي هغه يونانيان چې د سکندر په وخت او ياوروسته له هغه نه دافغانستان په سکندريوکې ددې وطن استوګن شوي وو،د سکندر دامپراطورۍ او ديونانيانو په اسيائي اوافريقائي خاورو کې دسلطنتي تشکيلونو ترتجزيې اورنګيدلو وروسته دهغوي رابطه ديونان له خلکو سره پرې شوه اوډير شمېر يې دافغانستان په غرونو کې لکه دمحاصرې په ډون ياتې شول او زمونږ دسيمو له اوسيدونکيو سره ورو ورو حل او يو ځای شول، دهمدغه يوځای والي په وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغوي عقايد او افكار په تدريج سره دهغوي دچاپيريال دخلكو په منځ كې وړاخل شول او كم كم ديوناني ميتولوژۍ كيسو ،دخدايانودډولونو نومونه او ديونان پخواني داستانونه زمونږ دسيمه ايزو كيسو سره يوځاى شوي.

يوناني صنعتګرانو، لكه مجسمه جوړونكيوانځورګرانو ددې داستانونو په رواجولو كې مهمه وندې ترسره كړې او دباختر ديوناني پاچاهانو سكه لرونكې پيسې چې لاس په لاس ګرځيدلي ديوناني داستانونو او حماسو دځپريدلو له پاره ډيره ښه وسيله وه په همدې لحاظ د(باختري يوناني) شاهانو دواكمنۍ په مستقله دوره كې يعني دمسيح له وخت نه دوه پيړۍ دمخه يوناني اسطورو زمونږ دهيواد دټولو اوسيدونكيو طبقو په منځ كې له وړاندې رواج موندلى و.

د لومړنۍ يوناني باختري سلطنتى كورنۍ بنسټګران ديودوت زوې او پلار وو چې په خپلو سكو كې به يې د (زوس) يعنې ديونانيانو دخدايانو دخداى سكه وهله او بيا هيلو كلس يوناني باختر پاچا چې دهندوكش په شمال كې پاچاهي كړې وروستى واكمن و، چې د (زوس) سكه يې په داسې حال كې چې په تخت ناست دى په خپلو سكو كې وهلې ده. همداراز ديوكراتيدس ديونان باختري سلطنتي كورنۍ دريم موسس بيا داپولون تصوير چې هغه يې دطوفان،طبابت، ادبياتو اوصنعت ځانګړې خداي باله دخپلو سكو پر مخ وهلى دى . او ديوناني، باختري دويمې شاهي كورنۍ غړو بياد (هركول) تصوير ته په خپلو سكوكې ترجيح وركړې.

لكه څنګه چې (هركول) دپهلوانۍ او حماسۍ جنبه درلوده په افغانستان كې يې ډير محبوبيت ترلاسه كړى وۀ، دهغه تصوير پرته له سكونه په بدخشان كې پريو نقره يې جام موندل شويدى ، چې اوس دلندن په برتش موزيم كې موجوددى او په دې جام كې له ديونيزوس سره چې دشرابو اوانګورو ځانګړى خداى ګڼل كيده يو ځاى ليدل كيږي. ديونيزوس هم په پخواني افغانستان كې حتى له سكندر نه دمخه شهرت درلود.

يوشمير په دې فكر او نظر دي چې يونيزوس اصلاً (ديونيسه) و يعنې د نيسته دښارځانګړى خداى او حامي و، چې ددې ښار موقعيت يو شمېرپه بګرام يوشمېر يې دلغمان په مندرو او همدارنګه يو شمېر نور يې د هډې په سيمه كې ټاكي. ديونيسته يا (ديونيزوس) دانګورو او شرابو ځانګړي خداې ددهقانانو او انګورتاك لرونكيو په منځ كې ډير شهرت پيداكړى و. اوترټولو ډير شهرت يې په كاپيسا او ننګرهار كې و، همدارنګه دباختراوبدخشان خلكو هم ښه پيژانده،ديو شمېر پوهانو له دلې نه (مدام ترور) روسى په دې نظر دى چې كيداى شي په سيمه كې چې نوم

اوننبسان يې له مونږ څخه پټ دی داسې کوم ځانګړی خدای بـه و چې دیونـان دشرابو له ځانګړي خداي سره به ډیر ورته و نو ځکه به يـې دافغانسـتان په خـاوره کـې ډډیر شهرت باعث ګرځیدلی وي. یو تن بل یوناني پاچا اګاتوکلس چې دهندوکـش جنـوب پلوتـه واکمـن و هغـه خپـل ملاتړ بولـي او خپـل تصویـر دیـو داسـې څوان په بڼه چـې دانګور تاك شنه تازه لبنته دسر دپاسه د تاج په بڼه لري په خپلو سکو کـې وهلـې ده، پاتې دې نه وي چې دوه سوه کاله وروسته "پولونیـوس دوتیـان" دپاروپـامیزاد یعنـې دکابل په غرنۍ سیمه کې پریوغره د "دیونیزوس" عبادت ځای لیدلـي او لکـه څنګـه چې یې تشریح کوي دعبادت ځای چارچاپیرونې ولاړې وې چې د اپخپله دیونـیزوس کرلې وې، انګورتاك او پر ونو ختونکي بوټي پرې دپاسه ختلـي وو، دونـو ترځانګو لاندې دهمدغه یادشوي ځانګړي خداي مجسمه یې له سپینې تیږې څخه دیـو څوان په بڼه جوړه کړې وه.

له دې کیسې نه څرګندیږي چې (دیونـیزوس) دانګورو اوشرابو ځانګړي خدای دافغانستان دغرونو په لمنو کې (عبـادت ځای) هـم درلـود او معمـولا دخپـل عبـادت ځاي چاپیر بـه یـې انګور تاکونـه کښینـول او دځانګړي خداي مجسـمه بـه یـې هلتـه ایښودلـه، خودهغـه ځای دموقعیـت تاکـل مشـکل کـار دی چې پکـې داعبـادت ځای جوړ و. مګر له احتمال نه دباندې نه ده چې داځای به دکاپیسا او ننګرهـار ترمنځ په هغو ځایونو کې چې هلته ډیر انګور لرو، په کوم ځاي کـې و. بـاید هـیر نکړو چې د (دیونیزوس) تصویر او مجسمه دواړه په بګرام کې دکیندلـو پز وخت په لاس راغلـې چې دیوښیښه یې لوښي دپاسه دګډاپه حال کې لیـدل کیږي، او دهغـه څېره دیـوې ګڼې ډیرې په لرلو په یوه فلزي پارچه کې هم په لاس راغلې ده.

لکـه څنګه چې مـو وړانـدې ورتـه اشـاره وکړه چې (هرکـول) د (ژدپـي تـیر) زوی دیونان میتولوژي پهلوان په افغانسـتان کـې ډیر محبوبیـت درلـود، وایـي چې ددې قوي فوق العاده پهلوان په څېر یوبل پهلوان هـم دافغانسـتان پـه غرونـو کـې مشـهور و، تصور ونکړې چې دا پهلوان (رستم زابلی) دی چې دفردوسي له شهنامې سـره یـې شـهرت ترلاسـه کړی بلکـه دلرغونـو دورودحماسـي پـهلوانانو لـه ډلـې څخـه دی. لکـه څنګه چې له یوناني کیسوڅخه راڅرګندیږي زمونږ هیوادته دهغوي دراتللو پر وخت یې ددې وطن په لوړو غرونوکې یو پهلوان له غشـي اولنـدې سره په داسـې حال کـې لکه چې دغرونو دساتنې دنده ورسپارل شوي وي لیدلی و، چې دې پهلوان ددوي له هر کول سره ډیر ورته والی درلود.

۱۳۳۷\۶\۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پخواني افغانستان کې

ديوناني ليک دود رواج

سکندرمقدوني د (۳۳۱- ۳۳۶) مخزېږديو کلونو په اوږدوکې افغانستان له لويديځه تر ختيځه اوله شماله تر جنوبه دخپلو عسکرو په واسطه کچ کړ وروسته تر دې چې ددې وطن داوسيدونکيوله خوا له سختو مقاومتونو سره مخامخ او په ډيرو فتوحاتوبريالی شو.

سکندر مقدوني ددې بريو په جريان کې که هغه دسيمې دخلکو دمقاومت په وجه وۍ او که دنظامي اړتياوو او غوښتنو په اثر وۍ. اوکه دعسکرو دستړيا ياناروغتياپه وجه خو يو شمېر مستحکمې کلاګانې يې د(سکندريه) په نامه دهري رود په حوزه، فراه رود، ارغنداو، دکابل رود، بلخ آب او نورو ځايونوکې جوړې کړي چې دتاريخ په پانو کې دسکندريه هري، سکندريه پروفتازي، سکندريه اراکوزي، سکندريه قفقاز او دسکندريه اورنيس په نامه ثبت شوي. دپورتنيو کلاګانو له جملې نه يواځې ددوو کلاګانو ځاي اوموقعيت دکندهار په زاړه ښار او پروان کې تثبيت شوي دي. يونانيان په نسبتاً ډير شمېر په دې سکندريوکې پاتې او مېشت شول چې ديونان باختري حکومت له ۳۳۰ نه تر ۱۳۰ مخزېږدې پورې په دوه سوه کلنه دوره کې يې فرهنګ، معارف اويوناني هنر داموقع ومونډلې چې ديوناني باختري حکومت تراغيز لاندې دازادۍ په رڼاکې پرمختيا وکړي.

په دې دوه سوه کلنه دوره کې ديوناني ژبې دليکنې له پاره خامخا ديوناني الفباء توري کاريدل او پرته دده له وهل شويوسکو څخه دمشهور (اشوکا) ډبر ليک چې دکندهار په چهل زينه کې کشف شوی په ښکاره څرګندوي چې ددريمې مخزېږدې پېړۍ په لومړيو کې يوناني ليک دود زمونږ په هيواد کې څرنګه رواج موندلی وۍ.

په افغانستان کې ديوناني باختري پاچاهانو دواکمنۍ په دورو کې يوناني ليک دود خپور شو او وروسته له هغې په نورو پيړيو کې دلويو کوشانيانو او وړو کوشانيانو په دورو کې پاتې شو لکه څنګه چې يې ليک ساده او اسان و نوځکه يې ليک دافغانستان په محلي ژبو کې داستعمال وړ وګرځيد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلا يوناني الفباپخپله په خپل ذات کي ۲۴ حرفه وه. خو دلويوکوشانيانو پر وخت ددې يوې سيمه ايزې ژبې په صفت چې نوې باختري شوې وه دصوتي اړتياله مخې يې د (ش) حرف دمخرج داداکولو له پاره په الفبا کې ورزيات کړ چې پردې اساس نومورې الفبا د ۲۵ حروفو لرونکې شوه.

لکه څنګه چې ښاغلي لوستونکي او اوريدونکي خبر دي چې په دې وروستيو ۸ کلونو کې دسره کوتل په کيندلوکې يو شمېر دپام وړ ډبرليکونه له يودېوال څخه لاس ته راغلي چې له تيرو او خنبتو جوړ وو. يو له دې ډبرليکونونه په يوه ستره تېږه کې حک شوی دی چې ۴۵ کرښې ورکې شاملې دي چې دادلوې ډبرليک په نامه مشهور شوی، يوه بله مجموعه چې له ۵۲ ډبرينو پرچو څخه مرکبه ده له يوه کوهي نه په لاس راغلې چې په پخوانۍ دوره کې د عادي تېږو په حيث تړې دکوهي په ديوال کې کار اخستل شوی و.

دسړ کال په کيندلو کې څو بيلابيل ډبرليکونه چې په ديولونو کې ځای په ځای نصب وو لاس ته راغلي او پرته له دغو څخه دسره کوتل دکشفولو پر وخت په جلا ډول څو دخنبتو نورې توتې هم لاس ته راغلي دي دې تولو ډبر ليکونو غربي پوهان دڅه مودې لپاره په ځان مشغول کړي وو خو په پاي کې فرانسوي پوه موسيو (بن ونيست) په دې بريالی شو چې ددغو تولو ډبرليکونو څخه په لاندې ډول څلور ډبر ليکونه وځيړي.

لومړی: هغه ستر ډبر ليک چې په يوه کانې ليکل شوی.

دويم : دهغه ۳۲ کانومجموعه ده چې له کوهي څخه ايستل شوی او يو ډول ډبر ليک تشکيلوي.

دريم : دهغو نورو ۲۱ کانو مجموعه ده چې هغه هم له کوهي څخه ويستل شوې

او يوبل ځانګړی ډبرليک تشکيلوي.

څلورم : هغه خنبتې چې په ديوال کې لګيدلي دهغو خنبتو سره چې دکيندلو پر وخت په پراګنده ډول پرتې وې . څلورم ډبر ليک تشکيلوي.

داډبرليکونه چې دکوشانيانو په وخت پورې اړه لري تولې ديونانيانو په الفباء او ليک دود ليکل شوي دي چې له همدې څخه اندازه لګيږي چې يوناني الفباء اورسم الخط څومره دود و او په ځانګړې توګه دلويوکوشانيانو پر وخت ددې پرې استفادې وړ و، دچينايي ګرځنده (هيوانتشنګ) په شهادت د اوومې زېږدې پيړۍ تر لومړۍ نيمايي پورې يې هم رواج درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې يوناني لويي سکې

افغانستان دسکندر له فتوحاتو او دده دامپراطوری تر تجزيې اوتباهۍ ددريمې مخزېږدې پيړۍ له نيمائی وروسته دمسيح تر دورې پورې پوره دوه سوه پنځوس کاله داسيايي يونانيانودتمدن اوفرهنګ مرکزوۍ.

کله چې ۲۵۰ کاله دمخه تر ميلاده دباختر واکمن (ديودوتس) ديوناني باختري سلطنت مستقل تشکيل اعلان کړ دهندوکش په شمال اوجنوب کې يې يو ډول سکې سکه ووهله چې دځينو ځانګړتياو له امله له هغو سکو نه هم ډيره سکلې وه چې يونان کې وهل شوې وې.

يوناني باختري پاچاهانو چې دواکمنۍ مرکز ئې عموماً (بکتريا) يا بلخ و ددوی يوه سلسله سکې چې نقش پرې وهل شوې و، اوډيرشمېريې لکه دسکلیو مډالونو په ډول له سپينو زرو جوړې دي چې اوس هم وروسته له ۲۲۰۰ کالوځليږی،ددې غټو سکو په منځ کې يوشمير ډيرې لويې دي چې قطر يې دوه نيم انچه اووزن يې تر ۱۶۸ ګرامو پورې رسيږی او دامير حبيب الله خان دوخت له پنځه ګونوځخه ډير غټ دی. نبايې چې ګران وطنوال خبر وي چې دپاريس په ملي کتابخانه کې يوه دسرو زرو سکه شته چې ۱۶۸ګرامه وزن اودوه نيم انچه قطر لري چې داسکه ديونان باختري سلطنتي کورنۍ ددريم موسس (ايکوراتيدس) پورې اړه

لری چې د ۱۶۵ـ ۱۶۰ مخزېږدیو کلونو په منځ کې دبلخ سلطنت ته رسیدلی او دټول افغانستان په خاوره یې واکمني کړې ده.

یونانی دسروزرو سکه چې دغټ والي په وجه په ټوله نړۍ کې ساری نه لري دبلخ د واکمن ((ایوکراتیدس)) ځانګړې سپکه ده او ختماً پر دې سکه نقش دافغانستان په خاوره کې وهل شوی دی.


ډیره عجیبه ده چې تر اوسه یوناني غټې سکې یواځې په افغانستان کې لیدل شوي اوددې هیواد له خاورو نه لاس ته راغلي دي.

جنرال قریه فرانسوي نژدې ۱۳۳ کاله وړاندې دامیر دوست محمد خان دواکمنۍ پرمهال چې سردار کهندل خان پر کندهار اووزیر یارمحمد خان پر هرات حکومت کاوه افغانستان ته راغی، هرات، بلخ اوکندهارته یې سفرونه وکړل، نوموړی په (قره باغ) کې چې (شهرك) ته نژدې او دغور شمال پلوته واقع دي ددیرغټو سکو په باره کې خبرې کوي چې تر اوسه یې دنوعیت دځرنګوالي په باره کې معلومات نشته.

جنرال قریه ددې سیمې دملك (سعادت ملوك) له قوله وائي چې د(قره باغ) په کندوالو کې ډیرې غټې طلایي او نقره یې سکې پیداکیږي چې زمونږ دوخت له سکو نه ډیرې غټې دي چې قطر یې ۳، ۱ انچوته رسیږي.

د ۱۳۵۱ زیږدي کال په شاوخواکې چې ((میجرتات)) انګلیس په هرات کې اوسیده همدغه سعادت ملوك ده ته یوه یادوه درنې سکې ورښودلې وې نوموړي ویلي وۀ چې په هغو سکوکې د سکندر نقش څرګندیده. دا په زړه پورې موضوع ده چې فرانسوي جنرال یې سیمه ییز ملك (سعادت ملوك) ته او هغه څه چې سعادت ملوك یې دانګلیس میجر له قوله بیانوي داسې څرګندیږي چې د (شهرك) ختیځ لورته به خامخا کوم ښار وۀ چې دیونانیانو پرمهال به یو مهم مرکز شمېرل کیده خو متاسفانه په ۱۱۳ کلونوکې ددې ځای او ددې سکو دځرنګوالي په اړه یوه خبره هم وانه وریدل شوه اودامهمه موضوع تراوسه په تیاره کې پاتې ده.

یوه بله ډیره مهمه موضوع چې دې مسئلې پورې اړوند ده هغه دکابل په موزیم کې دپنځوغټو نقره یې سکو شتوالی دی چې دایوناني نقره یي سکې په جهان کې تر ټولو غټې سکې وې،ددې سکې په یوه خوا کې نیم مخ او نیمه شاهي تنه څرګندیږي او داکټ مټ د (ایواتیدس) یوناني باختري پاچادهغې سکې په څیر ده چې له سروزرو جوړه او دپاریس په ملي کتابتون کې موجوده ده. ددې سکو په نقش کې څرګندیږي فولادي (کسك) ژې لرونکې خوله یې په سرنوم یې (امین تاس) او



دفاتح پاچا په نامه يې ياد کړی. داپاچا په افغانستان کې ديونا[illegible]نو په ډله کې ډير مجهول شخص نه دی. ځکه چې دهغه وړې سکې لر[illegible] کاله دمخه تر زيږدې يې دهندوکش جنوب پلو ته او دکندهارا پر ډيرو ختيږ[illegible]سمو يې واکمني درلوده، نومورې خو تريوه حده بې نومه اوبې ننبانه پاچادی چې په سملاسي ډول يې همدغه غټې سکې کورو چې ((امين تاس فاتح پاچا)) پرې لولو.

داد(امين تاس) پنځه غټې دسپينو زروسکې چې ديونانې نړۍ سترې سکې ګڼل شوي، که له هغو سکو سره يو ځاې شي چې له دې وړاندې په افغانستان کې موندل شوي او يا په دې خاوره کې ليدل کيږي داثابتوي چې په دې هيواد کې ديونانيانو دواکمنۍ په لومړۍ دويمې او دريمې مخزيږدې پيړۍ کې دسرو او سپينو زرو پر غټو مډالونو اوسکو نقش لګول کيده. ددې پوښتنو ځوابونه شرح غواړي چې داسکې له کومه ځايه، څه وخت او په څه ډول دکابل موزيم ته راوړل شوي دي ؟. په کابل موزيم کې دنورو سکوپه ترڅ کې دسکو يوه لويه مجموعه يا کلکسيون موجود دی چې له ۶۰۰ سکو څخه مرکب دی او دامجموعه دځرنګوالي ، کميت اوکيفيت له نظره په باختر کې دهغو يوناني پاچاهانو دسکو چې دهندوکش شمال او جنوب پلوته يې واکمنۍ درلوده ډيره په زړه پورې او لويه مجموعه ده. چې دامجموعه دکندز دکلکسيون په نامه شهرت لري چې څوکاله وړاندې ديو رسمي ليك په واسطه دقطغن دنائب الحکومه له خوا څرګنده شوې وه دادکندز په بالاحصار کې ديو موټروان له خوا کشف کړای شوې وه، چې تولې سکې يې له سپينو زرو جوړې او په مختلفو يوناني پاچاهانو پورې يې اړه درلوده چې دغه وخت يې فرانسوي متخصصين په پاکولو مشغول دي. چې ددغه لوی کلکسيون په منځ کې پنځه سکې چې له سپينو زرو جوړې دي، هره يوه يې (۹۱) ګرامه وزن او دوه نيم انچه قطر لري.

۸_۱۰_۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکزي اسیا او چین ته دافغانستان دکریک او بودیک دمدرسې خپریدل

د (کریک او بودیک) صنعتي مدرسې داسلام دظهور لـه دورو دمخـه دمسـیح دوخت په څلور پنځو لومړیو پیړیوکې په یو خاص مفهوم تاکلـی ځای لـري،یـا داسې ووایو چې ددې هنري مدرسې ترکیبي اجزاء له ختیځ ولویدیځ ، یونان او هند څخه دافغانسـتان خاورې ته ورداخل شوي او بیـا دلتـه دافغانسـتان دهنرمندانو پـه لاس اخته شوي، ترکیب شوي او همدلته یې روزنه شوې وه، ځکه خودهمدغـې کتنې لـه مخې یو شمېر پوهانو او دبنکلو هنرونو کارپوهانو د (هندوافغـان) دمدرسې پـه نامه یاده کړې دە.

وروسته لـه دې چـې بودائـی دیـن ددریمـې مخزیـږدې پیـړۍ لـه نیمـائی څخـه وروسته پـه افغانسـتان کې خپور شو، دمسیحي دلومړۍ او دریمې پیړۍ پـه اوږدو کې داهیواد دبودائي دین اوهنریو سترمرکز وګرځید. دافغانستان پـه ویـاړلي تـاریخ کې داوخت مرکزي اسیا ، ختن، کاشغر اوچین ته دمبلغینو اوصنعتګرانو داستولو وخت دی لکه څنګه چې دلویـو کوشـانیانو پـه وخـت کـې دمرکـزي اسـیادخاورې دویشنې پر مهال ((سنګیانګ)) او ((ختن)) ازاد شول، د دیـن، فرهنګ او هنر لاره هم خلاصـه شوه، پـه دې مقالـه کې همدغـه مطالعـه کـوو چې څنګه لـه افغانسـتان څخه یادو شوو سیمو ته دګریك او بودیك هنری مدرسه خپره شوه.

باور پدې دی چې همغه ډول چې بودائي دین له دوو خواوو دامو سیند د(سغد) له لارې او واخان ته یې دپامیر دشرق لوري لاره پرانسـته د (یونـان اوبودائـی) هنري مدرسې هم همدغه لاره تعقیب قدم په قدم دپورته یادو شویو لارو په اقتدار کاشـغر،

ختن اود ((سنګيانګ)) نورو نقاطو ته يا په پخوانۍ اصطلاح چيني ترکستان ته داخل شو.

لکه څنګه چې سمرقند ته نژدې اودختن دعبادت ځای په خرابو او ويرانو کې د ((ګريك او بوديك)) کشف شوي اثار ددې مدعا شاهدي وايي . لومړۍ نقطه چې ددې مدرسې شواهد هلته څرګندشوي هغه (روك) ده چې دختن په ختيځ دهغه بودائي رنګه تصويرونوچې دعبادت ځايې په ديوالونوکې موندل شوي او سراويل استين انګليس دهغو نقل اوعکس اخستی، دبودا له هغو مجسمو سره چې دننګرهار ولايت له هډې لاس ته راغلي ډيـ ورته والی لري . دهډې اثار په افغانستان او درواك اثار په ختن کې دواړه هم عصره او په مسيحي لومړيوپيړيو پورې اړه لري.

وړاندې دختيځ په لور په هغه نقطه کې چې سر اورل استين انګريز مدقق ددیوال تصويرونه موندل چې د (ګريك اوردمن) له نمايش سره چې بې شکه په ۳- ۴ مسيحي پيړۍ پورې تعلق نيسي ورته والی لري، او ګندهارا داثارو ترمنځ ددې اثارو ډير نژديوالی موجود دی.

دهغو پراخو اودوامدارو کشفياتو په وجه چې له ۱۹۲۲ زېږدي کال نه وروسته د ۳۰ کالو په موده کې دګودارو هاکن اوبرتوپلاوو په هډه، باميان او بګرام کې ترسره کړي ثابته شوې ده چې همدغه عوامل ددې سبب شوی دی چې له اسيائي خاورو (ګريکورومن) يعنې دلبنان، شام او عراق له سيمو څخه يې داکلاسيك صفت دګوبي سيمې ته انتقال کړی دی همدغه دافغانستان د (ګريك او بوديك) سبك اومدرسه ده.

دباميان اوهډې دمجسمو ګچين سرونه او رنګين تصويرونه او دمرکزي اسيا دبيلا بيلو برخو له هنری اثارو سره لکه د (رواك) او (ميدان) اولږ څه لرې دګوبی په خوالکه (قزل) او (کمتورا) او دچين مر (تورن هوانګ) پورې نژدې ورته والی لري چې دافغانستان دصنعتي مدرسې نفوذ ثابتوي.

دفرانسې دفقيد ختيځ پيژندونکي ((رونه ګروسه)) په عقيده دهډې ددیوال انځورونه دمرکزي اسياله اثارو سره دروم دامپراطورۍ دوروستۍ دورې داثارو ترمنځ دارتباط ښيي. همداډول دميران په تصويرونوکې د باميانو دمجسمو دطاق چې ۳۵ متر اوږدوالی لري دښکليواو رنګينو تصويرونوډيره اغيزه څرګندېږی اوپه مجسمه توږنه کې هم همدغه مطالب څرګندي.

هغه له ګچ نه جوړ د (بودا) (بوديس اتوا) او کوشاني قبيلې دنورو سرونه چې دکابل دموزيم تاخچې اوالماری پرې بنکلې دي رابنيي چې هغه له هغو اثارو سره چې دختن له (رواك) څخه موندل شوي ديو قطار اثار دي او دومره سره نژدې او ورته دي چې ددواړو په منځ کې په اسانۍ سره توپير نشي کيداي.

دګندهارا او دافغانستان ذنورو سيمو دهنرې مدرسو نفوذ دچين په خاورو کې ۳ او ۴ پيړۍ پورې ځانګړي نه دي، بلکه هغه څيړنې چې ددرې تنو چينې پيژندونکيو فرانسوي،المانې اوانګليسي يعنې (پول پليو) (فن لوکوك) او (سراوړول ستين) له خوادکاشغر په شمال (تمشك) ، (کوتچه)، (قره شهر) او (تور خان) کې منځ ته راغلي عموما ددې ځايونو اثار ندي او د ۶-۷ او ۸ پيړۍ محصول ګڼل شوي دي.

همدغه شان ددې ځاې، هډې او تيکسلا دوړو مجسمو په منځ کوم ستر توپير نه تر ستوګو کيږي اود ګندهارا دمدرسې د نفوذ کولو ښه او برجسته مثال دی چې دوام يې دمرکزي اسيا په مختلفو سيمو کې تر اتمې پيړۍ پورې ثابتوي.

هغه مجسمه توړنې او د ديوال پر مخ دنقاشۍ سپك چې په افغانستان کې دبودايي وخت معمول و ، پر مرکزي اسيا کې هم ځاې په ځاې ونه درېد بلکې دبودايي دين له پرمختګ سره پرمخ ولاړ.

د(تورخان) په سيمو کې چې دچين له سرحداتو سره تماس لري او په نورو نقاطو کې لکه ((مورتګ)) او ((بازاکليق)) کې دګندهارا دهنري مدرسې هنري اثار په سترګو ليدل شوي.

فرانسوي ختيځ پيژندونکی (رونه ګروسه) يقين لري چې په نومورو سيمو کې تر ۹ مه زېږدې پيړۍ پورې دهډې او تکسيلا دکارونوله مخې تقليد شوی دی اودامفکوره په نومورېو سيمو کې دمجسمو دسرونوورته والی دهډې او تکسيلا اثارو سره ثابتوي. چې له تور خان نه ورتير شودګوبي صحرا جنوبي خواو ته ځينې برخې اواثار پوهانو ليدلي دي چې په هغوي کې دافغانستان او په ځانګړي توګه دباميانو اوقندنستان بودايي اثار بې اغيزې نه دي.

لنډه داچې پرته له دې چې په جزئياتو خبرې وکړو په عمومي ډول کولاې شوواېواو ثابت کړو چې دمجسمه تراشۍ او دنقاشۍ دنورو ډولونومدرسې چې دعبادت ځاي پر ديوالونو دود وې هغه وخت چې له افغانستان څخه دبودايي دين رواج له سرحداتو دباندې ووت نو ورسره نومورې مدرسو په تدريج سره کاشغر، ختن اوترچين پورې سرايت کړی دی.

۱۳۳۷\۵\۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لرغوني افغانستان کې

دموسیقۍ دري آلې

دخلکو پیژندنې څیړنو،فیلوژوي اوتدقیق دبشري تولنو په منځ کې دخبرو پیل له آهنګونو اوشپیلیوڅخه ثابتوي ، وائي چې تول بشري نژادونه پرته له رنګ،پوستکي او جغرافیایي سیمو دخپل ژوندپه پخوانۍ او لومړیو پسړیو کې دسندرو ډډولونو دیو ډول په ویلو روږدي وو او ددې طبیعي ورکړې ځانګړتیاکوم نژاد پورې اړه نه لري، لکه څنګه چې انسانان دژبو له ډیرو ډولونونه په یوه ژبه ګړیږي نوخپلو کلمو ته یې وزن او اهنګ هم ورکړی، کله چې یې څو کلمې دوزن او اهنګ پیداکړې ورسره جوخت یې دسندرو ویلو لاره چاره هم پیداکړې ده.

دافغانستان په هیواد کې له ۳۰ حتی له ۵۰ زرو کلو دمخه دهندوکش په زړه کې دغار اوسیدونکیو ښکاریانو دژوند اثار موندل شوي او له هغه وخته چې دغار اوسیدونکي ښکاریان له غرونو او کمرونو څخه ښکته راغلي دي او دلویو خانو پر غاړو لکه : هیرمند واکسوس(آمودریا) اندوس (سند) هري رود ، مرغاب، ارغنداب او کابل رود میشت شوي نو دمالدارۍ او کرهنې دورې یې تیرې کړې دي چې عجالتاً دکندهار د (مندیګک) دتپې دکیندلو جریان چې ۵ زره. کاله دمخه تر تاریخ یې دژوند دوره ترسره کړې زمونږ په مخکې دی.

دارییایي ادبي اثارو دشهادت له مخې ویلی شو چې په ویدي عصر کې یعنې وړاندې تر هجرت کولواودهجرت کولوپه دوران کې سندرې ویل نځا او اتڼ کول په افغانستان کې داوسیدونکیو ترمنځ دود وو.

لکه څنګه چې شعر ویل دکورنیو په منځ کې یوه عنعنوي دنده ده، نوځکه یې دسندرو انتقال له یونسل نه بل نسل ته یو معنوي میراث ګڼل کیده نو خامخا دخلکو په منځ کې دسندرووېل دود و.

(ویدي) سرودونه او اوېستایي (زرتشتي) ګاتا(سندرې) چې دهغو ډیره برخه په افغانستان کې منځ ته راغلې او داپخپله ددې څرګندویه ده چې سندره له سندر غاړې او سندرغاړي دموسیقۍ له یوې آلې سره تړلي توکي دي . پروفیسر (ګیټ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپائي ختيځ پيژندونکی په دې عقيده دی چې "په ويدي زمانه کې موسيقۍ خپله لومړنۍ دوره ترسره کړې وه"

دپروفيسر ګيټ په نظر اريايان په هغو پيړيو کې چې ددوو لويو سيندونو امو او اباسين ترمنځ يې ژوند کاوه، نه يواځې داچې دموسيقۍ مفکوره يې په دماغ کې پيداشوې وه، بلکې په دې برخه کې يې يو پر هم وهلی و، تر کومه ځايه چې له سندرو څرګندیږي دموسيقۍ دريم ګوني الات يعنې هغه الات چې په پوکونه غږول کيږی، هغه الات چې تار لرونکي دي او دريم بې تاره الات داتول په ويدي زمانه کې داريايانو ترمنځ په افغانستان کې معمول او رواج و او هر يو ځانته نوم درلود لکه (دنوبهي)(وانا) او (يونا).

دريګ وید له شاعرانو څخه يو تن وايي چې "دشپيلۍ غږ دياما يعنې جمشيد له استوګن ځاي څخه اوريدل کيږي"

دټولو داستانونو او اسطورو پر اساس دياما يا جمشيد استوګن ځاي په بلخ کې و او دا لومړی پاچاو چې په بلخ کې يې پلازمينه درلوده.

شپيلۍ دموسيقۍ يوه ډيره ساده اله ده چې دافغانستان دغرونو په لمنو کې رواج لري او دا په ځانګړې توګه دځوانانو دموسيقۍ اله ده چې دمالدارۍ په لومړيو وختونوکې دشپنو، هلکانو او ځوانانولخوا منځ ته راغلې. شپيلۍ په افغانستان کې دملي موسيقۍ يو اله شميرو او ارتباط يې له بلخ اوباخترسره پرته له دې چې ويدي ورته اشاره کړې نور داسې داستانونه هم شته چې دشپيلۍ يادونه کوي دهغې له جملې څخه دچين زور داستان دياديني ور دي. هغه هم په دې ډول چې وايي دچين پخوانی امپراطور (هيوان ـ تي) چې ترميلاد ۲۲۰۰ کاله وړاندې يې ژوند کاوه، نو ډې (لنګ ين) د.(يوان ـ يو) شمال پلو ته واستاوه ترهغې وروسته شپيلۍ دچين دموسيقۍ اساس وګرځيد.

دفرانسې ديو مدقق شاوان له نظره (يوان ـ يو) دباختر يو برخه او يا ووايو چې دافغانستان په شمالي برخو کې يوه سيمه ده او له دې پخواني چيني داستان څخه څرګندیږي چې ۴ زره کاله دمخه ترميلاده دنل شپيلۍ دود له باختر نه چين ته تللی دی او بيا هلته دچيني موسيقۍ اساس ګرځيدلی دی.

دتارلرونکو موسيقي الاتو تر ټولو پخوانی څرګ اودرګ دهندوکش دغرونو له لمنو کې لګوو دا هغه (سرود) دی چې په ډير ساده او بسيط ډول جوړ او د دوه تارونولرونکی دی چې نمونې يې اوس هم دافغانستان په نورستانونو کې لرو او همدارنګه دکابل په موزيم کې يې اوس هم نمونه موجوده ده.

د ډنمارکي خلکو پيژندنې پلاوی له څيړنو څخه څرګندیږی چې وائي دادموسيقۍ اله وړاندې له (سومريانو) يعنې له نن څخه څلور زره کاله دمخه يې دافغانستان په غرونو کې وجود درلود له عملي څيړنو څخه داڅرګنده شوې ده چې

کوم اهنګونه چې نن نور ستانیان په خپلو موسیقي الاتو کې غږوي دادځلور زره کلو
د مخه اهنګونو یاد دی چې په دې ترتیب یې اهنګونواو سرودونوله څلور زره کلو را
په دې خوایې خپله لرغونې، بڼه خوندي ساتلې ده.

په دې ترتیب سره ویلای شو چې شپیلۍ او دموسیقۍ په آلو کې (سرود) په افغانستان کې کم ترکم څلور زره کلن قدامت لري. دافغانستان دموسیقۍ په آلو کې کوم شی چې له تار لرونکیو پرته په دریمه ډله کې راځي تر ټولو طبعي اومروج ډول دی چې دافغانستان دخلکو دورځني ژوند په ټولو پراوونو کې له ودونو نیولې تر ویالو کیندلو، عمراني او زراعتي چارو او رزم او بزم کې برخه لري. ډول له ملي افغاني اټن سره همیشه و او دی او لرغونتیا یې دموسیقۍ ددوه نورویادو شویو آلو په څیر زرګونه کاله دمخه یادولی شو.

دمسیحي دورې په پیل او دري څلورو لومړیو پیړیوکې چې پژګرۍ ټیکر توږنې او دعبادت ځایونو پر دیوالونو نقاشي دود شوې وه یعنې چې دلویوکوشانیانوپه دوره کې یې لکه ډیروادبي مظاهرو، موسیقي هم ډیر پرمختګ وکړ، اصلاً دکوشانیانو دوره چې له نیکه مرغه اوس یې د ډیرو جزئیاتو سره اشنا یو،داسې له عظمت او پرتم نه ډکه وه چې د واکمنو پاچاهانو تر سیوري لاندې یې دځانګړې پاملرنې او هڅونې په وجه معماري، مجسمه جوړونې، ادبیاتو اوموسیقۍ ډیر پیاړوتیا او پراختیا تر لاسه کړه.

دننګرهار ولایت دهډې داسې توږل شوې مجسمې په لاس لرو چې موسیقي غږونکي یې یواځې نه بلکې په اوسني مفهوم د (بالت کنسرتونو) نمایش کوي.

نځا کوونکي او موسیقي غږونکي یې له ډول او دبلې سره په میدان کې ښکاري.

دنځاکوونکیو دحرکاتو شرنګ او دموسیقۍ غږوونکیو موزون اهنګ اوپه ډله ایزه توګه ددوي غږونه بې له هغو بې ساډبروځخه زمونږ ژوندیو غږونو ته رسوي.

لنډه داچې دموسیقۍ له اساسي ډلو څه دري نمونې: شپیلۍ، سرود او ډول له ۴-۵ زره کلو نه را په دې خواافغانستان له غره ییزو ابادیو کې دود لري اوزمونږ دخلکو له عنعنوي ژوندانه سره یې سمه پیاوړتیا او پراختیا کړې او دلومړنیو ابتدائي وختونو بیلګې یې تر اوسه دغرونو په تنګو او ژورو درو اوهمدارنګه دغرونو دننه په کلکو کلاګانو کې شته او حتی یوشمیر لرغوني سندرې، غږونه او زمزمې لاتر اوسه په بشپړه توګه هیرې شوي نه دي اوانعکاس یې غږونوته رسیږي.

۱۳۳۷\۶\۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لغمان او کندهار کې

د اشوکا دبر لیکنه

((اشوکا)) د ((بندوسارا)) زوی د ((چندراګوپتا موریا)) لمسی دهندي (موریائي) کورنۍ دریم پاچا چې د ۲۳۲ او ۲۷۴ مخزېږدي میلادي پیړۍ په لومړۍ نیمائي کې واکمن وۀ.

نومورې دهندي پاچاهانو په ډله کې یو لوی پاچا و چې وروسته د "کلنګا" د مشهورې جګړې، چې له یونیم لك تنوځخه د سړو پکې مړه شول دوینو ویالې او څیرې څیرې جسدونه ولیدل سمدلاسه یې حال بدل شو، له ډیرو هیلو اوخواهشاتو څخه تیرشو ځان غوښتنې او بشري سرغړونې یې په ځان کې ختمې کړې او دیو مذهبي مشر (راهب) په توګه وپیژندل شو چې دخپلې واکمنۍ پاتې کلونه یې دفقر او روحانیت په بڼه تیر کړل.

لکه څنګه چې دهغو جګړوپه وجه چې دده نیکه ((چندراګوپتا)) او یو نانې ((سلوکوس نیکاتور)) ترمنځ پیښې شوې وې ، او ((سلوکوس نیکاتور)) پکې دافغانستان جنوبي سیمو ته په شا راغلی داسیمې دارغنداو تر حوزې پورې دموریا دامپراطورۍ تر تاثیر اونفوذ لاندې شوې او دې وضعې دپنځوسو کلونو په شاوخوا کې دوام وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وخت چې اشوکاد (موریا) په تخت کښیناست دموریا د کورنۍ نفوذ لا دافغانستان په جنوبي برخو کې لږ ډیر برلاسی و.

خو کوم کار چې (آشوکا) په وار سره تر سره کړ هغه داندوس په لویدیځ کې فتح شویو سیمو ته دبودایي مبلغینو استول وو لکه څنګه چې ټول په دې پوهیږو چې ددې کار په کولو سره بودایي دین دخپله (آشوکا) له وخت نه یعنې ددریمې مخزیږدې پیړۍ دلومړۍ نیمائي نه وروسته ورو ورو د افغانستان په خاوره کې خپور شو چې څه دپاسه یوزر کاله یې دوام وکړ او دهغه دیانت دحیرانتیا وړ اثار اوس هم په افغانستان کې پاتې دی.

دآشوکا دواکمنۍ دوره یوه روحاني او اخلاقي دوره ده چې په هند کې دهغه اخلاقي نصیحتي فرمانونه دتیږو پر ستنونقش کړای شوي چې (وهمه کمبهاني) یعني (اخلاقي ستنې) ورته وایي او تر اوسه په افغانستان کې ددوه اخلاقي ستنو ننبنې ننبناني چې یوه له بلې ډیره لري یعنې په (ډرونټه) دجلال آباد او لغمان تر منځ او بله دکندهار په زور ښار کې پیدا شوي دي.

هغه ډبر لیك چې پکې دآشوکا دزیږېدنې ځاي ډرونټه ښودل شوې ده. د مثلث په ښه ده چې لس انچه اوږودوالی او بر یې اته (۸) انچه دی چې اوس هم دکابل په موزیم کې خوندي دی. ددې ډبرلیك عکس دلومړي ځل له پاره دکابل مجلې په یوه ګڼه کې خپور شو او نارویژی پروفیسر مارګنستن دلومړي ځل له لپاره هغه په اروپا کې لویدیزو پوهانو ته وروپیژاند او دوه تن پوهان ((پرکلند)) و ((التهم)) دهغې لیکنې په ژباړنه او مطالعه بوخت شول او دوروستي ځل لپاره پر ۱۹۴۹ ز کال پروفیسر(هنیګ) (په لغمان کې داشوکا د (آرامي) ډبرلیك کشفول) تر عنوان لاندې دهغه په چاپیر یال یوه مقاله خپره کړه.

داډبر لیك په آرامي لیك دود لیکل شوی او اته نیمې کرښې لري خو لکه څنګه چې یاده شوي ډبره ماته او دمثلث ښه یې خپله کړې، تر ډیره ځایه یې کرښې نیمګړې شویدي او له ترجمې څخه یې مسلسل مضمون په لاس نه راځي سره له دې هم داخلاقي درس روح تري څرګندیږي، چې مفهوم یې دهغه پاچا له ډبر لیك څخه چې دکندهار په زاړه ښار کې پیدا شوی وٴ اخستلاي شو.

دکندهار ډبرلیك چې دچهل زینې سیمې ته نژدې دکندهار د زاړه ښار دکنډوالو شمال پلوته د(کندهار ـ کواکران) اوسنی سرك ته نژدې کشف شویده داپه دوه ژبو او دوه لیك دودو مشتمل او جوړ ډبر لیك دی، یعنې په یوناني ژبه او لیك دود او همدارنګه په آرامي ژبه او لیك دودلیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشوکا دخپلو خاصو او ګنو اخلاقي بنیګنولـه مخـې خلـك دحیوانـاتو لـه زورولـو او وژلـو همدارنـګه دماهیـانو لـه بنکـار نـه منـع کـړل او وایـي چـې همغـه شـان چـې مادانسـان له وژلولاس واخیست شاهي بنکاریان دې دحیواناتو او ماهیانو له بنکـار څخه لاس واخلي.

دموریاپاچا خلك د مور، پلار اومشرانو اطاعت ته رابولي دنفسیاتي خواهشـاتو دله منځ ورلو او ټولو ژوندیو ته ددرنـاوي بلنـه ورکـوي داجملـه هـم پـه ډبـر لیـك کـې راغلې چې دده (پیواسي) دترحم او مهربانـی لـه مخـې دځمکـې په مـخ ټول انسـانان نیکمرغه اوخوشحاله شول.....

(پیوداسې) چې دلته دکندهار په ډبر لیك کې یې یادونه شـوې ده د (اشوکا) بـل نوم دی چې دهغه په یو شمېر نورو ډبر لیکونوکـې هم لیدل شوی دی. پـه همـدې ترتیب دډبرلیك پـه متـن کـې کومـه نـاڅرګنده خبره نشـته او معلومیږي چې دموریـا پـاچا کـه پـه لغمـان کـې چې دګندهارایوه برخه ده او کـه دکندهـار پـه زاړه بنار چـې دارغنداو دحـوزې ترڅنـګ دختیـځ لـه ډیـرو پخوانیـو بنارونـو څخـه دی پـه دواړو ځایونو کې یې یادښت پر ډبرو لیکونو شته چې یو یې یواځې په (آرامي) ژبه او لیـك دود دی او بل یې په دوه ژبو اودوه لیك دودونو یوناني او آرامي بـاندې لیکـل شوی دی.

اشـوکا بـه دډول فرمانونـه اخلاقـي سـتنې زیـاتره دکـاروانونو لارو تـه نـژدې دتیریدونکیو دلیدلو لپاره نصب کولـې ترڅو پـه لاره دتیریدونکیو خلکـو دپاملرنې وړ وګرځي.

تر کومه ځایه چې لیدل کیږي د (درونتې) او کندهار ډبر لیکونـه ددوه لویـو لارو پر سر او دهغه وخت ددوه پخوانیو بنارونو ترڅنګ یو په ګندهارا کې پخوانـی هډې ته نژدې او بل په کندهار کې دلویـې لارې پـه سر زوړ بنارتـه نژدې پـه یـوه لویـه تیږه کې کیندلی شوی دی.

له دې دوه ډبر لیکونو څخه څرګندیږي چې له میلاد نه دمخه ددریمې پیړۍ په اوږدوکې،هډې او اوسنی جلال اباد تـه نژدې او همدارنـګه کندهـار تـه نـژدې دوه لویې مرکزونه اوبنارونـه اباد و اودکاروانونو تګ راتګ هم تقریباً لـه همدغـو لارو ترسره کیده.

دکندهار ډبر لیك په یـو لوړ ځای دلارې پـه لـور مـایل ډول واقـع دی ترڅو یـې لا رویـانو وګوري، ددې ډبرلیـك لـه وضعـې نـه پخپلـه څرګندیـږي چـې دیـو مشـخص

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتيب له مخې دلارويانو دليدلو له پاره پر همدغه ځاي او په همدغه بڼه جوړه کړاي شوي ده.

ددې ډبر ليك له مخې په څرګنده ويلاي شو چې ددرېيمې مخزيړدي پيړۍ په اوږدو کې آرامي ليك دود په افغانستان اوپه ځانګړي توګه په جنوبي افغانستان کې معمول او رواج و او يو بل ډبر ليك هم په همدغه ژبه او ليك دوه په(تيکسلا) کې کشف شوی دی،ترټولو مهمه په دريمه م ز پيړۍ کې ديوناني ليك دود ارزښت او څرګندیدل دي.

مونږ همیشه فکرکاوه چې داژبه او ليك دود ديوناني باختري پاچاهانو دواکمنۍ په دوره کې تر (۲۵۰) مخزيړدي وروسته ورو ورو معمول اودود شوې ده، خو ګورو چې په دريمه مخزيړدي پيړۍ کې اويالږ تر لږه ددريمې مخزيړدي پيړۍ په نيمائي کې نوموړې ژبه اوليك دود دی حتی په جنوب غربي افغانستان کې معمول او خوره ده او دومره ارزښت يې درلود چې هغه به يې ډډبرليکونو دليکنې پر مهال له آرامي ژبې او ليك دود څخه مخکې ګټله.

۱۳۳۷\۴\۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کندهار کې داښوکا دډبر لیک کشف

(هغه ډبر لیک چې په دوه ژبو یوناني او ارامي لیکل شوی)

په افغانستان کې ۱۳۳۷ هـ ش کال په پیل کې یو ارزښتمن ډبر لیك کشف شو چې دتاریخ له نظره په افغانستان کې دبودائي دین دپراخوالي،فرهنګ او ادبیاتو له مخې ډیر اربنتناك و.

داډبرلیك په دوو ژبو (یوناني) او (ارامي) اوهمدارنګه په دوه لیك دودونو یوناني ارامي باندې لیکل شوی دی. او هغه په افغانستان کې ددواړوژبو او لیك دودو دخپریدلوله املّه هم دډیرارزښت وړ ده، چې دادیلومړی یې دکشف دخرنګوالي په اړه څوکربنې لیکو او بیا پخپله ډډبرلیك اودهغې دیوناني ژباړې په اړه خبرې کوو.

د ۱۳۳۷ کال په دویمه نیمائي کې مې یو شخصي لیك دیو پخواني دوست عبدالباري اشنا له خواچې پخوا په کندهار کې داحمد شاهي لیسې مدیر و ترلاسه کړ، چې په هغې کې یې دکندهار له یوه سپین ږیرې سره دخپلې مرکې په اړه څرګندونه کړې وه، هغه دحمل په ۱۵ نیټه لیکلی و. چې دکندهار په بنار کې دسړپوزي غره ته نژدې یوه ډبره څرګنده شوې چې پر مخ یې یو ډول لیك کیندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی اودسپین ږیري په ملګرتیا یې هغه ځای او ډبره لیدلې دي. لکه څنګه چې دښاغلي اشنا دلیك نه څرګندیدله ډبر لیك په کندهار کې چهل زینې ته نژدې دسرپوزې دغره په پوزه کې په یوه طبعي ستره ډبره کې کیندل شوي او تر اوسه خاورو اوختو لاندې پټ و، کله چې دوخت په تیریدلو دسیمې بزګرانو له دغه ځایه خاوره وړې ده نوموړې ډبر لیك کشف او راڅرګند شو.

داډبر لیك چې خبر مې ورته دکابل په راډیو او نورو افغاني مطبوعاتو کې خپور کړ دهغه ارزښت له مخې چې لري یې دپېژندګلوی وړ یې بولو او دادی تاسوته یې درپېژنم. داډبر لیك دکندهار دزاړه ښار دننه دسر پوزي کلي ته په څوسوه متری دپوزې دپای په برخه کې یو تورږل شتوی ستر کانې دی چې له چهل زینې وړاندې ددوه کانو لرونکیو تپو په مخ کې واقع دی. داډبر لیك هغه سرك ته ډیر نژدې دیچې له موجوده کندهار څخه دارغنداو په لوري تللی او هغه سرك ته هم ډیر نژدې دی چې له عمومي سرك نه دکندهار د زاړه ښار دکنډوالوپر لوري تللی دی.

هغه لویه ډبره چې لیکنه پرې کیندل شوی مستطیل شکل لري چې اوږدوالی یې دوه متره پنځوس سانتي اوسوریې یو متر اولس سانتي دی. ددې لویې ډبرې په منځ کې دمربع په شکل غیر منظمه سطحه د(۵۵) سانتي په اوږدوالي اود ۴۵ سانتي بر او همدارنګه (۵۰) سانتي ښکته پلو ته پاکه او صافه شوې ده او د ډبرلیك متن په دوه لیك دودونو یوناني او ارامي لیکل شوي او کیندل شوی دی. ددبر لیك په پورته برخه کې مضمون په یوناني لیك دودلیکل شوی چې تولې شمیره یې دیارلس نیمې کربنې ده او بیا دارامي لیك راځي چې شمیره یې اوه نیمې کربنې ده.

وړاندې تر دې چې ددې مهم ډبر لیك نقل او عکس (روما) او (پاریس) ته ورسیږي ما صرف دهغه ډبر لیك دموقعیت له مخې چې داراکوزي ولایت دکاروانونو دپخوانۍ لارې ترڅنګ واقع دی اوداچې په دوه لیك دودونو یوناني او آرامي لیکل شوي ښه اټکل کړي و چې داډبر لیك دریمې ق م پیړۍ پورې اړوند اود (موریا) کورنۍ لوې پاچا (اشوکا) پورې مربوط دی لکه څرنګه چې پر نوموړې ډبر لیك کې په یوناني ژبه لیك شوي دالیك نسبت آرامي لیك ته اسان دی، په روم اوپاریس کې پوهان ددې لیکنې په ترجمه بوخت شوي دروما په ختیځ اولویدیځ کې په مجلو او دپاریس په (لوموند) ورځپانه کې په دې باره کې مقالې لیکل شوي اوخپرې شوې دي.

اشوکا دهندي (موریا) کورنۍ هغه پاچا دی چې پر هند دلس کاله واکمنۍ وروسته يې افغانستان ته دبودايي دين دتبليغ له پاره مبلغين راواستول داهغه وخت و چې دافغانستان په شمال باختر کې يوناني باختري شاهانو تازه په واکمنۍ پيل کړي و. اودافغانستان په جنوب کې دسلو سي کورنۍ (سلوکوس نيکاتور) يوناني پاچا ترماتې وروسته دموريا دکورنۍ موسس (کوپتا) داندوس (سند) له شاوخوا څخه دافغانستان جنوب پلوته دارغنداو تر غارو پورې يې خپل نفوذ ته پراخوالی ورکړی و. دکندهار په سر پوزه کې داشوکا دډبر ليك مضمون سراسراخلاقي اوعبارت دنوموړي پاچا له نصيحتونو څخه دی.

څنګه چې ټول پوهيږو اشوکا عادت درلود چې خپل اخلاقي نصيحتونه.به يې دفرمانونو په بڼه په ډبر وليکل اوتيتول لکه چې ډير ډډبرو فرمانونه يې په هند کې کشف شوي دي. اويوله دغو فرمانونوڅخه دجلال اباد په ډرونټه کې پر يوه تورډل شوې سټره ډبره موجود و چې يوه ناقصه پارچه يې دکابل موزيم ته رسيدلی اوهلته خوندی ده.

موسيو روبرت دفرانسې دادبي متون او ډبر ليك داکاډمۍ غړی اوداروپا دختيځ مجلې مدير دواړه دې نتيجې ته رسيدلي دي "چې (اشوکا) پاچا دکندهار په ډبر ليك کې په خپل مستعار نوم (پيوداسي) يادشوی او څرنګه چې يې پخپله دټولو موجوداتو له ازارولو او زورولو څخه لاس اخستی دی بايد چې دهيواد ټول ښکاريان او صيادان د حيواناتو له وژلو او دماهيانو له نيولو څخه لاس واخلي. چې په ځمکه کې لاخوشالي او ارامي خوره شي، سپارښتنه شوې ده چې دمور پلار او مشرانو ته اطاعت او دنفسياتي خواهشاتو مخنيوی دې وشي او په ځانګړی توګه دې دهر ژوندوي له زورولو ډډه وشي"

په همدغه ترتيب داشوکا کوم ډبر ليك چې تازه دکندهار زاړه ښار ته نژدې کشف شوی دیو شمېر اخلاقي پندونو لرونکی دی چې ۲۳۰۰ کاله دمخه ليکل شوی.

دارامي ډبر ليك متن تر اوسه لوستل شوی نه دی، خو ډير احتمال لري چې دمضمون متن يې ديوناني ډبر ليك له متن سره توپير ونه لری اوددواړومتنونو مضمون يو شی وي.

د(اشوکا) يا د(کندهار دسرپوزي) ډبر ليك لومړنی يوناني ډبر ليك دی چې اوس په افغانستان کې کشف کړای شوی، تر دې وړاندې په سره کوتل کې ډبر ليك کشف شوی و. چې يوائې په يوناني ليك دودليکل شوی او ژبه يې دافغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژبو له ډلې يوه محلي ژبه ده. دکندهار ډبر ليك لومړنی ډبر ليك دی چې زمونږ په هيواد کې په يوناني ژبه او ليك دود ليکل شوی. نو داچې له آرامي ژبې نه پورته ګڼل شوی څرګندیږي چې زمونږ په هيواد کې ديوناني ژبې ارزښت ددريمې مخزېږدې پيړۍ په نيمائي کې ډير زيات و.

دکندهار ډبر ليك لومړنی ډبر ليك دی چې په دوه يوناني او ارامي ژبو ليکل شوی، ددې لپاره چې نومورې ډبر ليك په دوه ژبو او دوه ليك دودونو ليکل شوی په همدغه وجې يې ارزښت ډير زيات دی او ديوناني ژبې په مرسته به دپوهانو معلومات دادبي جزئياتوپه اړه او دآرامي حروفو دليکلو په برخه کې پراخوالی ومومي.

هيله لرو چې ژر به پوهان ددې ډبر ليك د (ارامي) متن په لوښتلو بريالي او په دې برخه کې به بله مقاله خپره کړي.

په ډبر ليك کې راغلي چې د (پيوداسي) دترحم اومهربانۍ له مخې دځمکې ټول انسانان نيکمرغه اوخوشاله شول.

په کندهار کې ديوناني ډبر ليك دمتن اساسي مفهوم لکه څنګه چې يې وراندې يادونه وشوه په اخلاقي نعمتونو مشتمل دی. ددې ډبر ليك (آرامي) متن اووه کربنې لري چې تر اوسه کوم شخص يا علمي موسسې دهغې په ژباړه لاس نه دی پورې کړی. خو احتمال لري چې دهغې مضمون به هم ددې ډبر ليك ديوناني برخې سره يوشان وي.

دروپايي علمي حلقې په روما او پاريس کې هغه ډبر ليك ته چې تازه په کندهار کې کشف شوی ډير ارزښت ورکوي او د ا ډبر ليك په لرغوني افغانستان کې دتاريخ،اديبانو، ژبې پيژندنې او دژبو دتاريخ له نظره ډير ارزښت لري، ځکه چې دالومړی ځل دی چې يوډبر ليك په دوو ژبو (يوناني) او (آرامي) ليکل شوی او زمونږ دهيواد له يوې مشخصې سيمې نه په لاس راځي.

۱۳۳۷\۲\۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې دبودیزم خپریدل

پنځلس کاله دمخه مې دافغانستان تاریخ دلومړي ټوک په ۳۴۲ مخ کې د "محفل مذهبي واعزام مبلغین" تر سر لیک لاندې ولیکل چې " دا شوکا له سترو کارونوڅخه چې دواکمنۍ یوولسم کال (۲۵۹ مخزیږدي) اتکل کیږي دمذهبي محفل ریاست، دشاهي ښکار موقوف کول، یادعیاشۍ منع کول اوترټولو لوی دمبلغینو داستولومفکوره ده" دا محفل په (پتالي پوترا) چې عبارت له (پټنه) څخه دی دایر شو او دهغې په اثر اشوکا تصمیم ونیو چې دبودایي دین د خپریدلو لپاره به دهند جنوب اولویدیځو هیوادونو ته مبلغین استوي.

ټول پوهیږو چې دغه مهال دیوناني شامي سلوکوس نیکاتور دموریاکونرۍ دموسس چندراګو پتامور له لاسه پر ۳۰۵ م ز کې دمقابلې په ترڅ کې ماته خوړلې وه اوله ګندهارا څخه تر اراکوزي (له کابل نه تر کندهار) پورې دموریا کورنۍ بری موندلی و اواشوکا ډیره هڅه کوله چې په فتح شویو سیمو کې بودایي دین مروج کړي نودهمدې مطلب د تر سره کولو لپاره یې د (مجهان کیته) (دهمهاره کیټه) او(مهاره کیته) په نامه څو تنه مبلغین دکابل او ارغنداو د سیمې په لور واستول او په همغه ترتیب چې پوهیږو ددرېمې م ز پیړۍ له نیمائي نه وروسته بودایي دین دافغانستان په خاوره کې له لمر خاته ترکاپیسا اوله کابل نه دشمال په لور تر بلخ پورې اوهمدا راز دجنوب لور ته بدارغنداو تر سیمې خور شو. تر اوسه پورې داسې فکر کیده چې دنوموړي دین دخپریدلووخت نظر جنوب ختیځ ته دلویدیځ او شمال

پر لور ژر صورت نیولی، خو کیسه داسې نه ده ځکه چې داوخت د هندوکش جنوب دموریا دکورنۍ ترلاس لاندې وۀ او په شمال کې یوناني باختري پاچا واکمن وۀ.

بودایي دین له ګندهارا څخه دارغنداو سیمې ته ډیر ژر حتی پخپله د (اشوکا) په وخت ددریمې م ز پیړۍ په نیمایي کې خپور شوی دی.

چیني ګرځنده(هیوان ـ تسنګ) چې کله داوومې عیسوي پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې له (کاپیسا) نه ننګرهار ته ورغی په بګرام او دجلال اباد په هډه کې ورته یو شمېر دعبادت ور ځیزونه اټکلیده ځکه چې دمبلغینو داستولو له وخت نه دعبادت ور ځایونو تر جوړولو پورې ډیروخت پکار و، مګر داشوکا داخلاقي ډبر لیك په رڼا کې چې تازه دکندهار په زاړه ښار کې موندل شوی او دهغه ډبر لیك له مخې چې ۲۵ ـ ۳۰ کاله دمخه دجلال اباد په ډرونټه کې لاس ته راغلي ځرګندیږي، څومره چې دبودیزم دخپریدو په هکله فکر کیده له هغې څخه ډیر تیزو، او یو شمېر عبادت ځایونه په ننګرهار او کاپیساکې پخپله داشوکا په وخت ددریمې م ز پیړۍ په نیمائي کې جوړ شوی وو، چې خاطرې اونوي پیداشوي ځیزونه یې دچیني ګرځنده (هیوا تسنګ) تر وخت اومې مسیحي پیړۍ پورې له منځه تللی نه وۀ.

اصلاً داشوکا له خوا په یوستره مذهبي غونډه کې فیصله وشوه ، ترڅو دهندوکش جنوب ته دغربي هیوادونو په لور چې په هغې کې پخوانی افغانستان هم شامل دی یو شمېر دبودایي دین مبلغین واستوي،داغونډه د ۲۵۸- ۲۵۹ م ز په شاوخوا کې دهند دبیهار په ضلع د (پټنه) دښار په (پټاپوترا) کې تر سره شوه لکه چې وراندې یې یادونه وشوه یوشمیر مبلغین دافغانستان په لور هم واستول شول.

اشوکا استولي بودایي مبلغین یواځې په افغانستان کې تم نه شول بلکې دلویدیځ پر لور یوناني شامي شاهانو او دلویدیزې اسیا شاهانو ته لاړل او لاتر هغې لرې دافریقا په شمال کې دمصریوناني واکمنو ته هم ورغلل اودهغو پاچاهانو دنومونو په استناد ، چې یادونه یې داشوکا په پنځم نمبر ډبر لیك کې شوی، ویلای شو چې دبودایي دین مبلغینو دمدیترانې په ختیزه سیمه کې داسیایي اروپایي او افریقایي هیوادونو لکه مصر، یونان او شام کې یې خپل تبلیغونه وکړل، خوله افغانستان څخه لرې داسیا لویدیځ لور ته یې چندان تاثیر ونکړ او حتی په افغانستان کې هم نیمه ختیزه خواد(کندهار ـ بلخ) دخط ختیځ لور ته دادین ومنل شو او په هغه نیمه لویدیزه خوا کې زردشتي دین لږ ډیر باقي پاتې شو او بیاداسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمقدس دين دمبلغينو تر رارسيدلو هم ځايې پر ځاې و. لکه چې ددې مرحلو کليات مورِ ټولو ته روښانه دي.

کله چې اشوکا په ډبر ليك کې داسيا له يوناني واکمنو سره دبودائي دين دمبلغينو داستولو په اړه کې خبرې کوي ديونان باختري دمستقل سلطنت دموسس (ديودوتس) په باره کې څه نه وايي له دې وينا څرګندېږي چې تر دې وخته لاباختر خپلواکي تر لاسه کړې نه ده، لکه څرنګه چې په ډبر ليکونو کې دسلو سي شامي کورنۍ ديو تن (انتياکا) يعنې دويم انتيوکوش دنوم يادونه شوې ، په ښکاره څرګندېږي چې باختر تر اوسه دسلوسي شامي کورنۍ دواکمنو له خوا اداره کيده.

نن دامسئله روښانه ده چې اشوکا پر (۲۵۸ م ز) پرلويديز په لور دبودايي دين دمبلغينو په استولو لاس پورې کړې و او "ديودوتس" پر ۲۵۸ م ز ديوناني باختري دولت خپلواکي اعلان کړې په دې ترتيب ددې دواړو پيښو ترمنځ د(۸) کلونو په شاوخوا کې مهالنی واټن دی اووړاندې تر دې چې يونانی باختر خپله خپلواکي اعلان کړي، داشوکا مبلغينو دافغانستان په ختيځ او جنوب لويديځ کې له ګندهارا څخه دارغنداو تر سيمې پورې دبودايي دين په تبليغ لاس پورې کړ. او دافغانستان په يوه برخه کې دموريايانو دبريو ارزښتناکه پايله همدغه دبودائي دين د نظرياتو خپريدل او چې وروسته دهغوي دسياسي واکمنۍ له نسکوريدو څخه چې تر پنځوس کلونو يې ډير دوام ونکړ. بودیزم ځای په ځای پاتې شو ريښې يې وځغلولې پرمختيا يې وکړه او پراختيا يې ومونډله او زر کاله يې ډير دوام وکړ او افغانستان دلومړۍ مسيحي پيړۍ په پای کې ددويمې پيړۍ په پيل کې دبودائي دين ديو ستر مرکز په حېث وپيژندل شو چې مبلغين يې کاشغر ، سنګيانګ او چين ته ورسيدل او دافغانستان په مرکزي غرنيو برخو کې دنهمې مسيحي پيړۍ تر پيل پورې موجود پاتې و.

۱۳۳۷\۳\۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

شابهار

په غزني کې بودايي "شاهي عبادت ځای"

هغه مقالې چې "دشابهار په دښته کې دغزنوي عسکرو درسم ګذشت میدان" او د "شابهار میدان اونغاره خانه "په نامه دي د ۱۳۳۷ هـ ش کال، په اوږدو کې مې ژوندون مجلې او کابل رادیو ته ولیکلې، دادواړه مُقالې پر ۳-۴-۱۳۳۷ او ۷-۹-۱۳۳۷ نیټو له رادیو خپرې شوې (ددې دواړو مقالو متن ددې اثر په دویم ټوک کې راغستل شوې)

شابهار مې داستاد ابوالفضل بیهقي دلیکنو، امیر فرخي اوامیر عنصري له قصیدو څخه دعسکرو درسم ګذشت په میدان او دغزنوي عسکرو دعرض په ځاي کې شرح ورکړې ده.

(شابهار) دغزنویانوله دورې دمخه او همداراز له اسلامي دورو وړاندې اصلاً دبودایي دین لویي عبادت ځای و. چې دموجودیت ریښتینوالي یې پر ۱۳۳۸ کال دلرغون پیژندونکي دهڅو په نتیجه کې کشف شو.

دسلطان محمود غزنوي دارامګاه باغ او دروضي دکلي جنوب لویدیځ ته په درې کیلو متری کې دلویې او پراخې دښتې په منځ کې (چې حتماً همغه دغزنویانو دوخت مشهور دشابهار دښته ده) یوه ډډبرو غونډۍ پرته ده چې نن دعوامو په ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(تپه سردار) (تیپه نقاره) او د (بتخاني) په نومونو یادیږي داهر یو نوم فولکوري توضیح لري چې دلته یې دشرحه کولو امکان نشته اویواځې د (بتخاني) وجه نسمیه دپاملرنې وړ ده او رابنیي چې دزماني په تیریدو، ورانیو او کنډوالو سره سره دعوامو دخاطرو په دفتر کې دبوایي عبادت ځای په واقعي مفهوم او بودتون پاتې دی.

(شابهار) یو ترکیبي نوم دی او له دوه ویینو څخه جوړ دی (شا) چې همدغه د (شا) دکلمې متعارفه ده او بل (بهار) چې داکلمه دسنسکریت (یهاره) څخه اخستل شوې ده چې نسبت یې بودایي ·عبادت ځای ته کیده چې په سلګونو او زرګونو (ویهار) کلمې مو دافغانستان په بیلا بیلو برخو کې لکه هډه، کاپیسا، کابل، بامیان، غزني، بلخ، فرخار، سمنګان، کندهار او نورو ځایونو کې درلودلې چې له هغو څخه یو دبلخ د (نویهار) خاطره پاتې ده او ډیر شهرت لري، چې داهم ترکي نوم دی او اصلاً له دوه کلمو (نوا) ا و (یهاره) څخه جوړه ده چې لومړی د(نوي) او دویم هماغه دبودایي عبادت ځای مانا درلوده او دا(نواویهاره) په دري ادب کې (نوبهار) شو که تردې پکې نوره زیاته څیړنه وکړو د(نوبهار بلخ) په شهرت به بسیا شو.

ترکومه ځایه چې دګرځنده چینا یانو له یادښتونو اود عربي منابعو له تذکرو څخه څرګندیږي دسلګونو اوزرګونو ویهارونواوبهارونو ترڅنګ مو ډیرې او شاهي عبادتګاوې درلودې چې یو شمېر یې دشابهار په نامه او صفت مشهورې وې.

پرته له شکه په کابل ، هډه، بګرام، غزني،بامیان او حتماً په نورو هغو ځایونو کې چې پورته مې یادونه وکړه (شاویهار) او (شابهار) نومونه درلودل چې دهغو دموقعیت ټاکنه به دلرغون پیژندونکیو هڅې اوڅیړنې روښانه کړي.

لکه څنګه چې ددې اتو کلونو په ترڅ کې دایټالیا دلرغون پیژندنې پلاوی د غزني (شابهار) له کیندنواو څیړنو وروسته دهغه ځای موقعیت، شکل او ابادی دطرز ترڅنګ نور ډیر جزئیات روښانه شوي دي ددې کشفیاتو په ترڅ کې برهمي لیکنې چې دریمې یا څلورمې مسیحي پیړیو پورې مربوطیږي او نورې له څېنې بودایي وړې مجسمې او ددې ترڅنګ د ۱۰ – ۱۲ متري لویو مجسمو دشواهدو پیداکیدل اونور ددې عبادت ځاې دجزئیاتو نور ارخونه دي چې څرګند شوي ددې ټولو شرح په دې لنډه لیکنه کې امکان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغزني دشاه بهار عبادت ځاې دلويې صوفي چارچاپيره ځونوري وړې صوفي هم کشف شوي چې ځلورو خواو ته زمينې لري چې دغزنـي بـت پرسـتانو دنـورو ډيروبيهوده کيسو ترځنګ فکر کاوه چې (کله چې بودا دهوا له ځپو رابنکته شو په همدغه ځاې کې چې دغزني د (شا بهار) عبادت ځاې دی کيوت، البته چې په بودايي داستانونوکې يې دبنکته کيدو ځاې د (شانکارا) په نامه چې بنارس ته نژدې يوه سيمه ده بنودل شوی دی.

په دې وړوکي مقاله کې اساسي مقصد دادی چې (شابهار) دغزنويانو په دوره کې درسم ګذشت اومذهبي جشنونوشريك ميدان وۀ، اصلاً تر اسلام دمخه د اوسيدونکو دبودايي دين عبادت ځای و چې د (شاهي معبد) يا عبادت ځای په نامه يادیده او ددې ډبرينې غونډۍ څخه دغزني بنار ډير لرې بنکاريده.

لکه څنګه چې مې شل کاله دمخه (دافغانستان پخواني تاريخ) په دويم ټوك ۵۴۳ او ۵۴۴ مخونو کې اوهمدارنګه (دافغانستان تاريخ) په دويم ټوك چې پر ۱۳۳۶ کال دتاريخ ټولنې له خوا چاپ شوی شرحه ورکړې چې يو له شابهارونو څخه دکاپيسا يا بګرام او يا هم دګلبهار په لمنوکې دغوربند ددرې په خوله کې واقع و چې دجبريل دزوې ابراهيم په امر ديحی دزوي فضل پر وخت چې دهارون الرشيد زمانه وه پر ۱۷۶ يا ۱۸۶ هـ ش کال وران کړای شو.

ددې لپاره چې دغزني د (شابهار) په هکله علمي هڅې جاري دي نوځکه ډير دجزئياتو په نتايجو پسې نه ګرځم او هيله لرم چې په دې اړوند به په راتلونکي کې له هره اړخه پراخې مقالې وليکو.

۱۳۳۹-۶-۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې بودايي مبلغين

افغانستان او هند لکه دنورو هيوادونو په څير سره خوا تر خوا او متقابل واقع دي چې په بيلا بيلوتاريخي مواردوکې يې يو پر بل نفوذ او اغيزه درلودلې چې اثار اوننې ننباني يې په دواړو هيوادونو کې محسوسيږي.

په افغانستان او هند دواړو هيوادونو کې متقابل اثار او اغيزې ډيرې غښتلې دي چې شواهداو ننې ننباني يې ډيرې څرګندې دي.

پر افغانستان هندي بنسټيز او پراخ اغيز دبوديزم خپريدل دي چې دسند داندوس له رود خانې څخه يې دراخيريدوله ورځې څخه په افغانستان کې ددوام د وروستۍورځې پورې له زرکلونو څخه واوښت او ددې يوزر کلونو په اوږدو کې يې ددې هيواد داوسيدونکو په فکر او دودانيويه جوړښت کې ژور او پراخ اغيز ترسره کړی دی.

داچې څنګه، څه ډول او کله بودايي دين په افغانستان کې خپور شو؟ دې پوښتنې چې ددې هيواد پر برخليک يې يو بشپړ بدلون رامنځ ته کړی، دپوهيدلو او پلتنې وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول پوهيږو چې بودايي دين په ۶ م ز پيړۍ کې له (ساکيامووني بودا) سره دهند په خاوره کې څرګند شو، چې نژدې درې پيړۍ دادين دهند په خاوره کې محدودؤ، تر هغو چې د (موريا) يا په پخواني هند کې دلومړي سلطنتي کورنۍ له خوا منځ ته راغی.

(چندراګوپتا موريا) ددې سلطنتي کورنۍ موسس و او ددې لړۍ ددويم پاچا (پاندوسارا) تر مرګ وروسته يې زوي (اشوکا) واکمنۍ ته ورسيد او نومورې دواکمنۍ پر لسم کال ۲۴۹ م ز کال بودايي دين ته ورداخل شو چې ددې دين دپرمختيااوپياوړتياله پاره يې ډيرې هڅې او هلې وکړې.

ددې زماني له مهمو پيښو څخه يوه هغه ديوې لوی مذهبي غونډې جوړيدل وو چې په (پتالي پوترا) يعني اوسنۍ (پتنه) کې چې هغه مهال دموريا د امپراطورۍ پلازمينه او دهند له مشهورو بنارونو څخه شمېرل کيده ترسره شوه.

غونډه دمشهور عالم (موګالي پوتاتيسا) په رياست او د روحاني مشر اوپاچا (اشوکا) تر سرپرستۍ لاندې وشوه، په دې غونډه کې ډير ارزښتمن تصميمونه ونيول شول، ډبيلګې په توګه دمذهبي قوانينو تنظيم، ترتيب اودبودائي دين دخپريدلو دپاره دهند په دننه اوله سرحدي حدوداتو نه دباندې دمبلغينو استول په هند کې دمذهبي غونډې ډير پام جنوب پلو په ځانګړي توګه د "سيلان" خاورو ته و لکه څنګه چې اوس بودايي دين په هندوستان کې له منځه تللی مګر دسيلان په جزيره کې په ښه قوت او قدرت دوام لري او دهغه هيواد رسمي دين پيژندل شوی.

بله نقطه چې مذهبي غونډې تۀ دپاملرنې ور ده هغه داندوس (سند) درود لويديزې خوا سيمې يعنې داوسنی افغانستان خاورې وې چې هغه وخت يې دجنوب يوه برخه دارغنداو تر سيمې پورې دموريايانو له خوا فتح شوې وه او په نيمه نوربرخه کې شمال لور ته يونانيان مېشت وو. کشمير او ګندهارا ته دمبلغينو داستولو دموضوع يادونه داشوکا په يو شمېر ډبرليکي فرمانونو کې شوې ده، مثلاً"۱۳" نمبر فرمان دمبلغينو داستولو په باره کې دی او کومو ځايونوته چې يې استولي هم لوستل کيږي. همدغه شان په "۵" نمبر فرمان کې دنوروځايونو په ترڅ کې د "ګندهارا" دنامه يادونه هم شوې ده، تر کومه ځايه چې له دې منابعو څخه څرګنديږي، يو له دې مبلغينو څخه چې دکشمير اوګندهارا په لور استول شوي وو

مجهان تيكا يامدهيان تيكا نوميده، پرته له هغه دوه تنه نور هم له هغه څخه لرې دسند درود لويديز پلو ته استول شوي چې نومونه يې په لاندې ډول دي:

"دهه ماراكي تا" او "مهاراكي تا" چې دهمغه په جغرافيايي اصطلاح يو يې "لويديز هيوادونو" ته او بل يې يونان ته استولی وٴ.

لکه څنګه چې دهند لويديزې سيمې داوسني افغانستان سيمې دي او يونانيانودهمدې هيوادله شمال برخې څخه دبحر روم تر غاړو او مصر دخپلې واکمنۍ په کړۍ کې راوستی و، نو په اسانۍ سره اندازه لګيږي چې داشوکا مبلغين ګندهارا أو دافغانستان نورو سيمو ته تر راتلو وروسته دلويديز پر لور وړاندې تللي دي.

په دې کې شك نشته چې په خپلو ډبر ليکونوکې په ويارې چې مبلغين يې "ياوانا" يعنې يونانيانوته استولي دي. دتير کال تر پيل پورې چې داشو کا ډبر ليك په کندهار کې کشف شوې نه وه دا (ياوانا) يې ډير لرې لټاوه، مګر اوس څرګنده شوه چې دکندهار په يوه سکندريه کې چې دارغنداو رودخانې ته نژدې ده ډير شمېر يونانيان ميشت وو او اشوکا ډيره هڅه کړې ده چې دوي بوذايي دين کې داخل کړي نو ځکه يې دهغوي په ژبه فرمان په هغه ډبر ليك ورته کيندلی و چې تازه دچهل زيني ترڅنګ موندل شوی دی.

نو ويلای شو چې بودايي مبلغين داشوکا په ژوندانه ددريمې م ز پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې ددين دتبليغ له پاره دافغانستان جنوبي برخو ته راغلي او دغه دين ته په رونق ورکولو کې بريالي شوي، ځکه چې څه دپاسه يو زر کاله دادين په دې خاوره کې تم شوی.

۱۳۳۸-۳-۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوشانیان دافغانستان په تاریخ کې

دځیړنې دلمنې په پراخیدو او ددرسي، مسلکي او افغاني کتابونو دخپریدو په وجه به نن سبا په افغانستان کې داسې څوک نه وي چې هغه د (کوشان) یا (کوشاني) نوم نۀ وي اوریدلی دالوړ او مشهور نوم هغه اوازه ده چې دګاونډیو هیوادنو لریوسیمو ته هم رسیدلی دی.

کوشانیان د (سیستي) یا (یوچي) په نامه توکی له مرکزي اسیا څخه پورته شوی،په افغانستان کې یې دیو ځواکمن او مقتدر سلطنت په تشکیل لاس پورې کړی او دهند او پاکستان دپراخې نیمې قارې په فتوحاتو بریالي شوي دي.

له دې سره سره دکوشانیانو تاریخ درې پړاوونه لري چې لومړی یې په مرکزي اسیا او دریم یې په نیمه قاره هنداو پاکستان کې تیریږي او هغه ستره اومهمه مرحله یې چې منځنی پړاو دی په افغانستان کې تیره کړې ده، اوداد کوشانیانومهمه او تاریخي دوره ده چې دهغې په اوږدو کې دافغانستان دمدنیت خیزې خاورې له خوې بوې او کړو وړو سره وخت تیر کړ او دباختر دمتمدنو خلکو له مدني خاورې سره په تماس یې دسلطنت نظام جوړ ددین، فرهنګ ، رسم الخط ادبیاتو، هنر صنایع او پرتمینو ودانیو خاوندان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې خټيزې چينې (منابع) او لويديزې يوناني منابع رابنيي کوشانيان دهغو سختو جګړو په ترڅ کې چې له هيوانګنو يا (هنونو) سره منځ ته راغلي په ۷۰ م ز کې دامو له سيند نه راتير او په باختر کې يې ديوناني باختري پاچاهانو کورنۍ ونيوله ، ددوي داوسيدلو تر ټولو مهم مرکز دهندوکش په شمال کې دبغلان سيمه ده، چې دکوشانيانو ددين اوفرهنګ اثار او نښې نښانې يې له مختلفو برخو څخه کشف شوي دي.

کوشانيان پنځوس کاله دمخه ترميلاده دکابل اوکاپيسا حوزو ته ورداخل شول او ديونانيانودوروستۍ پاچا ځاي (کابل) يې ونيو، او په بګرام کې يې ديونااني ښار ترڅنګ يو لوی، نوی او مستحکم ښار جوړ کړ اودانښار دلويوکوشانيانو دکورنۍ ددوبي پلازمينه شوه.

ددوي پلازمينه (پايتخت) مود دې له پاره ياد کړ چې لويو کوشانيانو پرته له بګرامه دوه نور مرکزونه هم درلودل چې يو يې په (پاروشاپورا) يعنې پيښور کې او بل يې دګندهارا په يوه منځنۍ نقطه کې و.

دلويو کوشانيانو دوره دمسيح له پيل نه پنځوس کاله وړاندې شروع او ددريمې مسيحي پيړۍ تر لومړۍ نيمايي پورې دوه پيړۍ وخت نيسي او دا دوه پيړۍ دپخواني افغانستان په تاريخ کې له لويودوروڅخه شمېرل کيږي.

له څنګه چې ساساني ايران دساسانيانوپر وخت (ايرانشهر) نومول شوی وهمدارنګه افغانستان دکوشانيانو پر وخت پر کوشانشهر يې شهرت ترلاسه کړی و. وروسته له هغې چې کوشانيانو په کوشانشهر کې ميشت او ځاې په ځاې شول دنورو هيوادونو دفتح کولو له پاره ې دشمال شرق په لور چيني ترکستان يا سنکيانګ ته اودشرق په لور يې دهندنيمې قارې او پاکستان ته مخه وکړه.

په پخواني افغانستان کې دلويو کوشانيانو دوره يوه لويه عمراني(آباده)، مذهبي هنري او ادبي دوره ده چې دهغې اثار او شواهد دسکو، عبادت ځايونو لوړو چوترو، تورښل شويو مجسمو په بڼه پاتې دي چې دهغې دورې دهرې پاتې شونې ډلې مطالعه ځانګړې څېړکې. رسالې او کتابونه غواړي.

دکوشانيانو دورې ته ځکه (لوي) صفت ورکړی شوی چې په دې دوره کې په مختلفو برخو کې لکه حياتي، مدني، مذهبي او فرهنګي چارو کې ډير بې ساري

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختګ په خپله کوشانشهر(دهغې دورې افغانستان) او نورو فتحه شویو سیمو کې ترسره شوی دی.

په دغه دوره کې ډیر پرتمین بودایي عبادت ځایونه په ګندهارا (هډه اوپیښور) په کاپیسا کې دپهلوان غره ترڅنګ، بګرام کې، دچاریکا د لویدیځ لور ته په توپ دره کې او نورو ډیرو سیمو کې جوړ کړای شوي دي ،داعبادت ځایونه یواځې دبودیزم له پاره ځانګړي نه و، لاچې په دې عصر کې ډیرو مذهبونو آزادي درلوده، یوله هغو کلونوعبادت ځایونو څخه چې بودیزم پورې اړه نه لري هغه دسره کوتل اورتون دی چې له شپږ کلونو راپه دې خوا دافغانستان په شمال کې کشف شوی دی.

دافغانستان کوشاني مبلغینو بودایي دین دختیزي اسیا تر وروستیو ځایونو خپور کړ،همدارنګه ګلکاري په نوي او مذهبي رڼا کې ددې جوګه شوه چې ډیرې بنکلې ابادی او ګنبدونه یې جوړ کړی چې دیو شمېر پاتې شونو په لیدلو یې نن ورځ هم خلك حیرانیږي.

په افغانستان کې دیوناني بودایي مجسمه توږنې مدرسې ډیر پرمختګ وکړ او په ځانګړي توګه دکوشانیانو په دوره کې ددوه پیړیو په اوږدو کې یې بې شانه پرمختیا او پیاړوتیا ومونډله چې په دې دوره کې دوړو او ډیرو لویو مجسمو جوړول دود وۀ. پخپله کوشانشاهانو او دسلطنتي کورنۍ غړو دمجسمو او کالبدونو توږلو ته ډیر زیات ارزښت ورکاوه چې دافغانستان له بیلا بیلو سیمو څخه ددې حقایقو شواهد راڅرګندیږي.

دافغانستان په پخواني تاریخ کې دسیاست او اداري چارو له نظره دکوشانیانو دوره یوه لویه دوره ګڼل کیږي اوهره ورځ دنویو توږل شویو مجسمو، ډبر لیکونۀ،سکو اومډالونو مونډل په پخوانیو اسنادو ورزیاتیږي چې دلویوکوشانیانو ددوري عظمت دافغانستان،ختیځ او اسیا په تاریخ کې ثبت او سجل کیږي.

۱۳۳۸-۱-۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

کجولوکدفیزس

دافغانستان لومړنی کوشاني پاچا

کوشانیان چې د (پوچي) قبیلې په نامه دمرکزي اسیا د(سیستي) له کتلي څخه بیل شوي او ددې یرو فتوحاتو دترسره کولو په وجه یې دختیځ په لور پر هند او پاکستان کې شهرت ترلاسه کړی. خو وړاندې له مرکزي اسیا او هند څخه یې په افغانستان کې ځانګړی او اساسي نقش لوبولی دی او دهغوي دوره چې په لویو او وړو کوشانیانو ویشل شوې دلرغونی افغانستان له لویو تاریخي دورو څخه ده.

داکوشانیان چې د(پوچي) په نامه یې هم یاد کړی دی. ځانته کورنۍ او پاچاهان لري چې د هغو لومړۍ سلطنتي کورنۍ د (کدفیزس) په نامه یادیده او لومړی پاچا یې "معمولاً کدفیزس" یا "کوزولاکدفیزس" نومیده او په (۸۷-۴۰مسیحي) کې ژوندی وۀ، زیاتره په دې عقیده دي کله چې کوشانیان دآمو له سیند نه راپورې وتل او دهندوکش شمال لور ته دباختر سیمو ته ورسیدل، دوي پنځه قبیلې وې او هرې قبیلې خپل مشر لاره په دوي کې دیوې قبیلې مشر (کجولوکزفیزس) څلور نورو ته تر قناعت ورکولو ورسته دپاچاهی اعلان وکړ دهغه نوم په چیني ماخذ کې د (کیوتسوکیو) او دهغه په خپلو سکو کې د (کوزولا کدفیزس) یا (کوزولوکدفیزس) په بڼه یادشوی دی. ددې نوم داول یالومړني مانا

ورکوي (کوزولو) یا (کوزولا) اویاهم (کجولو) همدارنګهٔ دویمه کلمه دده دکورنۍ نامه دی، نو په همدغه مناسبت هغه د (لومړی کدفیزس) په نوم هم یادشوی،

کله چې دوي له امو سیند نه دهندوکش شمال لوري ته راتیر شول دپنځو واړوقبیلو مشرانو دملوك الطوایفي په ډول واکمنۍ در لودې ترهغې چې د (کوي شوانګ) دقبیلې مشر چې همدغه (کجولا) و پر نورو یې بري ومونډ اوپه ۲۴۰ م کال کې یې دپاچاهۍ اعلان وکړ. داوخت دباختر اصلي اوسیدونکی چې دچیني منابعو له مخې یې (تاهشیا) ورته ویل، دوي سوداګر او مالدار خلك و چې دهغوي مالداري او شتمني دکوشانیانو ددولت په جوړښت کې ډیره اغیزه درلوده.

کله چې کوشاني لومړی فیزس دپاچاهۍ اعلان وکړ، دخپل نفوذ دډیرې والي لپاره یې ددوو خواوو څخه په فعالیتونولاس پورې کړ. یو لویدیځ خوا ته د(پارتیا) په لور او بل دهندوکش جنوب خوا ته د (کي پن) او (کاونو) یعنې دکاپیسا ،(کوهدامن او کوهستان) او کابل په لور.

دکوشانیانولومړی پاچا کجولاکدفیزس دکابل سیمه دیونانیانو له وروستني پاچا (هرمایوس) څخه ونیوله او داخبره دهمغه وخت سکې په بنه ډول څرګنده وي. ځکه اوس داسې سکې په لاس لرو چې په هغې کې دکوشانیانو دلومړي پاچا (کجولاکدفیزس) اودیونانیانو په کابل کې دوروستي پاچا (هرمایوس) نومونه لیکل شوي له هغو سکو څخه معلومیږي چې کابل ته دکوشاني پاچا په رسیدو یې دیونان واکمن ترماتې وروسته دهغه له سکو څخه کار اخستی اویوازې خپل نوم یې پکې ورزیات کړی دی چې یو څه موده وروسته یې دخپلو سکو په جوړولو لاس پورې کړی، هغه وخت یې دیوناني پاچا نوم(هرمایوس) له منځه وړی، او خپل نوم یې په سکو کې کیندلی دی.

له ویلو دې پاتې نه وي چې په همدغو سکو کې یې هم ځانته د (کوشانیانو دینادا رئیس) ویلی دی او له دې څخه هم څرګندیږي چې کوشانیان دقومي عنعنوي عادت له مخې دپاچاهۍ پر مقام هم دریاست دمقام خطاب باك نه بولي. خوهمدغه دکوشاني رئیس چې په ترتیب سره یې دخپل نفوذ او واکمنۍ لمن پراخه کړه، نو خپل القاب یې له لوې نه پسې لوی کړل، تردې پورې چې ځانته یې (شاه شاهان) او (داسمان زوي) وویل. لکه څنګه چې تولو ته معلومه ده دادګاونډیو هیوادونو دایران دپاچاهانو او دچین دامپراطورانو القاب وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکوشانیانو لومړی پاچا کجولاکدفیزس چې کله په کابل کې دیونانې وروسته واکمن دنفوذ ساحه تنګه کړه او ټول ځایونه یې تر خپل واک لاندې راوستل نو بیا یې دادرانه (شاهنشاه او داسمان زوی) القاب ځانته غوره کړل چې وروسته تر هغه نورو کوشاني شاهانو هم پسې تکرار کړل.

وړاندې مو وویل چې (کجولاکدفیزس) خپل ځان د (دیندار) په صفت هم یادکړی، باید ووایو چې کوشانیان له هغه وخته چې دامو پر سیند د هندوکش شمال لور ته راتیر شول دیندار خلك وو او ټولو کوشاني پاچاهانو ددین داصلاح او پیاوړتیا لپاره ډیرې هڅې کړې او ددوي لومړی پاچا (کجولاکدفیزس) هم یو ډیر دیندار شخص وؤ.

دچینایي منابعو له مخې لومړی کدفیزس څه دپاسه (۸۰) کاله ژوندی و. او دهغې اندازې له مخې چې هغوي یې ټاکي باید په ۷۸ م کال کې مړشوی وي، ځکه چې دواکمنۍ نیټه یې په ۴۰ م کال کې ټاکي، نو په دې حساب به یې ۳۸ کاله واکمني کړې وي.

کله چې کجولاکدفیزس دهندوکش جنوب پلو ته راغی دکاپیسا اوکابل په سیمو یې بسیا ونکړه اودخپلې واکمنۍ ساحه یې په هیواد کې جنوب پلو ته تر وروستي سرحده او همداشان لویدیځ لور ته تر وروستي سرحده وغځوله.

دکجولاکدفیزس مرکز اوپلازمینه(کاپیسا) یا بګرام و او دسکو په کیندلو کې یې دیونانې ((هرمایوس)) او درومن دامپراطوري لکه د ((اګوست)) ((کونستانتن)) او ((کلودیس)) دسکو تقلید کړی دی. داباید هیر نه کړو چې درومې امپراطورۍ سکې دتجارتي راکړې ورکړې په وجه افغانستان ته راوړل کیدې، تر ځکه کوشاني پاچاهانو دخپلو سکو په کیندلو کې دهغو له سکو نه تقلید کړی دی.

۱۳۳۷\۶\۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنیشکا تاریخي پاچا او امپراطور

کنیشکا دافغانستان ،هند او مرکزي اسیا په لرغوني تاریخ کې پیژندل شوی او مشهور نوم دی، دښوونځیو له زده کوونکیو نیولي بیا تر پوهانو پورې ټول دنومورې شخصیت په اړوند لږ ډیر معلومات لري، اودالږ ډیر معلوات نظر په زمان اومکان سره توپیر لري، په دې مانا چې دمرکزې اسیا په پخوانیو منابعوکې کنیشکا دبودایي دین دمبلغ په توګه اومشهورې (یوچي) قبیلې ته منسوب ګڼل شوی، په هند کې ډیر شمېر خلکو هغه دبودائي کیسو له مخې دیو نیمه افسانوي او نیمه خیالي پاچا په توګه معرفي کړی.

.په دې کې شك نشته چې دهند له فاتحانو څخه یو هم کنیشکادی او هغه لکه دافغانستان دمخکنیو پاچاهانو په څیر په تدریج سره له بګرام اوګندهارا څخه لومړی ځان دپېښور سیمې ته رسولی او بیا دپنجاب له سیندونو څخه ورتیر او دهغه اثارو په شهادت چې دډیلي په جنوب کې موندل شوی، ځان یې دهندوستان مرکز اولاترهغې هم وړاندې رسولی وۀ.

کنیشکا په هند کې ډیر مشهور دی، دبنارس،ډهلي او ګنګا د سیمې هندیانو نوموړی دیوهندی پاچا په توګه پیژندلی،خودمرکزي اسیا اوهندوستان دمورخینو او منابعو له نظره یو مطلب په کُلي ډول لویدلی او هغه داچې کنیشکا په افغانستان دکوشانیانو یومقتدر پاچاؤ.

یو ډیره ارزښتمنده او په زړه پورې نتیجه چې دسره کوتل په کیندلو کې زمونږ لاس ته راغلې داده چې دکنیشکا په اړوند چې څنګه، هندي بودایي منابعو فکر کاوه هغه خیالي، تصوري، اونیمه داستاني پاچا نه و، بلکه حقیقت او تاریخي وجودیې لرَه، چې تر کلونو انتظار وروسته مو دهندوکش په شمال کې دپخوانې بغلان له ولایت څخه لوې عمراني اثار، سکې،مجسمې او دهغه ډبر لیکونه تر اوسه کړي دی، نوځکه هغه یو ځل بیا دتاریخ په پانو کې په واقعي څیره دیومقتدر او باعظمته پاچا په حیث ګورو.

دهغو معلوماتو په رڼا کې چې په دې وروستیو وختونو کې تازه دسره کوتل دکیندلو په ترڅ کې تر لاسه شوی څرګنده شوي ده چې کوشا نشاه کنیشکا ددویمې مسیحي پیړۍ په دویمه نیمایي کې دهندوکش دواړو خواو ته یو مقتدر دولت تاسیس کړی و، چې دلرغوني افغانستان دډیر مقتدرو دولتونو په قطار کې شمېرل کیږي.

دتازه معلوماتو په رڼا کې کنیشکا تردې وروسته هندي واکمن ګڼلی نه شو، بلکې هغه باید په صحیح او اساسي ډول دافغانستان کوشاني پاچا او دهندوستان فاتح وګڼو.

لکه څنګه چې محمود زابلي ، سلطان غیاث الدین او معز الدین غوري په افغانستان کې مقتدر اوپیاوړي دولتونه تشکیل او پلازمینې یې هم په فیروز کوه او غزني کې موجودې وې. وروسته له هغې هر یو په خپل وار سره دهندوستان په بیلا بیلو سیمو کې سوبې وکړې، هلته یې مرکزونه جوړ او په هغه پراخ، هندوستان کې یې واکمن وټاکل، لوی کنیشکا هم وړاندې تر دې چې په هندوستان کې سوبې وکړي دلرغوني افغانستان په دننه اوتر ټولو سرحداتو پورې یې یومقتدر دولت تشکیل کړ چې په کوشاني دولت شهرت لري، البته چې وړاندې ترکنیشکا نور هم په کوشنانیانو کې واکمنی ته رسیدلي دي خو دکنیشکا پر وخت دکوشانیانو قدرت خپل لوړ حد ته رسیدلې و.

دعلمي، هڅو او لرغون پيژندونکيو دځيړنو له مخې چې په دې وروستيو اتو کلونو کې منځ ته راغلې په قطعي ډول ثبوت ته ورسيده چې کنيشکا دافغانستان په شمالي برخو کې غالبا په بلخ او حتماً په غوري او بغلان کې لوې مرکزونه او ښارونه درلودل او پرته له شکه دحکمراني يو ستر مرکز يې داوسني پلخمرۍ جنوب لويديځ لور ته په شل کيلو ميترۍ کې په سره کوتل کې و، او تر دې حده يې واك او ځواك موندلي و، چې پرته له مبالغې کولی شو نومورۍ دروم دامپراطورانو اودچين دفغفورانو په قطار کې وشمیرو، ددې دواړو لويوختيزو او لويديزو هيوادونو امپراطورانو له کوشانې دولت سره ددوستانه اړيکو احتياج محسوساوه

نو ويلاي شو چې کنيشکا پاچا دافغانستان دمقتدر و پاچاهانوله ډلې څخه و چې دفتوحاتو له مخې يې دهندوستان زړه ته ځان ورساوه ډيرې سيمې يې فتح او دکوشانی افغانستان فرهنګ او تمدن يې په لوی هندوستان کې خپور کړ او هلته يې دخپل واك چلوني لپاره يو شمېر ښارونه او مرکزونه جوړ کړل.

۱۳۳۹_۱_۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور کوټل

له ۱۳۳۰ (۱۹۵۱ز) کاله راپدیخوا نه څوکاله کیږي چې د (سره کوټل) نوم په کورنیو او بهرنیو جرایدو او علمي مجلو کې اخستل کیږي او ورځ په ورځ دانوم نور هم پورته کیږي. ولې دانوم دفرهنګ، لرغون پیژندنې اوتاریخ ډګر ته راووت ؟

سورکوټل ، لکه دتیروشویو سلګونو کلونوپه څیر کوټل نه دی، بلکې دلرغون پیژندنې او دافغانستان دتاریخ یوه حیرانوکې نقطه ده او نه اویاکاله کیږي چې هلته دافغانستان دمذهبي میراث ښکلي او پرتمینې بیلګې کشف شوي دي.

دافغانستان داسلامي عصر په تاریخ او ادبیاتوکې دبلخ او ګشتاسپه، زردشت او دقیقي، زردشتي دین او دبرزین مهر اومهر بر زین عبادت ځایونه، مزدیسنادین، زردتشتي حکیمان (طبیبان) او همدارنګه دتوران او دتورانیانو دحملې کولو او په نتیجه کې یې زرتشت دوژلو موضوع په څو څو ځله راغلې ده اوداسې څوک نشته چې دنظم او یا نثر دلوستلو پر مهال یې دا نومونه اوریدلې نه وي له دې حرفونو څخه دلرغونو دوروانعکاس له یوه عصره تر بل عصره اوله یوه نسله تربل نسله په تکرار تر مونږ رارسیدلي دي.

مونږ ټولو اوریدلي وو چې په بلخ او دباختر په سیمو کې یو شمېر عبادت ځایونه وو مګر هیڅوا ویلي نشول چې چیرته؟ نه اویا کاله دمخه په یو ناڅاپي ډول یوه یادوه داسې خښتې چې دیوناني الفباء حروف پرې لیکل شوي وو دیو لړعلمي

هڅو ترڅنګ دلوې مذهبي عبادت ځاې آثار دسره کوتل ترڅنګ غونډۍ کې ځرګندي شوي، چې بيا وروسته دکيندلو په دوام سره لانوره هم ځرګنده شوه چې دايو لوې عبادت ځای و ځکه چې ددې ځای مرکز يا داور تانه له ايرې او نور شواهد څخه پرله پسې راڅرګند شول چې په پاي کې دغه عبادت ځای تقريبا ربښتينې بڼه غوره کړه.

ايادغه اورتون يا عبادت ځاي دپخوانۍ باختري مزديسنايي دين پورې چې عوام يې اتش پرستي بولي کومې اړيکې لري؟

دکوشاني دورې ديوشمير آثارو له مخې چې ډير شميريې په کنيشکا پورې اړه لري او دهغو مجسمو له مخې چې دکوشانيانو دکورنۍ دغړو انځورونه پرې جوړدي، ځرګنديږي چې دسره کوتل عبادت ځاې په دويمې زېږدې پيړۍ او په ځانګړي توګه دمقتدرپاچا کنيشکا او دهغه يوتن وارث هوويشکاپورې اړه لري، پردغه ترتيب دزرتشت او دکنيشکا او هوويشکا د زماني ترمنځ زر يا يو زر دوه سوه کال فاصله ده.

نوويلاي شو چې دادکوشانيانو عبادت چې دبغلان په سره کوتل کې دود و، سره له دې چې دباختر دزرتشتي عصر خاطرې تر ځرګنديږي خو هغه يو ځانګړی دين وۀ اوپه دې دين کې ډيرو سلطنتي سپېڅلتياوو او پاکيزګۍ يا (کولت دیناستك) په لوړه کچه يوځای والی او ګډون مونډلی وۀ.

دکاپيسا دپخوانيو کيسو نه يوه کيسه چې چينائي ګرځنده هيوا ن تسنګ هغه په اوومه مسيحي پيړۍ کې اوريدلې وه، نکل کاوه: (کله به چې کنيشکا په قهر شو ټول ځان به يې داور لمبه شو) برسيره پردې په دغه دوره کې به اور له سلطنتي قدرت څخه دجلا کوونکې علامې په توګه هم شمېرل کيده، لنډه داچې کوم مزدك يا عبادت ځاې چې په سره کوتل کې کشف شوی، ددې مزدك شهرت دلويو کوشانيانو پر دوره دويمه مسيحي پيړۍ کې دکنيشکا اوهويشکا پر وخت کې خپل اوج ته رسيدلي وۀ او ديوډول ځانګړي دين نمايندګي يې کوله. چې په آتش پرستۍ کې دکوشاني سلطنتي کورنۍ دپاکۍ اوپاکيزګۍ له پاره يو اخلاص موجود وۀ چې ددې عبادت ځاي په حساسو برخو کې دکوشاني شاهانو دمجسمو موجوديت پورتنۍ مفکوره تائيدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داور پرستو عبادت ځاي يا سره کوتل چې په پخوانی نامه يې دبغلان داور پرستو عبادت خاي بللی شو. دايو لوی او باعظمته ځای و ځکه ((بکولانګو)) يا بغلان چې يو لوی ولايت پر دغه نامه يې شهرت تر لاسه کړی وٴ. ددې لوی باعظمته ومجلل عبادت ځاي دمرکز ختيځ لوزې ته پر غونډۍ کې وٴ. ډيرې زينې يې درلودې چې تقريبا (۷۰) پله پايې يې شمېرل شوي چې هر پته يې ۷ مټره عرض درلود چې د بغلان دجلګې له خوا دغونډۍ په لور جوړې وې. دخوشحالی په لويو ملي ورځو کې به دبغلان اوسيدونکيو حتی دلريوسيمو خلکو هم دالمبې ليدلای شواې او دلمبو په منځ کې به دکوشاني پاچا کنيشکا مجسمې له ډيرو لېرو سيمو څخه څرګندېدې.

هغه لوی ډبرليك چې له نومورې ځای څخه په لاس راغلي دکوشانيانو دعصر په يوناني رسم الخط ليکلی شوی او پردغه ډبره دوه ځله دکوشاني پاچا کنشکۍ دنامه يادونه شوې ده او له دې څخه پوهيدلاي شو چې دغه مقتدر امپراطور دهيواد دمختلفو مذاهبو اواديانو مرسته او ملاتړ خپله دنده ګڼله، او ددې عبادت ځاې په جوړولو کې مستقيم دخيل و. کنيشکا دخپل بودايي ديانت په لرلو او ديز ته په ځانګړې پاملرنه يې عبادت ځايونه ډير ښکلي او پرتمين کړي وو.

دافغانستان په شمالي برخه کې (بغولانګو) بغلان دخپل جغرافيائي پراخ مفهوم په لرلو دکوشانيانو دلومړی فرهنګي مرکز حيثيت درلود، او دعلمي هڅو په وجه دهرې ورځې په تيريدلو ددې سيمې دخاورو لاندې نوي شواهد راڅرګندېږي او په افغانستان کې چې دکوشانی دورې پر دوه زره کلن تاريخ کومه پرده پرته ده، هغه ورو ورو لرې کيږي.

۱۳۳۷-۶-۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

هخامنشيان اودتاريخ پرمخ دافغانستان خاورې

هرهيواد تاريخي، دمخه ترتاريخ،لرغوني (پروتوهستوار) داستاني اونيمه داستاني دورې لري، چې په هرې يوې مې څومره چې درادېو دخبرونو تاکلي وخت مناسبه کنډه رناڅولې ده.

اوږدې دورې، تاريخي،ترتاريخ دمخه درسم الخط اوليکنې دورې دي، چې زمونږ دهيوادليکلي تاريخ دارياياتودېوې قبيلې هخامنشيانو له کورنۍ څخه پيل کيږي.

اصلاً اريائي قبيلې چې هند ، افغانستان او ايران ته خپرې شوې دي يو وخت په شمال کې دامو سيند په اوږدو کې دسردريا او دخزر په څنډوکې يوځای اوسيدلې، او بيا وروسته له بيلابيلو لاروڅخه دجنوب پر لوري بنکته راغلي دي، چې دلويديځ پر لوري دزګروس له غرونو اوښتي اودختيځ پر خواداباسين ترڅنډو خپرې شوې دي. لويديځ لور ته له غير اريائي وګړو سامياتو (آشوريانو) سره اوهمدارنګه دختيځ پر لور داندوس پاسند پر لور له (دراويدي) وګړو سره مخامخ شول او ډيرې خونړۍ جګړې يې ترمنځ پيښې شوې . چې دلويديځ په جبهه کې (ماد) اريايانو د (اشوريانو) مقاومت مات کړ او ددې په تعقيب سره د (هخامنشي) قبيلې دايران جنوب پلو ته دفارس په سيمه کې ديو مقتدر سلطنت په جوړولو بريالۍ شوې، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ټبر موسس لوی (سیروس) یا (کوروش) وۀ چې دلرغونې زمانې دستروشخصیټونو اونابغه وو په ډله کې شمېرل کیږي چې پر "۵۵۰ م ز" واکمنی ته رسیدلی دی، او پایتخت یې بیا تر "۳۳۰ م ز" پورې ددوه سوه کلونو په اوږدو کې واکمني ترسره کړې چې دهغوي په ډله کې څو تنه (داریوش) او (خشایارشا) ډیر شهرت لري.

دهخامنشیانو دولت چې لومړی یواځې دفارس په ولایت کې محدود وۀ وروروو یې دختیځ اولویدیځ پر لور پراخوالی وموند .تر دې پورې چې دولایتونو شمیره یې له ۲۸ څخه واوښته اودپراخوالي ساحه یې دهغه وخت دځلورو نویو اومشهورو سیندونو لکه دانیوب ،نیل ، شیعون او جیحون ترسیمو یې پراخیټ وموندله اودغه وخت لومړنۍ اریایي اوتاریخي امپراطوري منځ ته راغله

تاریخي دوره یا دافغانستان راتول شوي تاریخ همدغه دایران دهخامنشي له کورنۍ نه پیل کیږي،ځکه چې ددې دورې په یو شمېر کانو کې دځینو ځایونو اودهمغو سیمو دخلکو او حتی دسترو شخصیتونو دنومونو یادونه په میخي خط شوې ده .... او دیوشمیر شخصیتونونومونه یو شمېر مطالبو سره دتاریخ زړه ته سپارل شوي دي،نو ویلای شو چې ۵۵۰ م ز کال اویاد شپږمې م ز پیړۍ نیمائي دافغانستان دتاریخي دورې پیل دی، اوتراوسه داسې کوم ډبر لیک چې ددې خاورې په تاریخي پیښو پورې اړه لري نه دي موندل شوي نو باید چې همدغه کال او همدغه زمانه دافغانستان دتاریخي دورې پیل وګڼو.

په دې کې شک نشته چې په دغه دوره او دغه زمانه کې دهندوکش شاوخوا سیمو کې ختیځ ، لویدیځ، شمال، جنوب پلو ته تول خلک آباد وو اوډیر زراعتي،معدني او حیواني پیداوار یې درلودل، خلکو یې دوخت وسله په لاس درلوده او په هر ولایت کې دقوم مشرانو او سردارانو واکمني درلوده او دغه تول څیزونه له یوناني او ایراني منابعو هخامنشي پاچاهان په باختریش (بلخ) هارموا (دهري رود حوزه) هراویتي (هر مندحوزه) زرنګا یادرانجیان (سیستان) تت ګوش (غرنۍ مرکزي سیمې) او ګندارا (ننګرهار او تول مشرقي سمت) باندې تر یو لړ یرغلونو وروسته واك وموند او ددې ولایتونو نوم او شهرت دهخامنشي امپراطوري په فتح شویو ولایتونو کې وشمیرل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهخامنشيانو داداري ډول ، څرنګوالی، دماليـاتو اخستل او نور ډير مطـالب مفصلې رسالې غـواړي، خو يوعمده ټکي دادي چې بيـا هم قومي او سيمه ايزو سردارانو په هر ولايت کې نفوذ او حکومت درلود چې استان بانو او ستاتراپانو به دهمدغو مشرانو په مرسته خپلې نائب الحکومتي دندې سرته رسولې.

ددې مقالې دليکلو اساسي مقصد دادی چې دافغانسـتان دخاوري دمختلفـو ځايونـو او مشـهورو شخصيتونو نومونـه او همدارنـګه ددې خـاورې ديـو شـمېر تـاريخي پيـښو شـرح پـه همدغـه د هخامنشـيانو پـه دوره کـې ليکـل شـوې، او دافغانستان دتاريخ ډولو نه له همدغه وخت نه پيل کيږي.

دولايتونـو دنومونـو لـه يـادونې دمشـهورو شـخصيتونو لـه کتنـې او دځانـګړو حيواناتو له ليدنې پرته دهرې سيمې خلك له خپلو سيمه ايزو جامو سره پر جمشـيد تخت يادهخامنشـيانو پر پلازمينـه پـه لويوتورې شويو مجسـمو کـې ثبـت او نقـش شوي دي.

دافغانستان په لرغوني تاريخ کې دهخامنشيانو دوه سوه کلنـه دوره دفرهنګ، معماری سبك مطالعه، ادب او هنر له نظره ډير ارزښت لري.

مونږ دفرهنګ او هنر پـه دنيـا کـې ډير څيزونـو پـه يونانـی دورې پـورې تـړو، داځرګنده ده چې ديونانيانو دوه سوه کلنه دوره حتماً پر ټولو هنري اوفرهنګي برخو اغيز لري، خو بايد هيڅکله تر هغې وړاندې دهخامنشيانو دوه سوه کلنه دوره هيره نکړو. ځکه چې ددې ډيرو فرهنګي، هنري او ادبي مسائلو پيل پـه هغـې دورې پـورې اړه لـري. دايراني يوناني هنر، آرامـي اوخروشـتي ليـك دود ،يوشـمير معمـاري سـبکونه دعمومـي لاروجـوړول،دلارو پـه اوږدو کـې دکـاروان سـرايونو دجوړولـو مفکـوره. داړيکو پراخول دبحري لارو پيژندل او نـور ډيـر مطـالب پـه دې دورې پـورې اړه لـري. بايد ووايو چې ديونانيانو ددورې پيل له همدې دورې څخه کيږي.

۱۳۳۸-۱۱-۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغلان

دافغانستان په شمال کې د کوشانیانو لومړنی اداري اوفرهنګي مرکز

دنړۍ څېړنوونکی او په ځانګړي توګه هغه چې په اسیا کې دنا څرګندو سیمو په اړه لږ ډیر معلومات لري، هغه ټولنه چې دمرکزي اسیاپه شمال دبیکران په لویو دښتو کې کوچیان یا دخیمو اوسیدونکي وو او دمسیح له وخت نه څو پیړۍ وړاندې خواره واره شوي وو چې د (سیت) او یاد (سیتي قومونو) په نامه یې یادوي.

مورخ دخپلو اوګاونډیو په فرهنګي او ادبي حلقو کې دغې ټولنې ته چې دمسیحیت له څرګندیدو څخه پیړۍ دمخه زمورخ دهیواد شمالي پولو بعنې دآمو دسیند خواوو ته رانژدې شوي وو د (تورانې) او (تورانیانو) په نامه یې یادولي شو.

هغه خلك چې مورخ یې تورانیان اوغربیان یې سیتې بولي دآس په سپرلۍ کې ډیر ماهر، غشي ویشتونکي، جنګیالي، کېږدۍ اوسیدونکي او دنورو ډیر صفاتو لرونکي وو چې (اوستا او هشنامي) پیژندلي ډیرو دغسې قومونو دژوند په بیلا بیلو دورونو کې مدنیت هم درلود چې نر ډیره حده یې دیرغل، ښکار اوسوارکارۍ جنبه خپله کړې وه، دزور او ځواك ترڅنګ یې سترتیا هم درلوده، دسروزرو ځینې څیزونو، نورو ګانو او دهغوي وسلو به دپړك وهلو په وجه سترګې بربښولې. دهغوي له قبرونو څخه چې معمولاً په ګنبدي ډول دخاورو له ډیرېو نه جوړ دي دزیوراتو، وسلو اوحتی په هغو ځایونو کې چې هوا ډیره سړه ده، لکه سائیبریاکې دبافت ځنې توټې او یو شمېر قالینچې چې اکثرا دآستونو دپلان په بڼه جوړې دي لاس ته راغلي

دي . دا ټولنه جوړه پر جوړه لکه :اسکايي، تخاري، کوشاني او نور وخت پر وخت له مختلفو لارو څخه داسيا له شمالي او شمال ختيځو برخو نه لويديځ لوري ته راغلي دي او يو شمېر يې زمونږ له هيواد سره موازي له سند دريا او آمو سيند څخه راتير او زمونږ په هيواد کې تيت شوی دي .

دچين دپخوانيو مورخينو څخه يو تن دوه پيړۍ دمخه ترميلاده د (لويديځ هيوادونه) په نامه يوکتاب وليکه چې دلومړي ځل لپاره يې زمونږ دهيواد په اړه ليکنه کړې ده او هغه دغه دسيتي قبيله يعنې کوشاني (يوچي) يادکړې او هغوي يې په وړو او لويو ويشلي دي. حقيقت دادی چې يوچيان هغه مهال په کوشاني نامه مشهور شول چې په لومړي قبل ميلاد پيړۍ کې له آمو راتير او په باختر کې ميشت شول، او بيا وروسته ترهغې چې له پنځو قبيلو څخه يوه چې (کوي شوانګ) نومېده پر څلور نورو غالبه او دوروستي يوناني باختري پاچا هيلو کلس ځاي يې وينو او د (کوشان) او (کوشاني) په نامه او صفت مشهور شول.

کوشانيانو دهندوکش په شمال کې ديونانيانې ځای ونيو(يوناني باختري) شاهان دهمدغه غړه جنوب لور ته دکاپيسا حوزه کې بګرام ته داوسني کابل شمال لور ته خپل سلطنت ټينګ کړ. کوشانيان ياخودهندوکش ستونزمنې لارې او يا دمينځنی او يا په بګرام کې ديوناني باختري ځواکونو دمقاومت او يا خو هم دځواکونو دلاړير والي په وجه دافغانستات په شمال کې دباختر په لويديزو برخو کې پاتې شول،او په مختلفو سيمو کې په ځانګړي توګه دبلخ اوکندوز ترمنځ يې دجنګی کلاګانو اوبارونو په جوړولو لاس پورې کړ.

چې داوسني بلخ دحصار په لاندې بنيادونو کې ديو لړعلمي هڅو په ترڅ کې د کوشانی دورې اثار ددې وينا ثبوت دي.

هغه څه چې زه غواړم په دې مقاله کې يې څرګند کړم هغه دهندوکش په شمال کې دکوشانيانو د اداري،ودانيز او فرهنګي مرکز بغلان پيژندنه ده.

په دې کې شک نشته چې ددې وينا ثبوت هغه مهال څرګند شو چې هلته په سره کوتل کې اورتون او عبادت ځاي کشف کړاي شو او مخصوصاً وروسته دکنيشکا او هوويشکادپر ليک له موندلو څخه چې په هغې کې لوی کوشانشا لوستل شوی داخبره لاثابته شوه چې دکوشانيانو دعروج ددورې يو لوې عبادت ځای په همدغه ځاي(بغولانګو) کې آباد و. بغولانګو دهمدغه بغلان پخواني نومېز

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکل دی چې اصله معنا يې د (اورمرکز) او (اور ځاي) دی او دخپل تاثير اوشهرت په وجه يې دټول ولايت نوم په همدغه نامه ونومول شو.

لکه څنګه چې دهڅو ،علمي څېړنو او يوناڅاپي کشفياتو نه اندازه لګيږي دکوشاني عصر دودانيزو اثارو شواهد دغه عبادت ځای او دې يوې نقطې ته لکه سره کوتل ځانګړي نه وو ، بلکه دغه ټوله پراخه ساحه لکه (غوري) (دهن غوري)، (بغلان) او (دهن شير) په برکې نيولې ده. دغونډيو او تپو دپاسه او په هوارو برخو کې چې اوس زراعتي ځمکې شوي دي په دغو ټولو کې دلويو کوشانيانودعصر دآبادۍ شواهد په پټ و څرګند ډول محسوسيږي.

په بغلان کې دغونډۍ دپاسه چې په تيرو وختونوکې (کافه ستاره) جوړه شوې يوه مجسمه په لاس راغلې دبغلان دبزکشۍ دميدان په هغه برخه کې چې دغونډۍ دپاسه دنندارچيانو لپاره ځاې هواريده دعقاب په بڼه يوه تورپل شوې مجسمه او نور څيزونه په لاس راغلی.

اودسره کوتل له تپې نه دوه کيلو متره لرې ختيځ لوري ته په هوارو زراعتي ځمکو کې يوه صفه چې له تيږو او خښتو جوړه شوې وه کشف شوې ده چې جګوالي يې (۱،۵۵ متره) اوږودوالی يې (۱۷،۵۰ متره) او پلنوالی يې (۱۴متره) دی. ددې صفې دپاسه يو شمېر پايې او دمجسمو ټوټې وليدل شوې چې دتناسب له مخې ويلای شو چې دغې مجسمو پنځه متره جګوالی درلود اوتر اوسه معلومه نه شوه چې داستنې په کوم منظور جوړې او په صفه کې ځاي پر ځاي شوي دي.

له سره کوتل عبادت ځای څخه ددوه کيلو مترو په فاصله ايسته لويومجسمو چې پنځه متره لوړ والی لري دبغلان کوشاني عصر ته ډير ارزښت ورکړی دی.

لنډه داچې داټول شواهدورو ورو تثبيتوي چې کوشاني پاچاهان دمخه تر دې چې دهندوکش سيمه يې بغلان ټاکلې وه، او په دغه ۶-۷ کلونوکې داسې شواهدلاس ته راځي چې ددې مفکورې ملاتړ کوي،دتاريخ دنياتراوسه دلويوکوشانيانو دژوند له فصل نه په هيڅ خبر نه دی او دالومړی ځل دی چې بغلان ته متوجه شول، په دغه وخت کې اودافغانستان په دغه نقطه کې دکوشانيانو دوړاندې وختونو عظمت او لويوالی تر سترګو کيږی.

۱۳۳۷-۱-۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبغلان ارزښت دلرغون پيژندنې له نظره

لرغون پيژندنې په دغه وروستيو پنځوس کلونو کې دکشفياتو او کيندلو په نتيجه کې څرګنده کړه چې په عمومي توګه دافغانستان خاوره دلرغونيو آثارو اوبيلابيلو دورو دخرابيو له نظره ډيره غني ده.

په دغو وروستيو پنځوس کلونو کې ددې هيواد په ځينو ځايونوکې څيړنې او کيندنې شوي دي او يو شمېر سيمو لکه هډه، بګرام،باميان بلخ، شترک، فندقستان، ککرک، ايبک، کندوزاونورو شهرت پيدا کړی او له هغو سيمو څخه کشف کړاي شوي آثار دکابل په موزيم کې موجود دي.

په دې کې شک نشته چې ددغو ټولو سيمو کشف کړاي شوي آثار دتاريخي اوفرهنګي دورو له نظره يوشان نه دي يوشمير آبادۍ چې هغه دبودائي دين عبادت ځايونه وو مشهور شوي، لکه هډه او باميان،همدارنګه په ځينو نورو ځايونو کې داسلامي مدنيت دآبادۍ يوشواهد لکه په غزني او لشکرګاه او هرات کې په لاس راغلي دي.

بغلان چې دلته يې په اړه لږ څه بحث کووهغه سيمه ده چې په دغه وروستيو کلونو کې يې ډير ارزښت پيدا کړی اوپه هغه شرح چې ورته دپاې ټکی ورکړو په حاضر دم وخت کې دلويو کوشانيانو په عصر کې دفرهنګ او آبادۍ له نبنو نبنانو سره ارتباط لري.

بغلان په حاضر وخت کې دهغې سيمې نوم دی چې دپلخمري شمال ختيځ لور ته يې ۶۰ يا ۷۰ کيلو متره مربع ځای نيولی دی اودې نوی ښارونه دپل خمري، بغلان صنعتي او بغلان اداري پکې جوړ شوي دي. تر ۵ کاله دمخه بغلان د همدغه مساحت په

لرلو چې يادونه يې وشوه دقطغن ولايت پورې اړوندو اودنويو اداري تشکيلاتو له مخې يو ځانګړې ولايت وپيژندل شو اواداري مرکز يې ديو لړتغيراتو اوبدلونونو څخه وروسته همدغه بغلان وټاکل شو او دموجوده قطغن ولايت اداري مرکز بغلان اداري يابغلان دی چې له هغو مهمو او ارزښتمندو کنډوالو څخه چې دچم کلا په نامه يادیږي .

داوسني بغلان جنوب لويديځ لور ته دغوري په نامه يوه بله سيمه لرو چې په داسې ډول دپلخمري کوچنی ښار ددې دواړو سيمو تر منځ پروت دی. له دهن غوري څخه دهغې لوې لارې په سر چې له غوري څخه دايبك تاشقرغان اومزار شريف په لور ورځي دخاورو اودبرو ديوې غونډۍ په څنډه کې چې په سره کوتل مشهور دی، فرانسوي لرغون پيژندونکی پلاوي ديوې لوی آبادۍ په کشفولو بريالی شول چې دلويو کوشانيانو په دوري پورې اړه لري.

دفرانسې دکيندلو او سپړلو دپلاوي مدير موسيو شلوم برژه دسره کوتل دکيندلو او نتايجو په باره کې مقالې خپرې کړې. خو لکه څرنګه چې سر کال په دغه ځای کې دکيندلو مرحله پای ته ورسيده پوښتنه پيدا کيږي چې راتلونکي کال به په کوم ځای او کومه نقطه کې دکيندلو اوسپړلو کارپيل کيږي؟

دبغلان په يوه برخه (سره کوتل) کې خو په ښکاره ډول يو عبادت ځای څرګند شوی دی خو ددوي د مجسمه جوړونې،معماری او په ځانګړې توګه دژيې او رسم الخط له ژورې مطالعې نه ثابتيږي چې دا ولايت داسيمه او دانقطه د لويوکوشانيانو پر وخت دمسيحي په دريو لومړيوپيړيو کې ډيره آباده او پر مخ تللې وه، نو ددغه ځای نورې کيندنې به دکوشانيانوپه عصر نوره ډيره رڼا هم واچوي.

په دې کې شك نشته چې دبغلان له سره کوتل څخه کشف شويو څيزونو کې هغه څه چې ډيرارزښت لري يو شمېر ډبرليکونه دي چې دافغانستان په هيڅ يوه نقطه کې داسې يوډبرليك نه دی کشف شوی چې دکميت له مخې له دې ډبرليك سره سيالي وکړي .

پوښتنه داده چې ايا په دغو کشف کړاي شويو ډبرليکونو کې داسې يو هغه شته چې دبغلان دنامه اصل او پخوانی ډول بغولانکو او بغلانګ نوم تري کشف شوی وي؟ هويوتن داکسفور له استادانو څخه متسرهيننګ په دې بريالی شو چې دبغلان دنامه پخوانی بڼه ولولي همدارنګه په يو بل ډبر ليك کې دکوشانيانو دلوې پاچا کنيشکا نوم دوه ځله لوستل شوی نه دی؟! هو بنايي داډبر ليك پخپله دکنيشکامربوط نه وي تر کومه چې فکر کوي احتمال لري دالیکنه په هوويشکا اويادلوې کنيشکا دکورنۍ په کوم غړي او

جانشين پوري اړه ولري. نوهغه څه چې بنه څرګنددي هغه څه دپاسه ۶۰ ډبرليکونه دي چې ټول په کوشانۍ دورې اوپه ځانګړي توګه په کوشاني پاچاهانو پورې اړه لري.

زمونږ دهيواد په تاريخ اولرغون پيژندنه کې ددې ډبر ليکونوپيدا کيدل چې ټول دلويو کوشانيانو په دورې پورې اړه لري ډېر ارزښت ور دي. حتی ويلی شو چې ددې کشفياتو ارزښت نه يواځې دافغانستان لپاره، بلکې دګاونډيوهيوادونوهند، ايران او ماوراء النهرلپاره هم ډېر دی.

ددې ډبر ليکونو په رڼا کې دکوشاني عصر له ژبې او رسم الخط څخه ورو ورو پرده پورته کيږي او کومه کومه ژبه چې په ذې ډبر ليکونو کې کارول شوې ده هغه سيمه ايزه لهجه ده چې اروپائي پوهانو دباختري يا بلخي ژبې په نامه نومولې ده او موسيو هيننګ باور لري چې دسره کوتل ددې ډبر ليک ژبه له خوارزمي، سغدي اوپارتي ژبې سره قرابت اونژدې والی لري.

ددې ډبر ليکونو رسم الخط يوناني دی چې دکوشانيانو په وخت کې يې پوره رواج درلود، دسره کوتل دکيندنې له نتايجو او په بغلان اونورو برخو کې تراموسينده دخاورو لاندې کتنو څخه ډېر داسې عوامل څرګندشوي دي چې دهغې له مخې ويلای شو چې دافغانستان له نورو برخو څخه دغې برخې دکوشاني عصر تمدن اوفرهنګ ډېر پراخوالی درلود.

په همدغه سيمه کې دسره کوتل په څير نورې غونډۍ هم شته چې ددې يرې پاملرنې وړ دی له هغې جملې څخه يوه هم (چم کلا) غونډۍ ده چې داداري بغلان په لس کيلو مترۍ کې د جمير دنهرشمال لور ته پرته ده. په اوسني وخت کې چم کلا دمربع په شکل يوه غونډۍ ده چې هره ضلع يې نژدې دوه سوه مترې اوږدوالی لري، او يواځې په جنوبي ضلع کې يې يوه ګرده وتلې برخه ليدل کيږي چې ددې غونډۍ کيندل به يې شکه دکوشانيانو په برخه کې ډېر معلومات راکړي، او پرته له دې غونډۍ نورې هم داسې شته چې له هغې ډلې نه يوه دآي خانم غونډۍ ده چې هغه بيا دآمو سيند خوا ته نژدې پرته ده او له هغه ځايه لوې دتيږو سرتاقونه موندل شوي دي نوطبعاً دکيندلو او څيړنو په نتيجه کې به دکوشانيانو او يونانيانو په دوره ډېره رڼا واچوي. نو ويلای شو چې بغلان او دهغه ځای دکوشانيانو او يونانيانو په دوره ډېره رڼا واچوي. نو ويلای شو چې بغلان او دهغه ځای کيندنې اوڅيړنې په افغانستان کې دکوشانيانو دعصر دتمدن دڅرګندلولپاره ډېر زياتې ارزښتمنې دي.

۱۳۴۱-۱-۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره کوټل نړیوال هنري باختري مقام ـ تثبیت کړ

پـر ۱۸۳۰ ز کـال یوشـمیر لویدیـز او ختـیز پوهـان دهنداوافغـان دخـاورو په پولـه دکـابل دسـیند پـه کوزنیـو برخوکـې (چې پـه حقیقـت کـې همغـه پخوانـي ګندهـاراده) پـه یـو نـاڅاپـي تـوګه دیـو نـوي هـنري مکتـب لـه شـته والـي سـره مخامخ شول چې هغه ته یې د (ګریـك وبودیـك) دمکتـب نـوم ورکـړ.

نومـوړی مکتـب دهنـدي دودیزواثـارو، سـبکونو او څیروبرعکـس نـوې څیـرې درلـودې، پـه هغوکـې دیونـاني هـنر نفـوذ او کـړه وړه ډیـر څرګنـد و، مشـهور فرانسـوي ختیـځ پـوه "فوشـه" پـه همدغـه نامـه دګندهـارایې صفـت موضـوع هم ورزیاتـه کـړه اود (ګندهـارګریك وبودیـك) پـه هـر ځای کـې شـهرت ومونـد او ددې هـنري مکتـب نـښې ننبنانـې ورو ورو پـه سـلګونو زرګونـو اودلس زره ګونـو پـه شـمېر دکـابل سـیند پـه اوږدو کـې دهندوکـش پـه غرنیـو سـیمو کـې دسـنددرود تـر غـاړو پـورې ومونـدل شـوې دکـابل، پیـښور اولاهـور موزیمونـو چـې ددې اثـارو مرکزونـه دي، ټول خلـك حتـی دعوامـو طبقـه یـې لـه دې اثـارو سـره اشـنا کـړه،دامکتـب د نـوم، صفتونـو، ځانـګړو مشـخصاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوجغرافيايي ساحې له نظره مشهور شو، خو له هغه وخت نه تر اوسه څه دپاسه يوه پيړۍ تيره شوه، مګر اصلي مبداء يې دپردې دننه پټه پاتې ده.

ددې څه دپاسه يوې پيړۍ په اوږدوکې بيلا بيلوختيز پوهانو نومورې موضوع ته مخه وکړه او ددې مکتب دپيل په اړه ډول ډول مفکورې اونظريات منځ ته راغلل چې په پاى کې دوه ډلې شوې او حتى په مقابله يې لاس پورې کړ. هغې ډلې چې فوشه يې په راس کې واقع وه وويل چې ددې مکتب په منځ ته راتللو کې دبحرالرومي دغاړو يوناني هنردخيل دى او دويمې ډلې چې دانګلوساکسن پوهان پکې راټول ووؤ په دې اړه يې دفوشه نظر رد کړ او زياته يې کړه چې دګندهارا دهنر په مبداء کې ديوناني رومي هغه هنر دخيل دى چې درومیانو په روم کې دامپراطورۍ په وخت يې دتجارتي تلو راتلو په مهال دختيځ په دې سيمه کې ترسره کړي دي، او بيا دانګريز(مسترويلز) دبګرام په آثارو ډيره اتکاء کوي او دګندهارا دمکتب په مبداء کې درومیانونقش قاطع ګڼي.

ددې دواړونظريو طرفداران په يوه خبره کې سره متفق دي،او هغه داچې پخپله باختر په هيڅ وجه دګندهارا دمکتب په تشکيل کې کوم اغيز او دخالت نه درلود او نه يې لري.

په سره کوتل کې کيندلو،ختيزو اودتيږو مجسمو اوپه ځانګړي توګه دکوشاني شهزاده ګانو ددېرين مجسمو ترکشفولو وروسته چې په يو ناڅاپي توګه يې ددواړو پلويانو په ادعاګانو دباطل کربنه رابنکله او دايې څرګنده کړه چې نه يواځې ددوي دادعاګانو پر خلاف دګندهارا دمکتب په تشکيل کې دخالت لري، بلکې ددې هنر او ددې مکتب مبداء باختري هنر دى چې هغه په صحيح توګه د دورو په ترتيب سره (يونان باختري) او(يونان کوشاني) دمکتبونو په نومو يادولای شو.

موسيوهاکن له دويمې نړۍ والې جګړې دمخه او په کندز کې له يوعبادت ځای نه دراپيدا شوويو آثارو وروسته چې دادهندوکش په شمال کې دمجسمې جوړونې لومړۍ نښې نښانې وې، دلومړي ځل له پاره پر ۱۹۳۶ز کال دانظريه رامنځ ته کړه چې دګريك وبوديك دمکتب مبداء بايد دهندوکش په شمال دباختر په سيموکې ولټول شي.

دامفکوره نورو ختيځ پيژندونکيو نه يواځې داچې په ارامۍ سره رد کړه بلکه بې ارزښته يې وګڼله، ترڅو چې په دې نژدې وختونوکې له سره

کوتل څخه نوي اوتازه نښې نښانې ومونډل شوې اوپه غوڅه توګه يې څرګنده کړه چې دګندهارا دهنر بنسټ په شمال کې دباختر له سيموڅخه دی.

دکوشاني له هغه مجسمو سره دسره کوتل دآثارو ورته والی چې دګنګا د (مات) او (ماتورا) په سيمو کې تردې وړاندې کشف شوې وو او ارتباط يې له هيڅ يوې هندي مدرسې يامکتب سره نه و، نودامفکوره پياوړې کوي چې کوشاني باختري هنر دمسيحي په لومړۍ اودويمه پيړۍ کې دومره پياوړی اوپراخه شوی و چې دآمو سيند له سيمې څخه ترګنګا پورې يې عمومیت حاصل کړی و چې دهغې تاثير په مختفلو هنري مکتبونو لکه دګندهارا په ګريک او بودايي مکتب باندې ثابت ؤ. په بل عبارت دګندهارا دګريک اوبوديک مکتب همغه دباختري کوشانيانومکتب دی چې بودايي دين او فلسفې ددين له نظره هغې ته يوه خاصه جنبه ورکړې ده او کوشاني امپراطورانو په ځانګړې توګه کنيشکا او هونشکا دنظامي قدرت او سياسي حمايت له نظره چې له مختلفو مذاهبو سره يې ترسره کړيدی، چې په هغه جمله کې دبودايي دين په باختر کې ديونان کوشاني هنري مکتب په پراخوالي کې پوره ګډون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کنیشکا عبادت ځای

په بودایي کیسو کي راغلي دي چې (کنیشکا) لکه دموریالوي پاچا (اشوکا) په څیر اتیازره خیریه او مذهبي ودانۍ ترخپل واک لاندې سیموکې جوړې کړې وې.

سره لدې چې داشمیره دمبالغې جنبه لري، خودکوشانیانو دلوی پاچا دپراخې آبادۍ په رابطه دهغه شوق، نیکې هیلې او اراده تري څرګندیږي.

لکه څرنګه چې کنیشکا دکوشانیانو ترټولو لوی او تر ټولو مقتدر پاچا دی (۱) نو خامخایې دخپلې واکمنۍ په دوره کې ډیرې پرتمینې او ښکلې ودانۍ جوړې کړې دي او لکه څنګه چې دافغانستان په دننه او دهند په شمالي برخو کې یې دخپل پراخ قلمرو په ساحه کې یي له ټولو مذهبونو او ادیانو څخه ملاتړ کاوه، نو دټولو مذهبونو او ادیانو لپاره یې عبادت ځایونه جوړول.

لومړنۍ ودانۍ چې په حتمي او یقیني توګه یې نسبت پخپله کنیشکا ته کیږي هغه دپیښور په علاقه کې دبودایي دین یوه لویه عبادتګاه وه چې دهغې استوپې دځلورو سوو قدمونو په شاوخواکې جګوالی درلود او ددې برینو لورو سوپو دپاسه په دیارلس طبقو کې له لرګي نه جوړه وه او ۵۸ کاله دمخه پر (۱۹۰۹) . کال دیو اوسپنیز صندق ترکشف وروسته چې دکنیشکا نوم اوصورت پکې ثبت دی،دلومړي ځل لپاره لومړۍ مذهبي

ودانی چې ددې لوي کوشاني پاچا له خوا جوړه شوې وه دعلم نړۍ ته وروپیژندل شوه.

وروسته له نژدې پنځو کلونو راپه دیخوا دادی دعلم نړۍ دیوبل خبر په اخستلو بریالۍ کیږي چې دایو بل عبادت ځای دی او داهم دکنیشکا په وخت کې جوړه کړای شوې او دهغه په نامه پورې تړلی دی،داودانی دبغلان له عبادت ځای څخه عبارت ده چې هغه (دبغلان عبادت ځاي)(دکنیشکا عبادت ځاي) او په نورو نومونو یې هم یادولی شو.

او په عامه توګه یې د(سره کوتل مزدك • په نامه شهرت ترلاسه کړی دی چې ما په دې باره کې پرله پسې مقالې دانیس په ورځپانه ، ژوندون او آریانامجلوکې لیکلی دی.

هغه لاسوند چې داوینا دهغې په اتکا لیکل شوې ده،عبارت له یوستر ډبر لیك څخه دی چې په یوه ناڅرګنده نیټه کې په باختر"بلخ" کې په یوناني لیك دود لیکل شوی دی او دوه ځله پکې دکوشاني پاچا کنیشکا دنامه یادونه شوې ده • سزه له دې چې تراوسه متاسفانه د ۱۵ میاشتو په اوږدوکې موسیو"ماریګ" بلژیکي متخصص چې نومورې دفرانسې دکیندلو دپلاوي غړی دی، ددې تاریخي سند په لوستلواوښپړه ژباړه بریالی شوی نه دی، خو ددې ډبر لیك دیوې یادوو کربنو لوستل څرګند وي چې دالویه ودانۍ دکوشاني کنیشکا په امر اوارادې جوړه کړای شوې ده، په دې ډبر لیك کې کنیشکا دفاتح پاچا په توګه یاد شوی دی او داسې څرګندیږي چې کله یې دعبادت ځای دجوړولو کار پای ته ورساوه، نو په خپل نامه یې ونوماوه یعنې کنیشکا عبادت ځای یې وبالله.

لکه څنګه چې مې وړاندې یادونه وکړه دکنیشکا نوم په ۱۹۰۹ کال کې دیو وړوکي اوسپنیز صندق پرمخ ولوستل شو چې دپیښور په عبادت ځای کې ومونډل شو،همدارنګه باید یادونه وکړو چې دکنیشکا نوم دهغې مجسمې پر لمن هم لیکل شوی دی چې ددهلي په جنوب کې د "ماتورا" په سیمه کې مونډل شوې او اوس د"ماتورا" په موزیم کې ځای په ځای ده خو هغه څه چې ډیر او په ځانګړي توګه دعبادت ځای دجوړولو له پاره څرګند وي،همدغه په بغلان کې دسره کوتل ډبر لیك دی چې دعبادت ځای او

• دکنیشکا رساله، ددې مقالو دلیکوال تالیف کړې اثر ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکنیشکا کیسې کوي. اودهغه په نامه يې شهرت درلود ، په همدغه مو هغه په دې مقاله کې چې زمونږ دځيرنو پيل دسره کوتل له کشفياتو څخه کيږي د "کنيشکا عبادت ځای" په نامه يادکړ.

لکه څرنګه چې په سره کوتل کې دکيندنو دکار وخت له يونيم کال څخه نه ډيريږي، اوتر اوسه په دوه درېيو علمي هڅو ډيرې نه دي ترسره شوي نو ځکه ديادې شوې مودې له معلوماتو پرته دکار دپای په هکله څه ويلای نه شو اوشايد ددې برليکونولوستل بيا ډير وخت ونيسي، خو اوس چې څه ليکو او وايو په ډير احتياط سره يې وايُو او مقصد ترې ديو لرغوني او ارزښتمن ځای له کشفولو څخه دعوامو او دراډيو افغانستان داوريدونکو خبرول دی، چې زمونږ دهيواد شمال ته دبغلان په ولايت سره کوتل کې چې دپلخمرې شمال لويديځ پلو ته په ۱۸ کيلو مترۍ کې پرهغه لويه لاره چې بغلان، سمنګان او مزارشريف ته تللې پريوه غونډۍ حتماً يوه ستره عبادت خانه وه چې له يوشمير ډبرليکونوسره کشف کړای شوه. او دهغې له مخې ويلای شو چې کوشانيانو په بغلان کې ډيرې آبادۍ درلودې او لوی کنيشکا ديوې غونډۍ دپاسه په خپل نامه يوه ستره عبادت خانه جوړه کړې وه.

۱۳۳۷ -۸ -۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکنیشکا مجسمه

دافغانستان دمختفلو کورینو دپاچاهانو له جملې څخه له پخوانیوزمانوڅخه تر اوسه یواځې دیوې سلطنتي کورنۍ مجسمې لرو چې له هغو څخه دلوی کوشانشا (کونیشکا) نامه په څرګنده دمجسمې په لمن کې لیکلې شوې ده.

کوشانیان په عام مفهوم دکوچي قبائلو او دمرکزي آسیا دصحراګشتو په توګه چې کله دآمو سیندحوزې ته راننوتل او مخصوصاً وروسته تر هغې چې دلومړي ق م پیړۍ په اوږدو کې باختر ته راغلل ، نو یوناڅاپه له یوې زرخیزې اوزرو مدنیت لرونکې خاورې سره چې داوخت دیونانیانو له تهذیب اوتمدن نه ډیره متاثره وه، مخامخ شول

کوشانیان په باختر کې تر میشت کیدلو وروسته ددې ځای له خلکو سره یوځاې شول او هغه څه چې په دوی کې دیادونې وړ دي ځانته دخلکو راوړونه او له ځان نه نورو ته انتقالول دي لکه چې په فرهنګي،دیني او هنري برخوکې یې وښودل.

کله چې کوشانیانوپه باختر کې استوګنه غوره کړه نه یواځې له یوناز باختري څخه یې اداره او واکمني واخسته، بلکه ټول مدني ،هنري او

فرهنګي کړه وړه يې په خپله خوښه ومنل او دهغو دپرمختيا او پياوړتيا له پاره يې ډيرې هڅې ترسره کړې.

ديولړ څيړنو په ترڅ کې چې په "کوشانشهر" او دکوشانيانو د امپراطورۍ په نورو سيمو کې له امو سيندنه تر ګنګا پورې منځ ته راغلي دي،پرته له سکه يې اثارو څخه يوشمير مجسمې په (سره کوتل ((بګرام)) ، ((پيښور)) او ((ماتورا)) کې ترلاسه شوي دي، چې په هغو کې ديوشمير شهزاده ګانولې تصويرونو اومجسموسره پخپله دامپراطور کنيشکا تشخيص هم کولای شو.

دي مجموعې ته که پاملرنه وشي،څرګندېږي چې دکوشانيانو کورنۍ دخپلو تصويرونو او مجسمو نمايش ته چې هغه هم په ولاړه اومخامخ بڼه وي (نه داچې په نيم مخ) ډيره علاقه مندي درلوده

دادود او سليقه دغور او پاملرني وړده، ځکه چې ديونان باختري واکمنو يواځې اثار په لاس کې لرو چې سر يې څرګندېږي اوکه کله يې هم نيمه تنه په کوم ډول سکو کې کيندل شوي وي، نو بيا به يې خامخا يوخوا مخ څرګندېږي او دهيڅ يوتن يونان باختري پاچا انځور په سکوکې ولاړ ليدلی شوی نه دی. خو ددې برعکس کوشانيانو چې په افغانستان او هند کې يې ددوی ځايونه نيولي دي په سکو اومجسمو کې ولاړ ښکاري.

کوشانيانو چې ددين، ژبې او الفبا په بلنه کې هيڅ ډول تعصب څرګند نه کړ، دخپل لباس په ساتنه کې يې ډير تينګار درلود او داخبره دهغوي په مجسمو، مذهبي مجلسونو او سکو کې مشهوره ده.

په افغانستان کې دلومړيو مسيحي پيړيو په اوږدوکې ددوی کړه وړه ، څيړې او دجامو دتصور له نظره دهغو برش ډير په زړه پورې دی.

دکنيشکا مجسمه چې په لمن کې يې دهغه نوم هم کيندل شوی دی، څوکاله دمخه دګنګا په حوزه (ماتورا) کې کشف شوی او دامجسمه چې پر يوه ګلابي رنګه تيږه جوړه ده په پوره قد ليدل کيږي، دهمدغې مجسمې په ډول نورې مجسمې په سره کوتل کې هم تر لاسه شوي چې هغه هم په پوره قد بلکه له طبيعي قامت نه لوړه ده ، خومتاسفانه چې کوزنۍ برخه يې ماته شوې او ورکه ده ددې مجسمې نسبت ددې له پاره چې ليکنه نه لري او مجهوله ده، کوشاني شهزاده ګانو ته شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابنکلي مجسمه چې متانت، استوار والی او دزشتي څرګندیږي دلمنې په لوړو ژورو کې یې ګلدزوي په مرواریدوسنګار کړې او دکوڅیو په څیر ول ول لوی کمیس نه یې شاهانه سترتیا له ورایه څرګندیږي.

د (ماتورا) په مجسمه کې دکنیشکا په بنې لاس کې درنه توره په داسې حال کې لیدل کیږي چې دتیکې څوکه یې ددواړو پښو په منځ کې دهغه فرش په مخ لیدل کیږي چې دپاچا مجسمه پرې ولاړه ده.

دهغه نویو هڅو په رنا کې چې له سره کوتل څخه په دې وروستیو کې په شمال دآمو سیند په حوزه کې د (بغلان) او همدارنګه دهندوکنګا په حوزه کې دماتورا ترمنځ دکوشانی په دوره کې خاص ارتباط موجود و او دهمغه شان عبادت ځای چې یې دهندوکش په شمال کې دخپلې سلطنتي کورنۍ له پاره (ماتورا) کې یې هم جوړ کړی و، او دکوشاني شاهانو مجسمې په ځانګړي توګه دکنیشکا مجسمه چې ددې کورنۍ یو قدرمن واکمن و، په دواړو ځایونوکې ځای پر ځای کړای شوې ده.

دسلنطنتي کورنۍ دمقام اوموقعیت په ساتلوکې دشاهي مجسمو جوړولو او دتوږلو مفکورې ډیر ارزښت درلود، دهمدغې مفکورې له مخې شاهي کورنۍ او په ځانګړي توګه کوشانشاه دمجسمو په جوړولو کې ډیره هڅه کړې ده او دهمدغې مفکورې عملي کول ددې سبب شوی دی چې د ۱۹۰۰ کلونو په اوږدو کې ددې لوی پاچا دمجسمو ننداره کوو.

۱۳۳۹-۱-۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه استوپه چې بنسټګر یې کنیشکا دی

له اسلام نه دمخه دافغانستان په تاریخ کې دلویو کوشانیانو کورنۍ چې دمسیح(ع) دوخت له پیل نه یې را په دې خوا دري پیړۍ په افغانستان کې واکمني کړې، نسبت ټولو سلطنتي کورنیو ته ډیر شهرت لري.

دکوشاني کورنۍ پاچاهانو پرنومونو دکنیشکا نامه ډیرې ورانګې لونلي، سره له دې چې ددې لوی پاچا په اړه تاریخي حقایق لا نبه څرګند نه دي. خوله دې سره سره یې دنامه هنګامه ډیره لوړه ده او دیو پاچا اویوامپراطور په توګه یې پر یوپراخ قلمرو واکمني درلوده چې لمنې یې داکسوس (آموسیند) له غاړو څخه ترجمنا دهند تر زړه پورې پراخوالی درلود.

سره له دې چې دهغه له سکو څخه په څرګنده بریښي چې کنیشکا دهغه وخت(لومړی او دویمې مسیحي پیړیو) په اوږدوکې په افغانستان کې ټول مروج ادیان آزاد پریښي وو او ټولو ته یې احترام درلود، خوبیا هم هغه دبودایي عبادت ځایونواو استوپو بنسټګر،لارښود او مینله وال بولي، تر دې پورې چې هندیان یې دمذهبي چارو له نظره دموریاکورنۍ له اشوکا سره اودمسیحي دین پلویان یې له کلودیس دفرانکس له پاچاهانو سره پرتله کوي.

ټول په دې پوهیږو چې په افغانستان او په ځانګړي توګه دبلخ اودکندهار په نیمه ختیزه کرښه کې په سلګونو بودایي عبادت ځایونه شته چې تر اوسه لالرغون پیژندونکي دهغوټولو په پیژندنه بړیالي شوي نه دي او دادحیرانتیا ځای نه دی چې ددیرو عبادت ځایونو او مذهبي ودانیو

نسبت دکوشانیانو لوی پاچا کنیشکا ته کیږي. البته په دغه نسبت ورکوټو کې ډیرې ولسي کیسې او عنعنوي روایات برخه لري مګر سمدلاسه باید ووایو چې په غالب باور دا کیسې تر اسلام دمخه پخوانۍ ریښې لري او بیا لرغون پیژندونکیو په ځینو برخو کې دې کیسو ته ریښتینې بڼه ورکړې ده.

هغه څه چې ډډیرې پاملرنې وړ دي هغه دا چې په هرځای کې یې ډیرې ودانۍ لویه استوپه یا لویه مجسمه لیدل شوې او یا یې پاتې شونې لیدل شوي دي دهغو ټولو دجوړونې نسبت دکوشانیانو لوی پاچا کنیشکا ته ورکوي، یاداسې ووایوچې له بلخ نه تر ایبک ،بامیان،بګرام، هډه ،پیښور او تر کزیلاو مات اوماتورا پورې یعنې دامو له سیند نه ترجمنا پورې په ټولو سیمو کې دبودایې سترو ودانیو نسبت همدغه پاچا ته کوي.

ایا په پیښور کې یې څو فوټ جګه اولویه استوپه نه وه جوړه کړې ؟ او په اوومه عیسوي پیړۍ کې چینائي ګرځنده هیوان تسنګ هغه نه ده لیدلې او دهغې په اړه یې دکیسو نقل نه دی کړی؟ اوبلاخره هغه فلزي صندق چې دوړې استوپې بڼه لري او دهمدغې استوپې په کنډوالو کې کشف شوی دکنیشکا صورت او نوم پرې انځور شوی نه دی؟!

همدغه چینایي ګرځند له بامیانو څخه دتیریدلو په وخت نه دي ویلې چې هغه لویه استوپه چې په ازاده هواکې د ۳۵ متره مجسمې ترڅنګ موجوده وه پاتې شونې یې اوس هم په کروند وکې شته دیوپخوانې پاچا په امر جوړه شوې ده؟! او داپخوانۍ پاچا یې داټکل له مخې کنیشکا نه دی ښودلی؟! ایادسره کوتل عبادت ځای دکنیشکا په عصر کې نه دی جوړ شوی او هغه لوی ډبر لیک چې له هغه ځایه په لاس راغلی دوه ځله دکنیشکا دنوم یادونه پکې نه ده شوې ؟

ددې روایاتو، کیسو او حقیقتونو په اساس چې لاس ته راغلې څرګندیږي چې امپراطور کنیشکا دمذهبي عبادت ځایونو په جوړولوکې ځانګړې پاملرنه درلوده او دده په لویه امپراطورۍ کې ډیر شمېر عبادت ځایونه دده په اراده او امر جوړ شوي دي. یوه له ډیرو لویو استوپو څخه چې په ځانګړي توګه دکنیشکا په استوپه شهرت لري همدغه دتوپ درې استوپه ده چې دهغې په باره کې مې تردې دمخه یوه مقاله خپره کړې ده، او په چاریکارو کې ددوه درېیو سوه مترو په فاصله سرک ته نږدې واقع ده،

چې په دې نژدې وختونو کې يې تر خپلې استوپې پورې نوی سرک هم جوړ کړای شوی دی.

دکنيشکا لـه خواددې استوپې دجوړونې په رابطه،چينائي ګرځند هيوان تسنګ هغه وخت چې يوه مياشت يې دبګرام پهلوان غره کې د (شترک) په پوزه دچنيانې يرغملو په عبادت ځای کې استوګنه درلوده، يوشمير داستانونه اوريدلي دي چې لنډيز يې دلته تشريح کوو. اوناشونې نه ده چې داداستان به په ګلبهار کې دکوم عبادت ځای په اړه وي.

دکاپيسا(بګرام دکيشکا داوړې پلازمينه) شمال لويديځ لور ته د پغمان د واورين غره پر څوکه يو ډنډ او په هغه ډنډ کې داوبودمارانو پاچا ژوند کاوه ، يوه ورځ ديوبودايي راهب ديوشاګرد په بنيرو ناروغه او مړ شو، دهغه تر مړينې وروسته دهغه ځای بل ونيو. دويم پاچا له روحانيونوڅخه دانتقام په خاطر تول داوبو ماران سره راټول او باد او باران ته چې دهغه په واک کې وو امر وکړ ترڅو باد ، باران او سيلاب هغه عبادت ځای چې دغره په لمنه کې اباد ؤ وران کړي.

داوخت امپراطور کنيشکا دايوناڅاپې باد او باران ته حيران شو او دعلت پوښتنه يې وکړه، خو کله چې داوبو دمارانو (ناګا) له مداخلې څخه خبرشو نو په دې هڅه کې شوچې دغره په لمن کې يوه لويه استوپه او عبادت ځای چې سل فټه جګوالی ولري، جوړکړي، نوسمدلاسه يې معمار او نوره امله او کارګران هغه ځای ته واستول او هغوي په کار پيل وکړ، مګر هر څومره چې به يې جوړ کړ دمارانو پاچا به وراناوه، تر دې پورې چې شپږ ځله يې هلته آبادي وکړه او دمارانوپاچا هغه شپږ ځله ورانه کړه.

په اووم ځل کنيشکا امپراطور پخپله دلښکر سره دغره سر ته وخوت او امر يې وکړ، چې دمارانو دپاچا ډنډ ډک کړئ داوخت ناګا دمارانو پاچا ديو (برهمني) په بڼه ځان جوړ کړ او پر لاره دپاچا مخې ته ودريد او په عذر يې ورته وويل چې دمارانو له پاچا سره له مقابلې نه تير شه، خو پاچا عذر ونه مانه او بيايې ډنډ ډکولو امر ورکړ، لږ ساعت وروسته يوډير شديد طوفان او سيلې راغله، باران پيل وکړ باد دونو شاخونه مات کړل، سيلابونه راغلل نزدي و چې اسونه، پيلان او عسکر په مخه کړي لکه څنګه چې کنيشکا يو مذهبي پاچا ؤ، يوناڅاپه يې داوراد په ويلو پيل وکړ

اوخپل نیك او حسنه اعمال به یې شفیع کول او له ډیره قهره د اور لمبه ګرځیدلی ؤ.

داوخت (ناګا) دمارانو پاچا ددې منظر تر لیدلو وروسته باد او باران ودراوه، او بیا دیو زاړه برهمني شخصیت په بڼه پاچا ته ودریدا او وې ویل :

زه داوبو دمارانو پاچا یم اودې ته حاضر شوی یم ، چې دپاچا داطاعت کړې په غاړه کړم، پاچا یې عذر ومانه او تر هغې وروسته دمارانو پاچا ورته وویل چې ماران په فطري ډول بد ذاته دي هسې نه چې خود خواهي او سر کشي ته مې بیا راکاږي نو په دې وجه زه دپاچا له حضوره غوښتنه کوم چې که چیرته دغره په لمن کې بیا د عبادت ځای دجوړولو اراده لري نو لوي زنګ دې په پلازمینه "بګرام" کې جوړ کړي، هر کله چې کار کوونکیو دغرونو پر سرو وریځ لیده نو زنګ دې وهي چې زمونږ ملاقات وشي او مخرب کسان په ورانکارۍ لاس پورې نه کړي، کنیشکا لوې زنګ په بګرام کې وځړاوه،او کله به دزنګ غږ دغرونو په درو کې انګ واخیست کارګارنو به په کار پیل وکړاو دغره په لمن کې دپلازمیني لویدیځ لوري ته یې لوې عبادت ځای جوړ کړ.

دالویه استوپه همغه دګل دري استوپه ده چې اوس هم ۷۵ متره یې دمنځنۍ برخې اوږودوالی دی او خامخا یې ۱۰۰ فوټه یعنې ۳۵ متره جګوالی درلود او لکه په بامیانو کې دبودا دلویومجسمو په څیر مجسمې هلته شته چې په افغانستان کې دبودا دوخت دلویو مجسمو له ډلې څخه شمیرل کیږي. له بګرام څخه دهغه ځای اتن ۱۲ کیلو متره او له چاریکارو څخه ۳ کیلو متره دی

ددې کې یې په اساس چې وشوه چینائي ګرځنده هیوان تسنګ هغه په خپله کنیشکا ګڼي او دماخذ په وجه نومورې استوپه دکنیشکا داستوپې په نامه یاده شوې او مونږ هم کولای شو چې دتوپ دري استوپې ته دکنیشکا استوپه ووایو او داخلي اوخارجي ګرځند ویان او پوهان یې لیدلو ته وهڅوو.

۱۳۳۷ -۴- ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديوناني اوباختري هنري مکتب

يوناني او کوشاني سبک

له دويمې نړيوالې جګړې څخه دمخه يوې روسي ميرمنې (مدام تره ور) د (يونان اوباختر صنعت) په نامه يوکتاب خپور کړ چې په هغه کې ديو سلسله هغو اثارو په استناد چې دمرکزي اسيا له بيلا بيلوځايونو څخه ترلاسه شوي وو دلومړي ځل له پاره يې دهنر په نړۍ کې يوځانګړی مکتب د (يونان اوباختري مکتب) يا (ګريک وبکتريان) ثابت کړ،خو دلويديځ پوهانو دې اثر ته چندان توجه ونکړه او دنومورې ميرمنې نظريه په ځای ددې چې ورته پاملرنه وشي غلې پاتې شوه.

لکه څرنګه چې دهنر په دنيا کې دافغانستان ددې ښکلیو او ښايسته صنايعو شتوالي ځانګړی ارزښت درلود ، نو ځکه دافغانستان دتاريخ په دويم ټوک يوناني اوباختري څپرکي کې اود (ګريک او بوديک) بيايونان او بودائي صنعت په څپرکي کې ورته ځانګړی ځای ورکړی شوی دی.

دسره کوتل کيندنو چې په ډيروبيلابيلو تاريخي، ادبي او هنري برخوکې يې ډير پخواني افکار تازه منځ ته راوړي دي نو دهنر ددنيا په پيل کې دافغانستان اوګاونډيو هيوادونو مختلف مکتبونه اوسبکونه راځي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانوي څيزونه دي چې دهغو په منځ کې د (يونان اوباختري) او دغانګړي سبك (يونان او کوشاني) څرنګوالی يې د ډيرې پاملرنې وړ دی.

دباختر زړې پخوانۍ سيمې اودامو دسيند سيمې دتاريخ دمخه مدنيت او دکيسو اوداستانونو ددوري دبنسټونو له مخې دهخامنشيانو او يونانيانو انځور ګرۍ او معمارۍ ته يې لورتيا ور وبخښله.

سکندر ته يوناني افکارو دروم بحر له غاړو څخه دختيځ زړه ته لاره ومونډله او ديونانيانو دوه سوه کلن سلطنت دايراني او سيمه ايزې باختري او يوناني عناصرو سره په ګډون او مرکب صنعت (ايران يوناني) او (يونان باختري) دهندوکش په شمال کې منځ ته راغی، وده يې وکړه او وغوړيده چې ديونان باختري بنکلې او زړه وړونکې سکې يې پيژندنه او بيلګې دي.

کوشانيانو چې په افغانستان کې ديونانيانوځای ونيو، لکه څنګه چې يې ديوناني ژبې له الفباء څخه دباختر ژبې په ليکنه کې کار اخسته، همدارنګه يې دبيلابيلو نظرياتو دعبادت ځايونو چې دسيمه ايزو بيلا بيلو نظريو چې اور پرستې او بودائي واکمنو کورنيو دنمانځنې له پاره تړې کار اخستل کيده دودانيو په جوړولو کې يې له يوناني باختري سبك څخه اغيزمن شوي وو په نتيجه کې تولې هنري جوړونې،هيکل تراشۍ ، معمارۍ اودنقاشۍ ډير سيکونه منځ ته راغلل چې هغه بايد د (يونان اوکوشاني) يا (کوشاني او باختري) اويايواځې کوشاني وبولو.

ديونان اوباختر هنري سبك د (يونان کوشاني) له فرعي سبك سره او دهيواد له هغه پراخوالي سره چې له اکسوس (اموسيند) څخه تر اندوس د(سند رود) او ګنګا تر حوزې پورې رسيده نور هم پراخوالی ومونډ.

ډيردقت او پاملرنې ځای دی چې څوکاله دمخه په جمنا (ماتورا) او د (مات) په قريه کې چې ورته نژدې واقع ده، دلوې کوشاني فاتح امپراطور کنيشکا لويه دتيږې مجسمه ومونډل شوه او په دې لړ کې يوشمېر غوره مجسمې هم په لاس راغلې.

دامجسمې په ځانګړي توګه توربل شوې وې چې معمولا دلويديځ هنر پيژندونکي يې د (ګريك او بوديك) يا (يونان او بودايي) مشهورې مدرسې ته اړوند بولي، مګر په دې نه پوهيدل چې څرنګه داځانګړی سبك په يوناځاپې توګه دجمنا په حوزه کې منځ ته راغی.

په سره کوتل کې دمجسمو ترکشف وروسته په (ماتورا) کې دکنیشکا د کشف شویو شکمنو مجسمو له مخې له مجهولو حقایقو پرده پورته کړه اوپه یوناڅاپي توګه څرګنده شوه چې دلویو کوشانیانو په عصر کې یوهنري سبك په دوه لیرې پرتو برخو دامو سیند په حوزه او دجمنا په حوزه کې پرمختیا او پیا ورتیا موندلې ده.

داسبك همغه د ((یونان اوکوشاني)) اویادکوشاني باختري سبك دی چې اصلا دیونان اوباختري یوه فرعي څانګه ده او دکوشانیانو په څانګړي توګه دامپراطور کنیشکا په دوره کې منځ ته راغلې او پراخوالی یې موندلی دی چې دګندګا په حوزه کې د (ماتورا) دمجسمه توریني او دسره کوتل یابغلان سبك چې سر چینه یې دیونان باختري مدرسې داساساتوله مخې طرح شوی وه. دګریك اوبودیك مکتب چې د لویدیځ یوشمیر هنر پیژندونکیو به یې کله مبداء له یونان او کله هم درومیانو له ختیځ سره دسوداګرۍ راکړې ورکړې په مناسبت له روم سره ګانه، ملتفت شول چې باید اساسات یې دایران یوناني او یا په افغانستان کې دیونان باختري په مکتب کې ولټوي. په حقیقت کې دګریك او بودیك دمکتب پیلامه نومورې مکتبونه دي چې په څانګړې توګه یې دبودایي دین دخدمت له پاره څرګندویي کړې ده او په هغې کې دافغانستان دکوشانیانو او کوشان اوباختري سبك مهمه اواساسي ونډه لري.

۱۳۲۹-۴-۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان دګريک اوبوديک

مجسمه توږني مکتب

هر هغه چاچې دکابل او پيښور دموزيمونو محتويات په غور کتلي دي، په دې پوهيږي چې ددې دواړو موزيمونو دمجسمو او هيکل تراشنو لويه برخه د هنروسبک په لحاظ دګريک او بوديک دهيکل تراشنې دمکتب په نامه يادېږي. لکه څنګه چې څرګندېږي دانوم يو ترکيبي نوم دی چې له دوو ځانګړوعنصرو (ګريک) او (بوديک) يا (يونان) او (بودايي) څخه منځ ته راغلي دي.

د ګريک اوبوديک صنعت لکه څنګه چې يې دنوم او ترکيب او وضعې نه څرګندېږي هغه هنري مکتب دی چې ددوه روحونو دتماس په اثر، ددوه فرهنګونو په جوړښت، ددوه تهذيبونو په ترکيب، ددوه عقيدو په يوځاي والي، اوپه يوټاکلي ځای کې ددوو سلسله يزو افکارو له جريان څخه منځ ته راغلې دی دګريک اوبوديک دمکتب روش له داسې صنعت څخه نمايندګی کوي چې هغه ترکيبي دی چې بودايي مذهبي افکار ديوناني هنر له روح سره ديوځای والي په نتيجه کې دافغانستان د خاورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهندوکش په دووخواوو کې زیږیدلي دي، روزل شوي دي او ددې ځای داوسیدونکیو داستعداد له مخې منځ ته راغلې دي.

ددریمې او څلورمې پیړۍ په اوږدوکې چې سکندر مقدونې ختیځ لور ته په فتوحاتو لاس پورې کړی و په ځینو هیوادوکې له مقابلو سره مخامخ شو دهغوله جملې څخه په هند کې ورسره عکس العملونه وښودل شول، په افغانستان کې یوشمېرجریانونه منځ ته راغلل چې دنوو هنري اومذهبي نظریاتو راپیداکولو یې ژور او دوامدار اغیز رامنځته کړ چې دهنري مکتب دپراختیا او پرمختیا له نظره یې دوه عامله دپام وړ دی.

(۱) دیونـاني روح خپریدل.

(۲) دبودایي دین خپریدل.

تاریخي پېښې شاهدي ورکوي چې له ختیځ اولویدیځ څخه دادوه فکري جریانونه دمدیترانې له چاپیریال اودهند له زړه څخه نړدې په یو وخت کې یو دبل په مقابل کې راغلي دي او دواړه زمور هیواد افغانستان په خاوره کې مخامخ شوي دي تول په دې پوهیږو چې د سکندر له فتوحاتو وروسته دیونان مستقل دولت دیونان باختري په نامه دهندوکش په شمالي برخو کې د (۲۵۰ م ز) په شاوخواکې تاسیس شو،اودهمدغې زمانې په شاوخوا کې دهندموریائي دولت دنومورې غره په جنوبي برخه کې فتوحات ترسره کړل او بودایي دین له ګندهارا نه نیولې دارغنداب ترحوزې پورې خپور اوتیت شو. دادوه فکري،تهذیبي، مذهبي او هنري جریانونه په دوو ځانګړو یادو شویو ځایونو کې محدود پاتې نشول بلکې په متقابله توګه یودبل په ځای کې خپاره شول، لکه چې بودایي دین دبکتریان سیمه سراسر نیولې او لیك دود او دبودایي هنر روح دګندهارا اودکابل درودخانې په سیمه کې خپور شو.

سره له دې چې په دې وخت کې دافغانستان اوسیدونکیو خپل دین، فرهنګ اوهنر درلود ، دپورتنې جریان تراغیزې لاندې راغلل دلیك دود او هنر په لحاظ دهندي بودایي عقایدو څخه اغیزمن شول او په کومه اړه چې یې اقتباس کړی و په خپل ځان کې یې تحلیل ،تجزیه او ترکیب کړ، نو نتیجه یې داسې شوه چې ددې هیواد اوسیدونکیو له یوځای نه روح او له بل ځای نه قالب اخستی دی او خپل مشخص هنري مکتب یې منځ ته راوړی دی چې نه هندی و او نه یوناني مګر ددواړو مشترکه بڼه یې درلوده

او همدامشترکه بنه ده چې دمسیح له وخت نه دوه پیړۍ دمخه اودوه پیړۍ وروسته دافغانستان دظریفو صنایعو د (ګریك اوبودیك) دمکتب په نامه یادیږي اودبدلونونو په رامنځ ته کیدو یې لمنه دوه درې پیړۍ نوره هم اوږده شوې ده.

معمولا افغانستان داسیا ځلور لاره اودمدنیتونو او فرهنګونو دیوځای کیدلو ځای بولي داصفت یوځل بیا د (یونان باختري) دهنري مکتب دپیداکولو په مورد کې رښتنی بولي.

ددې بهیر په یادونه کې یو بل ټکی دډیرې پاملرنې وړ دی او هغه دادی چې دادواړه فکري جریانونه او دواړه هندي اویوناني تمدنونه یوځای ددې له پاره نه وو یوځای شوي چې ددواړو له یوځای والي اوتماس څخه دې دیونوي فرهنګي او هنري تمدن درامنځ ته کیدلو سبب شي، بلکه ددې خاورې موقعیت او ددې هیواد دهنر مندانو استعداد دنوي مکتب دپیداکیدلو اصل سبب شول.

ټول په دې پوهیږي چې دیوناني باختري پاچاهانو هغه سکې چې په افغانستان کې مهر پرې کیندل شوی دصورت اوښکلا له نظره ترهغو غوره دي چې پخپله په یونان کې جوړې شوي دي. او داهم څرګنده ده هندي بودایانو د (سانشي) معبد یا عبادت ځای په شهادت چې داسیمه بمبئ ته نژدې ده دهیکل تراشنې په صحنه کې یې دبودادنمایش ورکولو جرئت کولی نشو.

او دسمبولیزم له روش یعنې نښنو او علایمو څخه یې کار اخیست او دبودا نمایش دلومړي ځل لپاره په انساني شکل کې په ګندهارا کې عملي کړی شو، پر دغه ترتیب یوناني اوهندي چې په لومړیو وختو کې او په خپلو خاورو کې څنګه وو هسې به وو، خو کله چې دا روح اوقالب دافغانستان دهنر مندانو لاس ته ولوید په رښتیا چې دخپل قابلیت او مهارت له مخې یې نوی څیز منځ ته راوړ چې واقعا غوره او ځانګړې بڼه یې درلوده.

په افغانستان کې دهنر تاریخ ددارنګه اقتباساتو او ترکیبونو ډیر مثالونه لري او زمونږ دهیواد جغرافیائي موقعیت ایجابوي چې هلته باید مدنیتونه په ټماس کې وي، هوهغه څه چې دپاملرنې وړ دی هغه په اصل کې دافغانستان دهنر مندانو خپل استعداد دی چې تر اقتباس وروسته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل فرهنګ له دود سره یوځای او له هغې څخه یې نوي فکري او هنري مکتبونه او مدرسې منځ ته راوړې.

که چیرته هغو زرګونو مجسمو ته چې یواځې په هډه کې کشف شوي دي، دقت وشي نوپوهیدلی شو چې په یوعبادت ځای کې دزرګونو بنکلیو مجسمو جوړول دیو یادوه تنوکار نه دی، په دې کې سلګونواو زرګونو ماهرو کسانو لاس درلود چې دومره ډیرې دحیرانتیا وړ مجسمې یې منځ ته راوړي دي.

په هر حال دګریک اوبودیک مدرسه یا دیونان بودایي مکتب دپخوانې افغانستان دهیکل جوړونې اوهیکل تراشنې هنري مکتب دی چې دوه پیړۍ دمخه ترمیلاد اودوه پیړۍ وروسته تر مسیح یې دهندوکش په دواړو خواوو کې رواج او پرمختګ درلود چې تر اوسه یې دکمیت او کیفیت په لحاظ دهډې له ستري غونډۍ نه نښې ننبانې په لاس راځي.

۱۳۳۷-۴-۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسره کوتل کتيبې پر ډبرينو خښتو يوناني توري

څه موده کيږي چې دهندوکش په شمالي برخه کې دسره کوتل په نامه ځاي کې کيندنې اوڅيړنې ادامه لري، هغه څوك چې په افغانستان کې دلرغون پيژندنې دڅيړنې په تاريخچه کې وارد وي پوهيږي چې له ۱۹۲۳ کال څخه تر ۱۹۵۰ کال پورې چې دهندوکش په شمالي برخو کښې هر څومره پلټنې وشوې نو په ځانګړي توګه دباختر په پراخه سيمه، دبلخ دښار په کنډوالو او چاپيريال کې يې ترسره شوې لکه څنګه چې تړې هيله کيږي داسې کوم څيز په لاس رانغی ځکه چې اووه کاله دمخه دباختر لمر خاته پلوته دبغلان ولايت دپلخمري جنوب لويديځ خواته په ۱۷ کيلومتری کې چې کومه سيمه واقع د ه دهن غوري يې بولي اوهلته بياد (دهن شير) په علاقه کې دسره کوتل پر غوندی لوی اورتون (اتش) ګاه له نورو ابادیو سره يوځاي په مفصله توګه کشف کړای شوه او دپلټنو لړی يې لادوام لري.

پدې کې شك نشته چې د ۷ کالو په اوږدوکې له يوې نقطې څخه ډيرې خاورې رادیخوا شوي او دابادیو بيلابيل ډولونه لکه اورتونونه، احاطه شوي ځايونه حجرې ديوالونه او برجونه، زينې او دحيواناتو دمجسمو توټې او نور په لاس راغلي دي چې په مجموع کې داټول په يولړ مهمو تاريخي مسايلو رڼااچوي.

نور ډير څيزونه چې تر لاسه شوي هغوی کې يو شمېر کتيبې هم شته سرخ کوتل په افغانستان کې لومړی ځای دی چې هلته دکتيبو يادبرليکونو په کشف بريالي شوي يو.

په سرخ کوتل کې چې لومړی ډبر ليك ومونډل شو هغه ډېرو په خښتو ليکنې دي چې يوه يادوه دانې يې دمخه تردې چې په غونډۍ کې دکيندلو کار پيل شي دغونډۍ دلمنې دپاي په برخه کې دسرك نر خوا په لاس راغلي دي او همدغه خښتو دلرغون پيژندونکيو پاملرنه ځان ته راواړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته دکار په جریان کې پنځه خښتې نورې هم په لاس راغلې چې مجموعا اووه خښتې شوې، نن ورځ همدغو اووه ښکلو خښتو چې په یوناني لیک دود پرې (توري) لیکل شوي دي دسره کوتل دکیندلو عجائب تشکیلوي.

دهرې خښتې پرمخ درې توري نقش دي، خو لکه څنګه چې دخښتو اصلي ترتیب ګډ وډ شوی دی نو ځکه یې اصلي شمیره هم نه څرګندیږي چې څو عدده به وو، نو په همدې دوه لاملونو یې فعلا لوستل معطل دي او دحروفو دڅرنګوالي او یا نورو مطالعاتو کار په دې باره کې ځنډیدلی دی.

په سره کوتل کې دویم ډبر لیک دیواهکي جنس ډبرې په تخته باندې دیوشمیر حروفو څخه عبارت دی چې رنګ یې سپین زیړ ته نږدې دی او داډبره ددې اورتون داور له ځانګړې کوټې څخه په لاس راغلې ده.

ددې ډبرې مخ منځنۍ برخه لږه تورتل شوې څرګندیږي او دافرضي پایې یې درلودې او لکه څنګه چې ددې ډبرې دپاسه اجاق وړاندې وروسته شوی، نو ځکه یې تورتلي ځایونه څرګندیږي، په هر حال ددې ډبرې دپاسه هم اووه توري کیندل شوي دي. اوداډبر لیک ناتمام پاتې شوی دی، اونابشپړ تیاییې له دې څخه څرګندیږي چې دکیندل شوو تورو په امتداد دنورو تورو شکلونه هم په خارجي خطوطو څرګندیږي اوکیندونکي یا حکاك دحك کولو یا کیندلو له پاره وخت نه دی پیداکړی.

دسرخ کوتل دریم ډبر لیک ددواسې یوې ډبرې په مخ لیک دی چې دعبادت ځای په منځ کې دداخل جنوبي خواته کشف شوی دی او نظر ډډبرو خښتوته اوهغه تخته کاڼي ته چې وړاندې یې یادونه وشوه په مفصله توګه لیکنه لري چې دحروفو ټوله مجموعه یې دري کرښې کیږي.

موسیو کوریل دفرانسې دکیندنو دپخوانې پلاوي غړی چې په سره کوتل کې دکیندنو پر مهال پخپله هلته موجود و، دخپل نظر څرګندونه کوي اووایي چې ډډبر لیک ټول توري یوناني دي، مګر له کومې ژبې څخه چې کار اخستل شوي هم یوناني ده اوهم دباختر یوه سیمه ایزه ژبه ده چې هغې ته کولای شو (کوشاني) اویاهم تخاري ژبه ووایو.

دنومورې څیړونکي دنظر له مخې ډډبر لیک ددرې کرښو له جملې څخه دریمه کرښه یې یوناني ده اوپه هغې کې په څرګنده دیواسم خاص

تشخیص شوی په لاندې بڼه به یې تلفظ کړو داخاص نوم چې په جمله کې استعمال شوی په لاندې ډول یې تعبیر اوترجمه کولای شو.

(دپالامد په مرسته) (دپاملرنې په وجه) (دپالامد په کوښښ) دانه څرګندیږي چې د (پالامد) په نامه یوناني شخص معمار دی او که اجاره دار اویاهم په دې برخه کې یې کوم ماموریت درلود، لکه ناظم،ناظر او یاهم متولي باشي چې دمعماری کارونویې تر پاملرنې لاندې تر سره کیدل.

له دې ډبر لیک څخه څرګندیږي چې یونانیانود کوشانیانو تروخت پورې هم په ځینو کارونو کې دخالت درلود.

ددې مضمون ددوه نورو کرښو ژبه دباختر دناڅرګندې نیتې سیمه ایزه ژبه ده چې سمدلاسه یې (کوشانی ژبه) ګڼلی شو اوکولای شو چې دتخاری په نامه یې هم یاده کړو دادهغو ژبو له ډلې څخه وه چې دمسیحي په لومړۍ پیړۍ کې دبغلان په سیمو کې دود او معموله وه.

له سره کوتل نه څلورم کشف شوی ډبر لیک ډیر لوی او په مفصله توګه په یوې لویې هوارې ډبرې لیک شوی چې اوږدوالی یې یو متر اوشل سانتي عرض یې ۸۰ سانتي دی او دکرښو شمیره یې ۲۵ او په هره کرښه کې له ۴۰ څخه تر ۴۵ توري لري، دادډبر لیک چې له سره کوتل څخه وروستی راوښتل شوی ډبر لیک دی ۱۱ میاشتې دمخه دغونډې له لاندینۍ برخې څخه په لاس راغلی او ټول دکوشانیانو دعصر په یوناني حروفو لیکل شوی دی ددې ډبر لیک ژبه او هویت تر اوسه معلوم شوی نه دی، مګر ډیر باور لري چې ددې لیک هم ددریم ډبر لیک دوروستیودوه کرښو په څیر سیمه ایزه کوشانۍ یا تخارۍ ژبه وي،یعنې یوه دباختر یا بغلان سیمه ایزه ژبه وي دلوی کوشاني امپراطور (کنیشکا) دنامه پکې دوه څله یادونه شوې ده.

ددې ډبر لیک له موندل کیدو راوروسته ژر پیژندونکي او ختیځ پوهان دهغې په مطالعه بوخت دي او مورږ سترګې په لار یو چې په حل به یې بریالي شي او هر کله چې یې دژباړنې متن خپور شي دابه دافغانستان دفرهنګ او ادب په تاریخ کې دیوې نوې صفحې زیاتوالی وي.

۱۳۳۷-۴-۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان دروحانيونو له خوا په

چين کې دبودايي دين تبليغ

په افغانستان کې دبودايي دين تاريخ په کتاب کې ددې هيواد دبودايي علماوو تبليغ اوفعاليت دچين په خاوره کې يوه لويه او څليدونکې صفحه نيولې ده.

داصفحه نظر له ليکنې رابطې، ددين او فرهنګ په خپريدلو، دهنر او څرنګوالي له نظره اودچين،افغانستان ترمنځ دکلتوري اړيکيو له نظره ډير ارزښت لري او تر کومه ځايه چې زما په ياد دي ماپخپله په چين کې وليدل چې چينايان هغو ته له مورې نه لرې ارزښت نه ورکوي.

په دې کې شك نشته چې په هندوستان کې بودايي دين دشپږمې م ز پيړۍ په اوږدوکې څرګند شو اودموریاکورنۍ په وخت او په ځانګړي توګه داشوکا په زمانه کې دهندي مبلغينو له خوا دافغانستان په جنوبي برخه کې دارغنداو درود ترسيمې پورې خپور شو او چهل زيني سره نژدې داشو کا دډبر ليك کشف دانظر يه په قطعي توګه ثابتوي چې له اشوکانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته دغه دين څه دپاسه يوزر كالهٔ په افغانستان كې دود و او افغانستان په خپل وار سره دبودايي دين يو ډير فعال او ډير مهم مركز وګرځيد او دې فعاليت دكوشانشاهانو په دوره كې ډير شدت اوپراخوالي وموند.

لكه څرنګه چې دافغانستان لويوكوشانيانو دخپلې خاورې دپراخوالي لپاره په سنګيانګ،طورفان اوختن كې دپاملرنې وړ هڅې وكړې، همدارنګه يې دبودايي دين دتبليغ له پاره هم ډيرې هلې ځلې ترسره كړې، دبودايي روحانيونو ډلې ډلې كاروانونه به دافغانستان له سرحداتو نه ورتيريدل اومركزي اسيا ته او له هغه ځايه دګوبي صحرا خواته دچين څينو برخو ته اوله هغه ځايه وړاندې د (جاوا) په استقامت او ختيځ لور ته داقصى شرقي لورته اوهمدارنګه شمال لور ته دمنګوليا په لور وړاندې لاړل او دبودايي دين دتبليغ له پاره يې هڅې ترسره كړې.

كه چيرته په تاريخ كې ددې هڅو پاڼې واړول شي نودبوشمېر بودايي عالمانو اوپوهانو له نومونو سره به چې هغه دګندهارا، كابل كاپيسا، باميان اوبلخ دي،مخامخ شو چې په څانګړې توګه ډلې ډلې سل كسيزې او زركسيزې ډلې دتبليغ له پاره وتلې دي او دچين په سنګيانګ وتركستان څخه پخپله دچين له لور وړاندې تللي او دبودائي دين دتبليغ له پاره يې هلې ځلې تر سره كړي دي.

دچين پخوانى كيسې او روايات په هغه سيمه كې دچينائي دين دخپريدلو زمانه دمسيحي دلومړۍ پيړۍ منځنى وخت بنيي داروايات په دې باوري دى چې وروسته له هغې چې جنرال (پان چاو) دكاشغر په سيمه كې په فتوحاتو بريالى شو، نوله بودايي عبادت څايونو څخه يې مجسمې له څانه سره چين ته يورلې، كله چې دچين له لويديزې برخې څخه يو شمېر مبلغين دبودائي دين دتبليغ له پاره راوستل شول، نو لكه څنګه چې داوخت كوشانيانو په افغانستان اوګاوندیو هيوادونو كې واكمني درلوده نو ځكه تصميم ونيول شو چې دچين دخاقان په غوښتنه يوشمير مبلغين هلته واستول شي وايي چې لومړى ځل دوه تنه مبلغين چې چين ته واستول شول.يوتن يې (كوبهارانا) نومېده چې اصلا دګندهارا اوسيدونكى و.

دلومړۍ پيړۍ په پاى او ددويمې پيړۍ په اوږدوكې (چې دامپراطور كنيشكا دواكمنى له وخت سره سمون خوري) چين ته دمبلغينو ورتللو ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library

شدت ومونـد او پـه ډيـر شـمېر بـه ورتلـل، تـاريخي منـابع شـهادت وركـوي چـې په چيـن کـې دمبغلينـو فعـاليت ورو ورو پـه مـخ ولاړ تـر دې پـورې چـې يويـل تـن چينـائي امپراطـور (تسـن) نـه يـواځې بودائـي ديـن ومانـه، بلکـې پـر ۳۳۵ کـال يـې دبودايـي دين درسميت په هکلـه پـه چيـن کـې رسـمي فرمـان صـادر کـړ. پـه دې وخـت دګندهـارا اوکـاپيسـا دعلمـاو ډيـر فعـاليت څرګنديـده. دافغانسـتان روحـانيونو نـه يـواځې دبودائـي ديـن دخپريدلـو لـه پـاره هـڅه کولـه، بلکـې دمعبدونـو يـا عبـادت ځايونـو پـه جوړولـو کـې يـې هـم ډيـره برخـه اخيسـتله اوپـه چيـن کـې يـې دمذهبـي اثـاروترجمې اوخپريدلـو پـه برخـه کـې ډيـرې هلـې ځلـې کولـې، لکـه چـې پـه چينـائي مـاخذونوکې ددې ابـاديو اوددې ترجمـو خـاطرې دليدلـو وړ دی.

۱۹-۱-۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

خروشتي ليک دود

تر کومه ځايه چې دپخوانۍ افغانستان دادب او فرهنګ په تاريخ کې ځيړنه ترسره شوې څرنګه چې په لهجو او ژبوکې (چې ډيره برخه يې هند اواروپايي اوهند اريايي اوهمدارنګه هند او اريانې ده) ډيرښت موجود و، نو ډير ليکدودونه هم معمول وو چې دهغوي په چاپيريال کې نسبتا لږه ځيړنه اومطالعه شوې ده.

په دې کې شک نشته چې په لرغونۍ افغانستان کې دليکدود ژوره او عمومی مطالعه دهيواد دټولو جغرافيايي ساحو له لټون سره لازم او ملزوم ده ترڅو چې يوشمېر اثار که هغه دځمکې پر مخ وي او يا ځمکې لاندې ومونډل شي او دايو وروستنی او اوږد کار دی چې دوخت په تيريدلو به انکشاف وکړي، لکه چې په دې وروستيو کلونو کې دکشف شويو ډېر ليکونو ډيرې خبرې مو تر غوږ کيږي او هيله لرو چې دلرغون پيژندونکيو داعلمي هڅې چې په تاريخي او ادبي برخه کې يې ترسره کوي، ډير بريالیتوب يې په برخه شي.

يوله هغوليکدودوڅخه چې له اسلام دمخه دوروکې يې رواج درلود (خروشتي) ليک دود دی چې ددريمېم ز پيړۍ له نيمايي څخه تر څلورمې او پينځمې پيړۍ پورې يې ۷-۸ سوه کاله دوام کړی دی.

معمولا پوهان په دې عقیده دي چې د (خروشتي) لیك دود اصل او مبداء د (ارامي) په نامه یوبل لیکدود و چې دپیداکیدو اوتحول د څرنګوالي شرح یې د (سومریانو) دلومړي عصر میخي لیکدود ۳۵۰۰ دمخه تر میلاده او هغه بدلون چې پکې فنیقانو، کلدانیانو او اشوریانو منځ ته راوړي دایوه بیله موضوع ده چې کار پرې نه لرو اودارتباط له مخې همدومره باید ووایو چې (ارامي) لیکدود ۷ یا ۸ /۹ سوه کاله دمخه تر میلاد ختیځ اولویدیځ یعنې ایران او هند له خوادافغانستان خاورې ته رانوت. پاتې دې نه وي چې په عمومي ډول په ایران، افغانستان او هند کې چې کوم لیکدودونه دود شوي دي مبداء یې همغه ارامي لیکدود دی، یوبله عقیده هم شته چې (ارامي) لیکدود له ۴-۵ م ز پیړۍ راپه دې خوا دهغه عصر له منشیانو سره چې یې یهودي او ارمني وو دافغانستان په خاورو او زمور په هیواد کې رواج موندلی دی.

په هر حال سمه خبره داده ارامي لیکدود چې هخامنشي عصر دیوان او رسمي دفترونو ته یې لاره ومونده له او عام شو په افغانستان کې دفتري او اهل قلمو په دې رسم الخط کې یو څه بدلونونه راوستل او په نتیجه کې ددریمې م ز پیړۍ په نیمایي کې یونوی رسم الخط منځ ته راغی. لکه څرنګه چې د ((خروشتي)) لیکدود مبداء او دپیداکیدلو ځای افغانستان و او دلومړي ځل لپاره ددې لیکدود نمونې له افغانستان څخه په لاس راغلي نو په علمي ټولنو کې د ((اریائي رسم الخط)) ((باختر اوبالي)) ((باختر او هندي)) ((کندهاري)) شمال لویدیځ رسم الخط اودخروشتي په نومونویې شهرت پیداکړ اوبالاخره دپوهانو اوژب پیژندونکیو په منځ کې د ((خروشتي)) په نامه مشهور شو اوپه علمي حلقو کې دکندهارا په نامه ډیر ښه شهرت لري.

خروشتي لیکدود د ((ارامي)) په څېر له بنې خوا څخه چپې ته لیکل کیږي دهغې علت دحروفو نیمګړتیا وه . خروشتي لیکدود په علمي طبقو کې چندان دود نه و، بلکې په دیوان اودفترونو کې دکسب ګرو، سوداګرو اوعامو خلکو ترمنځ ډیر دود و ، همدارنګه په اوقافو او دقبرونو په کانو به استعمالیده، وړاندې مووویل چې دخروشتي لیکدودلومړنی نمونې په افغانستان کې تر لاسه شوي دي اومعمولا دپیاوړتیا اوپراختیا ساحه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهندوکش جنوبي برخه اوډيره اندازه دجنوب ختيځ سيمه او تر ټولو ډير په ختيځ کې دکندهارا سيمې ته متناسبه ده.

همدارنګه يې شواهد د نومورو غرونودشمالي او جنوبي برخو دلرويو له استوپو اوله هډې، بګرام، جلال اباد، بلخ، بامیان اوردګو څخه موندل شويدي.

خروشتي ليکدود تر ميلاد دمخه په دريمه پيړۍ کې منځ ته راغی اوپه پينځمه مسيحي پيړۍ کې له منځه ولاړ چې په دې حساب يې اووه سوه اوډير تر ډيره اته سوه کاله دوام وکړ. يواځنی واکمن چې له خروشتي ليکدود څخه يې په خپله سکه کې کار اخستی دی يونان باختري پاچا ((دمتريوس)) دی چې دهند په فاتح شهرت لري لکه چې له باختر څخه دهندوکش جنوب پلوته يې دواکمنی لمن پراخه شوه پخپله هم راغی او له هغه ځايه يې دواکمنی لمن تر کندهارا او بيايې له هغه ځايه دسند رود تر غاړو پورې پراخه شوه، نو ځکه يې ددې لکيدوددرواج اړتيا محسوس کړه. نومورې واکمن دخپلو سکو پر يومخ يوناني ژبه او ليکدود اوپر بل مخ يې خروشتي ليك دود استعمال کړی دی، طبيعي خبره ده چې سيمه ايز ليکدود معمول او دختيز هندوکش جنوب پلوته هم پکار شو پوهان پرته له دې چې په جزئياتو کې ورداخل شي هغه يې د (پراکريت) په نامه ياد کړی دی چې دپيژندګلوی صحيح ټاکنه يې لاتر اوسه نه ده شوې په هر حال دنته اصلي مقصد دخروشتي ليکدود په چاپيريال کې بحث کول دي او داسې معلوميږي چې باختري پاچا ددې له پاره چې خپل هويت او نوم او نښان خلکو ته لانبه معرفي کړي علاوه پر يوناني ليکدود دافغانستان له سيمه ايز ليکدود څخه يې هم کار اخستی دی او دخپلو سکو پر شا يې دلومړي ځل له پاره خروشتي ليکدود استعمال کړی دی وروسته له هغه څخه ډيرويوناني او باختري واکمنانو اسکائي کورنيو او ترځنګ يې لويو کوشانشاهانو لکه فنيرسينو، کنيشکااوهوويشکا هم همدا رويه او لاره تعقيب کړه دخروشتي ليکدود اثار له پنجاب او حتی له ((ختن)) څخه هم په لاس راغلي دي مګر ډير يې داسې ګڼي چې دختن ډبر ليك اصلا په ګندهارا کې ليکل شوی او وروسته له هغې هلته ليږدول شويدی.

دخروشتي ليکدود اثار اوډبر ليکونه تر اوسه پورې د (بيماران) له قريې ،هډې او دوردګو له ((خوات)) ، جلال اباد، بګرام ،بامیان او بلخ

څخه په لاس راغلي دي. چې دموندنې شرح او دليکنې موضوع يې څانګړې مطالعه غواړي.

له دې سره سره خروشتي ليکدود پر ډبرو، فلزي لوښو، پر سکو پر خټينو لوښو، پر پوستکو اونورو شيانو دپاسه ليدل کيږي. پرفلزي لوښودحروفو دليکلواصول عموما دنقطو دتسلسل په بڼه ليدل کيږي. پر فلزي لوښو معمولا ليکنې يې په کرکيچ ياددورمي دقلم په واسطه او يا هم دلرګي په قلم په تور رنګ شوې دي.

خروشتي ليکدود دخپلو اتوپيړيو په عمر کې دافغانستان په فرهنګ، ادب او تاريخ کې مهمه ونډه درلودلې ده او ژوړې مطالعې ايجابوي، اودهيواد د ادبي تاريخ دپراوونو په روښانولو کې هيره په زړه پورې موضوع شمېرل کيږي.

۱۳۳۷-۴-۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلخ کوچنی شاهي بنار

(شاه واران) یا (راجاګریه)

بلخ دتاریخ په اوږدوکي دخپل اوږده او افسانوي تاریخ په لړلو چې پیل یې دتاریخ له بریدِ او حد نه پورته داټکل په لفافو کې ،شاعرانه خیالاتو اوخیالي داستاني تصوراتو کې نغښتی او په ډول ډول نومونواوبیلابیلو صفتونو یاد شوی دی، چې هر یو یې دتاریخ دیوې دورې یادګار او دیو عصر تهذیب ژبه او دین دی.

بلخ په ډیر لوي صفت "دښارونو مور" یاد (ام البلاد) په نامه یادشوی دی. دبشر دپخوانۍ روزګار او پخوانۍ وخت درک پکې لرو چې ددې بنار داوږده عمر زړې خاطرې پکې لکه درنا په څېر شغلې وهي.

اریایان دخپل روزګار په لومړي تمدن کې همدې ځای ته ورسیدل او ((بلهیکا)) یې دخپل ژوندانه لومړۍ زانګو جوړه کړه (موجي دیګر) له همدغو اریایانوڅخه وو چې ډیر یې بنار اوسیدونکي او بزګرشول چې پر (بخدي) یې لوړ بیرغونه ورپورته.

هخامنشیانو چې دلومړۍ اریایي تاریخي شاهنشاهۍ بنسټ په (پاستارګاد) کې کیښود. دابنار یې، په خپلو ډبرلیکونو کې د (باختر ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نامه یاداوه او یونانیانو مخصوصاً سکندر مقدوني هغه د (بکتر) او (بکترا) په نامه وباله .

که له یوې خوادابنار په پخوانیو ژبو (ویدي او اوستا) کې د (بلهیکا) او (بخدي) په نومونویاد شوی له بلې خوا په منځنیو ایراني ژبو پهلوي او بله یې له پیړیو را په دې خوا هیره شوې (بلخي) چې تازه راڅرګند شوې ده (باخل) یا (بخل) او (بهل) یادوي، اوبلخ ددوه زره کاله دمخه اوسیدونکیو منقلب شوی نوم دی چې د (بخل) تحول په (بلخ) دانظریه په اسانۍ سره څرګندوی.

زمونږ بلخ د تاریخي اودخیالي ښار په یو شمېرصفتونو لکه ((بلخ ګزین)) ((بلخ الحسنا)) ((بلخ بامي)) هم مشهور دی اود((بامیك)) کلمه چې په پهلوي ادبیاتوکې یې یادونه شوې ده دځلیدونکي، له نوره ډك او پرك وهونکي معنا لري.

دبلخ دښار یوصفت (شاه واران) دی چې دادبي لغوي ترجمي له مخې یې (شاه وران) یا (شاهوار) یا (شهوار) هم لیکلی شو. او په اسانه توګه هغه د (لایق شاه) او (سنراوارشاه) په بڼه ژباړلی شو مګر اصطلاحي معنایې څه بل ډول ده چې هغه باید دشهر کوچك شاه یعنې (دشاه وړوکی ښار) یا شهر کوچك شاهی (دشاهي وړوکی ښار) وژباړو.

د (شاه واران) اصطلاح داسلامي دورو ددري ژبې د ادبیاتو په تاریخ کې راغلې ده او که چیرته داوي چې په اصلي او واقعي توګه یې پیدایښت ومومو، نو باید دبودایي دورو فرهنګ او ادب ته مراجعه وکړو.

کله چې داومې پیړۍ منځنیو کلونو کې چینائي کتونکي (هیوان - تسنګ) دجیحون له رود نه تیریده دلویدیز ترکانو کورنۍ پر تخارستان چې بلخ یې یوه برخه وه واکمني درلوده اومرکز یې کندز یا (کهندژ) و چې په چینایي لهجه (هوو) باندې یادشوی. ځکه چې ترك چیني خان دکندز واکمني د (تاتو) په نامه او د(شهه) په صفت یاده کړې ده چې مقصد یې د(شاه) کلمه ده چې دادخیرنې له مخې په بلخي ژبه کې موجوده وه او ترکي شهزداه یې په سیمه ایزه ژبه کې (تاتوشه) باله.

په کندز کې دچیني کتونکي داوسیدلو پر مهال دحرم دننه تحریکات چې ختیځ یې بیلګې ډیرې په خاطر کې لري، ترکې شهزاده نومول کیږي او بل شهزاده یې په ځاې واکمن کیږي اوبیا هغه وخت له چیني کتونکي نه غوښتنه

کوي چې د (راجاګريه) يعنې د "شاهي ورځې بنار) ليدلوته ولاړ شي داورځې شاهي بنار او دا (راجاګريه) همغه دبلخ بنار وٴ چې دعلماوو اوبودايي عبادت ځايونو په لرلو دبودايي دين دپلويانو په وړاندې ديو مقدس ځای حيثيت پيداکړی و او تر دې حده دتولو په نظر کې بناغلی وٴ چې دکندز شهزاده نه غوښتل چې چيني کتونکي دهغه ځای دکتلو پرته ستون شی.

په دې وخت کې دبلخ بنار ښې پرتمينې ودانۍ او په سلګونو عالمان او پوهان درلودل چې دشهرت ګنګوسيو يې داسمان فضا نيولې وه، دامهال بلخ هر څه درلودل خودعبادت ځايونو او پوهانو په حلقو پورې اړوند وو.

له اسلامي دورو څخه دمخه "راجاګريه" (شاهي ورځوتی بنار) او داسې نور ډير صفتونه داسلامي دورو په تاريخ او ادبياتو کې منعکس شوي دي، لکه څنګه چې مو وليدل دغه انعکاس د (شاواران) په بڼه څلا کړې ده او په حقيقت کې د پراکريت په دري ژبه ددوه کلمو ترجمه ده چې په هغې کې د(شاه) کلمه د(راجا) په ځای اود (واران) يا (وار) کلمه د (ګريه) په ځای راغلې ده.

د (واران) په کلمه کې "وار" داحاطې، کلا او حصار په معنا هم راغلی دی، او د(شاه وارأن) په ترکيبي کلمه کې د (شاوبهاره) آهنګ هم اورو چې دشاهي معبد ياعبادت ځای معنا ورکوي.

۱۳۴۰-۱-۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوبهار معبد(عبادت ځاي)

يا - ناوايهارا

دافغانستان داسلامي ، بودايي او دزرښتې دوري تاريخ کې دنوبهار معبد ډير مشهور عبادت ځای دی. ددې معبد شهرت په افغاني آثارو کې ،دغربي، پهلوي او دسانسکريت په ژبو کې ليدل شوی دی. او دا ټول ماخذونه تري په يو ډول بحث کوي.

دافغانستان د دري ژبې په بيلا بيلو مواردوکې تري يادونه شوې ده که هغه په نظم کې ده او که په نثر کې او دافغانستان شاعرانو او ټولوليکوالانو يې له دقيقي بلخي څخه راوروسته يادونه کړې ده.

يوه ټبروتنه چې دختيځ پوهانو اوافغاني پوهانو ترمنځ رامنځته شوې ده او هغه هم وروسته اصلاح شوې ده هغه دنوبهار دعبادت ځای تعلق له زردښتي يا) مزديسنا) سره بنيي او حال دا چې د (نوبهار) معبد يا عبادت ځای له آتش پرستې دين سره کومه رابطه او اړيکی نه درلود او اصلاً دبلخ يو ډير مشهور بودايي معبد يا عبادت ځای و.

دنوبهار معبد دپخواني افغانستان په خاورو او ګاونډيوهيوادونو لکه چين، هند اوايران کې ډير شهرت لاره.همدا رازچيني او عربي ماخذونو يې هم يادونه کړې ده.

په دې کې شك نشته لکه څنګه چې فرانسوي ختيځ پيژندونکي موسيو فوشه وايي چې دنوبهار دمعبد ياعبادت ځائ به يې (نوی معبد) باله او داصفت تر هغې

پوري چې ترڅو دامعبد رنګ او په کنډواله بدل شو دخلکو لـه خولـې ونـه لـوپده خو په دې هیڅ نه پوهیږم چې کله جوړ شوی او ددې بنسټګر څوک وؤ ؟

کله چې تر ۱۲۲۵ کال دمخه چیني ګرځنده هیوان تسنګ بلـخ تـه راغـی دخپـل سفر په یادښتونوکې یې دنوبهار معبد دجوړولو نسبت یوپخوانی پاچا ته وکړ. بـاید پام وکړو چې چینائي ګرځنده هیـوان تسـنګ یـو دقیـق او بـاریك بیـن سړی و او دا یواځینی سړی دی چې ددې مشهور عبادت ځاي نوم یې صحیح راخستی اوسم یې لیکلی دی چې هغـه عبـارت دی لـه (ناوویهاره) څخه، چې لومړی کلمه یې (نـاوا) یعنې (نو) یانوي ته او (ویهاره) یې بودایي عبـادت ځاي تـه وایـي او هغې کلمې تـه پر بله بڼه (سنګهارمه) هم موجوده وه، دهیوان تسنګ او یوتن بل بودایي دین راهب (ئي- تسنګ) دنظریو پر بنسټ دنوبهار بودایي معبد دبودایي په طریقـه (دخلاصـون وړه لار) او تر ډیره حده دهمدې طریقي دپلویـانو پـه (سـر اوسـنی وادن) پـوري اړه درلوده او دا یواځینی معبد وؤ چې ددې طریقې پـیروانو دهندوکـش پـه شـمال کـې لاره. دنوبـهار دمعبـد شـهرت بـه یـي معمـولاً پوهـانو او مفکـرو علمـاو تـه کـاوه حـال داچې دشهرت لوی عـامل یې دعوامو پر نظر دبودا یـوه قیمتـي مجسـمه اودهغـه څو یادګارونـه ووؤ ، لکـه دهغـه غـابنې، داوبـو لـوښي او جـارو، داقیمتـي یادګارونـه چـې دمعبد یا عبادت ځای په دننه ساتل کیدل نو دبودا پلویان یـې دلـیرو لـیرو ځایونـو، لکه چین او هند څخه بلخ ته جلبول چې له دې درکه په بلخ کې دمعبد محـافظینو تـه لویه ګټه وراوښتله.

په دې کې شك نشـته چې پـه عربـي اوفارسـي مـاخذونوکې د (نوبـهار) لـه نامـه سره همیشه د (برمکیانو) یادونه متصل شوې ده او لکه څنګه چې یې معبد داتش پرستی، عبادت ځای تصور کړی دی نو (برمکیانو) یې هم دموبـد او موبـدان ورثـه او پاتې شونې ګڼلې دي حال داچې دلته هم بیلا بیلې نظریي موجودي دي.

موسیو فوشـه د (برمـك) دکلمـې ریـښه د (نواکرمیکـا) پـه کلمـه کـې ګوري او لیکي چې له(نواکریکا) څخه مقصد دیوې لویي دندې وؤ چې دشاهي دلویې ودانـی، څارنه تري مطلب وه او دا دومره لویه دنده وه چې پاچا او (نواکرمیکا) بـه پـه یـوځای تاکل کیدل. ددې لوی دندې یادونه په هغه مسي لوښي کې شوې ده چې دکنیشـکا نوم پرې لیکل شوی او دپښور له معبد یاعبادت ځای څخه کشف شوی دی پـه دې اساس برمکیان اودبرمکیانو کورنی چې دعربي او فارسـي ادبیـاتو پـه فرهنګ کـې شهرت لري او پاتې پـایښوړ یـې پـه اسـلامي دوره دبغـداد دخلیفـه ګانـو پـر وخـت دوزارت ترمقامه ورسیدل اصلاً دبودایي دورو پـه وخت کـې دبلـخ د عبـادت ځایونـو

نوبهارساتونکي او څارونکـي وو او پـه اوسنۍ اصطـلاح کـولای شـو ورتـه دهغـه مشهور عبادت ځای (متوالي باشي) ووايو.

دلغـوي ورتـه والـي لـه مخـې هـم د (برمـك) او (کرمـك) کلمـې چنـدان لـرې والـی نلري او له بلې خوا دهغه مفهوم له نظره چې عربـو دنوبـهار معبـد تـه ورکړی و هـم کولای شو ثابت کړو چې نوموړی نوبهار بودايي مزدك ځکه چې په عربـي متـون کې دکنبدې يادونه شوې ده چې دبودايي استوپې پر نظر انځوريږي.

دنوبهار په معبد کې لويه ګنبده داحاطې په منځ کې ليدل کيږي داپه مربع ډول جوړه وه او چار چاپيره يې دراهبـانو لـه پـاره ۳۶۰ حجـرې درلـودې او دا تعريـف داتشکدې له تعريف سره هيڅ برابری نه خوري، نو لکه څنګه چې دبودايـي ګرځند مفصل تشريحات په لاس لرو په دې کې يو کوچنی شك هم نشـته چې دبلـخ دنوبـهار معبد بودايي دی او يـو شـمير راهبـانو علمـاوو او روحـانيونو دمعبـد چـارچـاپـيره داوسيدلو حجرې درلودې دمعبد عمومي څارنه او دعايداتو جمع واري اودبودائـي آثارو محافظه دهمغو متواليانو پر غاړه وه چې دبرمکيانودکورنۍ غړي وو.

پـه دې ټول پوهيږو چې دبلـخ دديوالونـو جنـوب پلـو تـه لويـه دروازه موجـوده ده چې معمولاً هغې تـه (درنوبـهار) يـاد (نوبـهار دروازه) وائـي او دعـامو طبقـو پـه ژبـه د (دروازه بابه قوه) پـه نامـه هـم شـهرت لـري، داوړوکـي خـاطره چې دزمـان اومکـان لـه يوې خلا څخه تر مـوږ رارسـيدلې ده ډيـر ارزښت لـري. ځکه چې عقـلاً دپخوانـي او لرغونـي معبـد ځای ځايـګی رانبيـي او لـه نيکـه مرغـه د همـدې دروازې ترڅنګ دخاورو دوې غونډۍ موجودې دي چې يـوې تـه ((رسـتم تخت)) او بلـې تـه (تـوپ رسـتم) وايـي. چې وروسـته دموسـيو فوشـه لـه ډيـرو هـڅو څخـه وپيژنـدل شـوې چـې ديوې بودايي استوپې بڼه يې لرله او دهغې پر اساس ويلای شـو چې اقـلاً دنوبـهار ددروازې ترڅنګ ديـوې لويـې بودايـي استوپـې پـاتې شـونې تراوسـه پـاتې دي او ډيراحتمـال لـري چـې همدغـه اسـتوپـه همغـې د(نواوبـهاره) معبـد پورې اړونده او ترلې وي.

دالويه استوپه دري پوړونه لري چې دمربع په بڼه يو دبـل دپاسه دي او ددې درې ډارپوړونـو اضلاعـو تـه دپـايو اوسـتنو قطارونـه ليـدل کيـدل او ددريـم پـوړ دپاسـه داستوپې لـوړه ګنبـده جوړه کړای‌شوې وه، دالويـې استوپې خپلـو څلورو خـواوو تـه څلور لويې زينې لري چې پاتکويې داستوپې مرتبو پلو ته لارښوونه کوله.

۱۳۳۷ — ۸-۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبلخ نوبهار پاناواويهارا

بلخ هغه لرغونی بنار دی چې دآريايانو دلومړي استوګن ځای نه تر اوسه پورې په ټولو دورو ټولو ماخذونو او په ټولو لهجو او ژبوکې شهرت لاره او لري يې، همدې بلخ يومشهور معبد ياعبادت ځای درلود چې د (نوبهار) يا(ناواويهارا) په نامه يادیده چې دشهرت آوازه يې زمونږ له خاورې نه دباندې وتلې او په ګاونډيو هيوادونو لکه هند، ايران او چين کې يې انعکاس شوی و او ددنيا دبودايي نړۍ له ګوټ ګوټ نه به يې کتونکي او راهبان زيارت ته راتلل.

(نوبهار) يوه ترکيبي کلمه ده او له دوو برخو (نو) او (بهار) څخه مرکبه شوې ده چې دسانسکرت ښه يې (ناوا) او (واويهارا) ده چې لومړی (نو) يعنې نوی او دويم معبد يعنې عبادت ځاې معنا لري، او ترکيبي مفهوم يې (معبدنو) يا (نوي عبادت ځای) کيږي. دانوم په ټولو اسلامي دورو کې له منځه نه دی لاړ، يوه محله اودبلخ دسترې کلايوه دروازه دنوبهار په نوم يادیده لکه څرنګه چې دنوبهار دروازه او لوی کمال يې دحصار په جنوبي برخه کې تر اوسه موجود او ډير مشهور دی.

دبلخ نوبهار دتاريخي ارزښت او سوابقو له مخې او همدارنګه دجغرافيائي موقعيت او مذهبي رسوماتو اوادابو مفصله تاريخچه لري چې دامختصره مقاله دهغې دتشريح توان نه لري هغه څه چې غواړم په دې مقاله کې يې څرګند کړم هغه ددې معبد

په افغانستان کې دبودايي او کوشاني دورې يوه مشخصه تاريخي دوره ده چې دلومړۍ پيړۍ په پای اوددويمې مسيحي پيړۍ په پيل کې شروع شوې ده.

نوسمدلاسه يې هغه پخوانۍ دورې په ځای پريږدو او (نوبهار) ديوبودائي معبد ياعبادت ځای په توګه معرفي کوو.

داله امکان څخه ليرې نه ده چې دنوي عبادت ځای (نوبهار) پر ځای به کوم بل زوړ او پخوانی معبد هم و خو تاريخ ويلی نه شي چې دبلخ بودايي پخوانی اونوی معبد ياعبادت ځای په کوم عصر اووخت کې جوړ کړای شوی دی، تر يوه حده داڅرګنده ده چې دبلخ (نوبهار) دافغانستان دکوشاني کورنۍ د تر ټولو لوی پاچا امپراطور کنيشکا په زمانه (دلومړۍ پيړۍ په پای او ددويمې مسيحي پيړۍ په نيمايي کې جوړ شوی و.

لومړی شخص چې دبلخ يومعبد ياعبادت ځای يې د (ناواويهارا) په نامه يادکړی دی هغه چينائي ګرځنده هيوان تسنګ دی چې په بلخ کې يې د ليدلو کتلو ۱۲۲۷ کاله تيريږي.

نوبهار يوه لويه عبادتګاه وه چې په شاوخوا کې يې ۳۶۰ حجرې دبودايي راهبانو له پاره جوړې شوې وې او دبلخ يو ډير شمير روحانيون به په هغو حجرو کې اوسيدل او دې معبد ته يې دبو لوی مذهبي پوهنتون حيثيت ورکړی و.

داوومې ميلادي پيړۍ په لومړي نيمايي کې ددې علماوو سرحلقه (پراجناکارا) نومیده چې دمشهور چينائي ګرځندوی يې په بلخ کې استقبال کړی و اودهغه په افغانستان دپاتې ټول سفر له پاره يې ورته لارښوونې او مرستې کړې وې.

دبلخ په هواره لويه ساحه کې ډيره زياته زمکه ددې معبد له پاره وقف کړای شوې وه، دبودا غابنۍ لويه مجسمه او جارو يې په معبد ياعبادت ځای کې اينښودل شوې وو ددنيا له لريولريو ځايونو څخه به دبودايي دين پلويان اوکتونکي هر کال هلته دزيارت له پاره ورتلل .پاتې دې نه وي چې په سانسکرېټ کې ټولو بودايي معابدو ياعبادت ځايونو ته سنګهارمه ويل کيدل او دا کلمه دبلخ دمعبد له پاره په ځانګړي توګه هم استعمال شوې ده، يوبل چينائي ګرځندوی چې تسنګ نومیده وائي چې دبلخ دنوبهار معبد يا عبادت ځای ديوې طريقې متعلق د (خلاصون وړ لاره) وه او دا بايد هير نکړو چې دبودايي دين پلويان په عمومي توګه په دوو طريقو پوري اړه درلوده يودخلاصون دلويې لارې پلويان او بل دخلاصون دوړوکې لارې پلويان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ ټول دخپل هیواد په اسلامي تاریخ کې دبلخ له (برمکیانو) څخه لرې ډیر خبر یو چې دبغداد دخلافت په دربار کې یې دوزیرانو په حیث څومره ارزښتناکه اوستره وندې درلوده او په څومره ښه ډول یې چارې پر مخ بېولې، هغوي اصلاً دبلخ دنوبهار دمعبد یا عبادت ځای دمتوالي باشیانو اولاده وه.

موسیوفوشه فرانسوي ختیځ پیژندونکی دبرمکیانو پخوانی نوم په (نواکرمیکا) کې موندلی او لیکي چې (کرمیکایان) یا دبلخ دنوبهار دمعبد متوالیان یوه منوره کورنۍ وه او دمعبد دمتوالي توب دنده ډیره لویه او ستره دنده وه.

کرمیکیان چې وروسته یې تري برمکیان جوړ کړل دوي په بلخ کې ډیر معنوي قدرت او نفوذ درلود او دنوبهار معبد دعلماوو او پوهانو دروزنې مرکز شمیرل کیده، چې له همدې وجې یې دپخواني افغانستان په فرهنګي تاریخ کې ډیر مهم نقش لوبولی دی.

۱۳۴۱ _ ۷ _ ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوريښمو لار او دهغې په اوږدو کې دافغانستان درېځ

دبحري لارې ترکشفېدو دمخه، راکړه ورکړه، تلل راتلل اودتجارانو مالونه وړل راوړل دحيواناتو په واسطه کيدل چې د (مديترانې) يا سپينې بحيرې ختيزو خواو دچين تر منځ (داسيا ترمنځ) پورې اوږدوالی درلود. ويلی شو چې دبحري لارو ترکشف وروسته سفر کول په سيندونو کې له خطرونو څخه ۰خالي نه وو، خوبيا هم تر څه موده پورې وچې لارې خپل موقعيت له لاسه ورنکړ. هغه چاچې ديونان اوبکتريان يابا ختر ترمنځ لاړه کشف کړه هغه دمقدوني يوتن سوداګر ماتسن تې تيانوس نومېد، دغه سوداګر په دې کشف سره دافغانستان په شمال کې مخصوصاً دبلخ تجارتي مرکز دبحرالروم له څنډو او بنارونو سره وصل کړ.

ددې اکتشاف اصلي لامل دوريښمو د پېرو پلور (سوداګری) موضوع وه څکه چې نوموړي سوداګر په شمال کې تجارت خانه درلوده او ډيره هڅه يې کوله چې د وروينبمو دتوليد له نقطې سره دهغه مرکز رابطه قايمه کړي چې هلته درنګولو او تاو ورکولو مخصوص مرکز وو. دادواړه نقطې يوه له بلې لرې پرتې وې څکه چې هغه وخت دوريښمو مهم توليدي مرکز ختيز ترکستان يادسنګيانګ سېمه وه چې په هغه وخت کې يې هغه ځای ته (سيرند) يعنې هند او چين ته دنژديوالي په علت يې (هندوچين) وې چې پرته له هند او چين څخه مشهور وۀ او په هغه وخت کې دوريښمو دتوليد مشهور بنارونه له (کاشغر) او (ختن) څخه عبارت ووۀ.

وريښمو او وريښمين ټوکرانو د رومي امپراطورۍ په ساحه کې ډير رانيونکې درلودل اوپرلار دبيلا بيلو هيوداونو تجارانو لکه د شام، پارت او نورو له ماخيستلو او حمل ونقله ډيره ګټه ترلاسه کړه اوداوښانو لوی لوي کاروانونه دکاشغر او ختن اوهمدا راز ترشامي بنارونو او بحر روم پورې به تلل راتلل. هغه مهمې نقطې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوريښمو پر لار واقع وي له لويديځ څخه ترختيځ پوري عبارت وي له هر اپوليس (دفرات په غاړه يو بنار وٴ) اوس ، سيبي ، هکتبان چې پکې پلورنه او پيرودنه کيده.

افغانستان دوريښمو له خاطره يوځانګړی شهرت او خاص موقعيت درلود او دسوداګرو دمال له نظره يې له ترانزيت نه ډيره ګټه اخيستله. لکه څرنګه چې دلارې په منځنی برخه کې واقع و او په دې سيمه کې لاره دشمال پر لور تر ماوراء نهر اومروپورې او جنوب لور ته تر هند پورې نيميدله، نو ځکه يې ترانزيتي ګټه ډيره زياته وه اصلاً دغه بلخ بنار په داسې يوه نقطه کې پروت وٴ، چې د هندي يا جنوبي شاخ او شاخ ياچيني هغوي دواړودوريښمو لارې هملته يوځای شوې وې او يو تر بله يې اړيکې پيدا کړي وو اود (بخدی) اوښان چې ددوه کوپونو (موړو) لرونکي وو او شهرت يې په ټوله نړۍ کې خپور دی دوريښمو په کاروانونو کې يې مهمه ونډه ترسره کوله او دچين له بيلابيلو برخو څخه حتی له پيکن څخه ددې اوښانو دپخې ختې مجسمې په لاس راغلي دي.

پرته له وريښمو څخه چې دترانزيت په ډول له دې خاورې څخه وارد شوي اودآسيا لويديزو سيمو ته ليږدول شوي يوشمير نور معدني، نباتي اوحيواني محصولات هم وو لکه لاجورد ، عقيق، وړۍ، غالۍ او وچه ميوه دهيواد له داخل څخه او ديو شمير سوداګرو مال لکه پنبه، خوشبويه نباتي مواد ، نيل او نور دهند له خاورې څخه داسيا لويديزو سيمو ته رسيدل چې له هغه ځايه رومي او يوناني سوداګرو دروم دامپراطورۍ له سيمو څخه وړل دوريښمو لاره چې په نړيواله سطحه شهرت لري سرتر سره دکاروانونو لاره ده چې تقريباً داسيا دوه برابره برخه يې نيولې وه اودتجارتي ګټو دلرلو په خاطر دلويو هيوادونو لکه چين، کوشاني پاچاهانو اودرومي امپراطورۍ ترمنځ يې دارتباط عامل شميرلی شو.

۱۳۳۸ _ ۲ _ ۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

اياتكارزريران يا ددقيقي بلخي دشاهنامې منبع

افغانستان دآسيا په څلور لاري کې مدنيت لرونکې او مدنيـت روزونکې خاوره ده چې دعلمي هڅو له مخې مو تـر ۵ زره کلودمخـه خلکـو دژونـد او اوسيدلو نـښې نښانې دارغنداو په سپمه کې تر لاسه کړي دي اوله هغې پورتـه دهندوکش پـه غـارو يا لويوسمڅو کې چې د (ايبك) سيمې ته نـژدې دی، بريـالي شوي يـو، چې دحجرو دلومړيـو دورو دژونـد آثـار پيـدا کړو چې پر زرګونـو کلـو وړانـدې زمـانې پـورې اړه لـرې، د ۳۰ زرو څخـه تـر ۵۰ زره کلـو دمخـه زمـانې دشـهادت پـه تـوګه يې وړاندې کولی شو.

لکه څنګه چې دسپړنو دهڅوچارې دپخوانيو دژوند دسوابقو لمنه پراخوي او په دې هيواد کې له تيارو پرده پورته کوي، يوشمېر داستانونه،کيسې اواسطورې هم لرو چې له زرګونو کلونو راهيسې سينه پرسينه خوندي شوی دی او دهرې ورځې په تيريدلودپخوانيو پرژوند او دهغو په تاريخي پيښو رڼا اچوي.

له دې سره سره ګورو چې دنړۍ يوشمېر هيوادونه اويو شمېر بشري ټولنې ددوه ډوله تـاريخ لرونکي دي : يوواقعـي تـاريخ چې اسناد ثبت کړای شـوي وي اريـائي باختري ټولنه چې په ايران او هند کې اوسيږي چې د (هند اوايراني) پـه صفت هم پيژندل شوې ده، ددې دوه ډوله تاريخ لرونکې ده، په ډيرو مواردوکې يې اسطوره يې تاريخ ډير قوت لري او دهغه ډيره برخه دارزمي ادبيات اوحماسې تشکيلوي.

شاهنامي،داستاني کيسې او اسطوري چې په افغانستان هند او ايران کې له ډيره وخته را په دې خوامشهوري او مروجې دي داداسطوره يي تاريخ دبډايتوب دليل دی چې دحماسياتو دمنبع او زړوکارنامو په توګه يې وروستی دور تذريق کړی دی .

په افغانستان کې دشاهنامي دليکنې په لړ کې يوه هم ددقيقي بلخي شاهنامه ده چې زربيتونه يې مورډ ته رارسيدلي او داکار دشاعر دوژنې په وجه ناتمام پاتې شوی، ددې شاهنامې اصلي او پخوانی منبع تردډيره وخته ناڅرګنده او مجهوله وه، چې په تدريج سره له يو لړ پرله پسې مشترکو هڅو نه وروسته دباختر له ژب پيژندونکيو څخه کشف شوي.

دپهلوي ساساني ادبي آثاراو په جمله کې د (اياتکارزريران) يا (قکارزريران) په نامه کتاب موجوددی چې په پهلوي ساسانی ژبه د زيږدې پرشپږمه پيړۍ ليکل شوی او تر دې وروستېو وختو پورې هغه ديوې منثورې رسالې په حيث کاريده.

يوشمير باختري ژبپيژندونکيو لکه (پليارد) ايطالوي او (ګايګر) الماني له ډيرو کلونو دنومورې اثر په نثر شکمن وو، او حتی دځينو کلماتو او آهنګ له مخې يې دا اثر منثور باله تردې پورې چې پروفيسربن ونيست مشهور فرانسوي ژب پيژندونکی په خپل اثر کې په اثبات ورسوله چې (اياتکار) منظوم اثر دی نه منثور.

اصلاً له شپږمې مسيحي پيړۍ نه دمخه او همداشان له ساساني عصر نه دمخه او حتی دپهلوي ساساني ژبې له پيدايښت نه دمخه په (پرشوي) يا پهلوي پارتي او يا هم پهلوي خراساني ژبه کې تر دويمې مسيحي پيړۍ دمخه يې موجود و او ديو ډير پخوانی زيب اوزينت ورکولو وروسته دساسانيانو په عصر کې يې خپلې شعري او منظومې بڼې او ماهيت ته په کلي توګه تغيير ورکړی دی. (اياتکارزريران) يا (ياتکارزريران) چې په فارسي دري کې ورته (يادګار زريرن) ويلی شو يوه حماسي رساله او يوه جنګ نامه ده چې کشتاسپه دبلخ دپاچا او دهغه دورور (زريـر) او دهغه دوراره (پسته واري) او بسته واري دزوي (سپندات) يا اسفنديار يا ارجاسپ خيوني تورانې په هکله يې درزمي عملياتو اوجنګونو دشرح په بڼه سندريز کړی اوليکلی دی.

تول پوهيږو چې دبلخ دپاچا کشتاسپه او دهغه دکورنۍ جنګونه له تورانيانو او په ځانګړې توګه (ارجاسپه) سره ايران دپخوانۍ حماسي يوه مهمه موضوع وه او انعکاس يې په متوالي دورو کې په تاريخ فرهنګ او ادب کې مشهور دی. او په حقيقت کې يوه مجادله ده دهغو اريايانو ترمنځ چې څه موده يې په بکتريان کې استوګنه دلورده اودهغو اريايانو ترمنځ چې دآمو سيند شمال لورته کډوال ووۀ. يوشمير خلکو دې جګړو ته مذهبي بڼه ورکړې او وايي هغه مهال " زرتشت سپنتمان" په بلخ کې يګانه پرستي اعلان کړه نوپه ملاتړ يې کشتاسپه دنوي ديانت

(c) ketabton.com: The Digital Library

به خپرولو کې ډيرې هڅې وکړې او په پای کې دهغه اودارجاسپ ترمنځ جګړې
ونښتې، کله چې داجګړې د (آریا) او (توریا) سپین پوستو او تور پوستو ترمنځ
ونښتې دا په حقیقت کې ددوه مدني او غیر مدني ټولنو ترمنځ وې چې دواړه
ریایان او یوه ډله دآمو سیند په یوه او بله ډله په بله غاړه وه.

ددې جنګ‌ي ذاستانونو یو تن پهلوان (زریر) دبلخ دبادشاه ګشتاسپه ورور ؤ،
چې په همدې مناسبت داجنګي کارنامې د(یادګار زریر) یا (یاتکار زریران) په نامه
منل شوي، اودبلخیانو او بلخي پهلوانان حماسي خاطرې د راتلونکیو غوښونو ته
رسوي "مسترونست" یوتن ختیځ پیژندونکی، (باتکار زریر) د (ګشتاسپه شهنامه)
یا (پهلوي شهنامه) بولي اودبلخي پهلوان دنامه په مناسبت چې هغه پکې عمده
ونډه لري هغه ته (زریر نامه) هم وایي.

ددقیقي ګشتاسپ نامه چې یو زر بیتونه یې ترمونږ رارسیدلي دي له
(یاتکارزریران) په حماسي روح درلودلواو یو شمیر مطالبو سره چې حتی دپهلوانانو
نقش پکې توپیر نلري بلکه دواړه یوځیز دی او داوښتایي ادب لرغونتیا او تکرار
یې په وروستیو دورو کې په دري او پهلوي ادب کې څرګندوي چې عموماً حماسي
منظومې او اسطوري پخوانۍ بڼه لري چې لومړۍ منبع او حتی راتلونکیو ته الهام
پکې ګڼل کیده.

بلخي شاعر دقیقي هر رنګ چې و که په (مستقیم ډول یا په څه بله واسطه) له
(یادتکازریران) څخه یې ګټه اخستې ده، اودهغه په دري دیوزر بیتونو دحماسي
خاطرو انعکاس د ((زریرنامه)) حماسي منظوم اثر چې دمخه د ۳ زښتې پیړۍ
موجود و تر غوښتو کیږي او له دې سره ددې دواړو اثارو څه موده وروسته د ۷ سوه
۸ سوه کلوپه حدودو کې او دواړه اثرو نه په بیلابیلو ژبو کې سندریز شوی دی،
همداراز په یقین سره ویلای شو چې دواړه اثار یوشی وو اویو شمیر حماسي خاطرې
په ځانګړې بڼه چې ددې خاورې دنیکونو دکارنامو دخوندي کولو لپاره له یو نه
بل ته لیږدیدلي زمونږ غوښتونو ته رسوي.

۱۳۳۷_۱۲_۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیسا

یوله ودانو ښارونو څخه اویاهم یو ستر کلی چې په لرغوني تاریخ کې مخصوصاً دسکندر مقدوني دیرغلونو پر مهال شهرت لري هغه (نیسا) ډی چې (دیونیزوس) هم یاد کړی دی. په ختیځ کې د سکندر مقدوني له هغو یرغلونو څخه دمخه چې دافغانستان پر خاوره یې کړې، دې ښار هغه مهال هم شهرت درلود، او ډیر شهرت یې دهغه ځای دانګورو او شرابو په وجه و او حتی په داستانونو او اسطوروکې ویل کیده چې " دیونیزوس" دانګورو او شرابو ځانګړي خدای ددې ښار بانې و او په دې خاطر د (دیونیزوس) په نامه مشهور شوی ؤ. دیوشمیر نورو تعبیرونو په بنا دشرابو ځانګړی خدای ددې ښار اوسیدونکی، دنیسا دځانګړي خدای په نامه مشهور شو، لکه څنګه چې داتعبیرونه ډیر په یوناني ژبې پورې اړه لري ځکه (دیوس) (خدای) او نیزوس دښار نوم ؤ، او هغه یې دنیسا دښار خدای یاداوه او یا خو عقلاً یونانیانو دالقب ورکړی ؤ.

د (دیونیزوس) یا (نیسا) ښار ختیځ ته دیونانیانو له راتللوڅخه دمخه دیونانیانو په اسطورو کې مشهور ؤ او دیونانیانو دمشهورو خلکو په منځ کې یې داسې شهرت درلود چې دشرابو ځانګړی خدای دهغوی میترلوژي اصلاً ددې ښار اوسیدونکی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ښار دموقعیت په اړه ډیرې خبرې شوي دي دهغو تاریخي پیښو په اړه چې ددې ښار دشهرت سبب شوی دی داسې اټکل کیږي چې نومورې ښار باید دافغانستان په نیمه خټیزه خوا او یایې که په صحیح توګه ووایو دکابل رود دسیمې خټیځ پلو ته او ددې رود خانې او داندوس (سند) درودخانې ترمنځ یې باید لټون وشي.

یوه له تاریخي پیښو څخه چې دانبار یې دسکندر دپوځي کارنامو په اړه مشهور کړی داده چې دسکندر مقدوني په دې سیمه دتیریدلو په مهال یې دنیسا دنبار له ریس " اکوفیس" سره ملاقات شوی وٴ.

نومورې ریس له سکندر څخه هیله وکړه چې د "بګوش" دیونانې ځانګړې خداي دشرابو په خاطر ددې ښار دخلکو آزادی ته دې په درته سترګه وکتل شي او دهغوی په چاروکې دې مداخله نه کوي. اوسکندر هم داوړاندیزومانه.

د(نیسا) یا (تیسایا) دنبار موقعیت باید دافغانستان په ختیزه برخه کې دکابل ولایت اوننګرهار دولایت ترمنځ ولټول شي. له هغو نښونښانوڅخه چې دې ښار درلودې، یوه داوه چې د (مروس) په نامه یوه غره ته نژدې وٴ، اوبله داچې هلته دعشقه پیچان بوټي ډیر شنه کیدل چې یوناني،عسکرو به لکه دتاج په ډول له خپله سره تاوول اودا په پخواني یونان کې دځوانمردۍ او ویاړ نښه ګڼل کیدله.

یوشمیر پوهان د (دیونیزوپویس) یعنې دیونیزوس ښار دشرابو ځانګړې خدای د (هډې) په چاپیریال کې تشخیصوي، او دیوشمیر نورو دتعبیرله مخې د(نیسا) ښار دننګرهار ولایت په منځني برخه کې دتلاقي په برخه کې چې دکابل رود دعلینګار او علیشنګ له رودونو سره یوځای کیږي، یعنې دلغمان کوزنۍ برخه تاکي اوځینې یې په هغه ځای کې ګڼې چې دکونړ سیند د(پیچ) له رود سره یوځای کیږي چې اوس دچغه سرای په نامه شهرت لري اویوشمیر کنډوالې هم ددې په دننه کې ترسترګو کیږي.

د (نیسا) ښار یا په لغمان و یا په هډه او یاهم دکونړ په منځنۍ برخه کې خو په هر ځای کې چې وٴ خو دادې واړه دننګرهار په ولایت کې وو او یو دبل څخه ۶۰ کیلو متره واټن لري او که دلوړ غره (مروس) دنزدې والي په نظر کې ونیول شي باید موقعیت یې په لغمان او یاهم په کونړ کې وپلټل شي.

سربېره پردې پیچك او سبزه پیچان همغه دکونړ دغرونو په شمالي برخو کې چې دنورستان غرونه دي ډیر راشنه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څه چې د (نیسا) دښار موجودیت دکونړ په چغه سرای کې تائیدوي دښار درئیس او سکندر ترمنځ ملاقات دی چې دبکوس شرابو دځانګړي خدای دآزادۍ له رنګولو منصرف شوی وۀ.

داله شك نه لري نه ده چې سکندر په هغه سیمه کې دغرونو داراضي له ویرې دنسیا دښار دریس غوښتنه په ظاهري ډول د"بکوس" په احترام له مداخلې نه منصرف شوی وی.

په هر حال داموضوع حقیقت ته نژدې ده چې سکندر مقدوني دنورستان په غرونو کې دننه شوی نه دی اودیوناني تعبیراتو له مخې دنه داخلیدو علت یې دشرابو دځانګړي خدای احترام ګڼلی دی او که چیرته دې خبرو ته دصحت په بڼه وکتل شي نو په قوي احتمال ویلی شو چې د(نیسا) ښار دکونړ په دره کې و اوهند ته د سکندر دحرکت پر لارۀ واقع و او دسند له انډوس څخه چندان لرې نه و.

۱۳۳۸_۲_۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساکیان، سکستان، سجستان، سیستان

لکه دتخار اوتخارستان دبحث په څېر د(ساك) اوسیستان بحث هم ډیر په زړه پوري تاریخي او جغرافیایي بحث دی دلرغوني افغانستان په تاریخ اوفرهنګ کې ډیر ارزښت لري.

لکه چې دوخت په تیریدلو اودفرهنګ له بڼې بدلونې سره دتخار دکلمي مبداء مو په خپلو خاطروکې هیره کړه او دهغوي استوګنځی معنې تخارستان اوس هم زمونږ په ذهن کې تازه دی عین په همدغه بڼه دساك یا اسکایي کلمې د تاریخچې مبداء مو هیره کړې ده او دهغود استوګن ځای (سیستان) اوس هم زمونږ پرژبه شته.

په لرغونو دروکې دافغانستان دتاریخ ارزښت په همدې کې دی چې هغه څه چې نن ګورو او مبداء اولرغونتیایې دپخوانیوپیړیو په تیارو کې هیره شوې مودې ته روښانوي اوننني فرهنګي ریښې له پخوانیو لرې پرتوو ریښو سره مربوطوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساکیان یااسکایان چې دلته ترېنه بحث کوو د (سیتي) ټولنې یوه لویه څانګه ده چې دچین په پخوانیو ماخذونو کې دسیت یا (سیك) یا (سي وانګ) په نامه یاده شوې ده، دفرانسې یوتن فقید ختیځ پیژندونکی موسیو رونه ګروسه چې داسیا په فرهنګی اوتاریخي لرغونتیا کې یې ډیر معلومات درلودل، وایي.

"ساکیان یاساسیان دکاشغر په سیمه کې دلوړو غرونو دپای په برخه فرغار خوا ته او دایکزارس (سردریا) درود په ښي خوا څنډو کې داورال د وړوکي سیند تر غاړو پراته وو"

دکاشغر سیمې اوداورال دوړوکي سیند ترمنځ سیمه ډیره پراخه ده چې دافغانستان دشمالي سرحداتو سراسر برخه دمرکزي آسیا دروسیې شوروي جمهوریتونه رابنیي. دساك دځای تعریف ته که دپورته شرح له مخې په غور وګورو څرګندیږي چې دساکیانو دثقل مرکز په ختیځ ترکستان اویاد (سنګیانګ) په سیمه او سردریارود په سیمه کې پروت و.

اسکایان د ۵_۶ ق م دهخامنشیانو په عصر کې مشهور وو او دهخامنشیانو ډبرلیکونو تردې پورې چې دوی ښه پیژندل دهغوی په منځ کې دتقسیم قابل شوي وو اودهغوي دځانګړي تعریف دنامه یادونه یې کړې وه، یو یې (ساکي هوما وار) چې غبارت له همغو ساکیانو څخه دی چې دلته دهغوی په باره کې ګړیږو اوداوخت یې داوسیدلو ځای دفرغانې په چاپیریال اوکاشغر کې و.

دویم (ساکاتیګراخواد) یادمخروطي خولیو ساکیان چې دهغوی د اوسیدلو سیمه یې داورال دوړوکي سیندشاوخوا ښودلې ده.

دریم (ساکاتارادرایا) یا هغه ساکیان چې له سیند نه دې غاړه دي. چې عبارت له هغو ساکیانو څخه دي چې دخضر دبحیرې په ها پلو څنډو کې اوسیدل.

له دې درې تعریفونو څخه څرګندیږي لکه څنګه چې فرانسوي ختیځ پیژندونکی موسیو رونه ګروسه څرګندونه کړې اسکائی قدمونه له کاشغر نه د اورال تر وړوکي سیندپورې منبسط وو او داساحه د (سیتي) قومونو استوګنځی اومسکن هم وو اوهغوی چې (اسکائي) او (سیتي) سره ورته ګډلی دی له حقیقت نه لیرې نه دی، منتها (سیتي) عام صفت دی چې ټول بادیه نشین اقوام اوقبایل که هغه دمرکزي اسیا دي او که تخاري اویاکوشاني اواسکایي او نور ټول دهغې جز کیدی شي.

د او داسکائي یا (ساك) دقوم عمومي تعریف چې وړاندې تر دې چې دافغانستان خاورې ته راداخل شي حتی په ۵_۶ پیړۍ کې ختیځې منابع لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهخامنشیانو ډبر لیکونو هغوی پیژندل او ډیر لږ یې دهغوي دنامه یادونه کړې ده، که لږ نژدې راشو وینو چې دوه تنه یوناني اولاتیني مورخین اپولو دوروس اوتروګوس په باکتریان (باختر) کې دیوناني سلطنت سقوط دلته دنورو قومونو دراتللو په وجه رابنیي چې د (ازي ئي) (یازیاتي) (تخارې) او (ساکارولي) یې یادکړي دي.

که څه هم چې تروګس دتخاري قوم نوم هم یادوي مګر دباختري یونانیانو دسقوط نتیجه د(ازي ئي) او(ساکارولي) قومونو دراتللو په وجه بنیي او له دې لنډ تشخیص نه څرګندیږي چې دیونانیانو دهندوکش په شمال کې لومړی سقوط داسکائي قبایلو راتلل وو.

صحیح اوسمه خبره ډاده چې څلور ګوني قبایل ټول دق م په لومړۍ پیړۍ کې له آمو سیندڅخه راتیر او (تخاریان) دآمو سیندپه دې بلې غاړې اوسواحلو کې پاتې شول او (ساکارولي) یعنې ساکیان وروسته له دې چې دآمو له سیند نه راتیر او دباختر په پراخو صفحاتو کې تیت شول او دهرې رود تر سیمې پورې ورسیدل اوبیا لږ څه دلویدیځ په لوروړاندې لاړل چې له ډول ډول مقاومتونو سره مخامخ شول او بیا هغه وخت یې خپل تګ لوري ته بدلون ورکړ او جنوب لور ته متوجه شول او دفراه رود او هیرمند درودونو سیمې ته نژدې شول.

ټول پوهیږو چې (پارتیان) یا (اشکانیان) د ۱۴۰ ق م په شاوخوا کې دمیمنې خواته اولږ دمخه دختیځ په لورراغلي وو.

دختیځ په لور دساکیانو او پارتیانو ترمنځ سختې جګړې وشوې لکه چې داسترابن فرهاتش په قول یعنې فرهاد ارتبان په ۱۲۸ او ۱۳۰ ق م په کلونو کې په نومورو جګړو کې ووژل شول تر دې پورې چې میتري داتش یعنې دویم مهرداد داسکائي قومونو دمهاجرت لاره دغرب په لور ونیوله اوپه نتییحه کې اسکایانو لاره بدله کړه او جنوب لور ته دهرې رود سیمې ته دغربي افغانستان درود خانو سیمو ته په ځانګړې ډول دهیرمند په سیمه اوبیا مخصوصاً په کوزنیو برخو کې ځای په ځای او میشت شول.

یوشمیر پوهان په دې عقیده دي چې په لومړۍ مرتبه کې تر دې قبیلې دمخه داسکائي یوبل قوم دهیرمندسیمې ته راغلی دی او هلته یې استوګنه اختیار کړې وه، داخبره چې حقیقت لري یا نه خو ددې قوم دراتللو څرنګوالی دتاریخ په تیارو کې پروت دی خواکثره پوهان په دې نظریه عقیده لري په هر حال داسکایي قومونو هیرمند په راتللو کې اړنګ نشته لومړۍ (امور جیزیان) او بیا(ساکاروبي) او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډير اسکائي قبايل دې سيمې ته راغلي دي او دسيستان په تاريخ کې چې هر څومره پلټنه وکړو ګورو چې داريايانو له پخوانيو مهاجرتونو وروسته اسکايي قومونه هلته راغلي اوخپاره شوي دي او هغه سيمه د (سکستان) يا (ساکستان) اوياد (سکانوچ) دتاتوبي په نامه مشهورۀ شوې ده.

عربي مورخينو اومخصوصاً جغرافيه ليکونکيو سکستان له کلمې نه سجستان جوړ کړی اوددې کلمې دابنه دتولو عربي جغرافيه ليکونکيو په ليکنه کې څرګندېږي، ترڅو چې زمونږ خپلو مورخينو اوجغرافيه ليکونکيو ته وار راځي او ګورو چې دسيستان کلمې اوسيستاني صفت په شعر، ادب، تاريخ، فرهنګ او جغرافيه کې لاره موندلی هر ځای لنيکل شوی او اوريدل کيږي اودسيستان تاريخ چې ليکوال يې ناڅرګند دي ددې خبرې ډير غوره شاهد دی او داکتاب ډير بنکلی اوبهترين تاريخي کتاب دی چې ددې سترې او مشهورې سيمې تاريخي بهير په جزئياتو سره تشريح کوي.

۹_۶_۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخار_ تخاري _ تخارستان

دجغرافيې اوتاريخ له هغو نښانو څخه چې دقوم، ژبې او اوسېدنځی يعنې دپخوانې افغانستان اومنځنۍ پيړۍ داوسيدونکيو داوسيدلو ځای ژبې،تمدن و فرهنګ له په اړه معلومات راکوي يوهم تخار، تخاري اوتخارستان دی چې په ثبت او ضبط کې يې د(ط) توری هم استعمال شوی دی او داکلمات په عين بڼه (طخار) (طخاري) او (طخارستان) هم ليکلی شو.

د(تخار) دکلمې،(تخاري) صفت او د (تخارستان) داسم مکان دپيداکيدلو مبداء دقيقه مطالعه او تعريف غواړي، دادې کلمې دي چې په اسلامي منځنيو پيړيو کې يې شهرت لاره، خوبايد ووايو چې يو اسم مکان شهرت يې لږ څه ډير وۍ او په پخوانيو دوروکې تر اسلام دمخه داسم علم په حيث يې شهرت لاره.

اصلاً (تخار) دخلکو ديوې ډلې نوم دی چې په عموم ډول تر ميلاد دمخه پيړيو کې په مرکزي اسيا کې اوسيدل چې دهغوی په مهاجرت ، خوريدلو او داستقراريې دافغانستان په يوه تاکلې برخه کې چې هغې حصې يې د(تخارستان) يعنې(دتخاريانو د استوګنځي) په نامه شهرت پيداکړی دی.

اروپائي مدققينودتخار دخلکو دتخاري ژبې اوفرهنګ په اړه ډيرې څيړنې کړې دي او تردې پورې چې له نيمې پيړۍ راهيسې يې لا هځې قطع شوي نه دي خو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسه هم په مشخص ډول مخصوصاً دتخاري ژبې په رابطه کومې قطعي نتيجې ته نه دي رسيدلي او تر اوسه پورې يې په فکر کې يو شمير شکونه، اختلافات اونظريات شته.

هغه څوك چې دلرغوني افغانستان تاريخ معلومات او مطالعه لري، هغوی په عمومي خطوطو کې دومره پوهيږو چې يوشمير قبايل د مرکزي اسيا له شمال ختيزې زاويې څخه (دايګزارت له حوزو اوسردريا نه) افغانستان ته راننوتلي دي، چې يوه ټولنه يې کوشاني قومونه دي چې هغوي ته سيستي يا سيت هم وايي، دسيت او سيستي کلمه په ډيرو ځايونو کې د (تخار) او (تخاري) دکلمو مترادفه هم راغلې ده، او يو شمير پوهان داسې هم شته چې سيتي او تخاري قومونه يوشی بولي او حسابوي. چې کوشانيان هم تخار او تخاري وګڼو.

پاتې دې نه وي دمخه تر دې چې دتخار کلمه دمعنا او تعبير له مخې وسعت پيدا کړي وړوکې کلمه وه چې دمرکزي اسيا له قومونو څخه يوه قوم ته اطلاق کيدله او په دې باره کې يوناني او چينائي منابع ډيره مرسته کوي. يوناني بطلّيموس ديونانی مصري جغرافيه ليکنې يواځينی شخص دی چې د (تګوروا) په نامه ديوقوم يادونه کوي او دهغوی ښار (توګارا) په نامه دوريښمو په لويه مشهوره لاره واقع يادوي.

چيني منابع په دويمه م ز پيړۍ کې (توګارا) ديوقوم د(کانسو) په علاقه کې يادونه کوي ددې نامه يادونه چې پورته يې ذکروشو له تبتي ماخذ سره يې ژبه يو ده او دهغو اسنادو له مخې چې په ختن کې موندل شوی او په ۸ زيږدې پيړۍ پورې اړوند دي نومورې ښارپه (کانسو) کې تصديقوي.

ددې يادونو له مخې څرګندږي چې (تخار) دسيسې خلکو يوه قبيله يا ټولنه وه او ددوی په څير دمرکزي اسيا دکانسو له علاقې نه دځای بدلونې له پاره پرختيزې خوا هجرت کړی او دامو سيند تر سيمې پورې رسيدلی او ددې سيند تر تيريدلو وروسته دهغې رود خانې کيڼ لور ته سيمې دپامير ترلمنو پورې يې دتخارستان په نامه شهرت حاصل کړی دی.

بطليموس ذمارينوس ديادښتونو له مخې په څوبيلابيلو ځايونو کې د(کانسو) او(باختر) دنوم يادونه کړې ده او داهغه نقطې دي چې ياخو هلته (يوچيان) مسکن وو او يا خو له دې ځايه تير شوي دي اګر چې دانومونه او دا يادونې په خپلو کې يوځه اختلاف لري مګر دتخاريانو دحرکت پر تسلسل رڼا اچوي.

بطليموس په شمال کې د (کانسو) له علاقې نه تر (تاګوروا) پورې دايماروس نه (تاګوري وا) د (اسبك کول) وړوکي سيندترنژدې سيمو او تاګوري وا پورې اودسغديان په سيمه کې له تاخورو او په باختر کې د (تخاروا) دسيمې يادونه کوي.

لکه څنګه چې يوچيانوعينا له (کانسو) نه تر (باختر) پورې همدغه واټنونه وهلي دي دکومو چې پورته يادونه وشوه نو يوشمير پوهان دچيني منابعو (يوچي يان) او ديوناني منابعو يونانيان يوبولي. لکه چې د چيني منابع په ماخذ کې په دې اړه څه توپير نشته، بلکې هندی منابع د (يوچي) دکلمې په عوض يې په هر ځای کې د (تخاري) کلمه استعمال کړې ده او په دې ترتيب همغې نتيجې ته رسيږو چې ددې مقالمې په پيل کې يې يادونه وشوه يعنې کوشاني اوتخاري قبيلې دواړه د (يوچي) او (سيتي) له ټولنې څخه دي يواځې همدومره خبره ده چې دقبائلو په څير ځانته ځانته يې ژوند کاوه او نظر يو چې ته سيتي دمهاجرت لاره خپله کړې او زمونږ دهيواد شمال ختيزو سيمو يعنې دهندوکش شمال ته رارسيدلی دی.

داموضوع افغانستان ته له مرکزي اسيا څخه دقومونو دمهاجرت په تاريخ کې روښانه ده چې تخاري قبايل د (اري يي)، (ازپائي)، (ساکارولي) (تخاروا) په نومونو د(يوچي) کوشاني قبابلو دمخه په دويمه ق م پيړۍ کې افغانستان ته راداخل شوي دي. يو "تن اپولو دوروس" ددې قومونو يادونه د (ازئي)، (ازياني)، (تخاري)، (ساکارولي) په نومونو کړې ده، پوهان ددې دواړو نومونو دتوپير ترمنځ ددوه نورو نومونو فقط يوه نظريه لري اوهغه داده چې تخاري قومونو له (اسکائي) قومونه څخه بيلوي او داعمل هم د افغانستان په تاريخ کې يوه په زړه پورې خبره ده ځکه چې ټولو ته څرګنده ده مورږ دخپل هيواد په لرغوني تاريخ کې (اسکائي) او (تخاري) درلودل چې ددواړو خاطرې زمورږ دهيواد په دوو خواوو کې پاتې دي (سکارولي يان) چې يودسکائي قومونو څخه و وروسته دآمو سيند تر تيريدو دباختر په برخوکې لويديځ لور ته دهريرود ترسيمې پورې تللی او هلته دجنوب پر لور يې هڅه کړې اودهيرمند په سيمه کې ځای پر ځای شوي دي. لکه څنګه چې يې هغه سيمه ددوی په نامه (ساکستان) (سجستان) او (سيستان) مشهوره شوه، تر اوسه په همدې وجه نومول کيږي او لکه څنګه چې مو وويل تخاريان دآمو سيندپه ښکتنيو برخوکې تيت شول اوهغه علاقه ددوی په نامه (تخارستان) يادە شوه.

تخارستان دجغرافيايي اوتاريخي مفهوم له مخې داسې يوه سيمه وه چې اوسنی دوه ولايته مزارشريف او قطغن اوهمدارنګه يو ښاغلی بدخشانی حکومت

په کې شامل و، په ځینو ځایونوکې یې دمفهوم لمنه پراخه شوې او ټول باختر یې رانیولی دی، او په ځینو وختونو کې یې مفهوم دهندوکش جنوبي برخو ته هم پراخوالی موندلی چې هغه یې سیاسي مفهوم ګڼلی شو، ځکه چې یو وخت بامیان دتخارستان مرکز ګڼل کیده، اویو شمیر پاچاهانو، لکه دشنستباني غوري بامیاني سلسله له بامیان څخه په ټول تخارستان البته شمال لور ته اوهمدارنګه ختیځ لور ته په ټول کابل او حتی ترکشمیر پورې یې سلطنت کاوه.

تخاري صفت د (تخار) او تخارستان دنامه له مفهوم څخه لویې دی او دتخاري او حتی دتخاري اوکوشاني قومونو تمدن، فرهنګ، ژبه، اوادبیات سره تړاو لري اوهغه یو ځانګړي بحث دی چې دلته ورته ځای نلرو.

۱۳۳۷_۶_۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاپيسي ـ بګرام

دکابل شمال لور ته يوه لويه پراخه تر اوتازه زراعتي او دباغونو لرونکي ځمکه او سيمه لرو چې له دوو خواوڅخه لويديځ لور ته دپغمان له غرونواو شمال لور ته دپنجشير له غرونو راګيره ده. اودوه نورو خواوو ته يې واړه او ګډ ودې غرونه پراته دي چې مهم يې دصافي غرونه (کوه صافي) دي چې دهغو تورو غرونو په مقابل کې دپغمان او پنجشير دغرونو سپيني واوري دکال په ډيرو موسمو کې دمناظرو مخالفه وضع توليدوي.

دالويه، پراخه، حاصل خيزه او ډيره نفوس لرونکې سيمه معمولاً په دوه نومونويادوو يو (کوهدامن) او بل (کوهستان) ددې دوه سيمو دفاصلې خط معمولاً ځلور مشترکې رودخانې (دغوربند، سالنګ، شتل او پنجشير) دي چې ټول په مشترک ډول دپنجشير درودخانې په نامه ددې دواړو سيمو له منځنۍ برخې څخه تيريږي هغه څه چې شمال او يادرود کينې خواته ليدل کيږي کوهستان هغه سيمه چې جنوب پلو ته يا بنې خوا ته ليدل کيږي کوهدامن نوميږي.

دالويه سيمه لکه څنګه چې اوس ښيرازه تر اوتازه او ډيره نفوس لرونکی ده په پخوانيو زمانوکې هم همدغه شان ډيرنفوس لرونکې اوښيرازه وه دمعبدونو د کنډوالو او استوپوموجوديت له تاريخي منابعو سره يوځای دا ثابتوي چې دکوهدامن اوکوهستان سيمې له نفوسه ډکې وې ښارونه يې درلودل لوي کلي يې لرل ،معبدونه اولوي عبادت ځايونه يې درلودل داټول په ښه ښې او لويه پيمانه هلته موجودوو.

لکه څنګه چې ټول پوهیږو دکوهستان، کوهدامن، په لویه اوپراخه دره کې لویه کنډواله چې د یو ښار په ښه شهادت ورکوي هغه دبګرام کنډوالې دي چې له چاریکا څخه دختیځ پر لور د ۵_۶ کیلو مترو په واټن پریوې وړې جلګې واقع دي چې دشمالي برخې ځوړې اوژورې برخې یې دپنجشیر درود پرخوا پای ته رسیږي او ددې کنډوالو ختیځ لور ته په دوه کیلو مترو کې دپهلوان غر په مخروطي ښه پروت دی چې په لمنو اوڅنډو کې یې ۷_۸ استوپو او دبودایي وخت عبادت ځایونه په رنګه شوې ښه څرګندیږي.

نورې ډیرې کنډوالې هم دکوهدامن ، کوهستان په ډنډ کې شته لکه سار سکندري یا حصار سکندري چې سرای خواجه ته نژدې دی اویا په اوپیان کې کنډوالې چې دچاریکار شمال لویدیځ لور ته واقع دی، همداشان نورې خرابې په ریزه کوهستان کې چې هغه سیمې ته (کره تار) وایي مګر هیڅ یو دپراخوالي له مخې بګرام ته نه رسیږي. او له بلې خوا دیوناني اوکوشاني دوخت ۶۰ زره سکې موندل چې ۱۴۰ کاله دمخه دچارل مسن انګلیس له خوا په بګرام کې وموندل شوې، همداراز د عاج قیمتي کلیکسونونه او دښیښوګیلاسونه چې په ښکلي ډول انځور کړای شوي وو اومسي مجسمې هم تر لاسه شوي دي اوداسې نور څیزونه چې په دې نقطه کې له دویمې نړیوالې جګړې دمخه دفرانسې دپلاوي ترکیندلو وروسته داثابتوي چې دبګرام کنډوالې پرته له شکه ددې علاقې دمهمو ښارونو نمایندګي کوي.دامهمې خرابې دلرغوني تاریخ په اوږدوکې یواځې د (کاپسي) په نامه یادې شوي دي، سره له دې چې بګرام پخوانی نوم دی، مګر دې سیمې سره یې دانتساب په رابطه تازه او نوی دی.

لومړی تن چې دکاپسي نوم یې زمونږ تر غوږونو راورساوه هغه پانې نې دسانسکرېټ دصرف اونحوې عالم و چې په څلورمه م ز پیړۍ کې دپیښور مربوط داوسني اټک تر خوا اوسیده . داسې دمؤرخینو دپلار یوناني هردوت هممنهالی و. ده دکاپیسي دشرابو ډیر تعریف کړی دی، لکه څنګه چې فرانسوي ختیځ پیژندونکي موسیو افردوفوت وایي له پانې نې څخه تر هیوان تسنګ چیني پورې یعنې له څلورمې م ز پیړۍ څخه تر اوومې زېږدې پیړۍ پورې یو زر کاله وړاندې داسلام له دورې څخه دکاپیسې نوم اخېستل شوی دی او دا نوم دهندوکش دجنوب خواته دیوناني پاچاهانو په سکوکې یادشوی دی اودلرغونو مؤرخینو په ډله کې چې وروستی ځل یې داسیمه یاده کړې ده هغه البیروني دی او په بل عبارت داسلامي دورې لومړی مورخ دی چې دکاپیسا دا لرغونې کلمه مورد ته رایادوي او باقي عربي مؤرخین او جغرافیه لیکونکي له دغه نامه سره اشنائي نلري اودهغوي په لیکنو کې دکاپیسي پر ځای هر څه چې دی خو دکابل بحث شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورته څرګندونو له مخې چې دکاپيسي نوم په څلورمه م ز پيړۍ د (پانې نې) له خوا يادشوی نو مخکې له دې چې سکندر مقدوني دې سيمې ته راشي په دغه سيمه کې چې نن دبګرام کنډوالې پرتې دي دکاپيسي ښار پنجشير ته نژدې و، لکه چې په ځينو ماخذونو کې دسيروس هخامنشي په اړه چې هغه په شپږمه م ز پيړۍ کې تير شوی، او ددې ښار له خلکو سره يې مقاومت کړی يادونې شوي دي.

د ۱۹۴۱ کال په پای او د ۱۹۴۲ کال په اوږدوکې چې فرانسوي پوه موسيوګيرشمن کومې کيندنې ترسره کړې دهغو کيندلو په اثر داسې څرګنده شوه چې ديوناني باختري په واکمنو دورو کې ددويمې ق.م پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې دلته ښار جوړ کړای شوی چې هغې ته يوناني کاپيسي ښار ويلی شو.

آيايونانيانو دخپل ښار بنسټ دکاپيسي دپخوانې ښار پر ځای ايښی او که ترڅنګ يې ورته جوړ کړی؟ دامسئله لانوره مطالعه غواړي مورږ فعلاً په بګرام کې دوه معلومې کنډوالې لرو :يوبرج عبداله چې دپنجشير ډيرې اوبه يې ترڅنګ دي اوبل ۵۰۰ مټره پورته شمال لور ته چې کنډوالې يې يوڅه زياتې دي. يوشمير په برج عبداله کې يوکلا ګوري چې د سکندر په وخت کې جوړه شوې وه نه پوهيږم چې دهغوی دلايل څه دي؟ دکيندلو په ترڅ کې يوشمير خامې خښتې چې نقش کړای شوي وې او ديوناني الفبا حروف پرې ليکل شوي داهم هلته موندل شوي، آيا له دې نه نتيجه اخستلای شو چې هلته کلا د سکندر په وخت کې جوړه شوې ؟ هو ددې احتمال شته چې له سکندر نه وروسته يوناني باختري شاهانو هلته کلا آباده کړې وی.

موسيو هاکن پخپله دبګرام کنډوالې دنوي شاهي ښار په صفت ياد دې کړي دي چې بنسټ يې لکه چې پورته يې يادونه وشوه دګيرشمن دکيندلو پراساس چې وايي دا د دويمې م ز پيړۍ په لومړۍ نيمائي کې ايښودل شوی دی.

همدغه ښار کوشانيانو دمسيحي پيړۍ په پيل کې له يونانيانو څخه نيولی دی چې دايې يو مرکز او يوپايتخت و، دابنار په ټولو بدلونونو او دورو کې د (کاپيسي) په نامه يادیده او حتی د مسيح په اوومه پيړۍ او داسلام په پيل کې هم په همدغه نوم يادشوی او پوره شهرت يې لاره، او حتی هيچا په اوومه مسيحي پيړۍ او داسلام په پيل کې او همدارنګه دهجري په لومړۍ پيړۍ کې دبګرام په نامه ندی ياد کړی او زمورږ قاطع ثبوت البيروني دی چې هغه هم داځای د (کاپيسي) په نامه يادوي نه د (بګرام)

البته مورږ دبګرام اوبګرامي په نامه دوه سيمې لرو مګر دکلام روح دلته دی چې دپيړيو په اوږدو کې يوزر کاله تر اسلام دمخه همېشه دکاپيسي نوم اوريدل شوی او ددې کوم ماخذ درک نلرو چې پدې تاکلي ځای کې يې دبګرام يادونه کړې وي. آيا احتمال شته چې د (بګرام) نوم لويو کوشانيانو او يا وړوکوشانيانو

اویا هم یفتلي شاهانو منځ ته راوړی وي؟ مګر ولې چینې کتونکي هیوان تسنګ په اوومه مسیحي پیړۍ او ځلور سوه کاله وروسته له البیروني څخه بیا هم د(بګرام) په ځای د(کاپیسي) دنامه یادونه کوي؟ دایو لړ پوښتنې دي چې قانع کوونکي ځوابونه غواړي. هغه څه چې څیړل شوي او سم دي دادي چې :ـ

لویې کندوالې دکوهدامن، کوهستان په سیمه یعنې بګرام کې موجودې دي او بګرام هغه نوم دی چې دهغې په واسطه نژدې یوه نیمه پیړۍ را دې خوا دې کندوالو شهرت موندلی دی ، هو په لیکنو او ماخذونو کې چې له یوې نیمې پیړۍ را په دې خوا لیکل شوي اومخصوصاً له هغه وخته چې "چارلز مسن" په دې سیمو کې تګ راتګ وکړ او یو شمیر سکې یې راټولې کړې نو وروسته له هغې دبګرام نوم په کتاب کې داخل کړای شو.

البته په دې کې شك نشته چې دنوم وضع دعوامو له خوادسوابقو سره امتداد لري او په دې باور دی چې دبګرام نوم دسیمې دعوامو په خاطرو کې پخوانی دی او داهم له شك نه لیرې نه ده چې د (کاپیسي) نوم ورو ورو دخلکو له خاطرو او دماغو څخه وتلی او په ځای یې عام نوم لکه بګرام راغلی وي.

دانومونه کچ او اندازه شوې او تردیره په خاطرو اوحافظو کې راغلي او همهلته خوندي شوې او لږ لږه په دغو دوو پیړیوکې څرګند شوی دی.

۱۳۴۱ _۴_۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکاپیسا بنار

دکابل په شمال کې یوه حاصل خیزه ،بنیرازه او له خلکو ډکه سیمه لرو چې نن ورځ د (کوهدامن اوکوهستان ډنډ) په نامه یادیږي. په پخوانیو زمانوکې (تر اسلام دمخه) سیمه عموماً د (کاپیسا) په نامه یادیدله او ځانته یې لویه او مشخصه ساحه درلوده چې اوږودوالی یې ۱۰۰ او سور یې ۵۰۰ کیلو مترو ته رسیده او ددې لویې ساحې شمال لور ته واورین سپین غرونه اوپه ځینو ځایونو کې تورغرونه و ددې لویې له نفوسه ډکې مدنیت پالونکې ساحې په منځ کې مود (کاپیسي) په نامه یوبنار درلود چې داپه حقیقت کې دکاپیسا مرکز وٴ. چاچې ننني شمال لیدلي وي اودادوه مشخصې منطقې (کوهدامن او کوهستان) یې لیدلی اوپکې ګرځیدلی وي هغوي پوهیږي چې په عمومي توګه کوهدامن له کوهستان څخه دځو سیند ګوټو اوبه بیلوي چې دهغو ټولو تریوځای کیدلو وروسته دپنجشیر درود په نامه یادیږي چې دختیځ پر لور بهیږي چې دادکابل دسیند له لویو مرستیالانو څخه دی.

دکاپیسا له شمال لویدیزې برخې څخه څلور سیند ګوټي چې تقریباً سیلابي بڼه لري ډیر مست اوځپاند دي ددرو له برنیو برخو رابښکته او جلګې ته ورداخلیږي چې دا په ترتیب سره دغوربند ، شتل، سالنګ اوپنجشیر سیندونه دي دا اوبه چې کله له درو څخه راوځي په ترتیب سره لومړی غوربند او شتل دویم سالنګ او پنجشیر سره یوځای کیږي او په همدې ډول جریان مومي ترهغې پورې چې دادوه څانګې بیا په یوځای کې سره ملګري کیږي او همدا سیمه عجالتاً دکنډوالو په مخه کې پرته ده چې نن ورځ یې هغې برخې ته ((بګرام)) وایو او په لرغونو زمانوکې یې ((کاپیسي)) باله چې دادډ سیمې دیوې آبادي بنیرازې برخې څخه وٴ.

معمولاًتر کومه چې تاریخي خاطرې مرسته کوي داسې څرګندولی شو چې په ډیرو پخوانیو دورو کې مثلاً دهخامنشیانو په لومړیو دورو کې او د ((سیروس)) په

وخت کې یعنې پر ۵ م ز پیړۍ اویاترهغې هم دمخه مو په دې ځای کې کلا اویومستحکم حصار لاره او دهغې داوسیدونکیو مقاومتي انعکاس له سیروس هخامنشي سره دلرغوني تاریخ له پاڼو څخه زمونږ تر سترګو کیږي.

له فرانسوي پوه موسیوفوشه څخه نیولې تر هاکن پورې مونږ ته دارابنیي چې دابادۍ پخوانۍ نقطه او لومړۍ هسته په بګرام کې برج عبدالله و. چې دکنډوالو پاتې شونې یې لکه دیوې لویې دایرې په څیر دپنجشیر له اوبوڅخه تقریباً دشل مترو په لوړوالي له سیند سره جوختې واقع شوي دي او وروسته له هغې څخه دشل مترو په لوړوالي بیاله سیند سره جوختې دي او وروسته له هغې څخه دوخت دایجاباتو له مخې ۵۰۰ متره پورته دجنوب په لور دبګرام ددښتې په څنډه کې دکاپیسا دښار بنسټ ایښودل شوی دی.

هغه کنډوالې چې نن دبګرام په نامه یادیږي نژدې دوه نیم کیلو متره احاطه لري چې درېیو خواوو لویدیځ، ختیځ او جنوب لور ته یې دلوی دیوال اثاري نښې نښانې څرګندیږي چې دوخت په تیریدلو اوبادباران له املې یې دیوې غونډۍ بڼه خپله کړې ده.

دې ښار شمال لور ته هم دیوال لاره خو لکه څنګه چې هغې لور ته یې رود واقع دی اوداوبو دډیرښت په وجه اودسیند تګ لورې بدلولو په خاطر اویاهم دزراعت په وجه یې له منځه وړی اونښې نښانې یې تراوسه پاتې دي.

موسیوهاکن دفرانسې دکیندلو دپلاوي پخوانۍ غړی فقیدریس همدغه کنډوالې چې دکلادیوالونه یې تر اوسه شاهد او څرګند دي هغه یې د(بګرام شاهي نوی ښار) په نامه یادوي او دښار عبارت له همغه ښار څخه دی چې چینائي ګرځنده هیوان تسنګ په ۶۳۲ کال کې هغه د (کاپیسي) په نامه یاد کړی دی.

دا و دکاپیسي دښار لرغونتیا اوهغه شواهد چې دخاورو پر مخ پاتې دي او هر لیدونکی چې دبګرام له دښتې نه تیریږي هغه ویني، خو لکه څنګه یولرغون پیژندونکی یواځې دکنډوالو په لیدلو اکتفا نه کوي او کیندنې هم ډول ډول دي چې یو ډول یې عبارت دښار او آبادیو دمشخصاتو له ټاکلو او دلرغونتابه له عمومي دورو څخه دی، یوتن فرانسوي پوه موسیوګیرشمن د ۱۹۴۱ کال په پای اود ۱۹۴۲ په پیل کې یې دکاپیسې دکنډوالو دکیندلو څرنګوالی عملي کړ چې دلته یې یو څولنډ تکي دکارولوپه اړه راوړم:

دموسیوګیرشمن دعملي څېړنې پر اساس داسې معلومیږي چې دکاپیسي ښار دیونان باختري سلطنت پر دوره ددویمې م ز پیړۍ په لومړۍ نیمائي کې جوړ کړای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی او دجوړولو سبب يې هم ددې دورې دواکمنو دواکمنۍ لوړوالی او ختیځ ،جنوب لور ته يې دواکمنۍ دساحې پرخوالی وۀ،ځکه چې (بکتریان) یعنې بلخ چې دسلطنت مرکز وهندوکش په شمال کې وۀ دواکمنۍ له نورو ډیرو برخو څخه لیرې پروت وۀ نو په دې وجه چې دیونان باختري واکمنان د آمو له سیند څخه په فتوحاتو بریالي شول نو دې ته اړ وو چې دغرونو جنوب پلو ته یولوی مرکز پیداکړي، نوپدغه لحاظ داسې یوه سیمه چې داجتماعي او سوق الجیشي په لحاظ مناسب وي دکاپیسې له مرکز څخه بل داسې یوځای نه و نو په همدغه اساس دمستوسیندونو ترځنګ يې ددویمې م ز پیړۍ په لومړۍ نیمائي کې یې دبنار بنسټ کیښود او یونوی شاهي بنار يې جوړ کړ. ځکه باید هیر نکړو چې پخواني بنارونه، دمستحکمو لویو کلاګانو په بڼه وو او دکاپیسې دبنار کنډوالې چې دوه نیم کیلو متره واټن لري، څرګندوي چې دادهغه وخت لوي بنار و اوتر خوایې خندق،کلا اوبرجونه وو ، ترکومه ځایه چې دهځو له نتایجو څخه څرګنده شوې ده دکاپیسې دحصار دیوال په خپلو بنسټیزو برخوکې ډیر سورلري چې له ۲۰ مترو څخه زیاتیږي دبنار په څلورو ګوټونو کې ددروازو تر څنګ يې ډیرلوي برجونه وو او نور دیوال يې ځای په ځای وتلې برخې درلودې چې پدې ترتیب بنار ته ددښمن نژدې کیدل دخندقونو له لارې څخه اسان کار نه و.

دکاپیسې بناریوځه موده دیوبنار په توګه اوبیاوروسته دمرکزاو پلازمینې په حیث يې شهرت پیداکړی دی. وروسته ترهغې چې دهندوکش په شمال کې دیونانیانوځای کوشانیانو ونیو، نو یونانیانو قهراً په جنوبي سیمو کې سره محدود شول تر دې پورې چې په ۵۰ م ز کې کوشانیانو جنوب ته هم لاره وکړه او دیوناني وروستي پاچا هر یالوس چې دکابل پاچاؤ، کوشاني پاچا ویماکدنیزوس ته يې سیمه تخلیه کړه او لدې تاریخه وروسته دکاپیسې نامه دکوشانیانودپایتخت په توګه شهرت ترلاسه کړ او دنوي کوشاني امپراطور کنیشکا دواکمنۍ پر وخت داورنۍ پلازمینه (پایتخت) پیژندل کیده.

۱۳۳۷ _ ۵ _ ۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکاپیسې وروستۍ ورځې

(کاپیسي) دکاپیسا مرکز دی چې نن ورځ دبګرام، کوهستان اوکوهدامن په منځ کې پروت دی، داځای نه یواځې دپیړیوپه اوږدوکې دافغانستان یو مشهور ښار ؤ، بلکې په بیلابیلو دورو کې له یو نانیانونیولې تر کوشانیانو پورې دافغانستان پلازمینه یاپایتخت پاتې شوی دی. داچې څه وخت بګرام دپایتخت مقام ترلاسه کړی؟ دا داسې یوه پوښتنه ده چې پخوانې وختونه په ذهن کې ګرځي او په دې ډول ځواب ورکولای شوکله چې دیونان باختري پاچاهان د (سیتی) قومونو تر فشار لاندې راغلل مجبور شول چې (بکتر) بلخ او وکتریان (باختر) نه کډه وکړي دوی دهندوکش جنوب پلو ته ښکته راغلل اوبرج عبداله سره نژدې یې (نوی شاهي ښار) جوړ کړ چې ددې دجوړولو نسبت پخپله سکندر ته ورکوي، یعنې اوسنی بګرام پورته یاده شوې کاپیسي چینې ماخذ و لیکلې په دقیقه توګه ویلای شو چې (هیلو کلس) دیونان باختري وروستی پاچا دی چې له بلخ نه کاپیسې ته راغلی دی اوددویمې پیړۍ له پیل نه کاپیسې مرکزي اودپایتخت حیثیت پیدا کړی دی.

دیونان باختري پاچاهانو یوه نیمه پیړۍ له کاپیسې نه دافغانستان په ډیرو ځایونو اوهند باندې سلطنت کړی دی. او لکه دیونانیانو په څیر کوشانیان هم په لومړۍ مسیحي پیړۍ کې له باختر نه دهندوکش وجنوب لور ته راغلي دي اوپه کاپیسي کې یې دباختریونانیانو ځای نیولی دی اودلوي کنیشکا پر وخت بګرام دیو لوي باعظمته مرکز په حیث وپیژندل شو او همدا ځای دکوشان شاهانو داوړي مرکز وټاکل شو.

وروسته دلویوکوشانیانو څخه وړوکو کوشانیانو یا(کیدارانو) اوبیا وروسته ترهغو څانګو لکه یفتیانو هم همداځای دمرکز په حیث وټاکه یوتن چینائي ګرځندوی چې په اوومه مسیحي پیړۍ کې یې کاپیسي په خپلو سترګو لیدلې ده

هیوان تسنګ دی هغه وایي چې په ۶۳۲ کال کې له بامیانو څخه کوهستان اوکوهدامن ته ورغی او پوره یوه میاشت هلته دښار ترڅنګ پاتې شو، دهغه دیادښتونو له مخې داوخت سلطنتي کورنۍ (کشاتریه) یادیدله چې لغوي معنایي (جنګیالي نجیا) وه اوعبارت د(کوشان اویفتلي) کورنۍ څخه وو چې دادکوشان اویفتل له کورنیو څخه یوه مشترکه کورنۍ وه اوکله چې هیوان تسنګ په ۶۴۴ کال کې له هند څخه بیرته راستنیده داکورنۍ په کاپیسي کې واکمنه وه او بګرام لا تر دې وخته خپل دپایتخت حیثیت دلاسه نه و ورکړی.

کله چې داسلام ددین مبلغین اولښکرې لویدیځ افغانستان کې څرګندې شوې اودسیستان په ځینو برخو لکه (زرنګ) (زالق) (کرکویه) کې مخ په وړاندې راغلې تر دې وخته بګرام خپله دمرکزیت اوپایتخت حیثیت درلود مګر دکابل ښار چې دغرونو په لرلو او دلویې کلا په موجودیت دسوق الجیشۍ له مخې تر بګرام نه ډیر غوره ؤ، نو په دې وجه دبګرام اهمیت یو څه کم دثقل اواداري مرکز خصوصا دنظامي چارو مرکز کابل ګرځیدلی ؤ، پردغه اساس رتبیل شاهان چې کوشان اویفتلي وو ددې ښار له استحکام څخه په غړونو کې له دیوالو څخه چې دیفتلیانو په وخت کې جوړ شوي ووٴ داسې ګټه پورته کړه چې تقریباً دکاپیسي نوم دخلکو هیر شو، چې دعربو په مقابل کې ټولې منابع دهمدې ځای څخه دمقاومت کیسې کوي.

لکه څنګه چې دچیني ګرځندوی یادښتونه شهادت ورکوي داوومې پیړۍ ددویمې نیمایي په پیل کې دعربي ځواکونو دموجودیت په وجه کاپیسې ته دتلو راتلو لاره لابنده نه وه په دې لحاظ داوومې پیړۍ په دویمه نیمایي اود ۸ پیړۍ جریان چیني منابع له کاپیسا څخه اوهمدارنګه عربي منابع له کابل څخه د کیسې په ډول رااخلي.

ددې وجه داده چې چینایانو دکاپیسا ددولت ((کي پن)) په ملاتړ داکلمه ډیره په خپلو دفاترو کې ثبت او تکرارولې اوعربانو چې د کابل استحکام اومقاومت لاره نولدغه ځایه یې ډیرې خبرې کړي دي حقیقت دادی چې کاپیسي چې دخپل عمر اوتاریخ وروستۍ شپې ورځې پورې کولې دکابل دسوق الجیشي موقعیت په وړاندې بې ارزښته شو

اورتبیل شاهان چې پخپله دنظامي فوځونوقوماندانان هم وو دکابل په مقابل کې يې دکاپيسي ارزښت له منځه يوړ ، په دې کې شك نشته چې دکاپيسا مرکزيت دکابل په وړاندې په يوناڅاپي توګه له منځه نه دی تللی په دې ډول چې کاپيسي يودیني اومذهبي مرکزيت لاره اوکابل يو نظامي اوسوق.الجيشي ارزښت درلوده اودې دواړو تر يوې مودې خپله موازنه په مساوي توګه ساتلې ده او ډير ښه مثال ددې ثبوت له پاره دانظريه ده چې پورته يې يادونه وشوه ځکه چې په عين وخت کې چينايي منابع له يوځايه اوعربي ماخذ له بل ښار نه خبرې اوځرګندونې کوي او داپخپله ځرګندوي چې دې دواړو ښارونو شهرت درلوده په دې ترتيب چې کاپيسا ورو ،ورو مخ په زوال و ، اوکابل دعربو بريدونو اوقدرت دترلاسه کولو په وجه مخ په پياورتياؤ.

پر ۷۵۱ او ۵۶۹ کلونو چې ((ووکونګ)) بل چيني ګرځندوی ګندهارا ته راځي تر دې وخته هم کاپيسي مرکزيت لري اودامسئله دموسيوفوشه په نظر تر ۱۷۶ هجري کال او ۳ـ ۷۹۲ ميلادي کاله پورې دوام کوي اوداهغه موقع ده چې ابراهيم دجبرئيل زوې مرفضل ديحيى زوې برمکي دخراسان والي د (قوربند) يعنې دغوربند له درې ځخه پر کاپيسا حمله وکړه دښار مذهبي ودانۍ يې ورانې کړې له دغه تاريخه وروسته دکاپيسا اوکاپيسي نوم چاوانه خست، پرته له البيروني ځخه چې هغه په خپل مال الهند کې يادکړی دی. اوهغه هم ديوې کيسې په ډول چې دپخوانيو وختونو حکايت کوي. لکه ځرنګه چې مو يادونه وکړه پردغه وخت دکابل نامه په عربي ماخذونوکې شهرت درلود. اورتبيل شاهان په همدغه ښار کې اوسيدل، خوترکومه ځايه چې مو وليدل علت يې يواځې دسوق الجيشي والي دی اوبس.

په هر حال قراين په دې دلالت کوي چې د ۸ مې پيړۍ په پای اود ۹ مې مسيحي پيړۍ په پيل کې دافغانستان مرکز بيخي له کاپينسې ځخه کابل ته منتقل شوی دی اودکاپيسې ښار څه دپاسه زرکلونو مرکزيت کابل ته پرېښودلی دی. تر هغې وروسته بيا منابعو دکاپيسې نوم هير کړی دی. اودکابل نوم عموميت پيدا کړيدی.

۷_ ۱۱_ ۱۳۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

(سریکه اویهارا) معبد یا

(شالوکیا) اویاهم د(شترل) معبد

افغانستان په بودایي عصر کې دپرتمینواوښکلیو معبدونو په لرلو شهرت لاره تر دې پورې چې له یوې خوایې دښکلو معابدو او له بلي خوایې دبودایي علماؤو اوازه ترچین اوهندوستان پورې رسیدلې وه. هر یوپخوانی ښار یې، لکه، هډه، بلخ، کابل ، بګرام اوبامیانو په خپل چار چاپیر کې ډیر او مختلف ډوله معبدونه درلودل چې ځینې لویې او مشهور ووٴ او یو شمېر یې دشابهار په صفت یادیدل.

په پخوانې بګرام کې ، دښار له کلا نه دباندې مو یوشمېرمختلف ډوله معبدو نه درلودل چې ځای اوپاتې شونې یې تر اوسه معلوم او څرګند دي.

دبګرام دښار ختیځ لور ته په درې کیلو متری کې یو وړوکی غر دی چې دخلکو تر منځ (پهلوان غر) یا (پهلوان کوه) په نامه شهرت لري چې ختیځ، لویدیځ او جنوب خوا ته یې دبګرام دښتې دي او دشمال په لور دپنجشیر سیندګوټي په واسطه راچاپیر دی.ددې غره په لمنو کې ۷ یا ۸ بودایي معبدونه لیدل کیږي او داسې رانبیې چې ددې غره ټولې ساحې دبودایي عصر دسپېڅلتیا جنبه درلوده دبودایي دین پلویانو معبد تر معبد استوپه په استوپه له دې غره څخه طواف ترسره کاوه. ددې غره په معبدونوکې یومعبد له ټولو څخه ډیر مشهور ؤ ددې معبد دکنډوالو پایځوړ په یاده شوې سیمه (شترك) کې څرګنده شوې اودامشرفه نقطه دپنجشیر داوبو دپاسه دریزه کوهستان په مقابل کې واقع ده. دشترك معبد په بودایي عصر کې د (شوالوکیامعبد) او یاد (سریکه ویهارا) په معبد

شهرت لاره او دشهرت وجه يي له دې امله وه چې له يوې خوا دامعبد ډير لوی ؤ ډيرشمېرعلماء اوراهبان هلته وو او له بلې خوا دچيني يرغمليانو داستقرار ځای و چې يوشمېرچيني شهزداه ګان دچين په (سنکيانګ) کې دکوشانيانو دلويې پاچا کنيشکا له خوا په فتوحاتو کې نيول شوي وو چيني ګرځند ليدونکی هيوان تسنګ ددې معبد په اړه دارنګه ليکي چې دپايتخت يعنې د (کاپيسي دښار) ۲ يا ۴ لی(چې دوه يا ۳ کيلو مټره کيږي) ختيځ لور ته دغره په لمنه کې (مقصد يې دپهلوان غر دی) لوی معبد دی چې ۳۰۰ راهبان پکې اوسيږي چې دپيرې او طريقې لاره دخلاصون ور لاره بولي. دکنيشکا درواياتو له مخې په لرغونو زمانوکې تولې سيمې اوګاوندۍ قومونه حتی دپامير تر ختيځو سيمو پورې يې قوي کړل او هغه يې يرغمل نيولی وو داوړې په موسم کې يې دلته ځای ورکړی ؤ ځکه چې په همدې مقصد جوړ کړای شوی و په يو بل کتاب کې چې د (هيوان سنګ د ژوند) په نامه شهرت لري همدامعبد يې د (شالوکيا) په نامه ياد کړی دی.

دپورته ليکنې له مخې هغه څه چې چيني کتونکي د (شالوکيا) دمعبد دموقعيت په اړه لوستي او ليکلي هغه تولې کټ مټ دپهلوان غره په شمالي لمنو کې د (شترك) معبد څرګندوي.

(شالوکيا) کله يوشمېرځيړونکي د (شارکه) په صورت اويوشمېريې د(سريکه) په ډول لولي. د (سريکه) کلمه حقايقو او مطلب ته نژدې ده ځکه چې (سريکه) هغه کلمه ده چې دچين له مورد سره يې تړاو لاره . د (سريکه) (چين) او چيني تغبير کيدای شی او له (سريکه او يهارا) څخه مقصد (چيني معبد) دی ځکه يې (ويهارا) او (يهار) يې بودايي معبد ته ويل کيدل اوداتعييريولړتاريخي نظرياتوسره هم سمون خوري ځکه چې يوشمېرنظريات په دې اړه شته چې وايي د (شالوکيا) بودايي معبد دچينائي يرغمليانوپه په پيسو اباد کړای شوی و.

وړاندې مو ورته اشاره وکړه چې کوشاني پاچا کنيشکا چيني يرغمليانو ته په دې معبد کې ځای ورکړی و، دهندي او چيني منابعو پر اساس دامسئله په اثبات رسيدلې وه چې کوشاني شاهنشاه کنيشکا دکاشغر په سيمه کې دفتوحاتو پر مهال يوشمېريرغمل په لاس راوړي وو چې له هغوی څخه يو تن چينائي شهزاده هم و،ديوچيني تاريخ له ليکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه چې د (شاهان) په نامه شهرت لري اوتر ۱۱۳ عیسوي کال پورې يې پيښې ليکلي دي داسې څرګندیږي چې دچيني کاشغر پاچايولـه خپلو خپلوانو څخه چې (شن پان) نومیده دګروګان په ډول ديوچي پاچا ته چې عبارت له کنيشکا پاچا څخه وا ستولی و. له دې چيني شهزاده سره يوشمېرنور کسان هم وو او دا ټول د کنيشکا له خوا داوړي دپايتخت تر څنګ په همدغه ځای کې چې د (شالوکيامعبد)آباد شوی. ورته داوسيدلو امرشوی و اوچينايانو دخپل شهرت له پاره يو په زړه پورې ښکلی معبد آباد کړ چې دخلکو تر منځ يې د (سريکه ويهارا) يعنې چينې معبد په نامه شهرت تر لاسه کړ.

وايي چې چيني شهزاده ګانو دبنسټ ايښودلو پرمهال يو مقدار پيسې او جواهرات د جوړولو يا بيا رغونې په خاطر هم له ځان سره ساتلي وو. خواتفاقاً په ۶۳۲ م کال کې کله چې چيني کتونکي هيوان تسنګ دکاپيسې ښار ته رسيږي او هغه دشهزاده ګانو دساتلو پيسو غوښتنه يې خلاصه کړه او معبد چې دامهال دمرمت يا بيا جوړونې وړ شوی و بيا ترميم کړ پر ۱۹۳۷ کال دشترك معبد چې همغه د (شالوکيا) دمعبد پاتې شونی دی دپروفيسر هاکن تر څارنې لاندې د موسيومونيه له خوا وکيندل شو او په نتيجه کې يوه مستطيل شکله ودانی چې په برخه کې يې يوه استوپه وه، کشف کړای شوه. دغې ودانی لمر خاته پلو ته يوه بله احاطه درلوده . او دلته ډيرشمېرنورې وړوکې استوپې هم ابادې شوې وې چې ځينې يې لاتراوسه جوړې وې.

دشترك له معبد نه چې کوم اثار تر لاسه شوي هغه ټول دکابل په موزيم کې ځای پر ځای کړای شوي دي او يوشمير د تيږې تورپل شوې دحيواني مجسمې په لاس راغلي دي چې ډيرشمېريي دعيسوي په لومړۍ او دويمې پيړۍ پورې اړه لري او دې سيمې ته چيني ګرځند او کتونکي راتلل ،د ۶۳۲ زېږدي کال له هلته اوسيدلو څخه داسې څرګندیږي چې داوومې پيړۍ تر لومړۍ نيمائ پورې دامعبد له منځه تللی نه و او وروسته له هغې د اسلام په راتلو سره لکه چې په کاپيسا کې نور ډير معبدونه هم رنګ کړای شوی دی.

۱۳۳۷\۶\۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بکتریان کې ناهیده اود هغې (عبادت ځای)

ناهیده چې داسم خاص په توګه ددې یروجنکیواومیرمنوپه منځ کې همدارنګه دختیځ فرهنګ او افسانوي اوفارسي ادب له (وینوس) سره مترادفه ده دجنس لطیف دښکلا علامه ګرځیدلې ده دایوه تاریخي کیسه او سابقه لري چې یوه برخه یې عمومي جنبه لري او بله برخه یې په ځانګړې توګه دبکتریان دځاورې او دامو سیند له پاره ده.

په اوبستایي ادب کې دناهیدې دکلمې پخوانۍ بڼه د (اناهیتا) په شکل راغلې اوعموماً دبلې کلمې چې عبارت دی له(اردویسورا) سره ملحق دی. چې دیوشمیر پوهانو په عقیده دآمو دسیند نوم و. په اوبستایي متون کې (اردویسورا اناهیتا) کلمه په سلګونوځله تکرار شوې ده او په ځرګنده ښکاري چې دانوم دمخه له زرتشترا څخه نه، بلکې له تاریخ نه دمخه داوبو ځانګړې خدای هم په همدغه نامه مشهور و. په اوبستا کې داوبو دځانګړې خدای دویستورا اناهیتا په بڼه یادونه شوې ده.

(ګایګر) المانې پوه باوري دی چې په دغه ترکیبي نوم کې دوه خاص نومونه وو (آمو) درود نوم اوبل دنومورو اوبو موکل نوم لیدل کیږي، او اناهیتا) دآمو دسند داوبو موکل نوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی داوښتا له متن نه ډيوې پارچې يادونه کوي او دهغې له مخې استنباط کيږي چې د (اردويسورا) يا آمو سيند يو لوی مست اوخپاند سيند دی چې ددينا له لوړې برخې نه يې سرچينه نيولې ده اوپه سلګونو داوښتا په اصطلاح چې په زرګونو ښانبونه يې له غرونو څخه رابنکته کيدل او ددومره لاړې په اندازه چې په څلويښت ورځو کې تر سره کيدای شوه له خپلې سرچينې څخه لرې کيدل.

بايد پاملرنه وکړو چې (آپان يشت) يا داوښتا پنځم پښت دځانګړې خدای ستاينه او يا دهمدغې لويې رودخانې موکل ته وقف ده چې دبکتريان له شمالي برخې نه تيريده اوتيريږي.

فرانسوي پوه "ډارمستتر" پدې باوري دی چې (اردويسوراناهيتا) کولای شو (مطهر عالی قوه) ترجمه کړو او له هغې څخه مقصد طبيعي سرچينه ده له هغه ځايه چې لوړه څوکه يې په ستورو لګيږي او په اوښتاچې دځمکې دمخ ټولې رودخانې تر سرچينه اخلي. په تازه ماخذ کې (ارودیسورا) درودخانې نوم او (اناهيت) دهغې دموکل نوم شويدی.

لنډه داچې دزمانې په تيريدلو سره د (اناهيتا) کلمه له (اردويسورا) څخه جدا شوه او (اناهيتا) ديوې عالي مظهري (ژنې) قوی صفت يادرودخانې دموکل ديوې ښکلې جلې دځانګړې قيافې صورت پيداکړ چې په هغه برخه کې هم پخپله اوښتا مور ته ډير ښکلي معلومات راکوي او وايي:

"اناهيتا يوه ځوانه اوښکلې نجلې ده چې دښکلي اندام لرونکې لوړه ونه لري پاکي او سپيڅلتيا يې په سر او صورت کې څرګنده ده.

ملايې ټرلې او زرين حاشيه لرونکی کميس يې په تن ،لويې مربع شکله طلائي والې لري او غاړه کې يې پر سپينه غاړه ليدل کيږي، خپله ملاټړي او تر سينو پورې ښکلې اوبرجسته معلوميږي، په يې دطلا تاج پر ګرده ښه بريښي او سلخالونه لري چې هر يو۸ مخه لري چې ټول يې پر مخ پرک وهي"

لکه څرنګه چې کتل کيږي اوښتا اناهيتا داسې تشريح کوي لکه چې مجسمه يې په هغه وخت کې موجوده وه، داهم ديادونې ورډ ده چې داوښتا دشهادت له مخې په باختر کې دکيسو اوافسانو پاچاهان لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشدادیان کوانې او اسپه کورنۍ تر ګشتا سپه پورې دوی ټولو له هغې مرسته غوښتې او پخپله زرتشترا هم څوځو ځله تر مرسته غوښتې ده.

هغه څه چې "اناهیتا" په ډیره اندازه دبکتریان خاورې ته مربوطوي هغه ددې په خپل نوم دیومعبد عبادت ځای وجودو.

دبکتریا په ښار کې یو ښکلی اودډیر شان اوشوکت لرونکی معبد د (اناهیتا معبد) یا "انانیتس" په نامه وجودلاره، باید هیر نکړو چې د "اناهیتامعبد" د"بکتر" په خاوره کې ډیره لرغونتیا لري او ډیر په دې عقیده دي چې دامعبد په دې ځای کې وړاندې ترهخامنشانو موجود وه. اوددې کورنۍ موسس "سیروس" په باختر کې وروسته له یرغملونو د"اناهیتا" دین (ائین) له ځان سره دفارس خاورې ته یوړاو دخشابادشاه په زمانه کې دناهید پرستش په هغه ځای کې خپل اوج ته رسیدلی و.

۱۳۳۸\۲\۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

وارا

په پخواني اريايي تاريخ کې په عامه معنا او د (هند ،اريانې) اريايي تولنې داستقرار اومهاجرت په تاريخ کې په خاص مفهوم او همدارنګه دافغانستان له تاريخ نه مخکښې دورو کې په ځانګړې توګه يوه مسئله ډيره مهمه چې دغور او څيړنې وړ ده هغه د(وارادارګ) جوړول دي. (وارا) چې دلته مې (ارګ) ترجمه کړی دی په نورو صورتونو هم ترجمه اوتعبير کيدلای شي. کولای شو داکلمه مانې کلا ،حصار، قريه کلی، ښار، داوسيدلو ځای او اښتوګنځی ترجمه کړو.

(وارا) لومړنی ارګ او لومړنی مقر دی چې (یاما) داریایانو لومړنی پاچا، دهند او اریاني تولنې لومړنی پاچا او دبلخ دپيش دادیانو دکورنۍ لومړنی لوی پاچا جوړ کړی او په خپل ژوند يې دهغې په ابادۍ کې هڅې او هلې ځلې ترسره کړي دي.

داریايي داستانونو پراساس (یاما) دبرودت او يخنۍ په مقابل کې چې راتلونکی و، نو ځکه يې د (وارا) په جوړولو لاس پورې کړ، اريايي داستانونه وای وروسته له يوزر کالو سلطنت څخه په هغه وختونوکې چې د (یاما) دسلطنت دوروستيو دوروسره برابر يدله، پاچا يوه سخته يخني پيش بيني کړه. وايي چې هره اجوره يواځنی خدای یاما پاچا ته الهام

(زیری) وکړچې دسختې بخنې او واورې وریدنې په مقابل کې چې ممکن غرونه به ټول سپین کړي، ځانته داوسیدلو له پاره پناه ځای جوړه کړي.

پاچا د (وارا) داحاطې له پاره په کار لاس پورې کړ داوښتادشرحې له مخې چې په دې باره کې یې ورکوي داسې ترینه استنباط کیږي چې د (وارا) احاطې لویه او پراخه لمنه درلوده ځکه چې هربازو یې دآس ځغاستې په اندازه اوږدوالی درلود . یاماپاچا په داسې یوه لویه احاطه کې ښار جوړ کړ داوښو ځایونه، کورونه او ځانته یې داوسیدلو ځای جوړ کړ.باغونه یې کیښول او چارچاپیره یې لوړه کلا جوړه کړه چې لوړبرجونه او دروازې یې درلودې.

ددې تعریف له مخې په جرئت سره کولای شو حکم وکړو چې دجمشید (وارا) ارګ، حصار اویالوی اومستحکم ښار وٴ ځکه چې ځانته یې حصار لاره، برجونه او دیوالونه اودروازې یې درلودې او په دننه کې یې ابادی داوسیدلو ځایونه ، کوټې، ودانۍ ،باغونه دغفیرې جم له پاره جوړ کړای شوی و. او حتی دمرغانو اوحیواناتو داوسیدلو له پاره ځایونه ځانګړې جوړشوي وو.

اریائې داستانونه نوره شرخه هم ورکوي اوداسې یادونه کوي کله چې د (وارا) کار تمام شو (یاما) پاچاښایسته سړي او ښځې چې دلوړو ونو لرونکی وو او په صحت ښه توانا وو له یوشمېر جفتو (جوړه) حیواناتو اوپرندګانو له اصیلو تخمونو اوجنسونو اودښو اصیلو نباتاتو سره ارګ یاښار ته ورداخل کړل د (یاما) پاچا (وارا) یا (دجمشید مرکز) لکه په کومو صفاتو چې اوښتایې وایي دامن اوامان ځای اودنیکوکارو خلکو ځای و.

وایي چې دې سیمې ته ناروغۍ نشوې راتللې امنیت او ارامي ددیوالونو دننه ښکاریدله، دښر ښکلې اوښایسته نسل همداراز دمرغانو او حیواناتو رنګین اوښکلي ډولونه همداراز ګلان اونباتات هلته راټول کړای شوي وو.

تر دې وړاندې داستانونو نور ګامونه اخستې او وایي په دې ځای کې بدخلقي، جنګ جګړه، فریب او نور شیطاني خباثت نه لیدل کیدل، خلک یې ټول روغ رمټ تر اوتازه وو په هغه ټولنه کې بې ترکیبه غابنې لرونکی، پته سترګو وړند ، په خپه ګوډ او دیوې عضو نه لرونکی بلکل نه لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیـده، مـګر ددې برعکـس داچـاپیریـال داسـتوګنې خوشـحالۍ، اوسـعادت چاپیریـال و او پـاچا له خپـل رعیـت سره په ډیره خوشحالۍ هلتـه ژونـد کـاوه.

ایاداوبسـتااصلي مطلـب لـه وارا څخـه څه وه؟ ایـا (وارا) د ارګ ، کـلا، یـا ښار پـه حیـث خـارجي مفـهوم لاره! او کـه یـایې مقصـد دزمینـداری ، کـښت اوزراعـت دژونـد د (وارا) پـه اړه لـه عمومـي فـهواو څخـه داسـې څرګندیـږي چـې (هنـد اواریـاني) اریائیـانو دتیـرو دپخوانیـو اونویـو دورو دتـیرولو څخـه وروسـته بـالاخره یـې دامـو دریـا اوسـردریا دحـوزو ترمنـځ دځمکـو پـه کـښت او کـار بوخت شوي، نـوی ژونـد یـې لـه نعمـت اوبرکـت سـره مـوندلـی دی.

د(پاراداتـا) یـا پیـش دادیـانو دوره دهُنـد او اریـاني اریایـانو دزمینـداری او بـزګری دوره ده چـې لرغونتیـا یـې هـر څه چـې وه خـو لـه یـوې مرحلـې سـره یـې دامـو دریـا پـه حـوزه مخـامخ یـو، لکـه څنګـه چـې پیـش دادیـان او لـه هغـې جملې څخه جمشید(یامـا) لـه بلـخ سـره ارتبـاط لاره. ایـا دنیمـه تـاریخي او نیمـه افسـانوي او اسطوره یـې تعبـیرونو یـوځه برخـه د (وارا) شـته والـی پـه بخـدي یـا پخوانـي بلـخ کـې ډیـوې کـلا پـه حیـث ګانه ؟

۱۳۳۸\۳\۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د "زراسپه" يا "آزراسپه" بنار

دافغانستان دلرغونو بناروتو داثارو په اړه پلټنه اومطالعه دتاريخ او ادب له نقطه نظره ډير ارزښت لري، دلته له تاريخ اوادب څخه مقصد دبناروتو اومرکزونو ترمنځ ارتباط دی چې په ادبي لحاظ دهيواد پخوانيو ژبو ترمنځ دمطالعاتواودلچسپی ور پرانيزي، اودتاريخ له نظره دلرغونو بناروتو دموقعيت تاکل دګذارشاتو په پوهيدلو کې ډيره مرسته کوي ، لکه څنګه چې څوځول ويل شويدي افغانستان داورډ تاريخ په لرلو مختلف مدنيتونه ترسره کړي دي او بيلابيل دينونه يې يو په بل پسې تير کړي. ژبو اولهجو يوپر بل تاثير کړی دی چې داټولې صحنې ډيرې په زړه پورې دي او دمرکزونو دنومونو مطالعه دنمونې په ډول ديوې وړوکې جهاني کلمې په قالب کې له ـــ ادبي، تاريخي، فرهنګي اومذهبي معناوو څخه ډکه دسترګو پر وړاندې انځوريږي.

دهندوکش په شمال کې يودلرغونو بناروتو څخه چې نوم يې لږ اوريدل شوی دی اودهغويه هکله څه ليکل شوي نه دی داهغه بنار ذی چې دلته يې د (زراسپه) يا (آزارسپه) ترعنوان لاندې قيدو ،اصلاً د باختر دبناروتو په اړه لرغوني منابع لرو ديوناني مصري جغرافيه ليکونې (بطليموس) او (استرابون) او نوروآثار په لاس لرو.

استرابون په داسې حال کې چې دبکتر (بلخ) دښار نوم اخلي هغه په لاندې ډول هم یادوي: یعنې (زراسپه) (داراسپه)یا (ادارسپه) "

"آرین" یوتن بل یوناني جغرافیه لیکونکی دباختر دمشهورو ښارونو په قطار کې د(زاراسپه) دښاریادونه هم کوي.او هغه یې د(زاریسپیس) په نامه هم یاد کړی دی د (زار اسپه) یا (زارپسیس) دښار ارزښت دسکندر مقدونې دیرغلونو پر مهال چندان روښانه نه دی، مګر د سکندر د یرغلونو ددوام پر وخت له باختر نه د (سغد) یا(سغدیان) (ماوراء النهر) اودآمو دسیند شمال لور ته په نورو سیمو دبریدونو پر مهال یې ژمی په نومورې ښار کې تیراوه ځکه چې د زراسپه ښار مهم ښار ؤ. اودجنګي پیاورتیاوو اولورو برجونو له نظره په زړه پورې ځای و اوکه داسې نه وای نو د سکندر په باختر کې دجنګ پر مهال له یوناځاپې سپرله یېز ګوابنه په هغه ځای کې نه اوسیده. په عمومي ډول داسې رابنیي چې (بکترا) یعنې دیونانیانو دعصر له بلخ ښار یاد سکندر معاصر اود(زاراسپه) له ښار یوځخه وو.

دپخوانیو جغرافیه لیکونکیو په جمله کې یوازینی شخص بطلیموس دی چې دهغو دورو ترمنځ توپیر کوي لکه چې د(بکتریا) اوزراسپه ښارونه بیل بیل ښارونه وو، خو ددې له پاره چې ډیر سره نژدې واقع وو، یوشمیر خلك دواړه یوښار بولي.

پاتې دې نه وي چې د(زراسپه) نوم پرته له ښار نه دیو رودپه باره کې هم راغلی دی چې نومورې ښار دهغه رود په غاړه اباد شوی ؤ اوددې ښار اوسیدونکي د (زراسپه یانو) په نامه یادیدل.

دښار دنوم په شاوخوا غور کول زمور معلوماتو ته نسبتاً پراخوالی ورکوي اوپه دې کې شك نشته چې دابنار دمخه دیونانیانو له زمانې اودمقدوني سکندر له یرغلونو څخه موجود ؤ. او په دې کې هم شك نشته چې یونانیانو دسیمې له خلکو دانوم اوریدلی اوپه هغه ښه چې پورته مو ولیدل چې له جملې څخه یې یو هم (زراسپه) دی، قید کړی وي. په دې دوو کلمو کې په کوم نامه کې شك لیدل کیږي؟ یو(زر) اوبل (اسپه) دویمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلمه ډیره روښانه ده چې عبارت له (اس) او (اسپه) څخه دی چې په فارسي اوپښتو ژبو کې یې تر اوسه تغیر نه دی کړی. لومړی کلمه ډیره مطالعه اوترجمه غواړي. ځکه چې تر اوسه یې د (زر) د (طلا) په معنا او (هزار) یې د زر په مانا ترجمه کړی او نومورې ښار یې د (یوزراسونو) اویاد (طلائي اس) په صفت توجیه کړی دی. اولکه څرنګه چې دباختر اسونوله پخواراهیسې شهرت لاره، دواړه تعبیرونه له حقیقت څخه خالي نه دی.

دهمدې کلمي له پاره یوه بله توجیه هم لرو چې هغه د (اذر) کلمه ده یعنې اور او لکه څنګه چې مو په لاپخوانۍ زمانه کې دبلخ ترڅنګ اورتون د (ازر اسپ) یا (ازر یاسپه) په نامه درلود نو کیدای شي یونانیانو همدغه نوم اوریدلي وي او اصلا دښار دواقعي نوم معنا د (اتشي اسپ) دمطالعې په باره کې وي چې داتشکدو له جملې څخه دیوې مشهورې اتشکدې داسم خاص په صورت ایښودل شوی وي لکه څنګه چې پوهیږو داسپ کلمه په باختر کې داوږستایي عصر په ځانګړو شاهانو اومشهورو شخصیتونو پورې ډیره اړه درلوده. چې دادبي اوتاریخي حلقو پدې تسلسل کې د (ادراسپه) دښار مبداء په اوږستایي عصر کې ترمیلاده یوزر کاله وړاندې رسولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخاري ژبه د با ختر اوتخارستان

دخلکو اړنۍ ژبه

د ۱۹۵۷ کال دمی ۴مه نیته دافغانستان دلرغون پیژندنې دکیندلوتاریخ یوه ډیره مهمه ورځ شمیرل کیږي. ځکه چې په دې ورځ دسره کوتل په کیندن ځای کې دتیږې یوه لویه لوحه کشف شوه چې په لوی ډبر لیك پوښل شوې ده . دغه چې له یونیم کال مطالعې اوتدقیق وروسته یوتن موسیوماریك بلژیکي چې دفرانسې دکیندلو دپلاوي غړی دی ، په دې وتوانید چې هغه ولولي اویوشمیر کلمې اوجملې یې ترجمه کړي اوداڅرګنده شوه چې له کومې ژبې نه چې په دې ډبر لیك کې ګټه اخستل شوی دباختر اوتخارستان اصلي اومحلي ژبه ده، چې بایدهغه دتخاري ژبې په نوم اصلاً موسیو ماریك داژبه په فرانسوي اصطلاح "اتوتخارین" یعنې د (تخاراصلي) ژبه ونومولې اوددې وجه تسمیه داده چې له دې وړاندې یوشمیر ژب پیژندونکیو داسکایي یوه لهجه چې د "سنګیانګ" ځوانان په علاقه کې کشف شوې د(تخاري) په صفت یاده کړېده (ددې وینا تصحیح ایجابوي چې دتخاری اصلي ژبې دپیداکولو له مخې باید هغه دتخاري داصلي ژبې په تبوګه یاده کړو او دا کار موسیو(ماریك) په همدې غرض عملي کړی دی چې دپخوانیو ژب پیژندونکیو تیر وتنه اصلاح شي.

تول په دې پوهیږو چې دافغانستان خاوره دهند اواروپائي ژبو دپاتې شونیوله نظره ډیره غنې ده اوددرو په کرلیچونو کې کم ترکمه د (۲۰) بیلابیلو لهجو شواهد تراوسه خوندي شویدي. دادحیرانتیا ځای دی چې ددې لهجو یوشمیر دهندي کورنۍ اویوشمیر نور یې اریاني ژبو کورنۍ ته اړوندیږي.

لکه څنګه چې دژبو اړوند له مطالعو څخه جوتيږي چې اريايي قبايل له هندي، اريانې کورنۍ يااله شمالي سيموڅخه اوياهم دهمدې خاورې له لرغونيو هغوڅخه به پيل شوی وي.

تخاري ژبه چې تازه يې له سره کوتل څخه دلوی ډبر ليك شواهد څرګند شوي دي،وروسته له پهلوي ، پارتي، سغدي، خوارزمي او اسکايي لهجې دارياني ژب لهجو شپږمه ژبه ده چې ددې برليك په مضمون يې څرنګوالی څرګند شوی اودافغانستان په ژبو کې يې ددې ډيرې مطالعې له پاره نوی فصل پرانستی دی.

موسيوماريك عقيده لري چې وروستی تن چې دتخاري ژبې يادونه کوي هغه البيروني دی چې په خپل يوتاليف ددارونګانودنومونو په باب کې ديوشمير نباتاتو نومونه يې په تخاري ژبه ياد کړي دي.

کله چې چينائي ګرځند کتونکی هيوان تسنګ داوومې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې دافغانستان شمالي برخو ته راداخليږي په تخارستان کې دادب اوليکدود دمعنا اوڅرنګوالي په اړه چې په هغه وخت کې په دې علاقه کې رواج او معمول و معلومات ورکوې او له هغې نه داسې څرګنديږي چې زمورږ دبحث ور تخاری ژبې دادبي آثارو په نسبت يې له سغدی ژبې نه ډير پراخوالی درلود. دنومورې کتونکي نظريات ددې لکيدود له پاره ډير په زړه پورې دی، ځکه وايي چې ليکدود يې ۲۵ توري لري او په افقي توګه له چپ نه بنی خواته ليکل کيږي لکه څرنګه چې دتخاری ژبې ليکدود دسره کوتل په ډبر ليك کې څرګند شوی يوناني دی، ۲۴ يوناني توري پکې شامل دي او پنځويشتم توری يې د (ش) حرف دی چې د (ش) اواز لکه دکنيشکا په څير اداکوي.

په دې ترتيب څرګنديږي چې دځاګرو اړتياء و له مخې يې نوی حرف هم په الفباء کې اختراع او ورزيات کړی وۀ.

موسيوماريك دمطالعې پر مهال دتخاری ژبې صفت دانتصاب څرنګوالي له پوښتنو سره مخامخ کيږي، چې پخپله يې ځوابونه ورکړي دی، مثلاً:

ايا طبعاً موږه خاطر کې ګرځي چې نومورې ژبه دمتهاجمو يامهاجرو قومونو ژبه نه ده چې دتخاری پر نامه دويمه م ز پيړۍ کې دآمو له سيندرا

تیره شوې او دافغانستان دغې څنډې ته راغلې او دهغو دراتلو په تعقیب سره بکتریان په تخارستان شهرت وموند؟

نومورې مدقق په ځواب کې خپله پوښتنه داسې ردوي چې هیڅ دلیل نشته چې یوډله کوچیانو اوکښږدی والو خلکو خپله ژبه دباختر پر خپلوخلکو چې دلته میشت او ډیرې مودې اوسیدونکي وو ،تحمیل کړې وي.

دهغه بله پوښتنه داده لکه څنګه چې کشف کړای شوی دبر لیک یورسمي دبر لیک دی اوتقریبا دکوشاني امپراطور کنیشکا حکم اودیوې رسمي اعلامیې بڼه لري ولې ژبه یې کوشانی ژبه نه ده؟ ددې پوښتنې ځواب داسې ردوي چې که چیرته داژبه دشاهي کورنۍ اویادکوشاني پرګنیزه شاهي ژبه وای نو ډیرو پراخو ادبیاتو څخه برخمنه کیده. ځودچینې ګرځندیا لیدونکي پر وینا دادیره پراخه ژبه ده او حتی له سغدي ژبې نه هم پراخ اوبډای ادبیات لري.

نودبلژیکي پوه په عقیده هغه ژبه چې دسره کوتل په دبر لیک کې تري کاار اخستل شوی دی دباختر اوتخارستان داصلي اوسیمه ایزو اوسیدونکیو ژبه ده او دلویدیزو اوختیزو ډلوترمنځ دایران ژبو کورنیو داستعمال عامل شمیرل کیږي.

دتخاری باختري ژبې رسم الخط داستعمال له مخې دمنځنۍ ایرانۍ ژبو د رسم الخطونوسره لکه پارتي، سغدي، اوخوارزمي توپیر لري ځکه چې نومورې رسم الخطونه په مستقیمه توګه له ارامي رسم الخط څخه مشتق شوي چې په ډیره پیمانه دهخامنشیانو ددفتري منشیانو تاثیر په کې څرګند دی، حال داچې باختر اوتخارستان دیوناني عنعنوي لرغونتیا پر اساس یوناني الفبا په خپله لیکنې ژبه کې استعمال کړې ده او دارسم الخط دصوتي سیستم په لرلو دتخاری ژبې دصوتونو له پاره بشپړ غوره او مناسب و او په عین حال کې دباختر اوتخارستان ادبي ازادي هم راڅرګند وي.

۱۳۳۷\۱۲\۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

باختري يابلخي ژبه او د سره کوتل

د ډبر ليک وروستی ژباړه

د بغلان دسره کوتل ډبر ليك (۱۹۵۷ م کال دمی ۴ مه ورځ) په افغانستان مرکزي اسيا هند او ايران کې ډېر تاريخي اوفرهنګي (تاريخ اوادب له نظره) ارزښت لري. له ۱۹۵۷ کال څخه تر نن (۱۹۶۷) کال پورې ددې لسو کالو په اوږدو کې چې له کشف نه يې پوره لس کاله تيريږي يوشمير اروپائي پوهان لکه په فرانسه کې (پروفيسر بن وانيست) په انګلستان کې فقيد پروفيسر هيننګ) او پروفيسير ګرسه ويچ) په المان کې (پروفيسر هومنبخ اوګوبل) او دنړۍ په ډيرو برخو کې يې په تحليل ، تجزيه، قرائت دالفاظو په سموالي اودمتن په راټولولو بوخت دي.

د(اتوتخاري) او(اصلي تخاري) صفت هغه صفت و چې دډبر ليك دکشف په لومړيو کې دموسيو (ماريك) دفرانسې لرغون پيژندنې دپلاوي دغړي له خوا ورکړای شواو (په تيره مقاله) کې مې دهغې يادونه وکړه نو موسيو" راوول کوريل" دفرانسې دلرغون پيژندنې دپلاوي غړی په (ازياتيك ژورنال) داسيا په تحقيقاتي مجله کې په دې باره کې په ځانګړي توګه دليکونکي له زاويې خپره کړه مګر يوډير مهم قدم په ۱۹۶۰ کال کې دفقيد استاد "هنينګ" له خوا په لندن کې واخستل شو،او نومورې په

خپله مشهوره مقاله کې (دبکتریان ډبرلیک) ترعنوان لاندې ددې ډبر لیک ژبه د(باختر) یا (بلخي) ژبې په نامه یاده کړه.

استاد هنینګ په یوه مثلث ډوله کانۍ باندې چې له سره کوتل نه کشف کړی شوی، او ددري کرښولرونکی و، دلومړي ځل لپاره دبغلان دنوم په لوستلو بریالی شو. په دې ترتیب سره چې ددې برلیک په دویمه کرښه کې دانوم په لرغوني بڼه د(بغولانګو) په بڼه ولوست هغه باوري دی چې دا کلمه په سغدي ژبه کې د (بغدنک) (اوبغدنګ) په صورت راغلې اوټول دارياني له پخوانۍ کلمې (بغودانکه) څخه مشتق شوي او معنايي اتشګا اورتون دی او وروسته تر دې چې وروستی حرف یې حذف شوی له (بغولانګو) څخه لومړی (بغلانګ) اووروسته اوسنی نوم (بغلان) منځ ته راغلی دی.

لکه چې فرانسوي لرغون پیژندونکی پلاوی وروسته دسبره کوتل له ستر ډبر لیک څخه دکیندلو په نهمه اولسمه مرحله کې (د ۱۹۵۸ کال دنومبر له ۲۰ څخه ددسمبر تر ۲ نیټې اوبیا د۱۹۵۹ کال دنوامبر له ۴ مې څخه دنوامبر تر ۲۶ نیټې پورې ۵۳ نورې دکانې خښتې چې دځاه په سنکارۍ کې تړې کار اخستل شوی و.) نوي اسناد (لاسوندونه) و. چې په لاس راغلل او پروفیسر بن اونیست چې دواړه دارياني ژبې متخصصین وو او یوتن بل استاد کولشر دوفرانس په ۱۹۶۱ م کال کې دبغلان په ډبر لیکونو مطالعه پیل کړه او څرګنده یې کړه چې دغه ۵۳ ډبر لیکونه په حقیقت کې دهغه ډبر لیک دویم نقل دی چې پر ۱۹۵۷ کال پریوکانې کښل شوې وه. ددې لیکونو (۲۱ پارچې یونقل او ۳۲ پارچې کانې بل نقل دالیکنه بشپړوي) په دې ترتیب دبغلان له سره کوتل نه درې نقله ډبر لیکونه په لاس راغلي دي چې ټول دکابل په موزیم کې موجود دی.

له دې سره سره یې مطالعې دژبو دمتخصصینو له پاره دکلماتو دتفکیک اولوستلو اوترجمې کارنسبتا اسانه کړی دی. همدارنګه یوشمیر المانې پوهانو لکه (هومیخ) او (ګوبل) هم ددې برلیکونو دکلمو په تعبیر اولوستلو اومتن په ترجمه کې نظریې ورکړې چې ټولې دقیقې اوډیرې علمي جنبې لري چې دټولو مقالو شرحه رسالو ته اړتیا لري چې په ډیره پیمانه به دژبو مدققین ورته پاملرنه وکړي اوپدې ورکوټې مقاله کې یې دتشریح ګنجایش نشته.

لکه څنګه چې مې په پیل کې وویل چې دسره کوتل دلومړي ډبر لیک دکشف دغه لس کاله تبرشول، تر دې وروستیو پوهان دهغې په ژباړه کې بیلابیلې هڅې ترسره کوي، ددې ژباړو یوڅه برخې دڅوکلمو په معنا اوتعبیر منحصرې دي، بلاخره ټوټه ټوټه څوکرښې ژباړل شوي او هغه وخت دټوټه کیدو په وجه دمتن عمومي ګټه استنباط شوه.

وروستی شخص چې دمتن په بشپړه ژباړه یې لاس پورې کړ دفقید هنینګ شاګردانو څخه یوتن پروفیسر (ګرشه ویچ) و چې تیر کال مې دایران پیژندنې په کنګره کې ولید او په همدې باره کې مې ورته دلرغون پیژندنې دڅانګې خبرې واورولې چې مقاله یې د(چاه بغلان) ترسرلیک لاندې د(ریشیامیجر) په مجله کې خپره شوه.

په (فروغ فرهنګ) رساله کې چې دانیس په ۱۳۴۶ کالنۍ کې چاپ شوې له انګریزي ژبې نه یې یوه ډیر ازاده ژباړه پکې نشر کړه چې همغه کټ مټ دلته نقلوم:

"کله چې دکنیشکافاتح معبد جوړشو، یوپاچا په خپل نامه ونوماوه. اوبه هلته موجودې وې، مګر وروسته وچویې اوداوبو دکم والي په وجه خدایان له خپلو ځایونونه پورته شول اومعبد شړ پاتې شو، اوس په دې حالت و چې (نوکرو نزوکو) (فریخ وادیو) چې دهیواد پورو، داسمان زوی ،عادل، شفق دټولو موجوداتو خیر غوښتونکی پاچا له سر پریکړو پلویانو څخه و دثور په میاشت کې ۳۱ کوشاني عهد کې داخل شو اوامپراطور د اوامرو په اثر په ملګرتیا د(کوزګنک) زوی د (برزومهر) (خیرکمن) (سیتل ګانزیک) دمعبد چارچاپیر کلاجوړه کړه او څاه یې وکیندله اوهغه یې په ډبرو وپوښله او څاه ته یې څرخ نصب کړ اوداوبو ذخیره یې جوړه کړه او دمعبد محوطه یې تر لرې لرې ځایونوخړوبه کړه (اپومن) (مهرامن) او (پرزومهرپور) ډبر لیک ولیکه"

البته دبغلان ددډبر لیک دمتن لوستني ترجمې اوتفسیر دمناظرې په اړه ورخلاص دی په همدې ترتیب راتلونکي پر راتلونکیو سپارو. سملاسي دبغلان ددډبر لیک اصلي ژبې ته چې هغه لومړی موسیو مایک د اصیلي تخاري په نامه لوستی اوبیا فقیداستاد هنینګ د (باختري) یا(بلخي) په نامه ونومولې.یوه دارياني ژبو له کورنۍ ختیزه منځنۍ ژبه ده چې دکوشانیانو په دوره دمسیحي په لومړۍ پیړۍ کې دهندوکش په شمال

بغلان کې اودباختر په ډيرو برخو کې پرې خبرې کيدلې اوپخوانيو (سغدي) او (خوارزمي) ژبو ته يې ډير ورته والی درلود.

لکه څرنګه چې ډډيرو اريانې ژبو پرخلاف (که هغه پخوانۍ دي منځنۍ او که نوي دي) چې په سامي ليکدود ليکل شوی دی يواځې ددې کورنۍ مينځۍ ژبه چې ديونانې ژبې په ليکدود او حروفو ليکل شوی داپه ډبر ليک کې په سمه توګه تلفظ او خوندي شوې ده يواځې دکار په پيل کې چې کوم اشکال محسوس وو او شايد تر اوسه به هم په بشپړه توګه له منځه تللي نه وي هغه دکلمو بيلتون دی ځکه چې ډډبر ليک يونانې توري چې په اسانۍ سره لوستل کيږي، هغه پرله پسې اوځنګ پر ځنګ ليکل شوي دي.

۱۳۴۶-۵-۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل او دتاریخ په دوروکې

يې پخواني نومونه

کابل دطبقات الارضي په اصطلاح "ژوره کاسه" ده چې په هغې کې د شاوخوا نقاطو اوبه راټولې شوي دي په بل تعبير داوبو دتوئيدو ځای دی. دکابل شاوخوا ته په يوې کتنې شمال لور ته دخواجه رواش چمن، غرب لور ته يې دبيني نيزار چمن، جنوب ختيځ لورته يې دقلعه حشمت خان چمن ليدل کيږي چې دطبقات الارض مفکوره اواصطلاح پکې حقيقت لري او يوه برخه اوبه چې د چاپيريال له غرونوڅخه بهکته راتللې او راځي لاره يې نه درلوده اوپه مختلفو "کاسوکې" راټوليدلې اوتراوسه يې دبنار شاوخوا نښې نښانې ليدل کيږي.

داڅرګنده ده چې په پخوانيو دورو کې رودخاني دتلو راتلو طبيعي لارې وې مهاجر به همدغو رودخانو ته تلل راتلل لوي کلي او بنارونه به دهمدغو سيندګوټو ترخوا ابادیدل دلرغون اريايانو ديادګار دويد په سندرو کې دکابل درود نوم د"کوه بهار" په بڼه راغلی او په تکرار سره استعمال شوی دی. اوداڅرګنده ده چې اريايانو په افغانستان کې د استوګنې پر مهال او دجلګې " هفت دريا" يعنې پنجاب پر لور دهجرت په مهال رود پيژانده.

طبيعي ده چې دا وخت بنار او دبنار اوسيد نه نه وه او ددې سيندګوټې پر غاړه لابنار اباد شوی نه و او اريايي مهاجر دخيمو اوسيدونکي وو او دشنو رودخانو پر غاړو دمالداری په چارو بوخت وو. دکوبهار دپخوانی کلمې چې دکابل درودخاني نوم دی "کو" د "اوبو" په معنا چې د"و" بدليدل په "الف" تر اوسه د "کابل" په کلمه کې له منځه تللی

نـه دی او دهغـوی چـې پـه شـاعرانه صـورت کـې دکـابل پـه کلمـه کـې "اوبـه د "کل" په منځ کې لیدل هغوی دفیلوژي حقایقو تـه هـم نـژدې دی.

پخوانـی کـابل چـې هـر ځای و خـو څرګنـده داده چـې پرغرونـو ددیوالونـو جوړولـو وروسـته دابـادی دثقـل مرکـز ددوو غرونـو "اسـمایي" او(شـیر دروازي) پـه منځ کـې یـي پراخوالـی ومونـد او دا وروسـته لـه ۵ مسـیحي پیـړۍ نه پیدا شـوی دی.

هماغـه ډول چـې "ویـد" دکـابل درودخـانې یادونـه کـړې ده اوښـتا هـم د۱۴ قطعوځمکـو پـه یادونـه کـې۷ قطعـې ځمکـه د (ویکـده تـه) پـه نامـه یـادوي اولرغـون پوهـان ټول هغـه کـابل بولـي اویوتـن حماسـي پـهلوان ((کرسـپه)) یـې ډیرمشـهورو چـې بیاوروسـته دکـابل او کـاپیسـا دپـهلوانانو یـادونې شـوي دي پیـل یـي لـه همدغـه ځایـه شـوی دی.

ددریـمې م ز پیـړۍ پـه نیمـایي کـې یوتـن مـورخ چـې اراتوسـتنس نومیـده لـه دې سـیمې (اورتسـپانا) یـا(اورتسـپنه) پـه نامـه یادونـه کـوي چـې پوهـان دبطلیمـوس مصـري جغرافیـه لیکونکـي پـه مرسـته دویمـه مسـیحي پیـړۍ کـې داسـیمه کـابل تعبیر وي، البتـه یوشـمیر ددې ښار موقعیـت ښکتـه پورتـه کـړی دی اودنوروځایونـو وړاندیـز یـي هـم کـړی دی لکـه "حصارسـکندري" دسـرای خواجـه ترځنـګ اوداسـې نـور مـرکز دکـابل دښار موقعیـت د "اورتسـپانا" دموقعیـت ارزښت لـه دغـې ځځـه څرګندیـږي چـې دپخوانیـو کـاروانونو لار چـې دهنـد ،بـاختر او اراکـوزي "قندهـار" پـه لـور تیتـې شـوي، موجـودې وې اوفـاصلې یـي معمـولا دموقعیـت لـه مخـې شـمیري او همـدې کتنـې لـه مخـې "اسـترابون" هغـه ځای (څلـور لاری) بولـي دهمـدې تعبیـر لـه مخـې څرګندیـږي چـې د "اورتسـپانا" ښار چـې اوس یـي (فعلـي کـابل) بولـو دکـاروانونو پـر لاره یـي یـو مـهم موقعیـت لاره چـې دالارې لـه همـدې ښار نـه دهنـد ، بلـخ، بـاخترو ارغنـداو سـیمې اودښارونـو پـر لـور یـي تیتـې شـوې وې او دکـابل موقعیـت داخصوصیـت اوس هـم لـري او ددې دري تـر خـواوولارې اوس هم له همدې ځایه تیریږي. البتـه داصفـت پـه سـرای خواجـه اوبـګرام کـې حصـار سـکندرې هـم لـري. مـګر مدققیـن ډیـر پـه خوامتمـایل دي چـې کـابل نومـوړی (اورتسـپانا) (ارانوسـتنس) وکنـه جغرافیـي حـورښت هم دانظریـه تـائیدوي.

بطليموس يوناني مصري جغرافيه ليکونکی چې په دويمه مسيحي پيړۍ کې يې ژوند کاوه دښارونو او قريو په ډله کې (دپاروپاميزاد) ولايت د (کارورا) دښار په نامه يادوي چې پوهانو يې دتلفظ صورت د(کابورا) دښار په نامه هم کړی دی او دکابورا نوري برخې يې دښار داوسيدونکيو نوم (کارورا) تلقي کړی دی دبطليموس د (اوراسپانا) او(کارورا) دواړه يوښار بولي او(کارورا) يې د(بازليئوس) په صفت يعني (شاهي ښار) هم ياد کړی دی. دبطليموس نظريات د(کارورا) او(اواتسپانا) دښار په اړه دکابل تاريخچې په اړه ډير ارزښت لري او په ځانګړې توګه داچې دانبار د(شاهي)ښار په نامه يادوي. اوتر دې اندازې پورې چې دا ښار اداري مرکزيت څرګندوي.

لکه څنګه چې دنومورې جغرافيه ليکونکي دقريوپه نومونو کې دکابل دچارچاپيره ځينونقطو لکه (لوکرنا_ لوګر) (ارګوده _ ارغنده) (بګرده _ وردګ) هم يادوي اودادې نقطې دکابل په چاپيريال کې لوګر، ارغنده اووردګ يادوي دهغه ليکنې د کارورا، کايورا چې کابل دی داهميت اوموقعيت په اړه ډير ارزښت ور دي اوداڅرګندوي چې نومورې نه يواځې دمرکزي ښار له موقعيت نه، بلکې دچارچاپيره مهمونقاطو څخه هم بې خبره نه وه، دکابل دنوم وروستی تلفظ (کاول) او کابل) دی لومړی يې د(پراچې) او(اور مړې) لهجو دتاثير په وجه اود يفتاليانو دتمرکز په اثر منځ ته راغلي او دويم دپهلوي ادبياتو د(بنداهش) په متن کې يې يادونه شوې.

(کاول) ، (زاول) ، (کاولستان) او (زاولستان) به مو تل اوريدلي وي داتلفظونه دمسيحي له پنځمې پيړۍ نه له يفتليانو سره معمول شوی و. لکه څرنګه چې (زاول) (زابل) شو همدارنګه (کاول) (کابل) شو او لکه څنګه چې وروسته له (کاول) څخه د کابل ضبط هم لرو کولای شو ووايو چې د (پ) اوښتل په (ب) چې دواړه قريب المخرج دي دکابل دنوم ضبط وتلفظ منځ ته راغلی چې تقريبا له يوزر کالو راپه ديخوا معمول اومتعارف دی.

۱۳۳۷-۳-۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

بودايي کابل

ديونـاني اوپـهلوي کلاسـيك متـون کـې دکـابل دنـوم دريـنبې او ددې ښار دبيلابيلونومونو دضبط په اړه چې راډيـو تـه مـې يـوه لنډه مقالـه وليکلـه (تـيره مقالـه) دلتـه غـواړم دبودايـي کـابل موقعيـت تصريـح کـړم.

په دې کـې شـك نشـته چې کـابل ديـوې (وادۍ) پـه حيـث، ديـوې کـلا پـه حـيث ، ديـوې درې پـه حيـث،ديـو کلـي پـه حيـث اوبلاخـره ديـوښار اودافغانسـتان دپـايتخت پـه حيـث اوږد تـاريخ لـري. او کـه چيرتـه يـې دپخوانيـو اثـارو پـر اسـاس چـې يـوه مجموعـه يـي ۲۰ کالـه دمخـه لـه چمـن حضـوري اودمرنجـان غونډۍ لـه کوزنـۍ برخـې نـه کشـف شـوې او اوس هـم دکـابل پـه موزيـم کـې خونـدي ده وشـميرل شـي نوکـولای شـو چـې دکـابل تـاريخ تـر ميـلاد پنـځه پيـړۍ دمخـه دکـابل تاريخچـه شـروع کـړو. ـ ددې ۲۵ پيړيـو پـه اوږدو کـې کـابل دتـاريخ بيـلا بيلـې دورې تـيرې کـړې دي چـې لـه هغـې جملـې څخـه يـې يـوه هـم دبودايـي دوره ده چـې هغـې تـه دلويـو کوشـانيانو دوره هم ويلای شـو.

پـه دې کـې شـك نشـته چـې دلرغـون پيژنـداو دخيړنـو پـه وجـه بودايـي معـابدو اواسـتوپـو دکنډوالو اثـار دغرونـو پـه څنډوکې او دښار پـه مـاحول کـې دغونډيو دپاسـه پـه مختلفـو برخـو کـې لکـه چکـړې، کمـري، شـيوکي دشـاخ برنتـي دغـره لـه لمنـو، پنجـه شـاه، دعلـي ابـاد ګردنـه او همـدا راز لـه نـورو

ځايونو څخه هم پيدا شوي دي. خو كه چيرته په غور سره ددې عبادت ځايونو او استوپو دودانيو طرز، شواهد او اثار مطالعه شي څرګندېږي چې داهر يو ديوې نوې اوتازه دورې سره اړه پيدا كوي.

داګوښه معبدونه وو چې دبودايي وخت له دود سره سم دمشخصو ځنډو دپاسه دكابل چار چاپيره تپويانديې ابادي شوي دي.

فرانسوي فقيدموسيوفوشه عقيده لري چې بودايي كابل ديو كلي په توګه داوسني كابل جنوب ختيځ لور ته په ۱۲ كيلومترې دچكري په برخه كې په داسې ځاى كې واقع و چې نن ورځ يې هم دغره پر څوكه (دپاى په برخه) كې يومنار دچكري منار په نامه موجود دى چې ليدل يې مدققينو اوسيلانيانو ته دډير ارزښت ور دي.

دموسيو فوشه نظريه ددې ځاى دتاريخي ودانيو پر مطالعاتو اودده پر هڅو ولاړه ده چې دده په غوښتنه دموسيو (ګودار) له خوا يې صورت نيولى دى.

په چكري كې پرته له دې چې دغره په يوه څوكه باندې منار موجود دى چې دهغې توري وارثې او ثبوت ته رسول ځانګړې مقاله غواړي، يوبل منار د (سره منار) په نامه او څو استوپې موجودې دي چې له نيكه مرغه دزماني په تيريدو سره دقصدي خرابويو ساتنه او محافظه يې په نبه توګه ترسره كړې ده او مطالعه يې په كوشاني عصر كې دكابل دبودايي معمارۍ دسبك له نظره خاص ارزښت لري. دهغې غوندې چارچاپيره چې سره منار پرې اباد شوى دى دلورو ديوالونو اثار تر ۴۰ كالو دمخه هم موجود وو چې اوس يې شواهد لږ لږ له منځه تللي دي، مګر دسره منار په مقابل كې دبودايي كابل دلوې استوپې نښې نښانې تر اوسه موجودې دي چې دمحيط اوږدوالى يې ۴۷ متره دى مګر دمعبد يې پرته له پورې لرونكې ځمكې نه نور څه پاتې نه دي.

دسرهٔ منار شاته ديخ درې په نامه يوه وړوكې دره ده او دچكري دمنار ترشاه يوه بله دره ده دسنجد درې په نامه چې ددواړو په منځ كې تر اوسه وړوكې استوپې موجودې دي.

له چكرې نه لږ لرې دلمرختيځ پر خوا دخورد كابل په لور يوه ساحه ده ددامن كمرې په نامه يادېږي چې هلته هم ددوه استوپو نښنې نښانې ليدل كيږي چې ديوې دمحيط اوږدووالى ۴۵ متره دى او له هغه ځايه بيا لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلمر خاته پر لور يو بل ځای راځي چې دسيمې خلك يې (سه توپان) بولي، خولکه څنګه چې توپ همغه داستوپي کلمه ده. څرګندیږي چې هلته استوپي موجودې وې، نه یواځې د دري استوپو بلکې د ۵ استوپو نښې نښانې ښکاري.

په دې ترتیب څرګندیږي چې د (کمري اوچکري) په علاقو کې په لومړۍ مسیحي پیړۍ اوپه ځانګړې توګه له لومړۍ څخه تر دریمې مسیحي پیړۍ پورې ډیرې استوپي اومعابدونه موجود وو او پدې کې داستوپو اومعبدونو نښې نښانې هیڅ شك نه پیدا کوي.

انګریز لرغون پیژندونکی میسن له ۱۴۰ کاله دمخه بودایي کابل کنډوالې لیدلي دي او حتی دچکرې په لویه استوپه کې یې یولوي سوری کړی و. اویوشمیر ختین لوښې دتیږو صندوقچه او سکې یې له هغه ځایه وړې دي بودایي کابل د ودانۍ دجوړښت دښار دابادۍ اودخلکو دجمعیت له نظره چندان اهمیت نه درلود، مګر ددینې مرکزیت له مخې په پورتنیو پیړیو کې چې یادونه یې وشوه بې اهمیته نه وه دچکري دمنار موجودیت دمعبدو او استوپو شته والی دا رابنیي چې دختیځ اوشمال لوري بودایان هلته روزل کیدل.

۴۱ _۷_۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل شاوخوا بودایي پاتې شوې ودانۍ

لرغـون پیژندونکـي پوهـان معمـولا پـدې بـاوري دي چـې کـابل بودایـي عصرځانګړې سیمه لرله یا پـر بـل عبـارت (بودایـي کـابل) لـه نننـي کـابل څخـه لـیرې وجـودلاره. دنومـورو پوهـانو نظریـه پـه دغـو دوو دلایلـو متکـي ده. یـودپخوانیـو اثـارو، ابـادیو، دمعبدونـو او داستوپـو ودانـۍ اوبـل دکـابل دځینـو اوسـیدونکیو افواهـات، عـرف او عادتونـه.

لـدې سـره سـره دپورتـه نظریـاتو پُـر اسـاس پخوانـی کـابل پـه لومړیـو دوه درهیـو مسـیحي پیړیوکـې دلـوګر دحـوزې لـه مخـې لـهاوسـني کـابل نـه یـې جنـوب ختیـځ پلـو تـه پـه ۸ کیلـو مـتری کـې قـرار لاره او داهغـه حـوزه ده چـې (ساکا) (کمـري) (چکـري) او (بګرامـي) نیولـې ده اودلـوګر اوبـه دمخـه تـر دې چـې دکـابل سـیندګوټي سـره یـوځای شـي. یـواځې د یعقـوب لـه تنـګي څخـه راوځي داپورتـه یـادې شـوې ساحـې خړوبـوي.

دکومـې سـاحې چـې مـو یادونـه وکـړه هغـه سـیمه ده چـې دشـاخ برنتـي، کمـري او چکـري غرونـو یـې لمـر خاتـه، لمـر پریواتـه او جنوبـي خـوا وې ئـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راچپيرې کړي دي او شمال لور يې خلاص دی. همدارنګه يوشمير غونډې لکه: خاك بلخ او تپه مرنجان يې په لرې شمال لويديزه برخه کې پرتې دي.

داوس له پاره دبودايي کابل لرغونتيا دودانيو دجوړښتې سبك له نظره اويوشمير سکودشهادت له مخې چې له پخوانيو ابادیو څخه راپيداشوی دی دلومړی، دويمې اودريمې مسيحي پيړۍ پورې ترشابيولای شو اوداهغه وخت دی چې لوي کوشانيان دخپل قدرت اوج ته رسيدلی و. او دافغانستان په ټولو برخو اودهند په ځينو فتح کړای شويو برخو کې يې واکمني درلوده.

فرانسوي هيوادپيژندونکی موسيو فوشه باور لري چې دبګرامي وجود پر دغوسيمو کې چې يادونه يې وشوه دغلته دوجوديوبل دليل دی اواحتمال لري چې (کابورا) دبطليموس يادونه (چې دښار پنه حيث يې ترينه يادونه کړې ده) په همدغه سيمه کې واوسيږي.

لکه څنګه چې کتل کيږي اوپخوانی بقايا وې اونومونه شهادت ورکوي دغرونو دلوړو څوکو نه نيولی دغرونو ترلمنو او غونډيو پورې په ټولو ځايوکې معبدونه اواستوپې جوړې شوې وې لکه (شاخ برنتي) او د(چکري منار) چې دغرونو په ښکتنيو مورګو باندې واقع وو او په دواړو ځايونوکې دبودايي ابادیو بقاياوې ـــ دغرونو په لمنو اودغونډيو دپاسه په پنجه شاه غونډيو، جان باز، جبه کهنه، کمري، چکرۍ او تپه مرنجان او نوروکې مشاهده کيږي.

په هغو سيمو کې چې يادونه يې وشوه دبودايي ابادیو پاتې شونې معمولاله زراعتی ځمکو پورته اوهمدا راز له کليو لکه (شيوکي) او(کمري) نه پورته اوډير وختونه يې ددرو په منځ کې چې له نظره نسبتا پناه وې جوړې کړای شوې دي.

دپخواني بودايي کابل له مشهورو ودانيو څخه يو هم دچکړې منار دی چې داوسني ښار جنوب ختيځ لور ته په ۱۲ کيلومتری کې ديوغر دمورګي دپای په برخه کې ودان کړای شوی دی. او نژدې ۲۰ متره لوړوالی لري او داهم له شك نه وتلې نه ده چې په پخوانيو وختونو (مسيحي لومړۍ پيړۍ کې) ددې منار په پورتنۍ برخه کې يوځرخ يادبودائي دين علامه و لکه څنګه چې په بنارس کې داشوکا دوخت منار پاتې دی او په سر کې يې څرخ ليدل کيږي.

دپخواني بودايي کابل دودانيو په قطار کې يو بل دقدر ور څيز (سره مناره) ياسور منار دی چې دچکړې دغره په پای کې ليدل کيږي لکه څنګه چې ددې منار په تعمير کې دسور رنګ کانې لګيدلي دي په دې وجه يې د

سور منار په صفت شهرت موندلی دی. ددې دوارومنارونو ترمنځ دځو استوپو پاتې شونې لیدل کیږي چې مخ یې ښه ساتل شوی دی. دلویې استوپې احاطه یې له ۴۵ مترو نه اوړي.

ددې استوپو په مقابل کې دوره وړوکې درې دي چې یوې ته (یخ دره) او بلې ته (سنجد دره) وایي اودهرې یوې په دننه کې وړې استوپې لیدل کیږی.

له چکړې نه دختیځ پر لوري دغره دیوې ګرځنې ترشا یوه بله لویه ساحه پرته ده چې معمولا ورته دکمري دامان وایي هلته ددوو ځانګړو درو په پای کې دوې نورې کندوالی ځرګندې شوې چې هر یو یې ځانته استوپې لري چې دیوې دقطر اوږدووالی څه دپاسه ۴۰ متره دی همدا ډول له دویمې ساحې نه لمر خاته پلو ته دبل غره دیوې څوکې تر شا یوه بله لویه ساحه راځي چې معمولا هغې ته (سه توپان) وایي چې پخپله یې له نوم څخه ځرګندیږي چې دلته یوشمیر معبدونه اوبودایې استوپې جوړې کړای شوې وې. ځکه چې باید هیر نکړو چې (توپان) د(توپ) جمع ده اوتوپ تر اوسه دافغانستان په بیلابیلو ځایونوکې داوسیدونکیو په عرف کې داستوپې له پخوانی کلمې نه عبارت دی لکه (توپ دره) چې چاریکار ته مخامخ پرته ده او یوه لویه استوپه اوس هم هلته لیدل کیږي.

لنډه داچې هغه سیمې چې داوسني کابل جنوب ختیځ لور ته پرتې دي له (جبهه کهنه) څخه تر (سه توپان) پورې په بیلابیلو برخو کې پرله پسې دګرځنیو اوځنډو ترشا یوشمیر مهمې بودایي ودانۍ ابادې وې چې بقایایې دمعبدونو، استوپو او مناروتو په ښه پاتې دي، خودزمانې په تیریدو او ددې سیمې ښار ته دنژدیوالي په وجه پکې ډیرې خرابۍ پیښې شوې، خوبیا هم ویلای شو چې بودایي ودانۍ پدې برخه کې ډیرې وې او داهم له احتمال نه لرې نه ده چې حتی په دریمه ق م پیړۍ داشوکا په وختونوکې کله چې بودایي دین افغانستان ته راغی په دې سیمه کې ابادې شوې وې.

۴_۱_۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابلي رتبيل شاهان

نردريمې زبړدې پيړۍ وروسته په لويديځ کې دساسانيانو او په ختيځ کې دغربي ترکانو درامنځ ته کيدو پر اثر په افغانستان کې دکوشاني دولت قدرت ورو، ورو کمزوری شو. په پنځمه زبړدې پيړۍ کې ديفتل په نامه دنوو خلکو دځرګندیدو په وجه چې دهغوي شل زره کورنۍ اوس هم په بدخشان کې دفيض اباد په شمالي برخه کې اوسيږي، ترکان او ساسانيان دواړه تر شا کړای شول يفتليانو لومړی دهندوکش په شمال اوبيا په جنوب کې دزابل په سيمه يعنې دغزني اوکندهار ترمنځ مقتدر دولتونه منځ ته راوړل اوپه هند کې يې ډير فتوحات ترسره کړل چې له هند څخه ګوپتايانو دوی بيرته افغانستان ته پر شا کړل، چې وروسته بيا په ترکيبي بڼه وړو کوشانيانو اويفتليانو په شريك ډول دافغانستان په بيلا بيلو برخو کې ديوشمير سيمه ايزو واکمنو په مرسته حکومت اوقدرت ته ورسيدل، چې دبامیانو زمريان دهغو قبيلو نمونې وې، بايد ياد ولرو چې په غربي ماخذونو کې په عموم ډول دکابل سيمه ايز واکمن د(کابل خدا) په لقب ياد شوی دی چې مقصد تري همغه کابل شاهان دي، چې کولای شو دکابل شاهان په بيلابيلو کورنيو اوډلو وويشو چې په هغه ډله کې يو هم رتبيل شا شميرلی‌شوچې يو بناخ ته يې د (رايان کابلي) په لقب سر ليك تاکلی شو.

له کومې ورځې چې عربانو دافغانستان له لويديزو سرحداتوسره تماس ومونډ يعنې له ۲۳ هجري (۶۴۵ مسيحي) ترهغې زمانې پورې چې کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیعقوب لیث صفاري له خوا په ۲۵۸ هجري (۸۷۹ مسیحي) کې فتح کړای شو دځه دپاسه دوه پیړیو په اوږدو کې دکابل دسیمې پاچاهان چې دهندوکش جنوب پلو ته یي په پراخه او لویه ساحه کې امارت درلود د (رتبیل) په نامه اوصفت یادشوی دی.

دعربي ماخذونو په تعقیب دفارسي متون په تاریخي اوادبي اثارو کې هم یاد شوی، واکمنان دهجري په لومړیو پیړیوکې هر ځای د (رتبیل) او (رتبیل شاهانو) په نامه یاد شوي دي.

دارتبیل شاهان دهندوکش په جنوبي برخه کې په لویه او پراخه ساحه کې له کابل نه دسیستان ترهامون یا په بل عبارت له کابل نه تر زرنګ یعنې داوسني افغانستان اوایران تر پولو پورې سلطنت درلود او ډډیر قدرت لرونکي وو مګر په کابل کې دسیمه ایزو واکمنانو په نامه یې ډیر شهرت لاره لکه چې برسیره پر ادبي اوتاریخي ماخذونو دکابل دعوامو په فوکلوري کیسو کې یي هم شهرت لاره او لري یي او حتی ـــ دشیر دروازې او شاخ برنتي دغرونو دپاسه دابادیو نسبت ورکړ شوی او ورکول کیږي دا اولسي کیسې او عامیانه داستانونه ددې شاهانو دتاریخي حقایقو په روښانولو کې ډیره مرسته کوي.

په دې کې شك نشته چې د (رتبیل) دکلمې دلیك اوضبط صورت لږ څه غور غواړي، اودمطالبو دتحلیل صورت یې راڅرګندوي. ټول پوهیږو چې د (رتبیل) کلمه په عربي اوفارسي متون کې له بیلابیلو بڼوضبط شوی دی.

لکه له هغې ډلې نه "رتبیل" زنتبیل، زنبیل، زنده پیل اونورادضبط توپیر په غالب ګمان چې دعربي لیکدودونه راولاړ شوی چې په دواړوژبو عربي او فارسي کې یې دتاریخي اوجغرافیایي نومونودلیکنې دسم ضبط ستونزه یې جوړه کړي او په داسې کلمه لکه (رتبیل)کې د (ت) (ب) او (ی) دتورو ځای پرځای کول تغییر کوي اوبیلابیلې بڼې خپلوي لکه چې مثالونه یي لرو

لکه څرنګه چې رتبیل شاهان ددین له پلوه دهندویي دین پیروان وو او دهند اوبابر شاهانو په سلسله کې همدغه کابلي شاهان راځي، پرغالب ګومان وایو. چې د (رتبیل) نوم له کابلي هندوي نامه سره اړیکه ولري. له احتمال نه لرې نده چې ددې کلمې ترکیب د "رتن پاله" یا نو "رای پاله" له کلمې له اسم خاص نسره دخالت ولري. " رتن پاله" چې یوځانګړی هندي نوم

دی د "رتبیل" له نامه سره ډیر ورته والی لري او په اسانۍ سره له "رتن پاله" څخه "رتن پال" او "رتبیل" جوړیږي ،همدارنګه "رای پاله" هم د "رتبیل" په تشکیل کې دخالت لرلی شي، "رای" د"شاه" په معنا او "راني" یې "ملکې" ته ویل او"پاله" دکورنۍ نوم و، د "رای پاله" او"رای پال" له ترکیب نه چې هغه یې (دپاله کورنۍ باچا) ترجمه کولای شو، نوکیدی شي په اسانۍ سره د "رتبیل" کلمه منځ ته راوړي.

په هر حال ددې کلمې دتشکیل صورت چې څنګه وي هسې به وي خودومره په څرګندتیا سره ویلای شو چې "رتبیل" دکوم پاچا نوم نه و دعربي اوفارسي ماخذونو څخه یواځې دکابل دیوتن سیمه ایز پاچا مقصد نه دی، بلکې مقصد یې دکابل دځوپاچاهانواوکورنیو څخه دی چې ددوه پیړیو په اوږدو کې یې کابل له کابل څخه بهر دافغانستان په ټوله جنوبي برخه باندې سلطنت کړی دی او مورخ دافغانستان (دهغوی) د تر اسلام دمخه تاریخ معمولا په دوه ډولو ویشو: (۱) رتبیل شاهان (۲) کابلی رایان دادواړه ډلې دنژاد اواصلي ریښې له نظره سره ګډې وې، دوړو کوشانیانواویفتلیانو له بقایاو څخه چې دافغانستان په ډیرو برخوکې یې سیمه ایز امارتونه منځ ته راوړل اوداسلام تررااتګ پورې یې په خپلو حوزوکې امارت وکړ یواځې یې داوروستی هندي اوبرهمني دین لاره لکه چې د بامیانو سیمه ایزو واکمنو یادبامیان زمریانو بودایي مذهب درلود.

پدې کې نشته چې درتبیل شاهانو مرکز اوپلازمینه د کابل ښار و او یاتردې ښه ووایو چې په دې کې شک نشته چې د"کابل کلا" یفتلي شاهانوپنځمې مسیحي پیړۍ په اوږدو کې له بګرام نه دپایتخت د لیږدونې په هوډ په کابل کې جوړه کړه او په کابل کې دبالاحصار په ودانولو کې یې ډیرې هڅې تر سره کړې او حصار یې دښار دغرنیوسیمو کې وکښې چې کله پدې ځای کې امارت ته ورسیدل دبلې واکمنۍ مرکز یې همدغه دکابل کلا وټاکله او بیا ددې کلا په ټینګښت برجونو اودغرونو دپاسه د یوالونو په استحکام کې ډیرې هلې ځلې وکړې.

تردې دمخه مو اشاره وکړه چې دپخوانې افغانستان په تاریخ کې رتبیل پر دوه ډلو ویشلی شو: یوکابلي رتبیل شاهان او بل کابلي رایان ددې کورنۍ دواړه ډلو دعربو دلښکرو اودعرب دخلافت دراستول شوو سرتیرو په وړاندې او حتی دسیستان دصفاري مسلمانو نسلونو سره په

مختلفو ځایونو په ځانګړي توګه دغزني، لوګر او کابل ترمنځ سختې جګړې وکړې چې خاطرې یې په جزئیاتو سره دتاریخ په متونوکې خوندي دي.

تر دې پورې چې یعقوب لیث صفاري هم دوروستي رتبیل شاه له خوا دیوحربي چل پر اثر دکابل په غربي برخه کې معالجې ته ددعوت په مهال ګرفتار کړای شو او کابل په ۲۵۸ هجری کال چې له ۸۷۹ میلادی کال سره سمون خوري دنهمې میلادي پیړۍ په دریمه نیمایي کې افغانستان دلویدیځ له لوري دمسلمان امیر په لاس فتح کړای شو. خو درتبیل شاهانو پایخوړونه بشپړ له منځه لاړل پدې چې تاریخ دیعقوب لیث صفاري دورور عمر لیث صفاري په وخت کې هم دلوګر اوغزني په برخو کې درتبیل شاهي وګړو یادونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برهمني واکمني یاهند او کابلی شاهي

داوومې مسیحي پیړۍ له پیل نه وروسته دجنوبي هندوکش په مختلفو برخو کې بیلابیل نسلونه واکمنۍ ته ورسیدل چې عربي،سانسکریټ، فارسي اوچینایي ماخذونو په دوه ځانګړو نومونو یادکړل چې نن ورځ دواقعاتو ترتجزیي اوتاریخي پیښنو ترپیښنیدو وروسته دومره ویلای شو چې ددې کورنیو نومونه او القاب هر څه چې و خوداصلي ریښې له مخې یي د(کوشانیو یفتلیانو) په صفت یادولی شو،ځکه چې ددې دوه اصلي ریښنو عنصر زمورږ په هیواد او په ځانګړې توګه دخیتځ هندوکش په جنوبي برخه کې دپخوانیو سوابقو له مخې تیت او ځای پر ځای وو.

دبرهمني شاهانو په اړه چې دکابلي شاهانونسل و دوه منبع لرو یو البیروني چې هغه وخت په غزني کې اوسیده او له غزنوي واکمنو سره یي هند ته سفرونه کړي اودیر پراخ او افاقي معلومات یي تر لاسه کړي او بل (کلهنه) دکشمیر مشهور شاعر اومورخ دي چې اثر یي (راچاترانګیتي) نومیږي چې کولای شو هغه (دپاچاهانو رود) وژباړو اودشرح په ضمن کې یي دکشمیر اوهنددشاهانو کارنامې دحال څرنګوالی اوددواړو ترمنځ دتعلقاتو په اړه خبرې کوي.

البیروني دکابل شاهي نسل دهغې زمانې چې دمطالعې ور ګرځیدلی په دوه نومونو اوننبانو یادوي: یو (ترکیان) اوبل (شاهي برهمن) ترکي

شاهيان يې د (کشتاترپه) نسل څخه عبارت دي او ياهم هغه جګړه ماران دی چې دافغانستان په تاريخ کې يې د (رتبيل شاهانو) په لقب لانبه پيژنو. دبرهمن نسل دشاهانو بل نسل دی چې دعقيدې له مخې (برهمن) يا (هندي) وو. او دکابل دسيمه ايزو برهمنيانو او هندوانو څخه شميرل کيدل او ډير معبدونه يې په کابل اودکابل په چار چاپيره سيموکې درلودل چې د لوګر د (سګاوند) معبد يې مشهور معبدو.

څرنګه چې له يادو شويو ماخذونو څخه څرګنديږي چې رتبيل خلك عسکر پيشه (غسکري) خلك وو اومعمولا به يې بنه عسکري مشران له برهمنانو څخه تاکل.

البيروني د (ترکي شاهي) نسل لومړی پاچا د (برهاتګين) اووروستی يې د (لکه تورمان) په نومونو يادکړی دی او وايي چې وروستی پاچا يعنې (لکه تور مان) د (کلر) په نامه برهمني وزير لاره.

له ترکي شاهي وروستی پاچا څخه دپاچاهۍ دقدرت اواقتدار انتقال صورت برهمني وزيراويا هم دبرهمنشاهي کورنۍ ته يوه سلسله ئيسه لري چې البيروني طبعا هغه اوريدلې اوداسې يې نقل کړی دی."

البيروني وايي: (کلر) برهمني وزير اتفاقا خزانه وموندله او يوناڅاپي پانګه وال شو،او لکه څرنګه چې پانګه پخپله قدرت دی ورو، ورو يې دمال په لرلو ډير پلويان وموندل او لږ لږ يې دپاچاهۍ اقتدار دترلاسه کولو لپاره ځان چمتو کړ. اوله بله پلوه دترکي شاهي وروستی پاچا لکه تورمان چې ډير ظالم شخص و. له رعيت سره يې ډير بد سلوك کاوه او پدې وجه خلك تري ډير په تنګ راغلي وو ټولو دپاچا وزير ته شکايت وکړ دبرهمني وزير پانګه او دارائي چې دده شخصي اعتبار نور هم ورزيات کړی و له پاچا څخه يې ګټه پورته کړه (لکه تور مان) يې بندي کړ او پخپله دپاچاهۍ په تخت کښيناست. داو د البيروني له نظره برهمشاهي نسل دموسس منځ ته راتلل، خو که چيرته همدا عين موضوع دکشميري مورخ په کتاب ((کلهنه)) کې مطالعه کړو يو بل څه به وګورو کشميري مورخ دبرهمنشاهي نسل بنسټګرياهندوشاهي د ((کلر)) په نامه بالکل نه پيژنی، بلکې ددې کورنۍ بنسټګرد ((لليه)) په نامه يو تن يادوي دا ((لليه)) دکشميري پاچا ((سکنره ارمان)) معاصر و چې د (۹۰۲_ ۸۸۳م) ترمنځ يې په هغه ښکلې دره کې پاچاهي درلوده.

په دغه ترتیب ددوو مورخینو دنظریاتو پر اساس چې یودغزني اوبل دکشمیر و دبرهمن شاهي یاهند وشاهي کابلي نسل موسس دوه تنه ګورو یو ((کلر)) او بل ((لليه)) اروپائي مورخین اوباختري مدققین لکه "کننګهم" او "سراورل ستین" چې دواړه انګریزان دي او دوی ((کلر)) او ((لليه)) یوسړی بولي . "سراورل ستین" چې پخپله دکشمیري مولف ((راجاترانګین)) ژباړن دی تعجب کوي چې څنګه دوه تنه دغزني اوکشمیر مورخین ((کلر)) و((لليه)) دواړه انځورلي اودا دواړه اشخاص دیوتن جز نشي کیدلی دا په همدغه ترتیب .

یوبل خیتځ پیژندونکی چې د ((کلر)) او ((لليه)) دنومونو ظاهري اختلاف دعربي حروفو لیکدود راولاړه شوې ستونزه بولي اوپه حقیقت کې یي هغه دوه نومونه دیوه سړي ګڼلي دی په هر حال که چیرته دا دواړه نومونه یو تن ته مربوط وي نو دادغور وړ ده چې کشمیري مورخ په داسې وخت کې ((لليه)) دبرهمن شاهي دسلسلې سر بولي چې مرکز یې کابل نه ((ویهند)) ته منتقل شوی او په کابل کې ((لکه تورمان)) پاچاهي خپله کړې ده. یوشمیر اروپائي پوهان په دې باوري دي چې دادواړه نومونه یو دي د ((کلر)) او ((لليه)) نومونه په مشترک ډول د((کلرلليه)) په بڼه لیکي او همدارنګه دزمان اومحل دتشخیص په پام کې نیولو سره دهغوی پاچاهي داسې تعبیروي چې ((کلر)) په کابل کې دبرهمن شاهي کورنۍ دسلسلې سر و او هغه په کابل کې دبرهمني شاهانو بنسټګر ګڼلی شو، پداسې حال کې چې لليه ددې کورنۍ پاچا و چې برهمن شاهان یاهند اوکابلي شاهان دغزنو یانو دفتوحاتو په اثر کابل، لوګر، اوګردیز کې له پښو ولویدل اوپه پای کې یې داټک ترځنګ (ویهند) کلک کړ اوهلته یې نوی مرکز منځ ته راوړ.

برهمنشاهي یادهند اوکابل شاهي نسل په کابل کې معبدونه اباد کړي اودبنار په یو درم سال کې یې دیوتن پاچا مجسمه تر یوه حده نقش کړای شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل پخواني ديوالونه

يـو لـه پخوانيـو خاطروڅخـه چـې دکـابل ښار ارزښت يـې مخصوصـا دتدافعـي ترتيبـاتو لـه نظـره ثـابت کـړی دی دپخوانيـو ديوالونـو وجـود دی، چې لـه نيکـه مرغـه پـر دوو غرونوشـيردروازه ا واسـمايي يـې ځينـې برخـې تـر اوسـه پـاتې دي چې دښار لـه هـرې برخـې نـه څرګنديـږي. داسـمايي اوشـير دروازې واړه غرونـه يودبـل پـه مقـابل کـې يـو دپخوانـي ښار جنوبـي پلـو او بـل يـې شـمال لويديـز لـور تـه پـروت دی او پـه پخوانيـو وختونـو اوداسـلام پـه لومړيـو پيړيـو کـې يـې دطبعـي حدوداتـو پـه تـوګه دکـابل ښار محـدود کـړی او د ښار ساتونکيو (دفـاع کوونکيـو) لـه دې غرونـو څخـه دطبيعـي پنـاه ګاو پـه حيـث کـار اخيسـتی او پـه لـوړو برخـو کـې يـې ښه کلـک ديوال تـير کـړی دی.

لکـه څنګـه چـې تول پوهيـږو دکـابل اوسـنی ښار درود دوو غـاړو تـه چـې دکـابل پـه سيندشـهر ت لـري پـروت دی.چـې داسـيند دپغمـان دغرونـو لـه لـړی نـه سـر چينـه نيسـي، او لکـه څنګـه چـې مـې يـوې راډيويـي مقـالې تـه هـم ليکلـی و يـو وخـت و چـې دکـابل ډيـرې ابـادی ديـوې بلـې رودخـانې پـه حـوزه کـې پرتـې وې چـې هغـه دلـوګر درود پـه نامـه يادېـږي او دلـوګر ډډې لـه جنوبـي برخـې نـه راغلـی اوبلاخـره د يعقـوب لـه تنـګي څخـه راتـير

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسهاك اوشيوكي سيمې خړوبوي او له تنګ غارونه څخه څو کيلو متره وړاندې دکابل له سيند سره يو ځای کيږي.

دکابل دابادیو تاریخي بهیر که په غور سره وکتل شي څرګندیږي چې کابل دپخوانیو ابادیو دثقل له مرکز نه په دویمه او دریمه مسیحي پیړیو کې چې په چکړیي کې يي قرار درلود په تدریج سره دلوګر رود حوزې اوبیا دکابل دسیند ګوتې حوزې يې ځایي بدلون موندلی اوپه دې تدریجي سیر کې داسې وخت هم راغلی دی چې ددوه غرونو شیر دروازه او اسمایي ترمنځ ځمکې دبالاحصار دمورګي په ګډون داهمیت وړ ګرځیدلی دی.

دځلورمې اسلامي پیړۍ دمتون په شهادت لکه د المسالك اصطخري، ابن خردادبه، حدود العالم او اشکال العالم چې جیهاني ته منسوب دي. کابل همیشه د(کلا) (قهندز) یا (کهندژ) (ادژ) او (حصار) په صفت یاد شوی او داکلاودژیا حصار همیشه دحصین، محکم او استوار په صفت یاد شوي او بنارله ځانه (ربص) یا حومه درلوده چې دکلا یا حصار ددیوالونو څخه دباندې يې لمنه ډیره پراخه ده.

نو دځلورمې اسلامي پیړۍ دماخذ له مخې چې له لسمې عیسوي پیړۍ سره سمون خوري دکابل کلا اوحصار وجودلازه او داستحکام اوشهرت يې ډیره اوازه خپره وه.

دې ته باید پاملرنه وکړو چې دکابل پر غرونو زاړه دیوالونه دبنارله مستحکمې کلاسره اړونده موضوع ده. اواصلا دکهندژیا زړې کلا شته والی چې داوسني بالاحصارپرځای ددیوالونوجوړاونه پر غرونو ددې له املې شوې وه چې کلا ددفاع له نظره استحکام ومومي.

افغاني مورخینو تریوه وخته داسې فکر کاوه چې اصلا دکابل پخواني دیوالونه داسلام د مقدس دین دخپریدلو په مهال دلویدیزو بلوسګرودمنخینوي له پاره دکابلي پادشاهانویعنې رتبیل شاهانو جوړ کړی دي.

خو که چیرته دکار اوږدوالی،دجوړولو عظمت او هغه وخت ته پاملرنه وشي چې ددې په جوړولو کې تري کاراخستل شوی دې ټولوته په غورسره ترکتلو وروسته داسې څرګندیږي چې دادیوالونه په بیړه جوړشوي نه دي اوددې دجوړولومفکوره پخوانۍ سابقه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو تن لويديز عالم پادر كسپاني ديكالوي چې نړۍ ۱۸ كلە يې په كابل كې ژوند كاوه او دافغانستان مجله ۱۹۴۸ كال په دويمه شماره كې يې مقاله هم خپره كړې ده، هغه ليكي چې دكابل پرغرونو ديوالونه په احتمال سره ديفتليانو په وخت كې (پنځمه زېږدې پيړۍ كې اباد كړای شوي دي.

پدې كې شك نشته چې يفتليان اوس هم نړدې (۲۰) زره تنه بدخشان كې دفيض اباد شمال لور ته اوسيږي دوی دپنځمې پيړۍ په اوږدو كې ديو فعال قوت په حيث دهندوكش شمال او جنوب لور ته په فعاليت لاس پورې كړ ساسانيان يې دهيوادله مركز څخه لويديځ لوري ته شا كړل او دهندوكش جنوب لور ته يې (دزاولي) په نامه يوه مشهوره قبيله په زابل اوكابل يعنې په غزنې اواوسني كابل كې ځای پر ځای شو اود (زاول) (كاول) زابلستان او كابلستان نومونه دهغوی دوخت داستقرار خاطرې دي.

لكه څرنګه چې يفتليان وسله لرونكي او جنګيالي خلك وو او همدا راز دسوق الجيشي له نقطه نظره يې په ځمكو كې ډير شناخت اومهارت لاره، دنومورې ايتاليايي پوه له نظره قوي احتمال دی چې دكابل دكلا مستحكمه هسته دكابل اوسنی بالاحصار اودمحافظې له پاره يې دغرونو دپاسه ديوالونه ددوی په لاس اباد شوي دي.

دكابل پخوانې ديوالونه دچين دسترو ديوالونو يوه وړوكې نمونه ده چې نښې نښانې يې دپيكن غرب لور ته ۹۰ كيلو مترې كې په ختيزه نړۍ كې نوم لري لكه څرنګه چې تول پوهيږو چې دچين لوی ديوالونه د ۳۰۰۰ كيلو مترو په شاوخوا كې اوږدوالی لري اودادیوال په ۲۴۰ ق م كې ديوې چيني كورنۍ له خوا چې مانچو نومیده اودهيوانګنو خلكو ديرغلونو دمخنيوي له پاره جوړ كړای شوی و.

دكابل ديوالونه دچين دلويو ديوالونو په مقابل كې فوق العاده وړوكي ديوالونه دي او دايواځي د يووړوكی ښار له پاره چې ددوه وړوكو غرونو په منځ كې پروت و ددفاع په خاطر جوړ كړای شوی و.

مګر ددې دواړو ديوالونو دجوړښت دسبك له نظره چندان توپير نشته.

دكابل ددیوالونوپه جوړولو كې دډبرو توتو، غټو خامو او پخو خښتو **څخه كار** اخيستل شوی، برجونه، كنګرې او تير كښونه يې تر اوسه په بنه ډول تشخيص كيږي، ددیوالونو دجوړولو دځای تاكل مخصوصا دغرونو په

لمنوکې چې ددهمزنګ په تنګي کې سره مخامخ کیږي دمهندسانو کمال اومهارت په ډیرو سختو ځایونو کې څرګندوي. په دې کې شک نشته چې دې دیوال خپلې دروازې درلودې او یوه دروازه یې همدغه ددهمزنګ په برخه کې وه او دا له امکان نه لرې نه ده چې د (شیردروازې) وجه تسمیه له همدغه ځایه اخستل شوې وې.

دادیوالونه درتبیل شاهانو په عصر کې دعربانو دحملې پر مهال اوتر هغې په نژدې دورو کې جوړ شوي دي لکه څرنګه چې داحمدشاه درانې اوابدالي تیمور شاه په وختونو کې هم پکې یوځه رغاونې شوې دي لکه څنګه چې په لمر خاته پلو کې دیوال دجلګو او زراعتي برخو نه تیریده هلته یې اثار پاتې نه دي او دبرید تاکل یې یوځه شکونه پیدا کوي.

دکابل دیوالونه زمونږ له تاریخي میراثونو څخه دي دهغې ساتل اومحافظه کې هغه دتاریخي خاطراتو له نظره وي اوکه دګرځندویانو دمطالعاتو له نظره وي، زمونږ ملي دنده ده.

۴۱_۸_۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل لمنوکې دابادیود پراخوالي

ستراتیژي مفهوم او موقعیت

کابل دجغرافیایي جوړښت له مخې دغرونو په څو پردو کې تاوراتاو پیچلی پروت دی. که چیرته یي شاوخواته وکتل شي نو یوشمیر غونډی لکه (مرنجان) (کلوله پشته) (بي بي مهرو) او نوري یې دابادیو نژدې چاپیریال کې واقع شوی دی. خو دښار مرکزي برخه ددوه ورځو غرونو (شیر دروازې) او (اسه مایي) په منځ کې پرته ده او خارج ته په لرو برخو کې یي نور غرونه په کړه وړه بڼه پراته دي.

تول پوهیږو چې دبودایي اثارو د شهادت له مخې دکابل بنار له اسلام څخه دمخه په خپل چاپیر چل کې دغونډیو دپاسه هم ابادی درلودې ددې ابادیو لمنه تردویمې ،دریمې زېږدې پیړۍ پورې رسیږي او دهغو مسکو کاتو له مخې چې په چمن حضوري کې تر لاسه شوي دي څرګندیږي چې په څلورمو اوپنځمو م ز پیړیو کې په دې حدوداتو کې ابادیووجود لاره مـ سکندر او حتی چینایي لیدونکی هیوان تسنګ له دې ځایه دتیریدلو په مهال دکابل بنار لیدلی نه دی خو داسې اتکلوي چې دکابل بنار په پخوانیو وختو کې دمخه تر اسلام سره لدې چې ډیر اباد معبدونه یې درلودل مګر ډیر ارزښت یي نه لاره او داخبره هغه وخت بنه څرګندیږي چې دبګرام دښار موقعیت په ۸۰ کیلومتری کې په نظر کې ونیول شي. هغه وخت سړی پوهیږي لکه څنګه چې بګرام یو لوی بنارواود کوشانشاهانو

پـايتخت و دسـترو خلکـو او بودايـي علمـاو ګڼه ګونه هلتـه جـوړه وه او کـابل دلاړې لـه اوږد کنـاره په يـوه څنـډه کـې واقـع شـوی و.

هغـه څوك چـې دکـابل پـه ښار کـې ژونـد کـوي او بـهرنيان چـې دلومـړي ځل لپـاره دې ښار تـه راځي ټولـو يـو عجيبـه څيـز پـدې ښار کـې ليدلـی او وينـي چې هغه يولوی حصـار دی چې دشيردروازې او اسـه مـائي پـه غـره بـاندې جوړ کړای شـوی دی ايـاددې حصـار پـه جوړولـو کـې پرتـه لـه نظـامي اوسـتراتيژيکي ګټې نـه نـور څه و ؟

لکـه څنګه چـې دچيـن لـوي ديـوال دهـن مـا ديرغلونـو پـه مقـابل کـې جـوړ کـړای شـوی و او نـور څه تـرې مطلـب نـه و همـدا راز دکـابل پـه غرونـو ديوالونيـواځې اويـواځې ديودفـاعي غـرض پـه خـاطر لـه ښار او ابـاديو څخـه چارچاپـيره جـوړ کـړای شـوی و چـې مطلـب تـرې يـواځې مدافعـه وه. اوتـل ددې ديوالـو لـه ليدلـو ځينـې پوښتنـې پـه ذهـن کـې ګرځي چـې دامسـتحکم حصـار دچا لـه خوا؟ پـه کـوم کـال اوکومـه نيټه جـوړ کـړای شـوی دی.؟

لـه بـده مرغـه چـې تـر اوسـه هيـڅ يوموثـق تـاريخي مـاخذ او هيـڅ يوډبـر ليـك پـه دې اړه درك نلـرو چـې صحيـح اوموثـق معلومـات راکـړي، يـو تـن (پاورکسـپاني) ايټاليـايي پـوه چـې ۱۸ کالـه دکـابل پـه ښار کـې اوسـيده او دافغانسـتان اړونـد يـې يوکتـاب هـم ليکلـی سـرليك يـي دی (افغانسـتان چـهار راه اسـيا) هغـه پـدې بـاوري دی چـې دکـابل پـه غرونـو ديوالونـه ديفتليانو په وخت کـې پيـل او تکميـل شـوی دی.

دايفتليـان چـې دافغانسـتان دتـاريخ دپنځمـې مسـيحي پيـړۍ پـه اوږدو کـې راڅرګنـد شـوي داخلـك نظـامي او جـګړه مـار خلـك وو پـه بـل عبـارت پـه ټولـه معنـا متحـارب ، نظـامي او جنګجـو خلـك وو دوی لـه منځنـی اسـيا دپـامير لـه هغـه لـوري او سـر دريـا اوامودريـا نـه راغلـي وو او دبلاخـره پـه پخوانـی تخارسـتان او بدخشـان کـې ميشـت شـول.

دايفتليـان وروسـته تـر هغـې چـې دسـلطنت پـه تشـکيل بريـالي او پـه بدخشـان کـې يـي مقر اختيـار کړ په دوه ډولـو وويشـل شـول چـې يـوه ډلـه يـي لـه همغـه بدخشـان څخـه غـرب لـور تـه داوسـني افغانسـتان تـر وروسـتيو پولـوپـوري خواره شـول اولـه ساسـانيانو سـره تـر مخـامخ کيدلـو وروسـته يـي هغـوی پـر شـا کړل او بله ډلـه يـي دهندوکش جنـوب پلـو تـه راغلـل پـه زابـل، کـابل او کـاپيسـا کـې خپـاره شـول چـې ددوی مهمـه قبيلـه (زاول) نومـيده دا ډلـه لکـه څرنګه چـې په غزنـي کـې اوسـيدل هغې سـيمې پـه زاول شـهرت ومونـد.

دايفتليـان پـه همغـه نظـامي شـيوه چـې درلـوده يـي دکـابل پـه غرونـو ددیوالونـو دجوړولـو پـه فکـر کـې شـول، ددوی دښه يـو والـی او داوامـرو

تعميل له مخې يې ددیوالونو په ابادولو لاس پورې کړ او دالوي حصار چې له نیکه مرغه بقایایي تر یو حده اوس هم موجودې دی منځ ته راغی.

کابل پخپله (کهن دژ) یالویه زړه کلا درلوده او دا (کنهدژ) یې بالا حصار و، چې په پخوانیو عربي او فارسي ماخذونو کې د(حصار) ، (دژ) ، (کهندژ) (کلا) په حصینه اومستحکمو صفاتو یاده شوې ده او بنار له کلا سره سره چې مستحکمه هسته یي وه دبنار چار چاپیره یې دیوال هم لاره، که چیرته بنه دقت وشي لومړی پخپله کهن دژ دبنو استحکاماتو او برجونو لرونکی اوبنه مضبوطه کلا وه او بیا دبنار چارچاپیره بل حصار جوړ کړای شوې و چې دکابل دغرونو په څوکو یې یوڅه برخې پاتې دي .

دکابل دغرونو دپاسه دحصار جوړول ددقت او مصالح له نظره څه اسان کار نه دی او دایو لوي کار ګڼل کیږي او ددی کار تکمیل ډیر وخت اومقتدر سلطنت ایجابوي او داسې څرګندوی چې نظامي او سوق الجیشي ارزښت چې کابل پکې اباد اومعمور و په پنځمه مسیحي پیړۍ کې ایجاب کاوه چې ددفاع له پاره مهم تدابیر ونیسي.

تول په دې پوهیږو اوریدلي اولوستلي مو دي چې دکابل رتبیل شاهانو دې حصار اودې استحکاماتو ته ډیر ارزښت ورکاوه. دا حصار دعربو مجهزو قواوو درسیدلو پر مهال په اوومه زیږدې پیړۍ کې ځای پر ځای و چې پدغه مهال دبنار ساتندویانو او عربو ترمنځ خونړۍ جګړې هم شوي اوداجګړې دمدافعینو ترمنځ ددې دیوالونو ترڅنګ څوځله تکرار شوي دي. دکابل ـ غرونودپاسه دحصار تر جوړولو دمخه خاص کلی نه و او دې دیوالونو جوړولو یو خاص ارزښت ورکړ خو کله چې دیوالونه اباد او حصار له لویو اوضخیمو دروازو سره خپله وروستی بڼه خپله کړه کابل ډیومستحکم پایتخت اومرکز په حیثیت وشمیرل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دچکرې منار

دکابل جنوب ختیز لوري ته لږ څه لرې که په دقت وکتل شي دغره په یوه تیغه باندې یوتور رنګه یاباریك عمودي کرښه څرګندیږي کله چې داغر په ژمي کې واورې سپین کړي داکرښه لږه څه ښه څرګندیږي داتور عمومي خط دچکړي له منار څخه عبارت دی.

د (چکړي منار) دجغرافیایي، تاریخي ،فرهنګي او معماري مفهوم له نظره پایتخت ته په نژدې ساحه کې یوه مهم میراث دی او دپورته شرح له نظره ددې آبادی ارزښت هغه وخت څرګندیږي چې په هغه ځای کې چې دامنار واقع دی په جغرافیایي مفهوم یې رڼا واچول شي.

کابل دافغانستان مرکز اوپه عین زمان کې یوتاریخي ښار شمیرل کیږي چې له ډیرو وختو راپه دیخوا دې اوسني حال ته رسیدلی دی یووخت بالاحصار په جنوب شرقي برخه کې دښار مهم مرکز وۀ دبالاحصار تر شا زړه جبهه اوشهدای صالحین واقع دي چې داځایونو هم دمخه تر اسلامي دورې ډیر ارزښت لاره دزړې جبهې تر شا یو لږ غرونه لکه شاخ برنتي،کمري اوچکړي ډیر مشهور دی‌او ددې هر کنډر تر شا په څوکو کې یې دپخوانیو زمانو دآبادیو پاتې شونې شته .

اوځینې نقاط لکه پنجه شاه، جانباز، بیني نیزار، سهاك، کمري او چکړي دپاملرنې وړ دي اووروسته دچکړي دغرونو تر کنډرونو یخ دره، سنجد دره او"سه

توپان" داسي دري دي چې ليدونکی داوسني کابل له حوزې نه قدم په قدم لمر خاته لوري ته راکاږي اوبلاخره دبت خاك او تر هغې هم ليرو منطقو ته يي بيايي.

دچکړي منار چې دغره په يوه څوکه واقع دی په موجوده حال کې ۱۵ متره يا څه دپاسه لوړوالی لري او قطر يي د ۲۰ مترو په شاوخوا کې دی.

دچکړي منار په استوانه يي بڼه جوړ کړای شوی دی په داسې ډول چې پورتنۍ برخه يي په تدريج سره نرۍ کيږي دمنار پورتنۍ برخه داوښ دموړي په شکل ده اولکه څنګه چې پوهانو او بلاخره موسيوفوشه فرانسوي دخپل نظر څرګندونه کړې ده داسې څرګنديږي چې په لرغونو زمانو کې دمنار په پورتنۍ برخه کې (څرخه) يعنې (عراده) چې دبودايي دين آيين او قانون وۀ وضع شوی وه ، لکه چې همدې نظريي او مفکورې ته مربوط په هند کې بنارس ته نژدې دموريا هندي امپراطور (اشوکا) دوخت منار موجود دی چې په سرکي يې (چکړه) يا(عراده) دبودايي دين علامه ليدل کيږي او (چکړه) عين همغه کلمه ده چې دچکړې په منارکې ليدل کيږي اوله نامه څخريې هم معلوميږي چې دنومورې منار په پورتنۍ برخه کې (چکړه) (څرخه) يا (څرخ) چې دبودايي دين او قانون علامه وه وضع شوې وه.

معمولاً فرانسوي لرغون پيژندونکی دتاريخ له نقطه نظره دچکړې منار او يو شمير استوپې چې ورته لرې او نژدې واقع دی لکه (يخ دره) (سنجد دره) (سه توپان) اونوروکې دويمې مسيحي پيړۍ ته نسبت ورکوي مګر پوښتنه پيداکيږي چې ايا دامنار د(اشوکا) زماني دريمې م ز پيړۍ لومړۍ نيمايي پورې تعلق نه نيسي؟

موريا امپراطور اشوکا چې دهغه کتيبه په بودايي اخلاقي لارښوونو ليکلې وه پدې وروستيو کې دکندهار په سر پوزه کې تر لاسه کړای شوه چې بودايي دين ته يي په افغانستان کې رواج ورکړی دی او همدا راز يو بل ډبر ليك په جلال آباد کې ددرونټې په برخه کې ترلاسه شوی دی.اوهمداراز دچيني ليدونکي هيوان تسنګ دليکونو له مخې چې ياد شوی امپراطور په هډه اوبګرام کې استوپې اومعابدونه جوړ کړی وۀ دا ملاحظات پورتنۍ پوښتنه تقويه کوي چې دچکړې منار بايدداشوکا په وخت کې جوړ کړای شوی وی.

دچکړې منار يوه مذهبي ابادي ده او په ټول موجوديت يي له بودايي قانون څخه استازيتوب کاوه او دغره په پوزه باندې يي موقعيت داسې مفهوم لاره چې له يوې خوا يې دبودايي کابل څرګندونه کوله او له بلې خوا يې دبودايي دورو راهبانودلارښوونې له پاره شميرل کيده. لکه چې دشرق دلوري يي دهډې، دشمال دلوري يي دبګرام او دشمال غرب له خوا يي داراکوزي (کندهار) له پاره جلب توجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله. بګرام، چکړي، کمري، سهاك چې چارچاپیر پراته او ډیره ساحه یې نیولې وه چې دبودائي کابل ابادی یې یه مختلفو برخو کې پرتې وې او ډیرې ابادی دچکړي دمنار په نژدې چاپیریال کې متمرکزې وې .

تول په دې پوهیږو چې اشوکا په هند کې ډیر معبدونه او استوپې جوړې کړې دي او په ځانګړي توګه دتیږو مناروته یې په مختلفو ځایونو کې اباد کړي او خپل فرمانونه یې پر ډبرو کیندلي او په مناروتو کې کلك کړی دي او تر اوسه لکه څنګه چې دمخه وویل شول دوه فرمانونه یې دافغانستان په خاوره کې هم موندل شوي دي.

که چیرته داملاحظات په نظر کې ونیول شي په اسانۍ سره ویلای شو چې دچکړي منار به هم دهغه وخت ابادي وي، لکه چې مو وویل ،همدغه شان د(چکړه) لرونکی منار په بنارس کې هم لري چې تر اوسه موجود او مشهور دی. لکه څنګه چې (اشوکا) دپاچاهۍ ترڅنګ درهبانیت مقام هم درلود ، او دخپلې واکمنۍ په لسم کال یې دبودائي دین مبلغین دارغنداو سیمې موجوده کندهار ته ورسیدل، غالب ګمان دادی چې دچکړي دمنار اساس هم هغوی ایښی وي او په کابل کې دبودایي دین دخپریدلو دخاطرې په ډول یې دامنار جوړ کړی وي ځکه چې طبیعي وه ددې منار چارچاپیره په درو کې ډیرې استوپې اومعبدونه و چې دځینو شواهد اوس هم لیدل کیږي اوداهم له امکان څخه لرې نده چې ددې ابادیو لمنې تر لومړۍ، دویمې اودریمې مسیحي پیړیو پورې اوږدې شوي وي.

۴۷\۴\۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

خم زرګر

دبودايي معبدونو او استوپو پاتې شونې

((خم زرګر)) يوپې نښانه ځای دی چې په ځانګړې توګه يې په کتابونو او تاريخي اثارو کې دنوم يادونه شوې نه ده، مګر دتاريخي ابادیو دلرلو په وجه په پخوانيو زمامونو کې مهم ځای و. پرته له شکه په کابل کې به داسې څوك نه وي چې د "ګلبهار" نوم يې اوريدلی نه وي. دا ښکلی کلی دپنجشير ددرې په دننه اودکوهستان او نجراب په لاره د (شتل) او پنجشير دمستو او څپاندو رودونو پر غاړه واقع دی او داځای دنوې پلازمينې کابل دخلکو دتفريح اوميلو ځای دی.

ګلبهار په خپله شمالي برخه کې د "شيخان خيل" په نامه يوځای لري چې له څوکالو راپديخوا هلته يوه لويه دتوکر جوړولو فابريکه جوړه شوې او په فعاليت يې پيل کړی دی اود "شيخانخيل" نوم دګلبهار دنساجي په بڼه منځ ته راغلی دی.

بايد هير نکړو چې دشيخانخيل هغه دښته چې اوس هلته دفابريکې ودانۍ جوړه شوې، څلور سوه کاله دمخه يې ددېرو ګلونو په لرلو او په ځانګړې توګه دلاله ګل په لرلويې ډير شهرت لاره. او ظهير الدين محمد بابر په خپلو يادښتونو کې چې په "تزك" شهرت لري د شيخان خيل دنوم يادونه يې د (شيخاددښتې) په نامه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوپه پښتو کې دلاله ګل دمختلفو ډولونه تعریف کوي اوپه ځانګړې توګه يې يادونه کوي چې دلاله د ۳۲ ډوله ګلانو څخه يې پدې دښته کې د (لاله ګل بوی) او (لاله صدبرګ) يې ډير شهرت لري چې دغور بند دتنګي په خوله کې راتوکيږي.

دګلبهار دکلی شمال شرق لوري ته دشيخان خيل دښته، خم زرګر او خوا ته يې اشترګرام پروت دی او ددې منطقې شمالي لوري ته د"سنجن" او "درنامي" غرونه پراته دي. خم زرګر اواشترګدام دکاپيسا ډيرونورو نقاطو په څير دپخوانيو دورو ډيرې مذهبي ابادی درلودې او دقديمه اثارو بقاياوې دامفکوره په وضاحت سره تائيدوي.ددې کلي دشمال لوري ته دغرونو اوسيدونکي که هغه د(سنجن) (درنامه) اوکه دشتل دري اوسيدونکي دي چې شمال لويدیځ ته واقع دی ټول په پښه يې ژبه خبرې کوي او داسې څرګندیږي چې په پخوانيو وختونو کې دې لهجې پدې سيمه کې عمومیت لاره.

داخبار، فرهنګي او اطلاعاتي يادښتونو پر اساس چې ما پخپله په همغه ځای کې اخيستي، پدې وروستيو کلونو کې بودايي اثار او تراشلې مجسمې ورو، ورو له سنجن" اوخم زرګر څخه ترلاسه شوي دي.

په دې اړه لومړی په زړه پورې پارچې چې له "سنجن" څخه تر لاسه شوي عبارت له دوه لويو دکانو هيکلو څخه دي چې يويې يومتر اولس سانتي لوړ والی لري اودبودا مجسمه په داسې حال کې څرګندیږي چې له اوږدو وښتو څخه يې داور شغلې لوړيږي اودپښو له تلووڅخه يې اوبه جاري دي داډول مجسمه دمخه تر دې هم په ۱۹۲۶ کال کې چې ډيره ښکلې هم وه د"پايتاوه" په کلي کې چې سرای خواجه ته نژدې دی کشف شوې وه او هغه د بودايي خارقه بزرګ په صفت يادوي او دويمه پارچه چې له "سنجن" څخه تر لاسه شوې يوه دناستې "پودلس اتوا" مجسمه ده.

دشيخانخيل اوخم زرګر ترمنځ ديوه غره لړۍ ده چې ډيره برخه يې سليت کانی لري او ددې غره لمنې چې مخه بې دشيخانخيل په لور ده تاريخي شواهد نلري مګر هغه لمنې يې چې د"اشترګرام" او"خم زرګر" په لور دی تاريخي شواهد لري اوځای په ځای دخرابو اواستوپو بقاياوې دسړې پاملرنه رااړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبودايي معابدونو اواستوپو شواهد په څونقاطو کې ليدل کيږي، هغه نقطه چې لومړی دپام لرنې وړ ځای "رامو" نومیږي اومتصل يې دبي بي سبز په نامه يو زيارت دی، ددې ځای په پورتنيو برخو کې دخونګو دپاسه ديوې بودايي استوپې بقايا ليدل کيږي چې کولای شو هغه د (رامواستوپې) په نامه يادە کړو. دغره په لمنه کې دوه دري ځايه له کانې جوړې دزمري مجسمې پرتې دي چې دهغو وجود دلويو ابادیو په وجود شهادت ورکوي، ځکه تر کومه ځايه چې دکاپيسا دبودايي عصر په معماری مطالعه شوې ده دازمريان به معمولاً دمعبدونو دپوړيو دوه خواو ته نصب کيدل.

درامو استوپې جنوب لويديځ لوري ته نژدې ديوکيلو متر په فاصله دغره دپرخونګو دنورو استوپو شواهدليدل کيږي چې يوې ته يې بهمن استوپه او بلې ته يې تخت توپ وايي.د "توپ" کلمه بشپړه او خوبخود داستوپې پخوانۍ کلمه ده چې دافغانستان په ډيرو ځايونو کې هماغسې پاتې ده. د (تخت توپ) پورتنۍ برخه دسراج المله والدين اميرحبيب الله خان په عصر کې هواري شوې او دسوپې په ډول يې جوړه کړې ده، لکه څرنګه چې دپخوانۍ استوپې خرابه يې دتخت په بڼه جوړه کړې ده نوځکه يې(تخت توپ) بولي.

هغه غر چې دري د(رامو) (بهمن) او (تخت توپ) استوپې لرلې دنيمې دايرې په بڼه يې ميداني احاطه کړې ده،چې ورځ دځومعبدونو بقاياوې پکې ليدل کيږي اوخرابې يې هم يو له بلې نه برجسته دی. پدې کې شک نشته چې دوخت په تيريدو سيلابي بارانونه دغره له لمنو رابنکته شوې ډيرې خاورې اوختې يې دمعبدونو په پاتې شونيوانبار کړي، همدارنګه دبنيادګر دې تيرې او پايې چې پکې کلونه کيندل شوي څلور متره دځمکې لاندې څرګندیږي او دارابنيې چې ډيرو رسوباتو ډير تاريخي شواهدتر خاورو لاندې پټ کړي دي.

دبودايي عصر کې دا دود وۀ چې مذهبي معبدونه اواستوپې به يې په غرنيو برخو کې دغرونو په لمنو اولوړو برخو کې جوړولې، خم زرګر يوځل بيا دابادی داروش ثابت کړو. د (اشترګرام) له وجه تسميه نه څرګندیږي چې دلته نه يوائې معابد بلکه محتملاً کلي اوښار هم اباد وو، اصلاً داشترګرام غره دبګرام پهلوان غر ته ډير ورته والی لاره، لکه څرنګه چې مودپهلوان غره ترڅنګ دبګرام بنار لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداراز داشترګام ترڅنګ هم حتماً ښار موجود و نوم او نښان يې دتاريخ له پاڼو څخه وهل شوی خوخامخا به څيړنې اوکيندنې پدې باره کې دوباره رڼا واچوي.

په لويي او عام مفهوم دګلبهار دموقعيت په ارزښت کې شک نشته چې دځمکې په مخ دشواهدو او له مختلفو منطقو څخه دتراشلو هيکلونو دتوټو له بيابيا موندلو څخه چې هر يو يې په خپل ذات کې ارزښت لري او له پخوانيو مدنې کاروانونو څخه راپاتې دي. څيړنې دخم زرګر، اشترګرام او دګلبهار په نورو ډيرو کليو کې دځمکې پر مخ اوترخاورو لاندې ډير نور ارزښتمندشواهد لري،ځکه چې نن ورځ دګلبهار دنساجي فابريکې دې منطقې ته يوځانګړی ارزښت ورکړی دی او دلته ديو وړوکي ښار په بڼه ابادیو صورت نيولی چې خامخا به په راتلونکی کې دا ابادی لاپراخوالی وموميِ.

۴۱۱۵۱۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبل السراج (دهندوکش ور)

دلومړي پنځه کلن پلان ددويم کال په نيمايي کې چې دهيواد دابادۍ له پاره ترسره کيده، ديوستر کارداجراء خبر په ورځپانو کې خپور شو چې هغه دسالنګ په دره کې دموټر و سړک او هندوکش په زړه کې دهغه تونل کښل دي چې جبل السراج او خنجان به سره وصل کړي يعنې چې دهندوکش دوه برخې شمالي او جنوبي برخې به سره وصل شي، او له نيکه مرغه چې نن دا کرښې ليکم دپروګرام مطابق دکار په اړه دشمال او جنوب دلوري دپاملرنې وړ پرمختګ شوی دی او دهغه وړاندليد له مخې چې دکارپوهانو له خوا جوړ شوی ددويم پنځه کلن پلان په نيمائي کې به داستر کار پای ته ورسيږي.

دکاپيسا (کودامن او کوهستان) دلويې جلګې دنيمه شمال او شمال غرب په نيمه دايره کې يوه مهمه او حساسه نقطه لروچې له نيمې پيړۍ راپديخوا يې دجبل السراج په نامه شهرت پيداکړی دی او تر دې دمخه په ټولوپخوانيو دورو کې دپروان په نامه يادېده.

جبل السراج ياپخوانی پروان دجغرافيايي موقعيت له مخې (په لرغونووختونو کې هم خاص ارزښت لاره او اوس يې هم لري. چې داستوګنې دمنځنۍ ځای په توګه دمنځنۍ هندوکش دلويو څلورو لارو په حيث قرار لري، پدې معنا چې جنوب لويديځ لوري ته يې د ۵ کيلو مترو په فاصله دغور بند دره پرته ده اوشمال ختيځ لوري ته يې په همدغه فاصله په ګلبهار کې د پنجشير ددرې پيل دی چې بيا پدې دواړو درو کې دوه دتيريدنې نورې لارې دي چې يوه دشتل دره اوبله دسالنګ دره.

دشتل دره تنګه محدوده او دتيريدنې له پاره ډيره له ستونزو ډکه ده، مګر دسالنګ دره نسبتاً له دې درې څخه پراخه اوديانه له پاره مساعده ده که چيرته دشتل دره حذف کړو درې ،دَرې نورې به پاتې شي لکه پنجشير، سالنګ او غوربند چې دادرې واړه په لرغونو زمانوکې دعبور او مرور له پاره مساعدې وې او غوربند چې دهندوکش جنوب لوري ته دشيبر تر کوتل پورې امتداد لري په اکثرو لرغونو وسطي او نويو لارو کې شامل و او له څه مودې را پديخوا دموټر و لاره ګرځيدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې لنډې شرح ورکولو وروسته که چیرته بنه پاملرنه وشي جبل السراج له خپلې بنکلا سره سره د "کلبهار" او "متیک" ترمنځ اویاد پنجشیر اوغوربند ترمنځ او یاخو هم دسال او لنګ یا سالنګ په خوله کې قرار لري اوکولی شو چې هغې ته دهندوکش جنوبی دروازه ووایو.

وایي چې تاریخ تکراریږي. ایا دابه بهتره نه وي چې ووایو ثابت جغرافیایي موقف اوموقعیت په تاریخ کې خپل نقش تکراروي؟ لکه څنګه چې اوس جبل السراج ډیر ارزښت حاصل کړی په راتلونکي کې به تر دې ډیر ازرښت تر لاسه کړي. په لرغونو وختونو کې یې هم ډیر اهمیت لاره او داټول ارزښتونه دهغې سیمې په جغرافیایي موقعیت پورې ترلې وۍ چې دهندوکش په درو اومهمو کوتلونو لاړې تیرې شوي دي او له هغې ورځې چې په دغه درو کې دشیبر پښه لګیدلې ده جبل السراج خپل ارزښت ترلاسه کړی دی.

معمولاً مورخین دلته دیوښار څرګندونه کوي چې په ۳۲۹ ق م کال کې پخپله د سکندر مقدوني په لاس جوړ کړای شوی، داهمغه دهندوکش دپای سکندریه یا پاروپامیزاد دی، لکه څرنګه چې اسکندر په هغو ځایونو کې سکندریه جوړوله چې هلته به تردې دمخه ابادي موجوده وه، نو کله چې مقدوني سردار دښار بناکوله هلته حتماً بنه مستحکمه کلا موجوده وه چې اوس یې اثار نه څرګندیږي او نه دتاریخ په خاطره کې ځای لرلی. مګر موقف او اقلیمي موقعیت یې په یقیني توګه حکم کوي چې وړاندې د سکندر دعسکرو تر رسیدلو پدې ځای کې ابادي وه لکه په هري رود کې وړاندې د سکندر تر رسیدلو د (ارقاکانا)کلا موجوده وه همدارنګه حتماً دهیرمند په سیمه او ارغنداو کې وړاندې د سکندر تررسیدلو موښارونه او مستحکمې کلاګاني درلودلې.

جبل السراج یا پروان دهندوکش جنوبي دروازه وه او په اینده کې به هم وي، لکه څنګه چې دهوامرغان ددوبي او ژمي پر مهال دمهاجرت په وخت کې دسالنګ دلارو څخه ګټه اخلي انسانان هم له همغو او ترڅنګ لاړې دپنجشیر له دري څخه استفاده کولی.

سکندر مقدوني ۲۳ پیړۍ دمخه هلته سکندریه پیل کړه او د سکندریې دجوړولو پر مهال یې روزانه دسیمې له خلکو څخه دهندوکش دلارو ګودرو په هکله معلومات ترلاسه کول. مخصوصاً دهغو ځایونو په اړه چې له اوسني جبل ا لسراج سره پیوست پراته دي.

ددې ۲۳ پیړیو په اوږدو کې یې جغرافیایي جوړښت او دلارو وضع دلږ ډیر توپیر سره یوشان وه او اوس دادی تازه پدې کلونو کې چې موږ په کې ژوند کوو دسالنګ وضع شرایط اوعبور ومرور هلته په کلي ډول بدل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو له هغومسایلو څخه چې دافغانستان په دې برخه کې دسکندر دخطو سیر په هکله تر اوسه په یقیني توګه معلومه نده همغه دسکندر په هندوکش باختر ته ورتلل اوبیرته پروان ته راتلل دي.

پدې کې شك نشته چې داندراب اوسیدونکي چې له هرې نقطې څخه یې وي دخاواك په کوتل شپه ترمنځ یعنې په دوه ورځو کې ځان ګل بهار ته رسوي. او په همدغه دوه ورځو کې یو تن کولی شي چې له اندراب څخه دخنجان په لاره دسالنګ په کوتل ځان جبل السراج ته ورسوي.

په (پادشاه نامه) کتاب کې چې دمغلي پاچا شاه جهان دپېر پیښې پکې لیکل شوې دي په قول ویلی شو چې هغه وخت چې علي مردان خان له کابل نه دبدخشان دتسخیر په قصد حرکت کاوه، هغه ته وویل شول چې دهندوکش له درو څخه ډیر عسکر نه شي تیریدای، نو ځکه هغه له لس زره سپرو سره دپروان، اهنګران، سالنګ، اودوشاخ دلارې ورتیر خنجان ته ورسیدل اندراب ته په رسیدلو له سراب او دطول (خاواك) له کوتل نه ورتیر (شپن) ته او له هغه ځایه (رخه) دپنجشیر حاکم نشیني سیمې ته راغی او له هغه ځایه ګلبهار ته ستون شو.

اګر چې دعلیمردان خان تلل او راتلل په ۱۱ هجري شمسي پیړۍ کې (۱۷ مسیحي پیړۍ) کې ترسره شوی دی مګر مورخ ته ښه معلومات راکوي اوکولی شو ترنتیجي اخستلو وروسته ووایو چې په ډیر باور سکندر مقدوني هم ۲۳ پیړۍ دمخه له همدغو دوه لارو او دوه کوتلونو سالنګ او پنجشیر نه ګټه اخیستې یعنې دسالنګ پرلار تللی او دخاواك او پنجشیر پر لار ګلبهار او له هغه ځایه دپروان سکندریې ته یې مراجعت کړی دی. دامفکوره راته هغه مهال پیداشوه چې تیره اونۍ مې پروان، ګلبهار او پنجشیر ته سفر وکړ پدې سفر کې ماته ثابته شوه چې سکندر لدې دوه لارو استفاده کړې ده جبل السراج او دپروان سکندریه لکه څنګه چې ۲۳ پیړۍ دمخه دجنوبي هندوکش دروازه وه بیا دنوي سرك په خلاصیدلو، سالنګ لوي تاریخي موقعیت بیا له سره نوی کړ.

۴۱\۳\۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلوګر تاريخي او جغرافيايي موقف

کابل دجغرافيايي جوړښت له مخې په يوه غرنی نقطه کې پروت دی چې دغرونو پردو له نژدې تر ډبرو لیرو په غيږ کې نیولی، ددې تاريخي ښار په شمال اوجنوب کې دوه نسبتاً پراخې او حاصل خيزې ساحې پرتې دي چې دواړه دکابل انبار خانه شميرل کيږي. لکه څنګه چې کاپيسا (کوهدامن او کوهستان تراوتازګی دشميرې ډډيرښت حاصل خيزې او تاريخي اثارو دبقایاوله مخې دکابل په شمال کې شهرت لري، تقريباً په همدې فاصله په مقابل سمت يعنې دپايتخت په جنوب کې يوه بله علاقه د (لوګر) په نوم لرو چې لکه دکابل دشمالي برخې په څير زر خيزه، حاصل خيزه تراوتازه او ډډير نفوس لرونکې ده، دا دواړه سيمې چې سره ډير ورته والی لري په عين حال کې دزراعتي توليداتو يوتوپير هم لري او هغه دادی چې په لومړي ځای يعنې کاپيسا په ډيره پيمانه د انګورو باغونه اومیوې توليدوي او په مقابل کې لوګر ډيره غله لري. همدارنګه ددواړو سيمو ترمنځ درودخانو او د اوبو دمنابعو توپير هم موجود دی پدې ترتيب چې کاپيسا ښه مست او څپاند رودونه لري چې له لوړو غرونو څخه سرچينه نيسي او په مقابل کې لوګر بيا يورود لري چې دلوګر رود په نوم يادیږي منتها ددې رودا وبه ډيرې ښې ويشل کيږي او اراضي ته ښه رسيږي او په کرهنه کې تري ښه ګټه اخيستلای شي او دکاپيسا ردودونه په ډيرې تيزې سره حرکت لري لکه څومره چې بايد تري ګټه واخستل شي هومره ګټه تري نه اخستل کيږي.

لوګر لکه دکاپيسا په څير چې دتاريخ په اوږدو کې يې ستري دورې ترسره کړې دي منتها دکاپيسا په څينو نقاطو کې لکه (بګرام)، (پايتاوه) (شترک) او نورو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلروغون پيژندونکو له خوا کيندنی شوي او څيړنې ترسره شوي مګر په لوګر کې متاسفانه تر اوسه هيڅ ډول علمي او عملي هڅې ترسره شوي نه دي، ددې علاقې موقعيت دکابل، ګرديز اوغزني ترمنځ چې دادري واړه لوي اداري، سياسي او فرهنګي مرکزونه دي او دادري واړه دارابنيي چې داڅومره دتاريخ په ژورو کې دارزښت ور ده.

تر اوسه مودلوګر دنوم دیادونې له پاره پرته ديوناني مصري جغرافيه ليکونکي بطليموس له يادونې چې په دويمه عيسوي پيړۍ کې تير شوی نور څه نه دي موندلي. دهغه دليکنو له مخې چې د(پاروپاميزاد) چې عبارت له کابلستان څخه وي دکابل درودخاني مرستيالانو اومختلفو ځايونو نومونه يي اخستي چې يويي (لوګرنا) ده يوتن انګريز کننګهم او نورو پوهانو همدا (لوګرنا) دشباهت او ورته والی له مخې همدا اوسنی لوګر کړی دی.

لکه څنګه چې (ګر) دغره په معنا دی او (لو) د (لوی) مخفف دی نوويلای شو چې په لرغونو زمانوکې دانوم د(لوی غر) په معنا ويل شوی او ورو ورو دوخت په تيريدلو دعوامو په ژبه چې اختصار ته متمايل دی د(لوغر) او (لوګر) په بڼه منځ ته راغلی دی.

لوګر په لرغونو زمانو کې هغه سيمه وه چې هلته (اورمړی) ژبه ويل کيده چې بقايايي اوس هم په (برکي برک) کې ليدل کيږي دانوم اوداسې نور ډير نومونه چې لنډه يادونه به يي وشي ددې محتاج دی چې پرې څيړنه وشي او په (رمړي) ژبه کې مطالعه به ډيره مرسته وکړي.

په لوګر کې دبعضې ابادیو، نهرونو، کاريزونو نومونه واقعاً په ذهن کې يوه مفکوره توليدوي لکه: کاريز رسن، کاريز تشن، کاريز روشن(داوسنی ارزي درويش نوم)، کاريزخزر، پل جوګي، نهرراجان، نهر منسچ، نهر پند جوی بابوس، ده کشن، غندي کشن، پادخواب، شانه اونور.

همدغه د(برکي برک) تسميه چې همدا اوس هم يو شمير محدودې کورنۍ په اور مړي ژبه خبرې کوي عجيب نوم نه دی؟

همدارنګه د(برکي راجان) تسميه، داور مړی ژبې بقايا پرته له برکي برک نه دوزيرستان په (کانې ګرام) کې هم پاتې دی.

په لوګر کې داسې نور ډير ځايونه هم شته چې اوسيدونکو يي ياخوشواهد تراسه کړي او يا خو ليدل شوي او يا يي درک لرلی. موسهي چې داهم يوله همغو عجيبو ومونوڅخه دی چې پدې هم نه پوهيږو چې سهي صورت يي څرنګه وليکو

هلته هم ورڅوکې مجسمې موندل شوي چې ختينې جچوړې او پخې شوې داسې او دسوار کار مجسمې په لاس راغلي دي چې يوه يادوه نمونې يې د کابل په موزيم کې موجودې دي او په لږ اختلاف يې جوړه له بګرام نه هم په لاس راغلی دی او معمولاً هغه د کوشانيانو د روستی دورې يعنې د عيسوي د دريمې پيړۍ ته نسبت ورکولی شو.

د (پادخواب شانه) له چاپيره زرّاعتي ځمکو اوباغونو څخه دغزنويانو او کوشانيانو سکې ترلاسه شوي او تر لاسه کيږي او ځينې فلزي مجسمې اوفلزي مهرونه او نورتر هم تر لاسه شوي دي، په يادې شوې سيمه کې (خم هندو) چې د (کنګار) شرق لوري ته واقع دی دخلکو دوينا له مخې ډيرې سکې پيدا کيږي او همدارنګه له نورونقاطو څخه لکه (تخت شاه) او (استي ميدان) کې تاريخي شواهد کله کله تر نظره کيږي.

پدې کې شک نشته چې سيمه ايز او فولکور داستانونه په ډير پيمانه دانومونه خپل کړي دي، همدا پادخواب شانه ډيرې مختلفې کيسې لري وائي چې اصلاً داتسميه "باد ـ خواب" ؤ او دسهار نسيم به دلته ډير ښه چليده او دغزنويانو خواب خانه ياخوب ځای همدلته ؤ نو پادخواب شانه اصلاً "بادخواب شاهانه" تعبير کولای شو.

يوشمير نور ددې ځای په چينو کې نورې کيسې ګوري او وائي چې ددې چينو او د "سلطاني پور" دچينو تر منځ دځمکې لاندې ارتباط موجود دی. پدې کې شک نشته چې دلوګر دپادخواب شانه او دجلال اباد دسلطان پوري چې دکابل داهل هنود په عرف کې متبرک مقام لري اوتر اوسه هم پدې دواړو برخو کې کال په کال ستري ميلې ترسره کيږي. لنډه داچې دلوګر منطقه چې د "واغجان" له تنګي نه دالتمور تر کوتل پورې او همدارنګه له چرخ نه تر (سجاند) پورې لويه علاقه راچاپيره ده چې په اسلامي اوتر اسلام دمخه دورونو کې يې فرهنګي دورې تر سره کړې دي او هغه شواهد چې پدې ناحيه کې حد په حد ليدل کيږي دلته بايد حتماً هڅې صورت ونيسي.

۴۷-۴-۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

استوپه يا توپ

په افغانستان کې د بودايي آبادیو، يو ميراث

دافغانستان په اکثرو ځايونو کې مخصوصاً ددې خاورې په نيموختيزو برخو کې چې بودايي دين څه دپاسه يوزر کاله پکې رواج وۀ، لکه دګنبدي په څير د کانو يو امبار چې له کانو او خاورو جوړ او ديو برج په څير چې په عموم دول خارجي برخه يي له تزئيناتو خالي نده څرګندېږي لکه څرنګه چې اکثره معبدونه په لوړو او وچو ځايونو اودغرونو پرخونګو جوړيدل، همدارنګه داستوپو پاتې شوني هم په لوړو دامانې برخو اودغرونو په لمنو کې وجود لري، هيڅ به دافکر ونکړي چې دبودايي دين پر مهال په زرګونو وړې او غټې استوپې دافغانستان په مختلفو برخو کې ابادې شوې وي، هرې خواته چې به کتل کيدل يوه استوپه به خامخا په نظر ورتله او ددې معبدونو او استوپو د معماری او فرهنګ سبک په وروستيو وختونو خپل اثر پرېښودی دی او پخپله د استوپې کلمه له منځه ټللې نه ده او دتوپ په بڼه وروستيو وختونو ته هم را پاتې ده. او د کابل د محيط په ۱۰۰ کيلو متری کې څو ځايه داکلمه اوريدل کيږي او د بودايي وخت په پخوانيو استوپو شهادت ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه (توپ دره) چې دچاریکار په مقابل کې دعمومي سرک چپ لوري ته په یوه دره پورې ننبتې. چې په یوه نقطه کې یې چې ډیره ښکلي اوبرجسته نقطه ده دیوې استوپې پاتې شونې څرګندیږي چې شاید داپه افغانستان کې ترټولوستره استوپه وي،توپ درې ته کولی شو.

(استوپه دره) ووایو. په عرف او دمنطقې په دود کې "توپ" همغه استوپه ده چې له لریو ځایونو څخه ښکاریږي او دکوشاني عصرد تلپاتې کارونو څخه یې پاتې شوني څرګندیږي اوله چارچاپیر سیمې څخه یې دکوشاني عصر مسکوکات په لاس راځي هغه مربع شکل ستوپه یې ۱۵ متره لوړ والی لري او خارجي وړې استوپې یې خپله بڼه بدله کړې ده او خرابې شوې دي.

دکابل په لور ښکته له بیګ توت کلي نه یایې که په دقیقه ټوګه ووایو دبیګ توت او چهل تن ترمنځ یوه غونډۍ ده چې "سه توپان" نومیږي لکه څنګه چې یې له نامه څخه څرګندیږي هلته دري ښکلاوې په نظر راځي چې سترګې له ورایه هلته دتاریخي پاتې شونیو تاریخي شواهد ګوري چې دلته په بودایي دوران کې دري استوپې خوا تر خوا ابادې وې او ننني دتوپ کلمه پخوانۍ داستوپې کلمه ده اوهلته سیمه ایزې ژبې دتوپ له واحدې صیغې نه دجمعې صیغه توپان جوړه کړې ده او (سه توپان) اوسنی نوم دتاریخي حقایقو له مخې په دري استوپو موافق او شاهد دی.

دکابل شمال ته له چاریکار لږ څه لرې دګل بهار شمال شرق لوري ته دخم زرګر په علاقه کې (اشترګرام) ته نژدې دغره پرخونګه یوه نقطه ده چې "تخت توپ" نومیږي دلته هم په یوه ښکلې نقطه کې یوه استوپه موجوده وه چې ډډیرې ښکلې منطقې اوښه موقعیت په مناسبت چې لاره یې شپیته کاله دمخه شاید دسراج الملة والدین په امر به هغه بدله شوې وې چې وروسته له هغې ورته "تخت توپ" وایي او دادی ګورو چې په یوه بله نقطه کې پخوانۍ استوپه دتوپ دکلمې په بڼه له منځه نه ده تللې.

دوه ښکلي نور مثالونه دتوپ رستم دی چې یو په سمنګان او بل په بلخ کې مشهور دی او دواړه بودایي استوپې دي خوتوپیر یې دومره دی چې هغه توپ رستم چې ایبک سمنګان کې واقع دی تیږې یې تراشل شوی او کار یې ناتمام پاتې شوی دی او هغه توپ چې دبلخ دنوبهار دروازې ته نژدې واقع دی له غټو خامو خښتو څخه جوړ شوی دی او یوه بله ښکلا هم دتخت رستم په نامه موجوده ده چې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسه دهغې دتشخيص په هکله ديو معبد يا اورتون په حيث اتفاق نظرندی حاصل شوی.

ددې لنډې شرح په رڼا کې شکونه نه پاتې کيږي چې ا ستوپې که هغه دودانيو دجوړښت دبقايا له نظره وي او که هغه دادبي خاطرو له نظره وي له منځه نه دی تللی، د غرونو په خونکو او لمنو اوشيلووکې يې بقاياوې په تيږه، خښته کانو او برجستګيو کې پاتې دي. او په خاطرو او کيسو کې د "توپ" په صورت نقش دی او د عوامو قاموس ددې محلې نومونو دتاريخي خاطرو غوره ساتندويه وسيله ده.

اصلاً په هند کې استوپې د "بودا" دايرو دمحافظې او بودائي راهبانو له پاره جوړيدلې وروسته سلاطينو، شاهانو، وزيرانو اوحتی مشهورو اشخاصو دخاطرو په خاطر دا ودانۍ جوړولې او په عموم ډول به يې قيمتي نګينې، سکې مهرونه او نور په همدغو استوپو کې خښول لکه چې يوه ورانه شوې استوپه په همدغه غرض ولټول شوه او له لدې پرته دانګريزانو دلومړي او دويم يرغل پر مهال په کابل، درونټه بګرام، او بامیان کې وپلټل شوې او ډير څيزونه يې دلندن برتش موزيم ته يورړل، دودانۍ په بڼه استوپې په افغانستان کې له تاثيراتو تشې ندی او اکثر ضخيم برجونه چې زمونږ دکلاګانو په کنجونو کې ليدل کيږي تر ډيرې اندازې پخوانۍ استوپې را ياد وي.

۴۷\۱۱\۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپ دره

څه موده دمخه په جرايدو اووروځپانو کې خبر خپور شو چې کابل موزيم په نظر کې لري چې ديونسکو ديوتن رالیږل شوي مهندس په لارښوونه دکابل دنژدې سيمو دځينو تاريخي ابادۍ مرمت کاري وکړي او په همدې تازه ورځو کې دتوپ دري دابادۍ مرمت هم پيل شوی دی.

پدې کې شک نشته چې په کابل او دکابل په لرې اونژدې چاپيريال کې يو لړ مذهبي تاريخي ابادۍ داسلامي اوبودايي دورو وجود لري چې مرمت او بيا جوړونه يي داثارو حفظ اوساتنه يې دافغانستان دهنري او تاريخي اثارو له مخې ډيرارزښت لري. داکار نه يواځې زمونږ پخوانۍ مذهبي ودانۍ له نړيدلو څخه ساتي لاچې دسياحانو له پاره هم ډيرې پاملرنې وړ دی. ځکه چې دخارجي سياحينو په نظر کې پرته له طبيعي مناظرو څخه دويم ارزښتمند څيز مذهبي تاريخي ودانۍ دی چې له نيکه مرغه افغانستان تر اوسه خپل پخواني ټول اثار په خپلو ځايوحفظ او ساتلي دي. مقصد دتوپ دري له مذهبي آبده څخه څه شی دی؟ او توپ دره په کوم ځای کې واقع ده؟ دادیددې پوښتنو ځواب ته راځو :

دلومړۍ پوښتنې ځواب بايد سملاسي ووايو چې دابده مقصد له بودائي استوپې څخه دی.

استوپه ياتوپ چې دپخوانۍ بودائي دورې خاص اوعام نوم دی چې په کابل او دکابل په چارچاپير سيمو کې زمونږ تر وخته شکل او اصلي مفهوم ساتلی دی هغه (استوپه) ده.

په عموم ډول بودايي معبدونه په دوه برخو ويشل شوي چې يوته يي سنګهارمه يامعابد او بل ته به يي استوپه ويل او په بودائي عصر کې له دويمې م ز پيړۍ نه

تر ۹ زیږدې پیړۍ پورې د ۱۱ پیړیو په اوږدو کې په نیمه شرقي افغانستان کې له (بلخ نه تر کندهار دختیځ په لور) رواج درلود پرته له مبالغې څو سوه وړې او غټې استوپې ودانې شوې دي اودکابل دښار په منځ کې دشیردروازې او آسه مایې غرونو پرخونګولسګونې استوپې وې.

په اساسی توګه هر یو معبد کم ترکمه یوه استوپه درلوده اوډیروختونه دیو معبد چارچاپیره ډیرې وړې اولویې استوپې هم جوړیدې. استوپې به اکثراً له منځ نه ډکې اودباندې به دګنبدې په ډول جوړیده. په لومړي وخت کې به یې دهند په بنارس کې داستوپې دننه دبودا الماس ایښوده اوبیا وروسته به یې دراهبانوالماس اونور قیمتي څیزونه په ځانګړي صندوقچه کې اچول اود استوپې دننه به یې ایښودل له پورتني شرح نه څرګندیږي چې توپ دره اصلاً استوپه دره وه د (س· حرف په اسانۍ سره حذف شوی او اوس دتوپ په بڼه پاتې دی او دکوهدامن او کوهستان خلکو لکه دافغانستان دنورو برخو په څېر ددې پخوانی مفهوم په سهې توګه ساتلی دی.

توپ دره دخواجه سیاران اوسنجد دري په منځ کښې دپغمان دغره په کوزنۍ برخه کې دچاریکار ترځنګ پرته ده اودکلي کورونه یې له دوه ګاونډیو کلیو او چاریکار نه په وضاحت سره معلومیږي یو کیلو متر دچاریکار دبازار له پیل څخه یوه لاره چپ لوري ته دتوپ دري په لور تللې ده چې کیدای شي دجیپ په واسطه یو کیلو متر فاصله طی کړای شي. اووروسته بیا دکلي ترځنګ کله چې له غونډۍ ور واوړئ او پلي تر توپ پورې ورسئ.

دمخه ددري ترخولې په دامان کې په ټیټ توګه ښې جلګې موجودې دي چې لویه یې تر یوې نیمې پیړۍ دمخه دتپه رستم په نامه یادیده.

دمخه مې اشاره وکړه چې دتوپ کلمه دافغانستان په ډیرو برخو کې داستوپې په معنا اومحفوظه پاتې ده دمثال په توګه له (توپ رستم) څخه په ایبک (سمنګان) او له (توپ رستم) د بلخ په بنار دنوبنهار ددروازې جنوب لوري ته یادولی شو.

دادواړه توپونه که هغه په ایبک کې دی او که په بلخ کې له نیکه مرغه دلویو توپو له جملې څخه دی چې تر اوسه پاتې دی همدارنګه دچکړې دمنار (بودایي کابل) اوخورد کابل ترمنځ ددري استوپو بقایاوې موجودې دي چې سه توپان ورته وایي، البته داځه دتعجب ځای نه دی چې په اسلامی دوره کې یې اکثر کلاګانو او استوپوته دکابل اوزابل درستم پهلوان شهرت ورکړی دی.

په توپ دره کې لکه چې مو وویل نه یواځې غونډۍ درستم په نامه شهرت لري بلکې هلته یوقبر هم وچې هغه ته به یې درستم دزوی قبر وایه.

په هر حال لدې لنډې شرح نه څرګندیږي چې دتوپ دري آبده همغه استوپه ده چې ددري په منځنۍ برخه کې دکلیو په منځ کې لیدل کیږي اوخلك دپخوانیو خاطرو په یاد لرلو هغې ټولې دري ته توپ دره وایي.

لکه څنګه چې مې دمخه شرح ورکړه پرته له مبالغې په کابل او دکابل په اطراف کې له پغمان څخه تر شیوکیو کمري، چکړي اوخورد کابل پورې اوهمداراز دکاپیسا په حوزه کې که هغه په بګرام کې دی او که دپهلوان غره چارچاپیره اوکه دخواجه سیاران په لاره کې، سنجد دره استدغچ،استالف، ګل دره اوشکر دره اونوروکې اوڅه په ګلبهار او اشترګام اوریزه کوهستان کې مو په سلګونو استوپې درلودې چې زیاتره بیخي له منځه تللي دي مګر په دوه ځایونو په چکړي منار اوتوپ دره کې استوپې په ښه ډول حفظ او ساتل شوي دي. توپ دره دکابل په چارچاپیرونقاطو کې داستوپو د پاتې شونیو له نقطه نظره ډیر ارزښت لري ځکه چې هم ترټولو استوپو لویه ده او هم تر ټولو ښه ساتل شوې ده او له نیکه مرغه کابل د چاریکار لویې لارې ته نژدې واقع دی اوسیلانیان کولای شي په اسانۍ سره تري لیدنه وکړي.

دغه استو په نژدې ۱۵ متره لوړوالی لري او ددایرې محیط یې نژدې څلویښت متره دی او په.ملا کې یې لکه دکمربنددوه حلقې لیدل کیږي اوپلستر کاري یې په ښه توګه محافظه شوې ده.

دالویه استوپه له ډیرولریو ځایونو څخه لکه له بګرام څخه هم ښکاري او ددوربین په واسطه یې دچاریکارولە عمومي سرك څخه دجوړښت ټول جزئیات څرګندیږي،دغه استوپه دلویو کوشانیانو دتلپاتې ودانیو یادګاردی او که په دقیقه توګه ووایو نو دامپراطور کنیشکا دسلطنت یعنې ددویمې مسیحي پیړۍ تر نیمائي پورې اړوند.و.

هیله لرو چې ددې لویې مهمې تاریخي ابادۍ مرمت چې دکوشاني عصر دمعماری نمونه ده داسې په دقت مرمت شي چې پخوانیو ښیګڼو ته یې تاوان ونه رسیږي.

۴۱-۳-۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

بامیان دسیاحت او نړی کړځیدنې له نظره

لکه څنګه چې دعجائباتو په نړۍ کې اووه خارقه څیزونه شهرت لري زمونږ په هیواد افغانستان کې چې تاریخي هنري شهکارونه یې په هر کنج اوکتار کې لیدل کیږي لکه (۱) بامیان (۲) بند امیر (۳) منار جام (۴) دایبک استوپه) (۵) تاق بست (۶) دخواجه محمدپارسادمسجد رواق (۷) اوګازرګاه شریف).

بامیان چې هغه مو په افغانستان کې په لومړۍ درجه دعجایبو په قطار کې راوړی، ډیره ښکلې او زړه راښکونکې دره ده چې هنري او طبعي ښکلایې سره یوځای شوې ،هنري اعجاز یې منځ ته راوړی او دابنکلې دره یې په نړۍ کې مشهوره کړې ده،بامیان یې له لریواونژدې نقاطو سره لکه:

شهر غلغله، شهر ضحاك، شهر سرخشك، اثر دهای سرخ در، فولادي دري، ککرك، کالو، سوماره ،آهنګران، آغرابات، داهغه برخې دي چې طبیعت پکې ټولې ښکلاوې راټولې کړي دي اوهنري بدیع یې پرې ورزیات کړی دی او همدارنګه ښکلې خاطرې یې پر هره پانه ورزیاتې شوې دي او بیا تري یوهنري قدرتي کتاب منځ ته راغلی دی چې هره پانه یې دهندوکش او بابا دغره له سپینو واورو ډکه او ښکلې ده.

هغه لویې مجسمې چې دنړۍ تر ټولو لوی مجسمې شمیرل شوي دي اواقونه اومعبدونه چې دسمځو په ډول په غرونو کې کیندل شوي دي دبامیان ددیوال نظیفه او رنګه نقاشي چې دهندوکش په زړه کې دیونګارستان په څېر منځ ته راغلي چې دټولو ورپیښو شویو روزګانو سره سره دلیدونکیو دکتنې وړ دی بامیان دهند او

چين تر منځ دتلو راتلو لويه لار وه چې په همدې سيمه به ددې دوه برخو ترمنځ سټره لاره تيره او دهندوکش په غرو رغو کې به تيريدل.

بامیان ترتاريخ دمخه دورو کې دهندوکش دښکاريانو مرکز وٴ چې چهل ستون سټره نغاره ددې دعوې ډير ښه ثبوت دی خو بيا دبودائي دين په خپريدلو سره مخصوصاً دکنيشکا او هوويشکا لويو کوشانيانوپه دوره کې چې (د دويمې ميلادي له دويمې نيمائي څخه تر دريمې ميلادي پيړۍ پورې) دې درې بل ارزښت خپل کړ او څخه دپاسه ۸ پيړۍ په منځنۍ اسيا کې دبودايي دين يو پرتمين مرکز پاتې شو. بامیان دمملکت داری له مخې هم ښه سوابق لري که هغه له اسلام نه دمخه دی اوکه وروسته دغوري په وخت کې دافغانستان دقلمرو وٴ تاريخ وٴ چې کله کله يې شمال لوري ته تخارستان او دهندوکش جنوب لوري ته کابلستان هم پکې راتلل.

پدې څو کالو کې چې افغانستان ته سيلانيان راغلي او شمېره يې هم ورځ تر ورځې په ډيريدو ده نو ډيره شمېر يې بامیانو ته راغلي دي. او ددې وجه څرګنده ده وجه يې همغه دبامیانو ۵۳ او ۳۵ متره بودا مجسمې دي چې تقريباً ۴۰۰ قدمه يوله بله لرې واقع دي او دغره په کمر کې يې مجسمې کندل شوي او دبدن غټې برخې يې له صدمونه په امان پاتې دی.

بامیان له کابل نه ۲۴۵ کيلو متره فاصله لري چې په هرډول موټر کې کولای شو په ۷ ساعتو کې دالاره ووهو.

بامیان پرته له دوه سترو مجسمو او يو شمير معبدونو څخه نور هم په زړه پورې دليدلو ځيزونه لري چې سيلانيانوته ډير په زړه پورې دي او هغه په هغه سيمه تاريخي محاسن طبيعي مناظر او يو شمير نورو ته دخالدارو ماهيانو ښکار ډير په زړه پورې دی.

پرته له لويو مجسمو څخه چې يادونه مو وکړه يوه بله مجسمه هم دلس متره په لوړوالي دککرک په دره کې وجود لري او دککرک دره دبامیان

جنوب ختيځ لورته پرته ده او هغه سرک چې نوی جوړ کړای شوی ، دهوټل له مخې د بابا دغره شاته هغې منطقې ته نژدې کيږي.

ددې دري نور تاريخي اثار دضحاک ښاراوشهر غلغله دی چې په ډيره پيمانه دغوري دورې خاطرې ، خوارزمشاهي او دچنګيز دخرابيوډيرې خاطرې لري او پدې دريو دورونو پورې يې خاطرې تعلق نيسي دچنګيز لمسی دضحاک په ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دجلال الدين منکبرني دعسکرو دلاسه ووژل شواوشهر غلغله دمقاومت کولو په وجه دچنګيز دلاسه وسوځول شو. او هيڅ شی يې ژوندی پرې نه ښود.

هغه ځايونه چې د باميانو په لرې اونژدې برخو کې پراته دي او سيلانيانو ته دير په زړه پورې دی هغه بند امير دی چې په ۸۰ کيلو متری کې واقع دی او نور وړوکي رودونه دي چې فوکلوري کيسې لري او هر ليدونکي ته په زړه پورې اودلچسپ دی.دفولادي دره دلويومجسمو جنوب لويديځ لوري ته واقع ده چې لوړه څوکه يې (شاه فولادي) نومېږي اونوی سرک چې ۱۲ کيلو متره اوږدوالی لري ددې دري کوزنی برخې ته رسيږي چې هلته يو حوض هم دی.

روانې اوبه ، مستې ويالې، ښکلي کلي، واړه واړه ښکلي باغونه، له واورو ډکو غرونو په لمنو کې چېنې پرې شوې څوکې داټول هر يوپه خپل ځای يوه ځانګړې ښکلا لري.

همدارنګه دککرك دره او په ځانګړي توګه کوزنی برخه يې برخې (دوکاني) پورې ډيرې ښکلې زړه راښکونکې منظرې لري چې بيا هم دبابا په غره پورې ننښلي.

دضحاك دښار په پای کې يوه بله دره د بابا دغره له خواسره وړاندې تللی چې د (کالو) په نامه يادېږي اوعجيب طبقات الارضي تشکيلات لري چې دليدنې وړدي.

همدارنګه د (سوماره) او (آهنګران) دري چې دباميانو په لويه لار واقع دي هر يو ځانته ځانګړې ښکلا لري او پرته له طبيعي محاسنو څخه خالدار ماهي هم لري او هغه څوك چې دماهيانو دښکار علاقمند وي هغوی ترينه ډير خوند اخلی.

باميان دتاريخي اثارو او طبيعي ښکلا په لرلود نړۍ دسيلانيانو په منځ کې ډير شهرت لري ځکه چې هر سيلاني هلته تللی دی په ډير شوق يې بيرته مراجعه کړې ده او نه هيريدونکې خاطرې يې له ځانه سره راوړي دي او په حافظه کې يې حفظ کړي دي.

۳۷-۳-۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلصال وشاه مامه

پدې وروستيو کې هر چا دبامیانو نوم لږ ډیر اوریدلی دی او پدې وروستیو کې دنړۍ ډیر سیلانیان هلته لیدلو ته ورځي. بامیان دسیلانیانو له پاره ډیر ښترین ځای دی اونژدې ۹۰ فیصده سیلانیان هلته ور روان دي.

شاید هر هغه چاچې بامیان لیدلي او یا دهغه ځای په اړه یې څه مطالعه کړې وي اویا یې له نامه او اثارو سره اشنایي ولري درک کولای شي چې دهغه ځای دټول بنایست اوښکلا سره سره هغه څه چې دسیلانیانو پاملرنه جلبوي هغه ددوه مجسمو موجودیت دی چې یوه یې ۵۳ متره او بله یې ۳۵ متره لوړوالی لري.

دادوه لوی ولاړ هیکلونه او نور غټ او واړه ناستې مجسمې معمولاً دبامیانو په بتانو شهرت لري او داسې څوک به نه وي چې ددې لویو مجسمو په لیدلو سره حیران نشي.

دبامیان ۵۳ متري هیکل دنړۍ لوی ترینه مجسمه ده او ددې وړ ده چې ددنیا په عجایب سبعه و کې وشمیرل شي، هغه کسان چې دامجسمې ګوري نوخامخا یې یوشمیر پوښتنې په ذهن کې ګرځي او دهغو په اړه یې دنوم هویت نوم اونښان په باره کې ورته پوښتنې پیدا کیږي.

مهمې پوښتنې دادي چې دامجسمې څه نومیدلې؟ پدې کې خو هیڅ شک نشته چې دبودایي دین دپلویانو پر نظر دامجسمې صرف دبودا دمجسمې تمثیل دی. چې په فوق العاده لویه اندازه له طبیعي انسان څخه ستر(دانسان له قده ستړې)دغره په زړه کې کیندل شوي اوتراشل شوي دي.

ددې مجسمو بدن له اوږو څخه دپښو تر بندونو پورې په قبایا راهبي شوقه باندې پوښل شوی ؤ اودهغې قاتونه او ضمونه ډیر ښه څرګندیږي دادواړه قباوې رنګه وې او تر اوسه په اسانۍ سره تشخیص کیږي. حـ ۵۳ مترو قبا اصلاً سور رنګ لري او د ۳۵ مترو قبا شین یاداوبو په څیر رنګ

ددې دواړو قباګانو رنګونه په هغه مهال چې مسلمانان دلومړي ځل دپاره دبامیان دري ته ننوتل ډیر تاثیر پرې کړی ؤ. او دا دواړه بتان یې دهغو درنګونو له مخې په (سره بت) او (خنك بت) په نومونو یاد کړل دیوشمیر تاریخي او ادبي متون داشارو پراساس ثابت دي چې دا دواړه صفتونه په ۴ مه او ۵ مه پیړۍ کې او تر دې وروسته یې رواج وموند او تر ټولو دامهمه ده چې دسلطان محمود غزنوي ددربار ملك الشعرا امیر عنصري دسره بت او خنك بت په باره کې قصیده جوړه کړې وه چې متاسفانه له منځ تللې ده او یو بیت نیم هم تري پاتې نه دی ددې قصیدې کشف یو له مهمو تاریخي او ادبي کشفیاتو څخه دی چې هر کله تر لاسه نوزمونږدتاریخ په یوه پانه به ډیره رڼا واچوي.

(سره بت) همغه ۵۳ متر بت او(خنك بت) ۳۵ متر مجسمه وه داټکي دکتلو وړ دي چې ددې دواړو بُتانو قباګاني په اوومه مسیحي پیړۍ یعني (لومړي هجري پیړۍ) کې چیني لیدونکي هیوان تسنګ هم تیر ویستي ؤ. هغه فکر کړی ؤ چې دمجسمو بدن له چودن څخه ټوټې ټوټې ریخت شوی او بیا سره یوځای شوی مجسمه تري جوړه شوې، خوداچې موږ پوهیږو چې دامفکوره په قطعي توګه غلطه وه او له فلز څخه دمجسمو په جوړولو کې بلکل کار اخستل شوی نه و.

او ټول بدن یې دهمغه غره په دانه داره تیږه کې تراشل شوی او دقباګانو قات یا لوړې ژورې د پلستر او رسۍ په ذریعه لوړې ژورې شوي دي او په مخ یې ورته سور او شین رنګ وهلې ؤ او همدغه رنګ مسلمان دې ته اړ ویستل چې یو ته (سور بت) او بل ته (خنك بُت) یعني سین بت ووایي.

کولای شو دې مجسمو ته دبامیانو په کیسو او اسطورو کې دوه نور نومونه هم پیدا کړو: یو (صلصال) او بل (شامامه) دبامیانو په سیمه ایز دود کې صلصال د ۵۳ متر بت نوم و شامامه د ۳۵ مترې بت نوم ؤ دصلصال دکلمې لغوي مفهوم ګل او خاوري دی دبامیانو سیمه ایز خپل ساده فکر کې صلصال دنر له پاره او شاه مامه د ښځې له پاره تصور کاږه او کوي یې او داهم فکر کوي چې یو یې شاه او بل یې ملکه وه پدې معنا چې دا یوه جوړه شاه او ملکه دي. دتاریخ څیړنو او لرغون پیژندنې په رڼا کې څرګندولی شو چې دافکر ونه ټول له حقیقت نه لرې دي

او دا دواړه مجسمې دبودا دي، خوبايد وويل شي چې دفولکلور مطالعه او دعوامو فرهنګ ډير په زړه پورې دی مخصوصاً په تاريخي مسايلو کې ورته ډير ارزښت ورکول کيږي او سيمه ايزې کيسې اوريدل ډيرې دلچسپې او اموزنده دي.

دشاه مامه دکلمې په ترکيبي جوړښت کې دوه کلمې څرګندې دي يو (شاه) او بل (مامه) چې دا دواړه دپنجشېريانو په لهجه کې ورګډې دي او مور ته يې اطلاق کيږي. همدارنګه دشهبانو هم توجيه کيدی شي.

لکه څنګه چې مو دمخه وويل چې عوام دا دواړه بتان بښځه، ميړه او همدارنګه شاه او ملکه بولي همداراز دري وړې مجسمې دلويو مجسمو په طاقونو کې په ناسته تراشل شوي دهغو دوه و ماشومان بولي او هغوی (نقصاني) بولي، په همدې ترتيب دباميانو سيمه ايز خلك هغه ټول غټ او واړه بتان چې دځلور سوه قدمونوپه ليرې والی تراشل شوی دی يوې کورنۍ ته منسوب بولي چې عبارت له پلار ، مور او ماشومانوڅخه دي.

دباميانو ۳۵ متري بت دځيرنو له مخې داسې څرګندوي چې له ۵۳ متري بت څخه ډير ه لرغونتيا لري او ۵۳ متري بت په ۴مه يا ۵مه عيسوي پيړۍ کې جوړ کړای شوی دی او په همدې ۵۳ متري مجسمو کې تناسب ډير په نظر کې نيول شوی دی او دادګويتا دمدرسې له دخالت نه بې تاثيره ندی.

وايي چې دباميانو دلويې مجسمې وړې نمونې دتجارانو په کاروانونو دوريښم په لاره کې دچين او جاپان ترخاورو پورې دلارې په اوږدو کې انتشار موندلی وۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسرخ در اژدها

دبامیان له عجیبو څیزونو څخه چې دداستان، کیسې، تاریخ، فولکلور، عامیانه کیسو، طبیعي تشکیلاتو طبقات الارضي له نظره دپاملرنې وړ دی هغه(اژدها)دی‌چې دبامیان په یوه فرعي دره کې(سرخ در) نومیږي قرار لري.

سرخ در دبامیان جنوب لویدیځ لوري ته دخاورینو غونډیو په منځ کې واقع دی چې دبامیان دکنو ځایونو په څیر یې خاوره سور رنګ لري او په عامه توګه داوبو نلرلو په وجه دکرهنې وړ نده. دطبقات الارض کوایف څرګندوي چې تربند امیر اویکاولنګ اوحتی تر ده زنګي پورې اوږدوالی لري چې پوښل شوی داهغه سرچینې دي چې اوبه یې ډیر اهکي موادلري. په بل عبارت دخاورې هغه طبقه چې دځمکې سطحي قشر ته نژدې ده ډیر اهکي مواد لري اودسرچینو په اوبو کې نومورې مواد په ډیره اندازه تحلیل شوي دي. لکه څنګه چې هماغه شان دسرخ در دتشکلاتو په څیر دلارې په اوږدوکې په مختلفو برخو کې لکه بندامیر، یکاولنګ اوده زنګي کې مشاهده کیږي. هغه څه چې دسیمې په عرف کې په اژدهاي سرخ مشهور شو یوطبقات الارض تشکل دی چې شاید څو میلیونه کاله دمخه دسرچینې دبنعان په وجه یې تشکل پیل شوی‌وي چې لاتراوسه هم ادامه لري.

اژدهای سرخ نن ورځ د ۴۰۰ قدمونو په شاوخوا کې اوږدوالی لري چې له لکۍ نه تر سره پورې په اژدها کې یو ژور شق لیدل کیږي اوله هغه ځایه چې داداژدها

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسر تصور کوي تر اوسه يو څه مخلوط معدني مواد چې له اوبو سره يوځای دسور او جيګري رنګ په لرلو جريان لري او دځو دقيقو په موده کې سوړ اومنجمد شي او شيکي يې لکه دمار يا دماهي دشا په څير تشکيل شوی، حد په حد داوبو سوری نژدې يومتر جګوالی تشکيلوي او همدارنګه په شاکې يې شق شوي ځای کې داوبو دسړيدلو او موادو دورتللو په وجه ديو حوض بڼه خپله کړې ده چې واقعاً هېبنده ده. ميليون کاله دمخه سور اژدها محض په چينه کې وې داوبو له دريمې جريان سره اويايې داهکي موادو په سريزې سره له لومړی نقطې څخه بې ځايه شوی او به دزماني په مرور سره له خپل اصلي ځايه ۴۰۰ قدمه لرې شوي دي. داوبو حرکت او داهکي موادو ددريجي سړښت په وجه دوه خواوو ته يې اوږدې غونډی توليد کړي دي چې سراسر يې شاشق يا دوه ځايه ليدل کيږي.

ماچې ترکومه د(اذان چينه) په غور ليدلې نه وه نو تر هغې داژدهای سرخ د دطبقات الارض په موضوع بڼه نه پوهيدم.

په غور کې چينه ده چې د(اذان په چينه) مشهوره ده چې له اهکي موادو سره ګډې اوبه لري ددې چينې اوبو د ۶ يا ۷ مترو په اوږدوالی يو مار تشکيل کړی دی. کله چې دامعدني اوبه سړې اومنجمدې کيږي دمنځني خط ترڅنګ په جريان کې يوه برجستګي لکه دمار په څير کږه وږه تشکيلوي او دجريان خط يې ژور پاتې شوی دی او يوه ژوره توليدوي چې داژدها سرخ په شاوه نظر داوبو په ظرفيت ډيره ژوره ليدل کيږي.

اژدها سرخ لکه داوښ په څير له اسلام نه مخکې هم دسيمې دخلکو دکيسې او داستانونه تشکيل کړې دي ، هغه څوک چې دبامیانو دبتانو له تاريخي دورو څخه اطلاع لري پوهيږي چې پرته له دوو مجسمو څخه چې يوه ۳۵ متره اوبله ۵۳ متره ده يوه بله مجسمه هم وه چې اوږدوالی يې يوزر قدمه و هم وجود لاره چې دخوب په بڼه پروت و لکه چې بودا يې په (نيروانا) يعنې قبر کې څرګنداوه.

کله چې چينايي ليدونکی هيوان تسنګ داوومې پيړۍ په لومړي نيمايي کې له بامیانو تيريده لدې اوږد پروت بت څخه يې يادونه کړې ده او ويلي يې دي چې دابت دبامیانو دوه مشهورو بتانو ته نژدې واقع دی.

او وروسته ترهغې ددې ۳۰ کالو په اوږدو کې پوهان ددې بت دموقعيت اومحل په اړه ډير پلټنه کې دي او دځای په هکله يې اټکل کاو او کوي يې.

تر کومه ځايه چې مې دافسانو او تصوراتو په روح کې فکر کړی دی ګمان کوم چې دطبيعي جوړ(اژدهای سرخ) تشکل او داوږد پروت بت چې يوزر قدمه وه

ترمنځ ارتباط موجود دی. او داچې يووخت بودائيانو دباميانو دره د (بودايي خوابيده) دره يا دوله داسلامي دورو په داستانونو کې د (اژدها) په بڼه منځ ته راغلی او نوي تصوري زيب او زينت يې موندلی دبوداداوږود پروت بت ترڅنګ په ۸ مسيحي پيړۍ کې يو معبد وجود لاره چې په کال کې يوځل هلته لويه ميله ترسره کيده او اوس داژدهاترڅنګ يوه ګنبده وجودلري چې دسيمې خلك خپل نذرونه هلته پخوي. تر اوسه ديو شمېر ځرنيو غرځو ښکرونه هم داژدها پر بدن موجوددي چې ګمان کوم دعرف اوعاداتو له مخې له ډيرو پخوانيو زمانو څخه تر اوسه له منځه ندي تللي.

خلك دتاريخ په دوه مختلفو دورو کې په يوځيز کې ګډون چې هغه عبارت دتصور، تخيل، داستان او اسطوروڅخه دی، دمعدني چيني اهکي اوبه چې دوخت په تيريدو سره راوتلې اوميليون کاله کيږي دتکمل په لور ده اوبلاخره يې دبودا په بڼه اوږده مجسمه جوړه کړې ده او پدې دورو کې په اژدها مشهوره شوې او ليدنه يې له مختلفو نقطو نظريو څخه ډيره په زړه پورې ده او دباميان له عجايبو څخه يوه هم همدا مجسمه ده.

۸_۳_۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دباميانو زمريان يا

شاه شكاري

له اسلام نه دمخه په لرغونو زمانوکې په ځانګړي توګه له دريمې زيږدې پيړۍ راوروسته چې په افغانستان کې دکوشاني دامپراطورۍ اساس ددوو قدرتونوپه رامنځ ته کيدلو چې يو يې ساساني په لويديځ کې (په ايران کې) اوبل په ختيځ کې عربي ترکان (په مرکزي اسيا کې) مخ په سقوط شول په افغانستان کې يوه دملوک الطوايفي دوره منځ ته راغله چې داسلام تر راتللو پورې يې په مختلفو عناوينو دوام وکړ او ديو شمير مقتدرو دولتونو دهندوکش شمال او جنوب کې په درو او سيمو کې وجود لاره چې دهغوی دهر يونوم اونښان دنفوذ ساحه دافغانستان په پخوانې تاريخ کې ځانته بحث او په زړه پورې مطالعه غواړي.

هغه څه چې دملوک الطوايفي دورې ته يې تر يو حده په ذهنونو اوتاريخي ماخذونو کې شخصيت ورکړی دادهغوی عناوين او القاب دي چې انعکاس يې په لومړۍ هجري پيړۍ کې دعربو مورخينو اوجغرافيه نګارانو څخه اورو، پرته لدې چې په جزئياتو کې ورداخل شو ويلای شو چې دافغانستان مختلفو نقاطو واکمنو مختلف القاب اوعناوين درلودل.

مثلاً دکابل واکمنو لقب (کابل خدا) دزابل واکمن يعنې دغزنې اوکندهار ترمنځ (زابل خدا) دباميان دواکمنو لقب (شير باميان) او دغرجستان يعنې دميمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعلاقې له وړوکو درو اودهري رود ددري دپای تر برخو پوري دواکمنولقب (شارغرجستان) له دادوله عناوینو او القابو څخه ډیر وئ چې دلته دتولو یادونه خبره ډیره اوږدوي ،ددوه لومړیو لقبونوپه باره کې یعنې (کابل خدا) او (زابل خدا) همدومره یادونه کوم چې دخدای کلمه چې اوس دپاك پروردګار پر لوی ذات اطلاق کیږي. په هغه وختونو کې له اسلام څخه دمخه یې څانګړې معنا درلوده او د "شاه" یا "پادشاه" په معنا وه لکه "شاه نامه" چې مختلف، ډولونه یې درلودل په پهلوي ژبه کې د (خنای نامه) په صورت یا (خدای نامه) په بڼه یادوي نو پدې بنا (کابل خدا) او (زابل خدا) په (کابل شاه) او (زابل شاه) تعبیرکولای شو.

پدې ترتیب سره دبامیانو سیمه ایز واکمن تر اسلام دمخه عبارت وئ له "شیر" او دبامیانو له شیرانو څخه چې عربي ماخذونو یې یادونه کړې ده عبارت وئ په سیمه ایز واکمنې کورنۍ یانسل څخه په بودایي دوره کې، چې مرکز او پایتخت یې بامیان وئ او دلرغون پیژندنې څیړنو څرګنده کړې ده چې (شهر شاهي بامیان) یا دبامیان پایتخت په بودایي دوروکې په دره فولادي کې چې دبامیان په جنوب غربي زاویه کې واقع دی موجود و. سیلانیان او هغه کسان چې بامیانو ته ورځي او یا ورغلي دي ددره فولادي له پیل نه تر دوه دري کیلو مترو پورې یې په سلګونو بلکې په زرګونو سمځې لیدلي دي او لیدلی شي چې په مختلفو ارتفاعاتو کې دتیږو په منځ کې لیدل کیږي. اوداثابتوي چې دلته یوګڼ شمیر کسان اوسیدل او واقعاً دیووړوکي ښار حیثیت یې خپل کړی وئ.

دکابل دموزیم دبامیانو په څانګړي ځوند کې درنګه تصویرونو په ډله کې چې دیو ښکلې اونفیسې اوقیمتي بودایي کلکسون دی دیوبادشاه رنګه تصویر وجودلری چې پروفیسر هاکن په افغانستان کې دفرانسې فقید پخوانی دلرغون پیژندنې دهیئت مدیر چې دبامیانو په دره ککرك کې دبودایي تصاویرو کاشف وئ نوموړی پاچایي د شکاري پاچا په حیث یاد کړی دی.

داتصویر واقعاً دکابل دموزیم یونفیس او قیمدار تصویر دی که دهغه تصویر ارزښت درسامې او هنر له نظره هر څه وي خو دتاریخ له نظره ډیر ارزښت لري، ځکه چې فعلاً داتصویر یواځینی تصویر دی چې داسلام نه مخکې دساسانیانو او بودایي دورې په بامیانو کې لومړی تصویر دی چې زموږ لاسوته رارسیدلی دی.

شاه لکه ۴_۵ عیسوي پیړۍ په څیر نسبتاً تنګې اوله تن سره ننښتې جامې اغوستلې ،دارنګه جامې چې ساسانیانو دودکړي تر ۷ عیسوي پیړۍ یعنې داسلام ددین تر ظهور پورې دودوې او دپاچا اوملکې مجسمه چې له فندقستانه (په

غوربند دره کې سياه ګرد ته نژدې) تر لاسه شوې او فعلاً دکابل په موزيم کې محفوظه ده دارنګه تنګې او په تن ننښتې جامې يې تر اوومې عيسوي پيړۍ پورې دخسرو اونوشيروان ساسانې تروخته څرګندیږي، ګلوبند ، کمربند او له مرواريد نه ډك اميل ددې عصر رواج اودود و.

هغه څه چې تر هر څه مهم اودپاملرنې وړ دی هغه دپاچا دتاج شکل او بڼه ده چې مرکب ددرې (هلال) او درې (کره) حلقې څخه دی او دپروفيسر هاك دهغوځيړنو له مخې چې ددې دورې په سکو يې تر سره کړی دي، دې نتيجه ته رسيدلی دی چې درې (هلاله) او درې (کرې) په مختص ډول دبامیان او غزنې دواکمنوپه تاج کې وو.

پاچا په داسې حال کې ليدل کيږي چې ليندۍ يې له خپلې سينې سره جوخته په دواړو لاسونو نيولې ده او په چپ خوا اوږه باندې يې د دو مرغاويوغاړې او ککرۍ څرګندیږي.متصل دښې خوا زنګون سره يې دوه غشي او دښکاري سپي نيمه تنه څرګندیږي. غشی، ليندۍ، مرغاوۍ، او ښکاري سپی ټول سره يوځای شوي دي او پاچا ته يې ديوښکاري پاچا بڼه ورکړې ده.

دپاچا مخ ښي خواته دبودا پر لور چې تر څنګ يې انځور دی کوږ دی او په حقيقت کې ليندۍ هغه ته ورښيي او داسې څرګندوي چې له ښکار دحيواناتو او پرندګانو وژل دبودايي په دين کې منع وو اوهغه ډبر ليك چې ۵ کاله دمخه په کندهار کې کشف شو دا ډېر پخواني تاريخي سند له مخې څرګندوي چې (آشوکا) په دريمه م ز پيړۍ کې خلك دپرندګانو اوماهيانو له ښکار نه منع کول، دبامیانو ددې ښکاري پاچا رنګه تصوير چې دبامیانو دککرك له درې څخه په ۱۹۳۰ کال کې لاس ته راغلی په حقيقت کې دبامیانو يو سيمه ايز پاچا دی چې لږۍ يې دالپتګين اوسيکتګين همداراز ديعقوب ليث صفاري تر راتلو تر ۹ زيږدې پيړۍ (دريمې هجري پيړۍ) پورې دبامیانو پر غرونو روانه وه او له منځه نه وه تللې.

عربي اواسلامي مؤرخين دوی دبامیانو دزمريو په لقب يادکړيدي. او اصطخري يوتن دځلورمې پيړۍ په لومړۍ نيمائي کې چې دلسمې عيسوي پيړۍ له لومړيو سره برابره ده له دوی نه يادونه کوي او طبري نژدې نيمه پيړۍ دمخه دبامیان داسيمه ايز واکمن په همدغه لقب دبامیانو دزمريو په نامه يادوي.

دچيني ليدونکيو له يادونو او يادښتونو څخه واضحه څرګندیږي چې بامیان هغه وخت چې دتګ راتګ لار پرې سپره وه په ۵_ ۶_ او ۷ مسيحي پيړۍ کې يې سيمه ايز پاچاهان او سلطنتي کورنۍ درلودلې اوله چيني ګرځندويانو څخه لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمثال په ډول هيوان تسنګ چې په ۶۳۲ مسيحي کال کې باميانو ته ورغلی او هغه دسيمې دپاچا له خوا استقبال شوی اوهغه يې سلطنتي ميلمستون ته بيوولی او هملته اوسيدلی دی بل چيني ليدونکی په ۷۲۷ عيسوي کال کې له باميانو تير شوی اوپه ۸ عيسوي پيړۍ کې دباميانو دسيمه ايز پاچا دقدرت او ځواکتابه يادونه کوي.

دادوه سيمه ايز پاچاهان چې چينايانو په ۶۳۲ او ۷۲۷ کال کې په باميانو کې ليدلي دي ديو لړ پاچاهانو جز بلل کيږي چې عربي او اسلامي مورخينو هغوی د دباميانو دزمريو په نامه ياد کړی دي.او دا کورنۍ د (کوشانو يفتلي) له بقاياو او پاتې شونو څخه وه.

لکه څنګه چې تول پوهيږو دوړو کوشانيانو وارثين (کيداريان) همداراز يفتليان وروسته له ۵ مسيحي پيړۍ چې ديفتليانو سلطنت سقوط وکړ دافغانستان دغرونو په سختو اومرکزي برخو کې لکه باميان، غرجستان، ديراود، جاغوري، مالستان، شارستان، ګرديز او نوروبرخو کې تيت کيږي اوپه محلي ياسيمه ايزه واکمنۍ لاس پوري کوي اوباميان يې يوله مرکزونو څخه وۍ او دباميان زمريان يو له همدغو نسلونو څخه و چې دبودايي دين پلوي وو اوله نيکه مرغه بنکاري پاچا چې له همدغو پاچاهانو رنګه تصوير يې هم شته او دواکمنۍ تاريخ يې ۵ مسيحي پيړۍ ته منسوبولای شو.

۲۰_۳_۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبامیانو د ((جي)) په سمڅه کې یوبودایي کتابتون:

افغانستان دزرکالو په اوږدوو کې (له ۲ ق م پیړۍ نه تر ۹ مسیحي پیړۍ) داسیا یو مهم بودایي مرکز و او له مختلفو ځایونو څخه دکشف شویو اثارو شواهدو لکه په هډه، بګرام، شترك، فندقستان، او دبامیانو لویې بودایي مجسمې او دلویو استوپو پاتې شوني چې څو نمونې یې په بودایي کابل ، توپ دره، ډرونټه، دبلخ په ایبك درك کې لرو کولای شو دامفکوره په ښه توګه زیات کړو.

دیوزرکالو په دوره کې چې بودایي دین په دوه مختلفوطریقو دخلاصون وړوکې لاره او لویه لاره په نامه دهیواد په مختلفو نقاطو کې اباد و یو شمیردامعبدونه که هغه په هډه کې وو که په، کابل،بګرام، بامیان،اوکه په بلخ کې اویادافغانستان له حدوداتوڅخه بهرپه اسیاکې ډیرشهرت یې لاره.

بودایي معابدونه عموماً لکه داسلامي دورې دخانقاوو په څیر چارچاپیره یوه لویه مستطیل شکله احاطه لري او خوا پر خوایي حجرې لرلې دا په ځانګړې توګه دراهبانو، علماو روحانیونو او پوهانو داوسیدنې له باره وې او ځنې وختونه په ځینې معابدو نو کې درې یا څلور سوه راهبانو دتفکر ، انزوا په عالم کې ژوند کاوه او په ډیره پیمانه دهغوی فکري محصول لیکل او دمذهبي ، اخلاقي اوکیسو او روایاتو ترجمه وه.

په بل عبارت دامعبدونه لکه داسلامي دورې مدرسې دتعلیم و روزنې، تدریس افادي او استفادې مرکزونه وو، راهبان او دهغوي شاګردان په ډیره ارامۍ اوخاطر جمعې سره په لوستلو او لیکلو مشغول وو او هر معبد ځانته کتابخانه درلوده، په کومو ځایونو کې چې دغرونو په منځ کې یې سمڅه کیندله لکه په افغانستان کې بامیان په چین کې توان، هوانګ او لانګ من همداراز په اجانتا کې کتابخاني اکثراً په همداسې سمڅو کې وې او ټولو په عموم ډول تحریري اثار له همدغه شان سمڅو او غرونو څخه کشف کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نیکه مرغه په ۱۹۳۰ عیسوي کال کې چې له پروفیسر هاکن د دځیړنې او سپړنې لپاره بامیانو ته لاړو دهغو پلټنو له مخې چې دنومورې پروفیسر تر څارنې لاندې پیل شوې د ۳۵ متری مجسمې په ښکتنۍ شرقي برخه کې مو یوه نوې سمځه ومونده چې وروسته په سمځه ونومولشوه او په هغې سمځه کې دیوې پخوانۍ کتابخانې شواهد څرګند اوښکاره شول.

پدې سمځه کې چې پکې دپخوانۍ بودایي ورقې دسنسکریټ په ژبه او رسم الخط کشف شوي دبامیانو یوه پخوانۍ سمځه وه چې په ډیر احتمال له اسلام نه دمخه په ۴ او ۵ زیږدې پیړۍ کې دځینو کانو په رانړیدلو دا سمځه ورانه شوې وه او دځینې طبیعي عواملو په وجه یې خوله بنده شوې وه او تر ۱۹۳۰ کاله پورې په همدې حال پاتې وه خو چې فرانسوي پلاوی ورته ورسید اودایي کشف کړه او کشف کړای شوي څیزونه یې دکابل موزیم ته منتقل شول او هلته دبامیان په ځانګړې خونه کې ځای پر ځای کړای شول.

په یاد مې دي چې ددې سمځې په منځ کې مو یوه استوپه وکتله چې داطراف دیوالونو یې رنګه تصویرونه درلودل او دبودا دزیږیدلو دمجلس څرګندونه یې کوله دهمدې استوپې دکتابخانې توته توته پانې خورې ورې پرتې وې چې دباران داوبو او رطوبت په وجې سره ننښتې وې چې سره بیلول یې ستونزمن او شکمن کار وۀ.

داپانې دکاغذ نۀ وې بلکې یو ډیر نازک نباتي پوستکی وۀ چې له خانبانع کاغذ څخه یې ضخامت ډیر نۀ وۀ واو دوخت دتیریدو په وجه ډیر ژر ماتیده مطلب داچې ترځنده شوې وه کله چې به یې له یوې برخې سره تماس وشو نو ټول به له منځه لاړ، دې نازکه او تر څنده بانو دپورته کولو له پاره دساعت جوړ ولو ډیر نازک وسایل پکار وۀ، ددې ډیر زحمت په تیرولو مو وکړای شول چې داوبو دبخار په واسطه یې غټې توټې له خاورې سره له ځمکې پورته کړو، چې دځینو عرض او طول ۱۰/۲۵ سانتي متره دی.

دافغانستان دښوونې او روزنې دوزارت په موافقه یې ځینې توټې دمطالعې په خاطر پاریس ته واستول شوې چې بیا وروسته دوباره دکابل موزیم ته راوړل شوې او یو تن فرانسوي لرغون پوه موسیو سیلون لوی پدې برخه کې مطالعات ترسره کړي چې لنډیز یې دلته وړاندې کیږي.

دکوم کتاب پانې او توټې چې په لاس راغلي دي عموما په سنسکریټ ژبه او رسم الخط کښل شوی دی او دهغې رسم الخط دسبك اوشیوې له نظره په درې برخو وېشلی شو.

ا) کوشاناروش ـ ۲) دکوپناروش ـ ۳) دمرکزي اسیا روش ـ

لومړۍ ډله په۳ ـ ۴ مسیحي پیړۍ پورې مربوطه او دویمه ډله په ۷ ـ ۸ مسیحي پیړۍ پورې مربوطیږي او دریمه ډله دلیکدودونو ډولونو نمونې را په یادوي چې دمرکزي اسیا له مختلفو نقاطو څخه لکه په ((ختن)) او ((کوتچه)) کې ببلګې اویا ورته نمونې یې دکوشاني امپراطورۍ په برخو کې موندل شوي دي درسم الخط مختلف انواع واضحوي چې دبامیانو په سمځه کې یوه بودایي کتابخانه دایره شوې وه او درسم الخط مختلفې نمونې څرګندوي چې علماوو او روحانیونو له مختلفو نقاطو لکه ((ختن)) او((کوتچه)) څخه یې ببلګې اویا ورته نمونې یې دکوشاني امپراطورۍ په برخو کې موندل شوي دي.

درسم الخط مختلف انواع واضحوي چې دبامیان په سمځه کې یوه بودایي کتابخانه جوړه شوې وه او درسم الخط مختلفې نمونې څرګندوې چې علماو او روحانیونو له مختلفو نقاطو څخه له ګاوندیو هیوادونو څخه بامیانو ته ټک راټک درلود. او لکه څنګه چې بامیان د هغو لویو لارو پرسر واقع وو چې له مرکزي اسیا څخه هند ته تللی وې نو طبعاً راهبان دافغانستان له شمال او شرق څخه او له سرحداتو نه دباندې دهند او چین له همدې لارې تیریدل اوهلته یې اقامت هم کاوه او داقامت پر مهال یې په مختلفو رسم الخطونو اثار لیکل نوځکه دا دتعجب ځای ندی چې دبامیانو په یوه کتابخانه کې دې په مختلفو رسم الخطونو اثار ومونډل شي.

په هر حال کله چې دموسیو سیلون لوي له نظریې څرګنده شوه پدې کتابخانه کې پخواني اثار د ۳ او ۴ مسیحي پیړۍ اثار دي او نوي د ۷ او ۸ مسیحي پیړۍ اثار موجود دي او داتاریخونه په بامیانو کې دبودایانو دعروج او انحطاط دورې څرګندوي لکه څنګه چې په متون کې دبوریس او ذاتوا کلمه تکرار شوې ده پدې خبره نو موسیوسیلون لوی باوري دی چې ډیرې شلیدلې پانې دبودایي دنجات دلویې لارې مربوطې دي.

هغه څه چې دبودایي مذهبي ادب په اړه ډیر مهم او ددقت وړ دی هغه دیوبودایي کتاب داصلی پارچو وجود دی چې وینایانومیده او دبودایي مذهبي دنجات وړې لارې مربوط ؤ. دچینائي لیدونکي هیوان تسنګ دشهادت په اساس باوري نه چې ددې طریقې پیروان په بامیانو کې اوسیدل، نو دادتعجب ځای نه دی چې ددې طریقې د پیروانو مذهبي اثار دې دبامیانو په سمځه کې پیدا او کشف کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (وينايا) دكتاب پارچې د (كوپتا) په رسم الخط ليكل شوى دى. اصلاً چې داكتاب يو اخلاقي او مذهبي كتاب شميرل كيده سانسكرت په متن كې ورك وۀ او هغه يې يواځې ديوچينائي متن له مخې پيژنده او هغه دنبو غټو جلدونو لرونكى وۀ چې دباميانو په كتابخانه كې يې څو په سانسكرت ليكلې پانې وموندل شوې، لكه څنګه چې خبر يو دري كاله وروسته (دباميانو تركشف وروسته) څو پانې نورې يې په كشمير كې په يوه سمځه كې تراسه شوي دي

پدې كې شك نشته چې په سمځه كې كشف شوې پانې يوه مهمه مفكوره څرګندوي چې په يوه مهمه نقطه كې لكه باميان چې دغره په زړه كې په زرګونو سمځې كيندل شوي دي او ددنيا لويې مجسمې په غره كې تراشل شوي دي نوخامخا به يې مهمې كتابخانې هم درلودلې چې دافغانستان دمختلفوبرخو راهبان او دګاونډيو هيوادونو راهبان هلته دمطالعې دپاره راتلل او مطالعه به يې كوله.

۴۱_۳_۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دککرل تنکي "لس متری مجسمه"

((پرمعبد دیوالونو رنګه تصویرونه))

نبکاري باچا یا دبامیاني زمری

هر کله چې دبامیانو نوم اخستل کیږي. او یا دهغه دمشهورتنګي په باره کې څه شرح کیږي نو لومړی ددوه لویو ۵۳ متری او ۳۵ متری مجسمو په باره کې بحث کیږي، ډیر لږ په ککرك دره کې دلس متری مجسمې او دبودایي رنګه تصویرونو یادونه کیږي اواکثرا دککرك دري او دنبکلیو تاریخي او هنري اثارو یادونه یې نه کیږي. او حال داچې هغه لس متری مجسمه او په ځانګړې توګه رنګین تصویرونه یې چې کشف شول دبامیانو په تاریخي مقام کې یو ځلاند ډیرښت او ارزښت دی.

ککرك تنګی دبامیانو دلویو مجسمو جنوب ختیز خواته په درې کیلو متری کې واقع دی، دتنګي فاصله له هوټل نه دوه کیلو مټره او دغلغله بنار له کندوالوځخه څه کم یوکیلو متر فاصله لري او دغلغله بنار دارګ له خرابو څخه ټوله دره (تنګی) او د لس متری مجسمې طاق هم نبکاري دککرك دره له پیل نه تر پایه چې د بابا دغره تر لمنو پورې رسیږي د۱۵ کیلو مترو په شاوخوا کې اوږدوالی لري او سرك ددرې په امتداد تر (دوکاني) چې دهغې په کوزنی برخه کښې واقع دی دلس کیلو مترو په اندازه وړاندې تللی دی.

ترکومه ځایه چې دلرغون پیژندنې مطالعات او داثارو بقایا وې څرګندوي دبامیان دري هر یو معبد وړې اوغټې مجسمې او رنګه تصویرونه درلودل ددرې په خوله کې دیو کیلو منر په فاصله دغره په ختیز لوري کې یو طاق دغرب په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښندل شوی چې په رواق کې يې يو لس متري مجسمه ولاړه ده دامجسمه دبامیان دلويو ۵۳ متري او ۳۵ متري مجسمو چې دهغوی مخونه قصداً تراشل شوې او له قصدي خرابکاريو يې تاوان ندی ليدلی مګرباداوباران دوخت په تيريدوسره دمخ اوبدن ځنې ځايونه ورتراشلي دي.

دا مجسمه طبعاً ديو لړمعابدو مرکز ؤ او په کال ۱۹۳۰ ميلادي کال کې ددې ترخنګ يو معبد کشف شو او رنګه تصويرونه يې دکابل موزيم ته راوړل شول او دغه کليکسون د اسيا په بودايي تصاويرو کې د ډېر ارزښت وړ دی او دغه وروسته د (اجانتا) له اثارو د بودايي رنګه تصويرونو په کليکسون کې شمېرل کېږي.

د ککرك د معبد رنګين تصويرونه څو پېړۍ د خلکو له نظره پټ وو، ځکه کله چې د دغې دري بودايان د کوم جنګي خطر سره مخامخ شوي دي نو د معبد د تصويرونو مخ يې په خټه لړلی او د بيا مراجعت په تمه لادرکه شوی دی او د زماني په تيريدلو هغه ځای ته، دورختلو لاړه ورانه شوې ده او رنګين تصويرونه دخټې د نازك قشر لاندې تر کال ۱۹۳۰ پورې پاتې و.

دککرك دمعبد ددیوالي رنګه تصويرونو په منځ کې يو تصوير دافغانستان دتاريخ له نظره ډير ارزښت لري او هغه دهغه پاچا تصوير دی چې دلينډۍ ، غشي او ښکاري سپي په لرلو يې هغه ته د (ښکاري پاچا) لقب ورکړی دی او پرته له شکه دهغې دري دسيمه ايزو پاچاهانو دنيکه تصوير دی چې اصطخري دځلورمې (هـ) پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې (دلسمې مسيحي پيړۍ لومړۍ) يې د (بامیانو دزمريانو) په لقب ياد کړی دی. دبامیانو زمريان لکه دغرجستان د شاريانو لقب داسې سيمه ايز القاب و چې دمشهورې دري دشاهي کورنۍ په وجه هغه دره مشهوره وه.تول پوهيږو چې په بامیانو کې دسلطنتي کورنۍ ورځې واکمني کوله. چيني ليدونکی، هيوان تسنګ په ۷مه مسيحي پيړۍ کې يې يو تن په بامیانو کې ليدلی او مصاحبه يې ورسره کړې ده او په سلطنتي قصر کې دهغه ميلمه و او ورسره اوسيدلی دی. هيوان تسنګ نومورې پاچا د(کشاتريه) د کهاله بولي او په دې صفت کولای شو هغه دسيمې له نظامي سيمه ايزو نجيباوو ځخه وبولو.داډول سيمه ايزو واکمنانو داوومې پيړۍ په اوږدو کې دافغانستان په جنوبي برخه کې مخصوصاً په بامیان، جاغوري، غزني، ارزګان، کاپيسا، لغمان ، ګردیز ، جبرستان او نورو ځايوکې وجودلاړه.

او وروسته دکوشاني اويفتلي دولت له انقراض نه دهغوی اولادې او کورنۍ يې په خپل منځ کې مخلوط شوی او په هره ګوشه او څنډه کې يې سيمه ايز حکومتونه

جوړ کړل دا کورنۍ دپخواني افغانستان په تاريخ کې دکوشان اويفتلي په نامه پيژنو او ددوی مسکوکات، مجسمې او ډبر ليکونه دهيواد په مختلفو برخو کې ددوی نوم ونښان هست او بود تائيدوي او دباميان په دره ککرک کې يو برجسته مثال دشکاری پاچا دی. چې دهغه انځور بودايي ګروهمن په معبد کې ځای پر ځای کوي او له بودا سره محبت دارنګه ښيي چې ده له ښکار اودحيواناتو له وژلو لاس کښلی او توبه يې ويستلې ده

دا پاچا په سريوتاج لري چې دري هلاله (سپوږمی) او دري کُرې په سر ټومبلي لري ديو تخت دپاسه ناست او تکيه يې کړې ده او د هغه وخت دمعتقدانو په نظر د حيواناتو او پرندګانو له وژلو څخه يې لاس اخستی او مقدس مقام ته واصل ښکاري.

دباميانو زمری چې تصوير يې دککرک له دري څخه تر لاسه شوی دی هغه دافغانستان له مرکزی دروځخه ديوه واکمن په توګه مورته معرفي کوي. ۸۵ کاله وروسته له هيوان تسنګ څخه يو تن بل ګرځند چې اصلاً دکوريا وۀ او (هوي تچاوو) نومېد، له باميانو څخه تيريده اودهغه له وينا وو څخه داسې څرګندېږي چې نوموړي پاچا دکوم بل ځای تر تاثير لاندې نه و او خپل پياده نظام يې ډير قوی وۀ دکوريايي ګرځند شهادت ديوسيمه ايز پاچا په اړه تر اسلام دمخه لومړی منبع ده چې په باميانو يې ديو پاچا په باره کې ورکوی او دهغې له مخې معلوميږي چې د ۷ مسيحي پيړۍ په اوږدو کې او حتی د ۸ ميلادی پيړۍ په پيل کې دباميانو سيمه ايز واکمن چې اسلامي ماخذونو د (باميانې زمري) په صفت ياد کړی دی قوي او نيرومند پاچا و اودمحلي جنبې په لرلو يې ډير قوت لاره ، مګر دبودايي معتقداتو دنظريې دپيروی له مخې يې له جنګ قتل او وينې تويونې څخه کرکه کوله.

۲۶/ ۲/ ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضحاک ښار

داستانونو، او اسطورو چې له څو زره کالو راهيسې يې دملي خاطراتو دفتر احتوا کړی دی. زمونږ په دماغ او حافظو کې محدود پاتې شوې ندې بلکې جغرافيائي ميدان پر مخ ښکته راغلی او داوبو، خاورو، دښتو، غرونو اوصحراګانو سره مخلوط او يوځای شوی دی.

څومره چې ددې خاورې داوسيدونکيو حافظه اودماغ دتاريخي او لرغونو پهلوانانو له نومونو څخه ډک دی همدا راز دغرونو څوکو، صحراګانو ، کمرونو ،مستو او څپاندو رودونو هم عين همغه خاطرې په ځان کې منعکسې کړي دي، او هر قدم چې ددې تاريخي خاورې په هره برخه کې کيښودل کيږي نوخامخا تاريخي، فوکلوري ، داستاني،اوخيالي خاطرې په نظر ښکاري. په باميانو کې ۱۸ کيلو متره وړاندې هغه ځای کې چې د "کالو" دره دباميان ددې ښکتنۍ برخه قطع کوي او ددواړو غرنيو خوړونواوبه سره يوځای کيږي. دغرونو هغه پرې کړې برخې چې له خاورو او ستګ مخلوطې دي چې جيګړي او سور رنګ ورته يوځانګړی هيئت او صلابت ورکړی دی. لويې ضخيم برجونه او برداره ديوالونه دپاملرنې وړ دي. اروپايانو په دې کلونو کې دانيمه وران شوي ديوالونه دشاهد په توګه نيولي او هغه يې دقلعه سرخ په نامه نومولي دي مګر دسيمې خلګ د ريښتينو ژورو ته ور ننوتلي دي او دتاريخ له دورونو ورتيرشوی دی او هغه سرحد ته ور رسيدلی دی چې اسطوري او داستانونه دتاريخ ځای نيسي نو دضحاک نوم يې موندلی دی او ددې اور رنګه خرابو پر مخ يې رنګ پورې کړی.

دعاميانه نوم ايښودنې له مخې ددې کلا پورتنۍ برخې دضحاک ښار په نامه او ښکتنۍ برخې يې دنريمان ښار په نامه يادولی شو. د(کالو) ددرې له هغه ځايه چې نری شوی او اوبه تري تيريږي لکه دمار په څير کږه وږه لاره ختلې ده او په هره

کړليچ کې يوضخيم برج او دزينو اثار څرګندېږي دغلغله دښار دا دفاعي برخه دنريمان په نامه يادوي او لکه څنګه چې ټول پوهيږو هغه هم دلرغوني زماني پهلوان و.

ددې له پاره چې پخواني داستانونه،دضحاك او نريمان کيسې، داهنګر "کاوه" يا "دکان ځای" او نور بشپړ شي يوه دره چې دضحاك ښار ته نژدې او دباميان ترځنګ واقع ده د (آهنګران) نوم يې پرې کيښود چې دعاميانه اقسامو له مخې طبيعي داهنګر (کاوه) يامرکز هلته موجود ؤ او د علاقه مندانودنظر رابنکنې له پاره او په ځانګړي توګه دسيلانيانو له پاره ويلای شو چې داهنګران دره دسيلانيانو له پاره دخال لرونکيو ماهيانو دښکار بهترين ځای دی.

دضحاك ښار دباميان دلارې په سر ددې تاريخي درې يوه ډيره مهمه نقطه ده. اصلاً دضحاك دښار خرابی دوه برخې لري اوپه بل عبارت کولای شو هغه په درې برخو هم وويشو.

اول : دفاعي سيستم چې عبارت له يو لړلارو اوبرجونو څخه دی چې دنريمان په نامه يې شهرت حاصل کړی دی.

دويم : دښار ښکتنی برخه چې هلته اکثرو دسيمه ايزو خلکو ژوند کاوه.

دريم: دښار پورتنی برخه بالاحصار چې طبعاً دحاکمه قواوو ځای ؤ. دښار په لومړی او دويمه برخه کې اوس په اسانی سره ګرځيدل کيدای شی او ليدنه يې اسانه ده.

دريمه برخه يې چې دبارانونو اوبادونو په وجه ډيره نشيب شوې ده ډير احتياط غواړی او ګرځيدل پکې ډير خطر لري مخصوصاً په هغو ورځو کې چې باد وي.

ترکومه ځايه چې لرغون پيژندونکيو څيړنې تر سره کړې د ضحاك د ښار خرابی دساسانيانو ددورې آبادی وې او په دې ترتيب دابادیو د پيل زمانه له اسلام نه د مخه ټاکلی شو، او لکه څنګه چې دغوربند له فندفستان څخه دخسرنوشيروان سکه تر لاسه شوې اود باميانو په لويديزه برخه کې دساساني رنګه تصويرونه هغه ځای چې په (خسر نوشيروان) باندې مشهور دی تر لاسه شوی نو له احتماله لرې نه ده چې دساساني نوشيروان په وخت کې پدې نقطه کې ابادي ترسره شوي وي.

دکيندلو په وجه دغربي ترکانو مارك وهل شوی کوزې هم تر لاسه شوي چې دساسانيانو په وخت کې له آمو څخه دباختر خاورې ته راوړل شوې وې له دې وخته ر اوروسته دامهمه ستراتيژيکي سيمه آباده وه اودخوارز مشاهانوپه وخت کې يوه مهمه کلا شميرل کيده او دلته دجلال الدين منکبرني او چنګيز خان ترمنځ خونړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې ترسره شوي دي يوه قيمتي خاطره دضحاك په کلا کې د "موتي جن" وژنه وه چې نومورې دچغتي زوی او دچنګيز لمسی وه چې دمغلو يرغل ګر يي ډير په غوسه کړل. دا تاريخي کلا هغه ځای دی چې مغل يرغلګرو د هغه وخت د افغاني مدافعه کوونکو قوت عملاً ولید.

لدې ورځې وروسته "ضحاك" دبامیانو د نورو کلاګانو په شان ورانه شوه مګر د ۱۷ پيړۍ تر پايه او د ۱۸ پيړۍ تر پيله يې له برجونو څخه ددفاع له پاره کار اخستل کيده، چې وروسته دپيړيو ترتيريدلو دجنګونو او طبيعي پيښنو سره سره بيا هم يې دحصار ځينې برخې او ضخيم برجونه لا پاتې دي چې دضحاك بنار دمستحکمو کلاګانو په ډله کې وشمېرې او دابنکلې کلا د نړۍ دسيلانيانو پر وړاندې ستاينه ترلاسه کړي.

۳۸/۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پخواني افغانستان کې دلمر پرست دقانون سوابق

دمخه تر دې چې په افغانستان کې دقبل التاريخ په اړه دځيړنو لمنه پراخه شي او ددې سيمې دلومړيو اوسيدونکيو درسوم ،عاداتو او عقايدو په ارتباط له اريايانو تر راپيداکيدلودمخه روښانه شي په ډيروموارد و کې داريايانو د اوسيدلو دځای ځايګي په اړه د هندوکش په چارچاپيره کې اومهاجرت يې ګاونډيو سيمو ته ور اوړدوو.

دلته دبحث ورموضوع (مهر) يا لمر پرستي ده چې دادی سوابق يې په اريايي (ويدي) عصر کې دپخواني افغانستان په تاريخ کې درک کوو او تحولات يې په وروستيو دورو کې مطالعه کوؤ.

دويدي عصر اريايان په هغه مرحلو کې چې دهندوکش په چاپيريال کې يې ژوند کاوه. دين يې دننني ورځې دکلمې په معنا نه لاره دکائناتو نوراني عناصرو پکې يوشان جذبه او اميد توليداوه. آريايان دژوند په لومړنيو مراتبو کې هر يوطبيعي عناصرو ته پخپله قائل شوی دی هر يو ته يې نوم ورکړی او هر يو ته يې سندرې درلودې چې خاطرې يې تر اوسه پاتې دي.

د (ويدي) دخدايانو ډډولونو مجموعه دهمدغه طبيعي عناصرو له مجموعې څخه تشکيل شوی وه او په دې منځ کې له ستورو ډک اسمان لمر او سپوږمی ، باد او اور او همدارنګه شفق او فلق اونور دشخصيت څښتنان شول. او لمر هم دځانګړي خدای شکل پيدا کړی ؤ او هغه يې په مختلفو نومونو او صفتونو ياداوه او دلمر په هکله دانومونه په ويدي سندرو کې ښکاره شوي دي لکه : (سوريا) ، (ساويتار) ، (يوشان) ، (ميترا) ، (رود ورا).

لکه څنګه چې دويدي عصر کې په افغانستان کې اوښتايي دوره په تاريخ کې منعکس شوې ده، وروسته له هغې چې (زراتشترا) ظهور وکړ داوښتايي عصر په ائين کې واحد پرستي منځ ته راغله. او يو شمېر ځانګړو خدايانو سرچپه

مفکوره او معناپیدا کړه، دویدي لمبر (میترا) نامه دتلفظ په لړ تغیر سره (میتهرا) شو.

ژبپوهان باوري دي چې (میترا) په ځانګړې توګه د ویدي دتلفظ په صورت د (دوست) معنا درلوده او په اوېستائي دوره کې يې هغه د (قرارداد) معهود (پیمان) او (موافقې) په معنا تعبیروله، پدې کې شك نشته چې داوستائي له (میتهرا) څخه په دري ژبه کې (مهرا) منځ ته راغلی دی دغه مهر چې تر اوسه دوستي،علاقه او پیوند ترجمه کیږي دهمغه پخوانی معنا په مناسبت دی.

همدغه شان لکه څنګه چې (میتهرا) (میترا) په (وید) او (اوېستا) کې دلمر په معنا هم و نو (مهر) په دري ژبه کې همدغه مفهوم محافظه کړ اود اوېستا له څینو فقرو څخه څرګندیږي چې (اهورا مزدا) د (میترا) له پاره یعنې دغره پر څوکه لمر (هرابرزتي) چې هغه پامیر ترجمه کوي ورته مسکن جوړ کړی و.

داتعبیر (دلمر راختل او ظاهریدل دغرونو له شاځخه) ددې لپاره راوړي او داسې چې لمر له خپل مسکن څخه دغره له څوکې راپورته کیږي، بل هغه څه چې دلمر په باره کې يې اوېستايي یادونه مهمه ده داده چې دهغې زمانې دپوهې سره همداسې تخیل کیده چې لمر په طلاتي څرخ بار دی او څلور طلاتي اسونه يې راکاږي.

اوستايي دامفکوره دهنر په مفهوم په عام او خاص ډول سره دافغانستان له پاره فوق العاده مهمه ده ځکه چې په وروستیو دورو کې هیکل تراشانو او نقاشانو دلمر ځانګړی خدای پر څرخ سپور له اسونو سره څو څو ځله ننداره کړی دی.

دهمدغو ویدي او اوېستا معتقدینو پر اساس په وروسته دورو کې دمخه تر هخامنشیانو "اناهیتا" او " میتهرا" یعنې "ناهید" او "لمر" وروسته دافغانستان په شمال کې دامو سیند سیمې په پخواني بکتریان کې درلودل اودامفکوره يې له دې ځایه دایران هخامنشیانو ته منتقل شوې ده، لکه څنګه چې لومړي داریوش له ۵۲۱_ ۴۸۵ م ز او لومړي خشابارشا" ۴۸۵_ ۴۷۲ م ز پورې دهغو دنامه یادونه نده کړې دویم شیر ته ور داخل دلومړي ځل له پاره وروسته له "اهو رامزدا" له "اناهیتا" او"میترا" یادونه کړې ده داسې نتیجه لاس ته راځی چې "میترا" او دهغې نمانځنې په منځنی پیړۍ (۵) م زکې په ایران کې انتشار موندلی دی او له هغه ځایه يې بین النهرین او وړوکی اسیا ته لاره موندلې ده.

دلویو کوشانیانو په دوره کې (له لومړی تر دریمې مسیحي پیړۍ پورې) چې ددیانت او ائین موضوع ډیره ازادي موندلې وه سیمه ایز ځانګړي خدایان همدا راز هندي او یوناني تولو ته احترام کیده اودیوناني اسطوره يې ځانګړي خدایان هم مشهور شوی و . "متیرا" دلمر ځانګړی خدای دتغییر تلفظ په یو جز سره "میرو" دکنشکا او هوویشکا په مسکوکاتو کې په ځانګړې توګه دلومړي امپراطور په

مسکوکاتو کې لیدل کیږي. "میر" همغه (مهر) (میتهرا) او (میترا) دی چې سلسلې یې دافغانستان په تاریخ فرهنګ، ادبیاتو او السنه کې دوام کړی دی.

دغه دلمر په اړه پدې سیمه کې دعقایدو لرغونتیا تر هغې چې څلورمې او پنځمې مسیحي پیړۍ ته رسو او له دې تاریخه وروسته دنومورې دیانت شواهد هندوکش په جنوب اود افغانستان په جنوب غرب کې یو شان لیدل کیږي او دوام یې داسلام تر ظهوره پورې په دې سیمه کې څرګند او ښکاره دی. دې لمر پرستې ته یې (برهنمي لمر پرستي) هم ویلې ده او دیوناني اسطورو د تاثیر په اثر دسهار او مابنام ستوري هم د شخصیت له مخې له لمر سره یوشان ګڼل شوي او د لمر او ستورو یو شان بیان منځ ته راغلی دی او ددې نوې مفکورې تاثیر د افغانستان په هیکل تر اشنه او نقاشۍ کې مشهور اوښکاره دی.

دافغانستان په لویدیزه برخه زمین داور او جبل الزور کې دلمر پرستې د معابدونو داثارو شواهد داسلامي مبلغینو او عسکروتر راتللو پورې خارجي وجود درلود. په همدغه زمانه او یاڅو کاله دمخه یې چیني (هیوان تسنګ) چې پخپله هم بودایي راهب وٴ له افغانستان څخه دتیریدلو پر مهال دلمر پرستې معبدونو او دهغې پیروانو ته اشاره کړې ده لرې نه څو ایا پخپله دکابل ښار په ۱۲ کیلو مترۍ کې دکاپیسا دحوزې په لویه لاره دخیر خانې په یوه غونډۍ کې دلمرپرستې یو لوی معبد کشف نه شو؟ ددې پوښتنې ځواب به په لازم تفصیل سره بله مقاله کې ورکړای شي.

۳۸-۹-۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسور يا هيکل

دلمر ځانګړی خدای دخيرخانې په کوتل کې

دلرغون پيژندنې څيړنو دلرغوني افغانستان دمختلفو برخو په پيژند ګلوی لکه :تاريخ، فرهنګ، ارت، اوهنر کې دير خدمتونه ترسره کړي دي چې هېڅوک تري انکار کولای نشی، لکه په سلګونو دارنګه مسايل چې دځيړنو په ترڅ کې روښانه شوی يو هم دلمر پرستی موضوع ده چې دادب او دادیانو تاريخچې له نظره يې په افغانستان کې درلوده مګر تر ۱۴ کلو دمخه څه مادي شواهد ددې اثبات له پاره په لاس نه وو.

دکابل ښار شمال لويديځ ته په ۱۲ کيلو متری کې دغره په شرقي لمنه چې په (بغل هزاره) مشهور دی او کنډو چې دکابل او کاپيسا (کوهدامن) ترمنځ واقع دی چې په کوتل خير خانه شهرت لري يو معبد کشف شو چې په مهر يا لمر پرستی پوري په ځانګړې توګه اړه لري ددې معبد کشف کوونکی موسيو کرل فرانسوي و.

ترکومه ځايه چې علمي څيړنو څرګنده کړه دلمر پرستی معبد ديوبل معبد په خرابو اباد شوی و چې دهغې دنوعيت تشخيص نشوکولای. دخيرخانې دلمر پرستی معبد دپلان او نقشې له مخې دري کوټې درلودلې چې هرې خونې ځانګړې دروازه درلوده تر څو دنومورې ائين پلويان دمذهبي مراسمو داجرا پر مهال په اسانی سره تګ راتګ تر سره کړي.

دننه په هره يوه خونه کې دري دتسليت جوړې شوې چوکی ولیدل شوې، لکه څنګه چې په هره چوکی کې دمجسمې دايښودلو له پاره سوري وليدل شول داسې استنباط تري وشو چې په مجموعي صورت ۹ مجسمې په دغه معبد کې موجودې وې، ددقيقو کتنو څخه وروسته دانتيجه پر لاس راغله چې نومورې دلمر پرستی

معبد ډيره سخته صدمه ليدلې ده او ټولې مجسمې يې له خپل ځای څخه بېځايه شوي دي لکه چې دکوټواو دهليز تر پاکولو وروسته دوه ماتې مجسمې اويواځې يوه مرمري جوړه مجسمه په لاس راغله چې ډيره ښکلې او زړه راښکونکې ده او دسوريا يعنې دلمر دځانګړي خدای ښودنه يې کوله او اوس دکابل په موزيم کې دنمايش له پاره ايښودل شوې ده.

دسوريا مرمري مجسمه چې تر اوسه دلمر پرستې يواځينې مجسمه ده چې له کابل او حتی له ټول افغانستان څخه تر لاسه شوې ده ديوې مخصوصې ګاډې دپاسه له خپلې اسطورې سره ناست او دواړو خواووته يې واړه هيکلونه هم څرګندېږي چې دهمدغې مقالې په اوږدو کې يې در معرفي کوو.

داوږدتايي عصر داسطورو مطابق (متيرا) يا لمر اصلاً خپله طلائي ګاډې درلوده چې سپينو اسونو به رابنکله.

(سوريا) دلمر ځانګړی خدای چې دخير خاني په کوتل کې کشف شوی په يوه ګاډې کې ناست او دوه اسونه يې راکاږي. دا تخيلي داستان ددوه زړه کلو په اوږدو کې داسې دخلکو په ذهن کې ناست وۀ، چې په پای کې يې ديو حقيقت په ډول ومانه.

او د (سوريا)دنمايش په صحنو کې يې له هغه تخيل څخه کار اخستی دی دامفکوره چې په ۵_ ۶ پيړۍ کې زموږ دهيواد په هيکل جوړونه کې ليکل کيږي په ۲_ ۳ پيړۍ کې په نقاشۍ کې هم داستعمال وړ وه اومهمه مرکزي صحنه يې دبامیان د ۳۵ متری بت درواق سقف چې دسپوږمۍ ځانګړی خدای يې دګاډې دپاسه ښودلی چې سپين وزر لرونکي اسونه يې کشوي پدغه ترتيب ګورو چې شاعرانه تخيلات او اسطوري لمر او سپوږمۍ ځانګړی خدای په ګړدونه کې ناست. ياولاړ به يې څرګنداوه او سوريا دخيرخاني په کوتل کې په يوه ګاډې کې ناست څرګندېږي.

مخکې مو وويل چې دهغه دواړو خواوو ته دوه واړه هيکلونه نور هم ليدل کيږي دادوه هيکلونه لکه دسبا او مابنام دستورو په شان هيکلونه دي چې وروسته هغه هم اسطوره او تخيل وی داځل چې يوناني اسطوري په افغانستان کې رائج شوې وې په محلي معتقدينوکې تاثير کړی و او دلمر ځانګړی خدای په خپله خوا کې دوه ستوری هم پيدا کړی دی.

دادوه ستوري چې دختيز يونان په تصوراتو کې دفوسفو اوس او هسپروس په نامه يادېږي دپخواني يونان په اسطورو کې دتومان دوه ورونه وو، چې يو ته يې (

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکستور) اوبل ته يې (پولوکس) ویل تر دې پورې چې (اکستور) ناپدید شو او(پولوکس) یواځې پاتې شو او له (زوس) نه یې هیله څرګنده کړه چې له خپل ورور نه بیل نه وي او دهغه دستور مطابق داسې برقرار شو چې دوه ورځې ترمنځ دواړه یوځای یوځل په اسمان او یو ځل یې په ځمکه راڅرګند شي او دسبا او مابنام ستوري دهغوی له خاطرو څخه راپاتې دي، دخیر خانې دکوتل په تراشلي هیکل کې دسبا اوبیګاه ستوري د(سوریا) دګاډی په دوه خواوو کې لیدل کیږي. او دیو تن یوناني باختري پاچا په مسکو کاتوکې یعنې د ((ایوکراتیدس)) چې ددویمې زیږدې پیړۍ په دویمه نیمایي کې یې ژوند کاوه ددوه سپرو په نقش جوړ کړای شوی. وایي چې ددې دوه ستورو وظیفه داده چې اعمالو او ناظرو نیکې او بدې پیښې ثبتوي.

دلمر پرستې قانون اومعبدونه یې له سیستان څخه تر قنوج او ملتان پورې په لویه ساحه کې خپاره وو اوپه افغانستان کې یې دبودایي دین ترڅنګ څرګندویي کړې وه، وروسته تر هغې چې یفتلیان په افغانستان کې خواره واره شول هغوی چې کومه دلچسپي دبودایي دین سره درلوده، لمر پرستې ته ډیر متمایل شول.

دابایدهیر نکړو چې په افغانستان کې یوشمیر سکې کشف شوي دي. چې دهغوي پر یومخ دنیمې تنې په بڼه دلمر ځانګړې خدای نقش دی اودنور شعلې یې له شانه خپرې شوی.

ډیره په زړه پورې خبره داده چې پدې سکو کې دځینو ځایونو (داور) یعنې زمینداور (زابلستان) اود (سکاوند) نومونه لوستل شوی دی او دانومونه معمول او متعارف دي همدا راز زمینداور ، غزني (سکاوند) یا دلوګر (سجاوند) ټول مشهور دي او پوهیږو چې دزمینداور په (جبل الزور) اودلوګر په (سکاوند) کې دلمر پرستې معبدونو وجود لاره، په غزني یاپه غربي او یا هم په شمال لویدیز برخو کې لکه جاغوري او نورو کې هم دارنګه معبدونه آباد وۀ.

یواځې یو معبد چې عبارت دخیر خانې دکوتل له معبد څخه دی دعلمي څیړنوپراساس کیندل شوی اوهغه دمرمرو سوریاهیکل چې راتر لاسه شوې د(سوریا)یواځینې مجسمه ده چې دڅیړونکیو لاس ته ورغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرنجان غونډی دکابل دښار په منځ کې یوه پخوانۍ نقطه

دکابل ښار هغه ښکلی او تاریخي ښار دی چې دنوم انعکاس یې له اسطورو ،داستانونو،فولکلوری کیسو، قصیدو او د تاریخ له متون څخه ترغوږو کیږي، او دا ښار خپل ډیر لرغون توب دشواهدو له مخې ثابتوي.

دابنکلی ښار چې ډیره برخه ابادي یې ددوه غرونو (آسه مائي) او (شیردروازې) ترمنځ واقع ده شرقي لور ته دخاوري یوه غونډۍ لري چې معمولاً یې د (تپه مرنجان) په نوم یادوي، که چیرته ښه دقت وشي تپه مرنجان او اراضي یې سره لدې چې دکابل دښار شرقي لور ته واقع شوی مګر له بلې رودخانې څخه خړوبیږي چې عبارت دلوګر له سین څخه دی. دا تکی دپاملرنې ور دی ځکه چې نن سبا دکابل په ډیره اندازه دکابل په سیند اباد دی او په پخوانۍ زمانه کې دښار دثقل مرکز اکثراً دلوګر په سیند اباد وۀ په همدې ترتیب دمرنجان غونډۍ ددواړو رودخانو ترمنځ واقع شوی دی چې لږ څه لیرې دتنګ غارو په سیمه کې دواړه رودونه سره یوځای کیږي دمرنجان غونډۍ لکه دنورو ډیرو غرونو او غونډیو په څیر فولکلوري داستانونه لري او ددې داستانونو له خلا څخه داسې څرګندیږي چې مرنجان اصلاً جادوګر وۀ او ډېر مال او ثروت څښتن وۀ کله چې یې طلسم مات شو افسانه یې شتمني یې دخاورو په غونډۍ بدله شوه.

لرغونه پیژندنه چې ددانې فولکلوري داستانونو یواځینۍ کیلي ده ددې غونډۍ په چاپیریال اوخاطراتو دیولرحقایقو په کشف موفق شوی چې پوهیدل یې دیومملکت دپایتخت په حیث دتاریخي مراتبو په رنا کې له دلچسپۍ څخه لرې ندی دریش کاله دمخه دتپه مرنجان په غربي برخو کې چې دخپلواکۍ د جشن په

مهال هلته اوبه ولاړي وي پدې برخه کې دځمکې دهواري اوپلونو جوړولوپه مهال يوختين ديګی وموندل شو چې پکې يو شمير مسکوکات اونقره يې پارچې پرتې وي. ددې ټولو مسکوکاتو او ذوب شوو نقره يې پارچو مخلوط داسې حکم کاوه چې په يوه زمانه کې پدې ځای دزرګر دکان و اودا ډير مهم او په زړه پورې کليکسيون نن ورځ دکابل په موزيم کې موجود دی. اودچمن حضوري دمسکو کناتو په نامه يادېږ اودوه تنه فرانسوي پوهان موسيو (شلوم برژه) او موسيو(کوريل) د (چمن حضوري دمسکوکاتو خزانه) تر سر ليک لاندې پدې يوکتاب کښلې دی.

دچمن حضوري مسکوکات چې دمرنجان دغونډې له غربي برخې څخه په لاس راغلې ډيره لرغوني، ښکلې او نفيسه مجموعه ده ځکه چې په هغې کې د ۴ ـ ۶ م ز پيړۍ سکې هم موجودې دي او دځينو سکو وزن يې له ۵ګرامو څخه زيات دی.

معمولا دچمن حضوري مسکوکات دفن پيژندنې له مخې چې دپخوانيو اويوناني مسکوکاتو په اړه معمول دی دا (اتيک) په نوم يادوي دامسکوکات په ډيره اندازه د ۴ـ ۵ م ز پيړۍ په اوږدو کې په يونان او ليرې نژدې جزيروکې ترقبرص پورې جوړيدلي دیو شمير په مخ يې دبوم او په بل مخ يې د (اتنا) د(زوس)دلور دتفکريا انديښنې رتبه النوع چې د ارتن) دښار دحامي ديونان دپايتخت په حيث تلقي کيده په ضرب رسيدلی دی.

دا د سکومجموعه ډيره نادره او قيمتي ده او تر کومه ځايه چې څيړنې شوي دي دمديترانې له لارې دتجاوز په وجه له هغه ځايه تر تپه مرنجان پورې رسيدلی دی چې دې کار دهخامنشيانو په وخت کې صورت نيولی دی ځکه چې په هغې دوره کې دهخامنشيانو دفتوحاتو اوتسلط په وجه يې دنفوذ ساحې پدې ټوله منطقه کې وسعت موندلی و. او له روم څخه کاروانونو تر سند پورې تګ راتګ درلود لکه څنګه هخامنشيانو پخپله دومره سکې نه درلودې نودیونانيانو سکې چې ددوی سکوته ورته دی په خپله سيمه رواج کړی دی. هغه څه چې دانظريه تقويه کوي دنقرې يوه وړه پارچه ده چې دهغې په مخ ميخي ليک ليدل کيږي.

همغه حروف چې دهخامنشيانو په وخت کې دود و او دا څو حرفه يې دهمغه وخت نښنه ده چې شواهد يې تر اوسه دافغانستان په خاوره کې ليدل کيږي.

پدې کښې شک نشته چې دمخه ترسکندراو سيروس ترفتوحاتو دمخه او تر هغه د مخه داريوش تر سند پورې د فتوحاتو د تر لاسه کولو او حتی هغه پلاوی چې د کښتيو د چلولو دپاره د مطالعې په خاطر د سند په اوبو کې د يو تن يوناني (

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلاکس) تر نظر لاندې لیږل شوی و د کاروان اوتجارت لارې دغرب، اسیا او افغانستان ترمنځ هغه وخت خلاصې وې او دا هم له احتمال څخه لیرې نده چې کابل هغه وخت دتجارت یو وړوکی ښار و او داهم باید ومنو چې هغه مهال دتپه مرنجان دغونډې چار چاپیره خلك اوسیدل او حتی دزر ګرې دکان موجود و چې په هغې کې نقره موجوده وه او د زیوراتواو نقرې د زوب کار کیده.

په ۱۹۹۳ میلادي کال کې دتپه مرنجان په هغه برخه کې چې دکابل جلال اباد سرك تیر شوی دی دوه د بودایي دین معبدونه کشف کړای شول چې شاید په ۲ یا ۳ مه عیسوي پیړۍ کې جوړ کړای شوی دی چې داد کوشانیانو وروستي وختونه و او علمي هڅو دا ثابته کړه چې ا قلا یو یې د ۴ مې یا ۵ مې عیسوي پیړۍ په اوږدو کې پخپله دکابل دښار دبودپرستانو له خوا مرمت کاري شوی دی لکه چې ددیوال د پیړوالې له پاره یې د (یودیس اتوا) مجسمه سالمه او روغه په لاس راغله چې اوس دکابل په موزیم کې موجوده ده او دا په لاس راوړو مجسمو کې تر ټولو لویه مجسمه ده.

دتپه مرنجان دغونډې معبدوروسته د ۵ پیړۍ له مرمت کارې څخه یې خارجي برخه دیوې وړوکي کلکې اومستحکمې کلا بڼه غوره کړې وه او لکه چې پدې پیړۍ کې دیفتلیانو ظهور کابل ته ثابت دی نو له احتمال نه بهر نده چې بت پرستانو دخپل شکست په نظر کې نیولو سره دمعبد ته دمرمت کارې په همال دیوې کلا بڼه ورکړی ده.

دمرنجان غونډې له بودایي معبد څخه په مجموعي توګه د ۳۷۳ درنو سکو په شاوخوا کې دنقرې سکې چې دساسانیانو دوخت دی او د ۱۲ دانو په شاوخوا کې دسرو زرو سکې د (کوشانوساساني) ددورې کشف شوی او داثابتوي چې دمرنجان تپه او بودایي معبد یې وروسته له کوشانیانو څخه هم له رونق څخه نه و لوېدلی. دمرنجان بودایي معبد حتی دعربي او اسلامي مبلغینو تروخته خارجي وجود درلود ځکه چې مسلسل مرمت یې ددې مطلب ښه شاهد اوثبوت دی.

۳۷/۳/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتپه مرنجان بودايي معبد _ او هغه نتايج چې وروسته تر لاسه شو

دکابل شمال، شرق او جنوب شرق ته يو شمير تپې د بي بي مهرو تپه، مرنجان تپه اوخاك بلخ تپه وجودلري، دساحې اوپراخوالي له نظره دمرنجان تپه له نورومهمتره ده چې چمن حضوري ترڅنګ دکابل _ جلال ابادپه لويه لار واقع اوترسياه سنګ پوري يې لويه او پراخه ساحه رانيولې ده.

داڅرګنده ده چې که نن ورځ دکابل دښار دثقل مرکز دکابل درود په غاړه وقع دی نو دمخه تر اسلام دامرکزيت دلوګر دسيند په غاړه واقع و او د هغو بودايي ابادیو بقاياوې چې دشاخ پرنتي دغره په لمنه، زنبورك شاه په خضر کې او شموچينه، جان باز، پنجه شاه سهاکونه، شيوکي، کمري او چکړي کې پرتې دي دا مفکوره تقويه کوي. په همدې ترتيب مرنجان تپه هم دلوګر درودخانې په حوزه کې قرار لري اوهغه اوبه چې دمستان تر پل لاندې دبالاحصار شرقي لور ته دخرابو ترڅنګ تيريږي دخپلواکۍ په جشن کې دمرنجان دتپې غربي برخه په مصنوعي توګه بنکلی کوي.

دمرنجان تپه لکه دافغانستان ډيرو غرونو او غونډيو په څير فولکوري داستانونه اوکيسې لري چې دهغو له منځه څخه داسې څرګنديږي چې مرنجان اصلا يوجادوګر و چې ډير مال او ثروت څښتن و او خپله سرمايه يې په همدې غونډۍ کې خښنه کړې وه ترڅو چې طلسم يې ماتيږي او ټوله سرمايه له خاورو سره خاورې کيږي.

لرغون پيژندونکي چې ددې رنګه فولکلوري معما ديواځنۍ حل کليانې دي ددې تپې په چاپيريال کې او ورته په مربوطو خاطرو ديو لړ حقايقو په کشف موفق شوي دي چې په هغې پوهيدل دکابل دښار دتاريخچې دروښاونولولپاره ډير ګټور او دلچسپ دی.

د۱۹۳۳ عيسوي کال دپسرلي په موسم کې مې موسيو ژان کرل د فرانسوي پلاوي دکيندلو دپلاوي غړي ته چې دپروفيسر هاکن په غياب کې يې دنومورې هيئت نمائندګي کوله خبر ورکړ چې دهغه راپور له مخې چې دکابل موزيم ته رسيدلی دی دمرنجان په غونډۍ کې يوه مجسمه پيدا شوې ده، په ياد مې دي چې له نومورې پلاوي سره سمدلاسه همغې نقطې ته ولاړو او علمي څيړنه مو پيل کړه، وروسته تر دې موسيوهاکن چې داوخت يې په توکيو کې د "خانه فرهنګي" دمديريت چارې په لاس کې وې کابل ته راغی او د ۱۹۳۳ عيسوي کال دجون دمياشتې ۱۵ نيټې څخه تر ۲۷ نيټې پورې کيندنو، څيړنو اوهڅو دده تر مشرتوب لاندې صورت ونيو.

دکوششونو ځای دمرنجان دغونډۍ غربي خواته لري او وروسته تر يولړ هڅو واضح شوه چې لاندې ابادۍ پدې نقطه کې قرار لري.

يوه مستطيل شکله ابادي ۸۶۰ متر ضرب ۱۲/۳۰ متره. داودانۍ له خامو غټوغټو خښتو څخه چې په مربع بڼه جوړې دي او هرې خلع يې ۵۰ سانتي متره اوږدوالی درلود، دلته دري اطاقونه جوړ و، چې چت يې دکمان يا لينډۍ په بڼه جوړ شوی و.

۲) ددې مستطيل شکلي ودانۍ په کنجونو کې برجونه ترسترګو شول چې دسيند له تېرو جوړ کړای شوی و اومنظور تر ډيره محکموالی و، ددې ودانۍ په غربي برخه کې په ديوال کې يوطاق څرګند شو چې عرض يې ۱/۲۵ متره و.

۳) ددې غربي ديوال په مقابل کښې يوه وړوکي استوپه څرګنده شوه چې دکانو دکوچنيو تختو څخه جوړه شوې وه.

دلرغون پيژندنې دکتنې له مخې چې داسنادو له مخې کشف شوی: مجسمې، مسکوکات، ختين لوښي او نور تر لاسه شول داسې نتيجه تړې واخستل سوه چې اصلا دلويو کوشانيانو په وخت کې د (۲ او ۳) مسيحي پيړۍ په اوږدو کې دلته ډوداياتو له خوا مستطيل ډوله معبد جوړ کړای شوی و او دې معبد هم لکه دنورو معبدونو په څير په خپله غربي خوا کې استوپه درلوده، وروسته تر هغې په ۵ مسيحي پيړۍ کې چې دمعبد ځيني برخې خرابې او شنډلې

وې نو په کنجونو کې يې برجونه ور جوړ کړی و داشکست او خرابی يې په غربي برخه کې ډيرې محسوسيدلې ځکه چې دغربي برخې لنه شنيدلي ديوال سره يو بل پنډ ديوال جوړ شوی و.

تر ټولو پخوانی سکه چې مرنجان په بودايي معبد کې تر لاسه شوې ده هغه يوه مسي سکه او دکجولا کدفيزس کوشانيانو دلومړي پاچا سکه ده چې معمولا هغه (۵۰) کاله دمخه تر ميلاد اودمسيح په وخت کې شميري.

پرته تر دې لدې معبد څخه دوه دستي نور مسکوکات هم تر لاسه شوي چې ددې برخې پر تاريخي تحولاتو ډيره رڼا اچوي.

يوه مجموعه له دې مسکوکاتو څخه له ۱۲ طلائي مسکوکاتو څخه مرکبه ده چې بنه يې محدب ، مقعر اويا د نعلبکی په شکل جوړې دي چې دادکوشانيانو يو شمير شازيو پورې اړه نيسي. چې ساساني شاهنشاه پورې مربوط دي. پدې وجه داسکې دکوشانو ساساني په صفت يادوي. ددې سکو پريوې د (بهرام) نوم ليکل شوی دی اودلو ې کوشاني شاهنشاه بهرام په نوم يادې شـ ې دي.

او يوولس نورې سکې فيروز، هرمز، بهرام اودشاهپور وې. يوه دسته نورې کشف شوې سکې دنقرې دي او ټولې په مجموعي توګه ۳۷۳ عدده سکې تشکيلوي. له دې جملې څخه ۳۳۸ عدده دوم شاهپور پورې مربوط دی (۳۷۹_ ۳۱۰ مسيحي) ۲۴ عددويم اردشير پورې (۳۸۳_ ۳۷۹ م) او ۱۱ عدده يې دريم شاهپور (۳۸۸_۳۸۳م) پورې مربوطې دي.

پدې ترتيب لکه څنګه چې ليدل کيږي دمرنجان دتپې دبودايي معبد بنکلي کشف شوي مسکوکات مورډ دځلورمې عيسوي پيړۍ تر پايه رارسوي.

دتپه مرنجان په بودايي معبد کې دهيکل تراشنې له نظره دبودا مختلفې مجسمې يوديس اتوا او اعانه ورکوونکی کشف شوی تر ټولو لويه مجسمه ده چې ددوو پخوانيو او نوي ډيوال ترمنځ کشف او تر لاسه شوی او دکابل موزيم ته منتقل شوې ده. داعانې ورکوونکو مجسمه په داسې لباس کې چې جامې يې په ځان پورې چسپې ننښتې او ګوندې يې وهلې کشف شوې ده. يو له دې مجسمو څخه د يوې په لاس کې د ګل وړوکی تاج هم ليدل کيږي.

دمعبد دديوال په اوږدو کې جنوب لور ته يو شمير نورو غټو او وړو مجسمو هم وجود لرې چې له غټو څخه جوړ کړای شوې وې، چې ډيرې ځايونه يې شنيدلی و او يوه جوړه سترې پښې څرګندېږي چې له طبعي قامت څخه سترې مجسمې هم دلته موجودې دي.

دمرنجان له تپې څخه ختين کشف کړای شوی لوښي دکوشانيانو دعصر دختينو لوښو دمطالعې په اړه ډير ارزښت لري.

داکوزې اکثرا مدوري وې او دبغلونو دپاسه يې شپږ پانې والاګلان، زمري او دغرنيو غرځو تصويرونه کتل کيدل. او په يوه کې دګل دان په څير دوه مرغان په مخامخ ډول ليدل کيږي او دا په واضح توګه دساسانيانو دوخت کار رابنيي او همدارنګه بنکلی نقش کړای شوی کوزې هم په لاس راغلي دي.

دمسکوکاتو، ختينولوښو، نشق کړای شوو ظروفو دعمارت له سبك او مرمت کاری څخه چې هلته تر سره شوی دی داسې استنباط کيږي چې د مرنجان دتپې بودايي معبد د مسيح دوخت په پيل کې په لومړي پيړۍ کې (دلومړي څخه د دريمې) دلوښو کوشانيانو دکورنۍ په وخت کې جوړ کړای شوی و. اود څلورمې عيسوي پيړۍ تر پايه يې دوام وکړ وروسته دڅلورمې پيړۍ په ساى اوذ پنځمې پيړۍ په جريان کې دشنيدلی، درزونه يې کړي او مرمت کاري پکې شوې ده او برجونه يې چې ممکن تر ۱۰ مترو به لوړ و معبد ته يې ډيوې کلابنه ورکړې وه. داګلامانندە معبد دبالاحصار په لور دکابل په خوا قرار درلود اوداسلام تر راتللو يا تر اوومې عيسوي پيړۍ بودايي راهبانو پکې استوګنه درلوده.

۴۱_۴_۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعقوب ليث صفاري او

دكابل زرين او سيمين بتان

يو شمير اسلامي ماخذونه لكه المسالك وممالك اصطخري، حدود العالم، جيهاني ته منسوب اشكال العالم همدغه دكابل دزړې كلا او د مشهورې بت خانې يادونه كوي چې على العموم راهبانو يعنې كابلي رتبيل شاهانو په هلته دتاج پوشي مراسم ترسره كول.

داڅرګندوی چې درتبيل شاهانو دسلطنت په دوره كې كابل يو مهم او مشهور معبد درلود چې دبرهمني او هندوي كابلي كورنيوشاهانه تاچ پوشي هلته ترسره كيده. له اسلامي ماخذونو څخه څرګنديږي چې يعقوب ليث دصفاری كورنۍ موسس چې په ۲۵۷ يا ۲۵۰ هـ ق كلونو كې كابل فتح كړی د سروزرو او نقرې بتان يې تر لاسه كړی او بيا يې بغداد ته استولي دي. دسيستان دتاريخ مولف پدې برخه كې داسې ليكي " كله چې يعقوب كرمان ته ورسيد محمد بن واصل يې پذيرايۍ ته راغې ډير شميرعسكر يې له ځان سره داطاعت ، فرمانبردای او هدايانو له پاره له ډير مال سره يعقوب ته راوړل يعقوب يې عزت وكړ او بنه راغلاست يې ورته ووايه. بيا يې يوتن استازی دهدايانو له پاره او پنځوس زرين او سيمين بتان چې له كابل څخه يې راوړی و دمعتمدپه لور واستول چې مكې ته يې واستوي ترڅو يې دكفار په غم كې دمكې حرم په كار كړي"

نو كابل ته ديعقوب ليث صفاري ننوتل ددريمې هجري پيړۍ نيمائي كې او له دې ښار نه دزرين او سيمين بتانو دوړلو او په نتيجه كې د مهم معبد په ورانولو كې هيڅ شك نشته. داچې دا معبد په كوم ځای كې او څرنګه معبد و؟ دا هغه پوښتنه ده چې غواړم په لنډه توګه يې په چاپيريال كې تجسس وكړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دافغانستان اسلامي مورخين عبدالحی ضحاك گرديزي او محمد عوفي په جوامع الحكايات كې دكابل درتبيل شاه او يعقوب ليث صفاري ترمنځ دجګړو يادونه كړې ده. ددې رتبيل شاه په اړه مې دافغانستان دتاريخ په دويم ټوك څوارلسم څپركې كې په هغه څپركې كې چې د رايان كابل يا برهمن شاهانو كابل كې مې شرحه وركړې ده. عبارت له (سامنته ديوا) د هند و شاهي د لړۍ دويم پاچا و چې هغه يې (سامنت) يا سامند هم ياد كړی دی او مسكوكات يې په ډيره پيمانه له افغانستان او سرحدي سيمو څخه پيدا شوی او لاپيداكيږي. همغه راز چې يعقوب ليث له سامنته ديوا سره په كابل كې مواجه شو ورور يې عمروليث په غزني، كابل او لوګر كې له (كلمو) يا (كملو) ددې كورنۍ له دريم پاچا سره مخامخ شو ديعقوب په امر دكابل مشهور معبد او د ورور په امر يې دلوګر دسكاوند مشهور معبد وران كړای شول.

ايا دكابل مشهور معبد چې كابل [illegible] پوښي كوله او ددريمې هجري پيړۍ تر نيمائي هم هلته طلائي او نقره يي بتان موجودو. چيرته و ؟ دكابل دښار په منځ كې او كه په ليرو او نژدو څنډوكې؟

پدې كې شك نشته چې دكابل دغرونو په پوزو او غونډيو كې دبودايي معبدونو بقاياوې له شيوكي، كمري او چكړې نه نيولې دخير خانې تر كوتل او دعلي اباد تر لمنو پورې په ټولو څايونو كې وجود لاره او دشير دروازې، اسه مائي او مرنجان تپې په ټولو پوزو او غونډيو كې ليدل شوی او په څينو كې يې لكه خواجه صفا، تپه مرنجان، تپه خزانه اودخير خانې په كوتل كې يې اثار او شواهد هم دكيندلو په وجه كشف شوي دي. چې دكابل په موزيم كې موجودي دي.

دخير خانې، دكوتل برهمني افتاب پرستي معبد، دعلی اباد دغره په لمن كې دبودايي معبد، دشيوكيو ديعقوب تنګي ترڅنګ معبد هر يو په خپل څای ډير ارزښت درلود مګر زرين اوسيمين بتان په هيڅ يوه كې ليدل شوی ندی پرته له يو څای څخه چې دادی در پيژنو يې.

مسن انګريز چې په ۱۸۲۶ او ۱۸۳۸ كلونو كې ۱۲۰ كاله پخوا افغانستان ته راغی او څه موده په كابل كې اوسيده او دامير دوست محمد خان په وخت كې دكابل په بالاحصار كې اوسيده نوموړی دبالاحصار ترڅنګ دحضرت تميم (رض) دمزار ترڅنګ ديو معبد اوبتانو په اړه صحبت كوي چې وروسته دهغه له اوريدلو منطق حكم كوي چې احتمال لري داهمغه معبد وي چې دصفاري په عصر كې زرين او سيمين اجسام وركې كشف شوی دی، سمن انګريز پدې اړه داسې وايي چې :

"دشتمن ناو دپای په برخه کې چې له بالاحصار څخه دجنوب غرب په لـور پـه نیـم میلې کې پروت دی او له هغه ځایه دغره پـه کنډو دچاردیـهي پـه لـور لاره تللې ده پدې برخه کې داخوند هدایت الله باغ دی. پدې باغ کې یـوه پشـته ده چې دیـو لـرې هڅو وروسته وربکې دوه طبقې سمڅې څرکندې شوې چې ددې سمڅو پـه جوړولـو کې له غټو غټو خښتو څخه کار اخستل شوی و. دپشتې په یوه برخه کې یـو طـاق او پایې او دهرې پایې ترڅنګ بنکلې مجسمې څرکندې شوې ددې مجسـمو رنـګ سپین او سور و او په سرونو یې دطـلا پـانې جوړې کړای شوې وې. دطلا او لاجورو پانې دطاق پـه منځ کې هم لیـدل کیـدې. دطـاق دپـای پـه برخـه کې یـو ډبر لیـك هـم څرکند شو .دپشتې په نورو برخو کې یو شمیر طاقونـه او مجسـمې هـم کشـف شـوې چې یو یې له ۸ څخه تر ۱۰ فوټو اوږدوالی درلود او دطلا پـه پـانو بنایسـته شوی و. مسټر انګریز دخپلو ویناو په پای کې وایې چې اخوند هدایت الله او زامنـو یـې دطلا یو شمیر پانې دکابل په زرګرانو وپلورلی...."

لکه څنګه چې یې چارلـمسټن تشریح کوې چې په هغه باغچه کې چې دحضرت تمیم (رض) دزیارت ترڅنګ دپخوانې بالاحصاردخرابو ته نژدې یوپخوانی معبد دباغ په پشته چې هغه داخوند هدایت الله باغ و ۱۳۰ کاله دمخه لیدل شوی او دمجسمې په سر دطلا دپانو ګل په بنکلې دول څرکند شوی. نو ددې حقایقو له مخې نشو ویلی چې دهغه معبد چې بتان یې زرین او سیمین شوې وو او پـه دریمـه هجـري پیـړۍ کـې دصفـاري دکورنـۍ دموسس (یعقوب لیث صفاري) له خوا بغداد ته استول شوی و په همدغه نقطه کې اباد و؟

دکابل مشهور معبد که دښار په منځ کې و نو باید په همدغسې یوه نقطه کې وای څکه چې کومې منطقې چې دشهدا صالحین په نوم شهرت پیداکړی دی او داشهرت هم وروسته له اسلامي مبلغینو څخه منځ ته راغلی نو داځای دکابل دزړې او پخوانۍ کلا ترڅنګ یو مهم ځای و نو څکه ویلای شو چې له احتمال څخه لـرې نه ده چې دکابل مشهور معبد په همدغه ځای کې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایتاوه

لکه څنګه چې مدنیت، فرهنګ او ادیان دخپل عروج او زوال دورې ترسره کوي د هغې په سیر او مرور سره فرهنګي حوزې هم تغیر محل مومي او خپل ځای بدلوی. یوه ورځ چې بګرام او کاپیسې دکاپیسا په حوزه کې اورزښت درلود، که هغه یې په چاپیریال کې و او که دغرونودلمنوپه حصارو کې اوکه هم په میدانونو اوجلګو کې په سلګونو کلیو چې دلیدلو وړو وجود لاره چې نن ورځ د ذهنیت په تغیر په خرابو بدل شوي او د هغو ځایونو مقام او موقعیت نورو ځایونو اشغال کړي دي.

یوله هغو ابادو نقاطو څخه چې اوس یې نوم له خاطرو څخه لوبدلی دی (پایتاوه) ده چې دبګرام دشاهي خرابو جنوب لور ته په ۱۲ کیلو متری کې دسرای خواجه تر څنګ پروته ده اودمعابدونو شواهد یې تر ۳۰ کالو دمخه د زراعتي ځمکو په منځ کې څرګندیدل چې هغه هم دوخت په تیریدو دزراعت په وجه وتوږل شوې اوهغه څرګندې ستوپې له منځ ولاړې او اوس هلته دپخوانۍ ابادۍ څه اثار نشته او دا چې دکابل په موزیم کې دهغې سیمې دچاپیریال یو څه هیکلونه چې زراعتي ځمکو ته دویالو دکیندلو په مهال تر لاسه شوي دکابل په موزیم کې موجوددي چې پخواني یادګارونه یې له ځان سره حفظ کړي دي.

په ۱۹۲۳ کال کې چې دلومړي ځل له پاره دوه تنه فرانسوي شرق پیژندونکي موسیو الندفوشه او موسیوهاکن دکاپیسا په طول او عرض کې د (کوهستان اوکوهدامن) په مختلفو نقاطو کې دلرغونو ځایونو دموندلوپه هڅه ګشت درلود دکابل دموزیم دهغه وخت دمدیر غلام محی الدین خان دلارښوونې په اثردپاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي ته ورسيدل هلته يې دزراعتي ځمکو کې په منځ کې يو ځای وموند چې له ۳۰ نه تر ۴۰ مترو يې اوږدوالی درلود او عرض يې له ۱۰ تر ۱۵ مترو وۀ دې ځای ديوبودايي معبد ځای اوموقعيت څرګنداوه.

فرانسوي پوهانو ۳۵ کاله دمخه د ۱۹۲۴ عيسوی کال ددسمبر دمياشتې په ۱۸ نيټه دلندې مودې له پاره په کيندلو پيل وکړ دوه ورځې وروسته يعنې د ۲۰ نيټې په مابنام يې لومړی هيکل تر لاسه کړ چې دا ورته ډير په زړه پورې او دلچسپ وۀ. چې شرح يې په لنډ ډول ليکل کيږي.

دا پارچه هيکل دسليت په کانې کې (ساکيامونې بودا) يې ددوخارقه ووۀ داجراء په حال کې ښودلی دی او د (دوه خارقه بودا) په نامه يادېږي. که چيرته داپارچه لا ښه معرفي کړم بايد ووايم چې که چيرته يې ښه وګڼو نوله دواړو اوږو څخه يې د اور شغلې پورته کيږي اودپښو له تلوو څخه يې اوبه روانې دي. په بودايي داستانونو کې راغلي دي چې دکوشالا پاچا په خواهش او هيلې سره چې (پرازناجت) نومېده بودا خارقه قيافه ځانته غوره کړه چې له اوږو څخه يې شغلې هوا ته پورته شوي اودپښو له تلوو څخه يې اوبه جاری اوپخپله لکه ديو نورانې غره په څير په هوا کې جلوه ګر شو.

دتخيل په عالم کې په افسانوي توګه دلته بودا له يوه غره سره تشبيح شوی چې له لورې برخې نه يې داور شغلې پورته کيږي او ددې خيالي غره له لمنو څخه لکه دباران داوبو په څير سيلابونه جاري شوي دي.

پدې پارچه تراشلي هيلکل کې دوه روښانې لارې دبودا له اړخه تيرې دي چې دی يې په رڼائي کې څرګندېږي (برهما) او (اندرا) يې خواته نژديوالی کړی دی. بودا په کين لاس دخپلې راهبي يلان کلك نيولی دی اوښيې لاس يې داطمينان دعلامې په توګه پورته دی او په ورغوي کې يې عراده يا (چرخه) چې دحکمفرمايي علامه ده څرګندېږي.

پاتې دې نه وي چې په پايتاوه کې ددې پارچې ترکشف وروسته په وروستيو کلونو کې همدغه شان پارچې دکاپيسا له ګڼو ځايونو څخه لکه بګرام او يا له شيخا نخيل څخه هم تر لاسه شولې په کوهدامن او کهستان کې ددې ډول پارچو دترلاسه کيدو وروسته پوهان پدې نظر شول چې په افغانستان کې کاپيسا ددې ډول تراشلو مجسمو ځانګړی ځای وۀ.

له دې پرته په پايتاوه کې يوبل هيکل هم تر لاسه شوی چې دهنر اوپه ځانګړي توګه دتاريخ له نظره ډېر ارزښت ور دی داپارچه اصلاً دکومې بلې ستړې مجسمې تخت دی چې هغه مجسمه چې ور پکې نصب وه له منځه تللې ده اوپخپله دهيکل تراشنې يوه ښکلې او دلچسپه صحنه ده شرح يې په لاندې ډول ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري تنه اعانه ورکونکي،دري ښځې او دري ماشومان د (پوديس اتوا ميتريا) په شاوخوا ليدل کيږي. داصحنه يوه تاريخي صحنه او اعانه ورکوونکی چې تازه بودايي دين ته ورداخل شوی دی او يايې خپلې ډالۍ (بوديس اتوا) يعنې اينده بودا ته وړاندې کړی دی کميسونه يا پراخې چپنې او کلفت موزې يې څرګندوي چې دوی قبايلي کوشانيان دي چې تازه له مرکزي اسيا نه باختر ته راغلي دي او دادی دهندوکش سويلي برخې ته رارسيدلي دي او دلومړي ځل له پاره بودايي دين خوښ کړی دی او له هغو ډالیو سره چې اکثر ميوې او حبوبات دي د (بوديس اتوا) مخې ته ږدي.

همدارنګه ښځې او ماشومان يې دکشاني له نسل څه دي او ديوې کورنۍ او يا يوې قبيلې استازيتوب کوي چې درارسيدلو په وخت يې لومړي ځل په کاپيسا کې دبودايي معابدو جلال ليدلی او بودايي دين ته داخل شوي دي او نن ورځ دادکانې پارچه چې دکابل په موزيم کې موجوده ده دافغانستان په تاريخ کې يو معين موقف ثابتوي او دپايتاوې وړوکی کلی چې نوم اونښان يې نن ورځ ډير مجهول دی دوه مهمې تراشلې ډهيواد لرغوني هيکلونه يې ورکړی دي چې د تاريخ ، هنراوکمال له مخې ډير ارزښت لري او له يوې نومورکې منطقې څخه دکاپيسا په تاريخ کې يوه ځليدونکې پانه روښانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ميرزكه اودمسكوكاتو

مجموعه يې

افغانستان دمساعد جغرافيائي موقعيت له مخې داسيائي هيوادونو په څلور لارې کې دتمدن او فرهنګ مرکز دی او يوله هغو هيوادونوڅخه دی چې ډيره سابقه لري او دتاريخي دورولرونکی دی چې دمختلفو دورونو ډير مسکوکات پکې موندل شوی او موندل کيږي. دامسئله نن نه بلکې يوه پيړۍ دمخه حتی له ۱۳۰ کالو وړاندې روښانه ده چې دافغانستان خاوره دلرغونو مسکوکاتو له نقطې نظره ډيره غنې ده.

لکه څنګه چې دامير دوست محمد خان دواکمنۍ په دوره کې يو تن انګريز لرغون پيژندونکی مستر مسن يواځې دبګرام له دښتې څخه پدې بريالی شو چې ۶۰ زره مسکوکات راټول کړي.

پدې وروستيو کلونو کې له مهمو کشفياتو څخه چې په ښار او علمي حلقو کيې يې ډير غږ اوچت شوی دی هغه په ميرزکه کې د مسکوکاتو دکشف مسئله ده چې دې اکتشاف له نن څخه پوره لس کاله دمخه د ۱۳۲۶ کال په پسرلي کې صورت ونيو او زه پدې بريالی شوم له اسلام څخه دمخه مسکوکاتولويه مجموعه له ميرزکي څخه کابل موزيم ته راوړم. ميرزکه تقريبا دګردیز له مرکز څخه شمال شرقي لور ته په ۳۰ کيلو متری کې واقع ده اوپدې علاقه کې دمنګلو قوم اوسيږي.

دمیرزکي علاقه چې چاپیریال یې نسبت ګردیز ته لوړ دی په همدغه منطقه کې میرزکي اواحمدزائي رودونه سره جلا کیږي داوبو دتقسیم له برخې نه دري کیلو متره لیرې دشمال په لور د (چنیحي قول) درود اوبه د (میرزکي) له اوبو سره یوځای کیږي د (چنبحي قول) دخولې مقابل ته درود کین ارخ ته یوه غوندۍ څرګندیږي چې دسیمې خلك یعني منګلي هغه د (کافر کوټ) په نوم یادوی داغوندۍ دسیند له اوبو څخه نژدې ۷۰ متره واټن لري او دسیند داوبو له سطحې څخه نژدې ۳۰ متره لوړ والی لري.

دکافر کوټ سویلي خواته په لوړه یوه توته مربع شکله ځمکه پرته ده چې په مخ یې پخې خښتې او تیکر لیدل کیږي او داسې څرګندیږي چې نومورې غوندۍ او مربع شکله لوړه ځمکه په لرغونو زمانو کې تر اسلام دمخه دمهمو ابادیو یوه برخه وه چې هویت یې موږ ته څرګند نه دی.

میرزکي دنیمه وچ سیند په اوږدو کې کافرکوټ ته د ۷۰ مترو په واټن یوه چینه موجوده ده چې د ۱۳۲۶ کال په پسرلي کې په ناڅاپي دول د منګلي قبایلو میرمنې په نومورې چینه کې د مسکوکاتو په موندلوبریالی شوې. کله چې دچیني چارچاپیره په مختصر دول وکیندل شو څرګنده شوه چې دچیني چارچاپیره یوله لویه خونه جوړه کړای شوې وه چې هرې څنډې یې ۶ متره طول درلود او ددې لوی اطاق ترځنګ نور واړه اطاقونه هم جوړ کړای شوی وو. او اصلاً داسې څرګنده شوه چې پخوا وختونو کې دمخه تر اسلام او دمخه د مسیح تر زمانې هلته یوه متبرکه چینه وه چې خلك په هغه چینه کې دسکو په اچولو عادتوو په همدې ترتیب د څلورمې قبل میلاد پیړۍ نه تر دریمې مسیحي پیړۍ پورې د ۷۰۰ کالو په اوږدو کې دافغانستان دمختلفو پاچاهانو دمسکوکاتو نمونې په دیره پیمانه هلته متراکمې شوې وې.

ترکومه ځایه چې اتکل کیږي له امکان څخه لرې نده چې اصلاً ۵۰ زره پخوانۍ سکې په چینه کې موجودې وې چې دیره برخه یې سیمه ایزو څلکو دکابل ـ جلال آباد اوپیښور په ښارونو کې وپلورلې هغه څه چې راونیول شوې او کابل موزیم ته راوړل شوې له دې سره چې دیر شمیر یې په کیمیایي داروګانو دپاکولو پر مهال له منځه ولاړې بیا هم له لس زرو دیرې موجودې دي.

دمیرزکې مسکوکات چې دفلز له مخې نقره اوټس دي دنوعیت له مخې یې په دوه برخو ویشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو سیمه ایز مسکوکات دي چې په ځانګړې توګه پرسیمه اړه لري او ډیره برخه یې په سویلي افغانستان، تاکزیلا ټیکسلا او پنجاب کې جوړ کړای شوی او په عموم ډول په کندهارا کې لیدل کیږي او دپاچا دنوم ذکر پکې نشته او داسکې منظم او مرتب شکل نلري او نورې یې دلرغونو تاریخي کورنیو منظمې اومرتبې جوړې وې لکه دهندوکش دسویل یوناني شاهانو، اسکایانو پارتیانو اوکوشانیانو وې.

لومړی ډول مسکوکاتو ته په انګلیسي بنت بار او پنج مارک وایي چې نقره یې میلو یې خارجي وجود پیداکړی دی او ددویمې یې دنقره یې نازکه پارچې دي چې دهغو په مخ مختلفې ننبې چې نوعیت یې تر ۳۰۰ رسیږي لکه دانسان انځورونه، اسلحه، ونې، پرندګان، لمر، ستوري، ځینې ګلان او دیوشمیر ودانیو انځورونه او نور لیدل کیږي.

ددې ډول مسکوکاتو دلومړي ډول پیدایښت زمانه یوشمیر پوهانو ۶ م ز پیړۍ ګڼلې ده او داخرګندوي چې دیونانیانو تر ظهور:مخه ددې ډول غیر منظمو نقره یې مسکوکاتو جوړونه دافغانستان په مشرقي برخو یاني کندهارا کې تر سند پورې دودوه . او د میرزکې دویمه برخه مسکوکات دمختلفو پاچاهانو دکورنیو او نسلونو دمختلفو دورو مسکوکات دي چې وروسته له ۲۳۰ م ز څخه دلومړۍ مسیحې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې یې دافغانستان دهندوکش په سویل او ختیځ کې سلطنت کړی دی.

دا دحیرانتیا ځای دی چې هغه مسکوکات چې په میرزکه کې تر لاسه شوي دیونان اوباختري پاچاهانو هیڅ اثر پکې نه شته چې دهندوکش په شمال باختر کې یې واکمني درلوده اوبر خلاف دهغو تولو پاچاهانو اثر پکې لیدل کیږي چې دهندوکش په سویل کې یې سلطنت کړی دی او په ځانګړي توګه د (هرمایوس) چې دکابل یوناني وروستی پاچا و او د(مناندر) مسکوکات زښت ډیر دي.

دامجموعه دکوچنیو نقره یې مسکوکاتو دمطالعې له پاره ددې ډلې پاچاهانوله پاره فوق العاده ارزښتمنده ده.همدا ډول دافغانستان داسکایي خاندان نقره یې مسکوکات او (اسکایي او پارتي) پدې مجموعه کې ډیر ترنظره کیږي.

دکوشانیانو دکورنیو دمسکوکاتوپه باره کې باید یادونه وکړو چې کوفیزس اوکنیشکا دکورنیو سکې پکې موجودې دي او وروستۍ سکې چې دپاچاهانو دنوم او ترتیب له نظره راځي هغه دواسودوا سکې دي چې هغه دکنیشکا دکورنۍ وروستی پاچا ګڼلی شو چې ددریمې پیړۍ تر وروستۍ نیمایي سلطنت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې طريقه دميرزکي دمسکوکاتو دمجموعې نوعيت چې په کوشاني (واسودا) متوقف کيږي او يو شمير پوهان داسې اټکل کوي چې احتمال لري دميرزکي دغه ابادي دساسانيانو دپرمختګ اوفتوحاتو په اثر پدې تاريخ کې وران شوي وي.

دميرزکي دمسکوکاتو مجموعه تر ټولوغني او لويه دمسکوکاتو مجموعه ده چې په دسته جمعي ډول دافغانستان له يوې نقطې څخه تر لاسه شوی دی.

موسيوشلو برژه اوموسيو کوريل (په افغانستان کې دمسکوکاتو خزاين) ترسر ليک لاندې کتاب کې ددې خزائينو په اړه ډيرې مطالعې ترسره کړې چې دهغوي مطالعه داربـاب تخصص له پاره به ډيرې دلچسپۍ ورې وی.

۳۷_۱_۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

سجاوند او شهرت يې په اسلامي دور و اُو دمخه تر اسلامه

دلوګر علاقه ددري تاريخي ښارونو (کابل) ، (غزني) او (ګردیز) تر منځ په یو لویې مثلث کې واقع شوی ده او هغه سیند چې ددې علاقې په نوم یادیږي دنومورې مثلث له منځ نه تیریږي او دشمال یعنې دکابل زاویي ته نژدې د کابل له سیند سره یوځای کیږي دهغو دري تاریخي ښارونو چې دمخه مو یادونه وکړه چې هر یو په خپل وخت کې تاکلی مقام او یاپتخت درلود اونظر په هغه ارتباط چې لوګر په مختلفو دوروکې له نومورو مرکزونو سره درلود دجغرافیاله نقطې نظره تر دې ښه دموقعیت تعبیر لوګر نشي موندلی چې داځای په یو لویې مثلث کې راونیسي، په هر حال دلوګر علاقه مو ددري لویو ښارونو په منځ کې ځکه تصریح کړه چې دامنطقه تل داقتصادي جغرافیې له نقطې نظره ا و دفرهنګي تاریخي او هنر له نقطې نظره ددې دري ښارونو له برکته برخورداره وه او پخپله یې دیوې زرخیزې زراعتي سیمې په حیث ددې دري ښارونو دانبار خانې حیثیت درلود او لري یې.

(لوګر) دبطلیموس په جغرافیه کې د (لوکرنا) په نوم یاد شوی او هغه چې تر اسلام دمخه یې دې سیمې ته ډیر شهرت ورکړی و هغه په (سجاوند) کې دلوی معبد موجودیت و، سجاوند چې داسلامي دورو په ادبي او تاریخي متونو کې لکه حدود العالم المسالك و ، الممالك اسطخري او قانون مسعودي بیروني کې په مختلفو بڼو لکه (شکاوند) ، (سګاوند) او (سکاوند) هم یاد شوی دی داد لوګر جنوب غرب خواته یوه ناحیه ده چې نوم او نښان یې له موقع اوموقعیت سره مشهوراومحفوظ دی.

دمخه مې تصریح کړه چې دلوګر علاقه له یوه مثلث سره شباهت لري چې دري خواته زاویه یې دري لویو ښارونو کابل، غزني او ګردیز خواته قرار نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سجاوندپدې مثلث کې دجغرافیایې موقعیت له مخې غزنې ته نژدې واقع شوی او په پخوانیو متونو کې ارتباط هم سره ورکړ شوی دی لکه چې په حدود العالم کې وایي" استاخ اسکاوند په غزني کې دوه بنارونه دي چې دغره په لمنه کې اباد او ډډیر ګشت او ګذر ځایونه دي"

پدې کې شك نشته چې بیروني په قانون مسعودي کې د (سکاوند کلا) د (لوګر في استاق) بولي. دا دواړه تعبیرونه سهي اوپر ځای دی پدې ترتیب چې سکاوند د لوګر په جنوب غربي برخه د غزني په لاره واقع دی او د غزني پخوانۍ لاره له همدې ځایه تیریده اواوس هم وروسته تر یو څه منزله چې (هفت اسیا) نومیږي له هغه کولای شي غزني ته ورشي.

هغه څه چې سجاوند دمخه تراسلام ډیرمشهورکړی و دیوسترمعبد موجودیت و چې خرابې اوبقایایې تراوسه هم دغره په پوزه کې موجودې دي.

دسجاوند دمعبد دځرنګوالي په اړه له دوه تنومرسته ترلاسه کولای شو یو له چینې کتونکي هیوان تسنګ څخه اوبل له محمدعوفي صاحب څخه چې تاریخ دجوامع الحکایات څښتن دی.

هیوان تسنګ وائي چې د (تسو ـ کو ـ تا) علاقه چې غزنی او دهغې نورې څنډې یې په برکې نیولی هلته یو برهمني معبد و چې هغه یې د (شونا معبد) په نوم هم یاد کړی دی لکه څنګه چې دشیوائي او لمر پرستۍ اثار له درېو لویو تاریخي بنارو کابل ، غزني او ګردیز څخه تر لاسه شوي چې دري واړه دلوګر په ماحول کې واقع دي نو پدې کښې شك نشته چې دسجاوند معبد هم یو له دغو ادیانو سره ارتباط لري.

شپیته کاله وروسته له نومورې چیني لیدونکي څخه ، محمد عوفي په خپل جوامع الحکایات کې پخوانۍ خاطرې تجدیدوي او له لیکنو څخه یې معلومیږي چې دسجاوند معبد ددریمې هجري پیړۍ تر دویمې نیمائي پورې یعنې د (کملو) یا(کلمو) د سلطنت تر زمانې پورې یعنې دکابل دشاهي برهمن دریم پاچا او دعمر ولیث دصفاري کورنۍ د پاچا دواکمنۍ تر زمانې پورې اباد وٴ لکه چې وایي " در آنوقت معبد بزرګ هندوان سکاوندبود ودر اقصاء هندوستان بزیارت بتان آن موضع تبرك کردند"

نور شواهد هم ددې نظریې داثبات له پاره اودسکاونددمعبد داهمیت په اړه په لاس لرو چې عبارت له مسکوکاتوڅخه دی د یو ډول مسکوکانو په مخ دکوشان اویفتلي شاهانو چې دسکه پیژندونکو په وړاندې دشاهي (تګین) یا (تجین) په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهرت لري دايو ډول نيم تني هيکل دی او دافغانستان دځينو ځايونو نومونه پکې چې ضمناً د (سکاوند) نوم هم پکې لوستل شوی چې دسکاوند ياسجاوند اهميت او دمعبد ارزښت دواړه څرګندوي.

دقرائنو له مخې ويلی شو چې دسجاوند معبد لکه دخيرخاني دکوتل معبد چې لرغون پيژندونکو يې هويت څرګند کړ يو دلمر پرستی برهمنې معبد وٴ او شهرت يې دکابلي رايانو داقتدار په موقع او يا د کابلي برهمن شاهانو په وخت کې له افغانستان څخه پرته په هندوستان کې هم شهرت درلود.

دسجاوند معبددريمې هجري پيړۍ تر دويمې نيمائي پورې اباد وٴ تر هغې پورې چې عمر و ليث صفاري کابل پلو ته د فتوحاتو په وخت دزابلستان دښار موظف چې (فردعان) نومیده له څلور زره سپروسره موظف کړ تر څو هغه ځای فتح کړي عوفي وائي " فردعان چې کله زابلستان ته ورسيد لښکر يې جوړ کړ شکاوند يې ازادکړاوبتان يې ورمات کړل بت پرستان يې له منځه يوړل يومقدار غنيمت يې لښکر ته ورکړل اونور يې عمر وليث ته واستول فتح نامه يې ورته وليکله او مرسته يې څنې وغوښتله.."

سجاوند وروسته له دريمې هجري پيړۍ دنورو څو پيړيو په اوږدو کې داسلامي ادب او فرهنګ مهم مرکز و لکه چې يوشمير علماو او عاليمقامو مفسرينو له دې ځايه سر پورته کړي چې نن ورځ يې متبرک مزار ونه دعامو او خاصو زيارتګاوې دي.

دغزنويانو په وخت کې يوه کلا او محبس په سکاوند کې جوړ کړای شو. دغزنويانو دآبادۍ اثار دپخواني معبد دديوالونو او سنګ کاري څخه څرګندېږي او په يو يادوه ځايونو کې پخواني سنګ کاري چې تر اسلام دمخه شوی او دغزنوي عصر ابادۍ دواړه ښې څرګندېږي. اوعملاً رابنيي چې څرنګه دپخوانيو معتقداتو، فرهنګ او معماري ځای داسلام دين،تمدن او معماري ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسکاوند بُت خانه

دافغانستان له مشهور و بُت خانو څخه یوه هم دسکاوند بت خانه ده چې حتی داسلام له خپریدلوورسته یې دهیواد په ځینو غربي برخو کې دصفاریانو تروخت پورې خپل شهرت دلاسه ورکړی نه و، پدې پوهیږي چې (سکاوند) چیرته دی؟ دانوم چې په مختلفو بڼو لکه (سجاوند) ، (شجاوند) او (شکاوند) هم ضبط او تلفظ شوی دی داځای په لوګر کې دغزني دپخوانی لارې دپاسه واقع دی چې تر اوسه همغه پخوانی نوم مشهور دی او دې نوم چې یو وخت شهرت درلوددلوګر په ټوله ساحه تطبیق کیده.

دحدودالعالم من المشرق الی المغرب دکتاب لیکوال لیکي چې :

"استاخ اوسکاوند په غزني کې دوه بنارونه دي چې دغرو په لمنو کې واقع دی اودبنې کرهنې وړی دی" دا جغرفیایي تعریف ډیر سهي او دقیق تعریف دی ، داستاخ په اړه تر اوسه څیړنه ندی شوی او موقعیت یې په سهي توګه تاکلی نشو مګر د (سکاوند) موقعیت واضح دی چې دلوګر په غربي برخه کې دیو لوړ غره په پای کې واقع دی او دا غر دغزني اولوګر ترمنځ په یوه فاصله کې واقع شوی او د موټر اوهغه سړک چې له لوګر څخه غزني ته ورځي اوپل علم دبرکي برک له لارې له شیخ اباد سره وصلوي نو دسکاوند له خوا تیریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکاوند له اسلام نه دمخه دورو کې دیو لویې (برهمني) افتاب پرستی معبد په درلودلو ډیر شهرت درلود او دشهرت ساحه یې دافغانستان له سرحداتو دباندې وتلې وه ان داچې ترهندوستان پورې رسیدلې وه.

ددې علاقې او ددې معبد دځرنګوالي په اړه دوه مهمې تاریخي منابع په لاس لرو چې د چیني هیوان تسنګ خاطره او بل دمحمد عوفي جوامع الحکایات کتاب چې یو داوومې مسیحي پیړۍ په لومړي نیمایي کې او بل داوومې هجري پیړۍ په لومړیو کې معلومات راکوي اوددواړومعلومات یوله بل سره تر ډیره حده تطبیق کیږي.

چیني لیدونکی چې کله دتسو- کوته له سیموځخه یعنې زابلستان (د کابل جنوب غرب علاقه دغزنې په ګډون، لوګر، ګردیز ترمقر پورې) څخه یادونه کوي دخلکودعادتونو اودیانت په اړه یې داسې وایي ، پدې ځای کې څو سوه معبدونه او نژدې یو زرتنه راهبان وجود لري اودنجات دلویې لارې پیروان دي پاچایي په مذهبي عقیده سمه ده او په مذهبي چارو ډیره هڅه کوي ډیر پوه شخص دی اود پوهې او فرهنګ ډیر علاقمند دی. پدې ځای کې تقریبا لس استوپې دي چې داداشوکا پاچا یادګارونه دي او لدې پرته څو برهمني معبدونه هم وجود لري اودمختلفو مذاهبو پیروان پکې ژوند کوي. برهمنیان ډیر زیات او بې شماره دي او ډیره برخه یې د اشوکا پرستش کوي، دا دین دکاپیسا دارونه له غره نه دې ځای یعنې سویلي برخو ته دسرنه ګیر غره ته وړل شوی او معابدونه ورته اباد کړای شوی دی. د سیمې او د لیرو منطقو خلک ټول ورته د احترام په سترګه ګوري او پیروي یې کوي.

دسیمې شهزاده ګان اونجیب خلک اوهمداراز دګاوندیوهیوادونو وګړي هر کال په ټاکلي وخت ددې ځای لیدلو ته راځی سرهزر اوسپین، غوایان او پسونه دنذر په توګه راوړي.

(شونا) دلمر ځانګړی خدای او دشونا معبد (عبادت ځای) عبارت له لمر پرستی څخه و. دلمر پرستی دیانت زمونږ په هیواد کې ډېر پخوانی دی او لمر ته د احترام کولود اساس اریایانو له دې ځایه هند ته دهجرت په مهال هلته یوړل شو. دلویو کوشانیانو له وخت نه راوروسته داسلام تر خپریدلوسره لدې چې بودایي دیانت دافغانستان نیمه شرقي برخه کې عمومیت لاره نو لمر پرستي یې هم په خوا کې دوام درلوداودلمر پرستی یو مشهور معبد د کابل په ۱۲ کیلو متری شمال

غرب لور ته دخير خانې په کوتل کې وجود لاره. چې دکيندلو په نتيجه کې دسوريا مرمري بنکلې مجسمه له هغه ځايه کشف کړای شوې ده.

نودچيني ليدونکی دياد ونو په اساس پدې کې شک نشته چې د (سکاوند) په علاقه کې يو دلمر پرستی مشهور معبد وجود لاره او دا معبد ته يواځې دسيمې خلکو داحترام په نظر نه کتل بلکه له نورو هيوادونو څخه په ځانګړې توګه له هند څخه خلک زيارت ته راتلل.

داسلامی دورې دنورو ماخذونو په اساس چې زمونږ په لاس کې دي يعنې دمحمد عوفي دليکنو په اساس چې په جوامع الحکايات کې يې ليکلی دی دسکاوند بتکده ددرې لومړيو هجري پيړيو په اوږدو کې دصفاريانو دکورنی دمنځ ته راتللو پورې اباد او د ډير شهرت لرونکی وٴ.

عوفی وائي : " .... په هغه وخت کې دهندوانو لوې معبد سکاوند وٴ اوپه هندوستان کې دې زيارت ته دتبرک او احترام په نظر ګوري

دابُت خانه دعمر وليث صفاري دسلطنت تر زماني چې معاصر يې (کملو) يا)کلمو) نومېده او هغه برهمني دريم پاچا کابل په سويلي او شرقي علاقو مارت درلود ، آباد وٴ او بيا دعمر وليث داستول شوې قوماندان فرد عان په واسطه وران کړای شولکه چې پدې اړه عوفي وائي.

"فردعان چې کله زابلستان ته ورسيد لښکر يې جوړ او سکاوند يې ازاد کړ بُتان يې ورمات او بُت پرستان يې له منځه يوړل ځيني غنيمت مالونه يې دلښکر کسانو ته ورکړل او پاتې يې عمر وليث ته واستول ..."

دجوامع الحکايات دمولف په بنکاره شهادت شک نه پاتې کيږي چې دسکاوند معبد دبرهمني لمر پرستی معبد دځلورمې هجري پيړۍ تر دويمې نيمائي يعنې تر لسمې مسيحي پيړۍ آباد وٴ او د عمرو ليث صفاري داستول شوي لښکر په واسطه دسکاوند بنار ازاد او فتح شوې بُت خانه يې ورانه کړې او بُتان يې ورمات کړي دي.

هغه مطالب چې د (شونا) دلمر دځانګړي خدای ددياانت په اړه او دلمر پرستی سکاوند دمعبد په باره کې ذکر شول د (کوشانو يفتلي) د مسکوکاتو دمطالعاتو له مخې او شاهي تکين له مخې په وضاحت سره تائيد کيږي ځکه چې هم نيم تنه هيکل دلمر ځانګړی خدای په مسکوکاتو کې نقش دی او هم دسکاوندنوم هلته ليکل شوی دی البته داسې نور مسکوکات هم شته چې دلمر دځانګړي خدای په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئیمه تنه نقش سره دنورو سیمو نومونه لکه (زابلستان) او (زمینداور) پکې نوستل کیږي

پدې ترتیب سره په ثبوت رسیږي چې دسکاوند دکابل په جنوب کې دلمر پرستی مشهوره بت خانه وه چې دلوګر، غزني او ګردیز په علاقو کې یې ډیر پیروان درلودل. دمخه دعمر لیث صفاري ترزمانې کابل دیعقوب لیث صفاري دواکمنۍ په وخت کې دوروستي ځل لپاره پخپله دافغانستان دمسلمانانو له خوافتح کړای شواو لوګر یې سره له مشهور بنار سکاوند سره د عمر لیث په وخت کې فتح شو او دسکاوند بت خانه ورانه کړای شوه همدلته ؤ چې په کابل او سویلي خواو کې یې دبرهمن شاهانو مقاومت پای ته ورسید.

۴۱/۶/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارزګان ډبر لیک

دهلمند او ارغنداب ددوو سیندونو ترمنځ دقندهار دښار شمال لور ته ددوه سوه کیلو مترو په اندازه دافغانستان دجغرافیائي نقشې په مخ د (ارزګان) کلمه لوستل کیږي.

دارزګان علاقه پدې صفت یو وړوکی بین النهرین دی دا علاقه یوه غرنی علاقه ده چې شمال او جنوب یې دوه لویو سیندونو راچاپیره کړی دی ارزګان داوسني قندهار شمال لور ته ددوو سیندونو هلمند او ارغنداب تر منځ یوه مهمه تاریخي علاقه ده، دې علاقې تر اسلام دمخه او په اسلامي دورو کې او په ځانګړې توګه دغوریانو او غزنویانو په وخت کې ډیر ارزښت درلوده، او لدې املې چې علمي څیړنې پرې نه دی شوي نوخاصه اطلاع یې په لاس نشته پرته له دې چې یو شمیر تاریخي شواهد اوخرابي یې څرګندیدلی او اوس چې ښاغلی بینوا اطلاع راکړه یوشمیر ډبر لیکونه څرګند شوي او هغه اطلاع یې څوکاله دمخه دتاریخ انجمن مستر بیوار انګریز لرغون پیژندونکي ته ورکړه چې نوموړی هغه مهال قندهار ته روان و هلته وروسته له یو لړځیړلو او کیندنو دوه ډبر لیکونه کشف شول چې دتاریخ له نظره ډیرپه زړه پورې ارزښت لري او دانګریز مدقق په نظر دیفتلیانو په دورې پورې اړه لري.

دمستر) بیوار) دځیړنو په اثر چې عملا او شخصا ارزګان ته تللی دی داسې وایي چې دقندهار شمال غرب لور ته د ۱۵۰ میلو په واټن ډبرلیکونه په لوی کانې کې کلك کیندل شوی دی. نوموړی په دې باره کې ددوه ډبر لیکونو په لیدلو بریالي

شو يدي چې تقريباً نيم ميل يو له بله ليرې پراته دي او پرته له دی دنورو ډبر ليکونو دموندلو احتمال هم شته.

لومړی ډبر ليک عبارت له دوه کرښو څخه دی چې په يوناني شکست رسم الخط ليکلی شوی او کولای شو چې هغې ته (يوناني يفتلي) ووايو لکه څنګه چې ټول پوهيږو چې يوناني ليک دود او حروفو وروسته ديونان باختري دسلطنت دورې څخه يعنې له دوه نيمو پيړيو دمخه تر ميلاد څخه نژدې دسلطنت دورې څخه يعنې له دوه نيمو پيړيو دمخه تر ميلاد څخه نژدې ۷_۸ پيړۍ نور هم په افغانستان کې داسلام دډين تر خپريدلو زمونږ په هيواد کې رواج درلود او مختلفو کورنيو لکه کوشاني، کيداري او يفتلي هغه په خپلو ژبو کې استعمالوله لکه د (سرخ کوتل) او (سرپوزي) لوی ډبر ليکونه چې دهندوکش شمال او جنوب ته کشف شول ددې نظريې ملاتړ کوي او په ځانګړي توګه داشوکا هغه ډبر ليک چې په نژدې وختو کې قندهار ته نژدې کشف شوی و ديوناني ليک دود ارزښت او دهغې دود دارغنداب په حوزه کې حتی تر دريمې قبل ميلاد پيړۍ پورې ثابتوي. نو دادتعجب خبره نه ده چې دقندهار شمال غرب لور ته په ۱۵۰ ميلي فاصله کې ديفتليانو دعصر ډبر ليکونه په يوناني ليک دود کشف شوی دی.

دويم ډبر ليک نسبت لومړي ته دجيپ موټر په لاره لږ څه منحرف دی او دکاروانو په پخوانی لاره واقع دی او لکه څنګه چې موويل له لومړي ډبر ليک څخه نيم ميل فاصله لري اودغره لمنې ته نژدې دی

هغه کانی چې مطلوبې ليکنې يې په مخ کلکې کيندل شوی دی يو ډول تور ته ورته قشر لري چې شايد دباران دريزش په وجه منځ ته راغلی وی هغه کسانو چې دا ليکنې حک کړی دی نوتور قشر يې دحک کمولو په مهال پورته کړی، په دې ترتيب دحروفو د نقر عمل ډيره ژورتيا نلري مګر په څرګنده لوستل کيږي او په ښه توګه يې عکاسي ترسره کيدای شي.

دموسيو بيوار دمطالعاتو مطابق دهغه پخپله عقيده تر اوسه کاملي قطعي صورت ندی نيولی خو په ابتدائي ډول هم ددلچسپۍ وړ دی ځکه څرنګه چې کتل کيږي دافغانستان دتاريخ له نظره ډېر ارزښت وړ دی، ځکه دوه حساسونقاطو ته په پاملرنه وکړو چې يو يې جغرافيائي تاريخي ماهيت او بل يې تاريخي ارزښت لري پدې ډول چې نومورې مدقق په لومړي او دويم ډبر ليک کې د (زابل) او (مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هبیرا نولا دنومونو یادونه کړې ده او پرته له دې د (بغ) و (شاه) کلمې یې د (بغو) او (شاوو) په صورت قرائت دی.

نن ورځ چې تقریباً دوه کاله دورزګان دکتیبې له کشف نه تیریږي دسرخ کوتل په لویې ډبر لیك دوه کلمې د (بغو) او (شاوو) چې دکنیشکا پاچا په اړه دې ګورو یعنې د ا دوه کلمې (خدای) او(شاه) دی اوکوشاني کنیشکا خپل ځان (خداونګار شاه) بللی همدا راز دارزګان په ډبر لیکونو کې یفتلي پاچا لکه دکوشاني دعصر په دود خپل خان ته د(خداوند ګار) او (شاه) لقب ورکړی دی.

مستر بیوار وائي چې له هغو خاصو نومونو څخه چې یادونه یې وشوه یو دځای نوم (زابل) او بل د ذات نوم (مې هبیراکولا) یې یاد کړی که چیرته نومورې مدقق ددې دواړو کلمو په لوستنو کې بریالی وي (ځکه چې په راپور کې یې نومونه پوره قرائت شوې نه وو او تر څه حده یې له اټکل نه کار اخستی وۀ) نو دارزګان ډبر لیکونه به ډیر ارزښت پیدا کړی، ځکه تر کومه ځایه چې پوهیږو زابل دجغرفیائي مفهوم په حیث دارغنداو حوزه هم په برکي نیوله او (مې هبیراکولا) دیفتلیانو مهمترین او مشهور ترین پاچا وۀ چې په (۵) مسیحي پېړۍ کې دافغانستان په جنوب غربي برخو کې سلطنت ته ورسید او مقتدر دولت یې جوړ کړ چې بیا څو ځله دافغانستان له غرونو نه یې دهند په خاوره حملي وکړې او فتحې یې حاصلي کړې او نومورې په ډیرو مسکوکاتو کې خپل ځان د (شاوو زابل) یعنې دزابل یازابلستان پاچا بللی دی.

په هر حال د ارزګان ډبر لیك چې دلته مو پرې په لنډ ډول خبرې وکړې سره له دې چې تر اوسه په بشپړه او ډاډمنه توګه تحلیل شوی نه دی خودجغرافیا ،تاریخ، ادب، لیك دود او ژب پیژندنې په اړه ډیر ارزښت لري اویقین لرم چې دهغې په رڼا کې به یوه ورځ ډیر مهم تأریخي او ادبي مطالب حل کړو.

۱۹_ ۴_ ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمنګان

دپلخمري او تاشقرغان دلاري په منځ کې ډډيري ښې آب وهوا لرونکې سيمه لرو چې پدې وروستيو کې يې د (ايبک) په نوم شهرت پيدا کړی دی مګر اصلي اوپخوانی نوم يې سمنګان دی چې پدې نوم دلرغوني ادب په ماخذونو کې ډير شهرت لري.

دحدود العالم من المشرق الي المغرب ناځرګند مولف چې دخپل وخت ښه جغرافيه ليکونکی و او په څلورمه هجري پيړۍ کې دافغانستان په شمال دګوز ګانان په برخه کې اوسيده نومورۍ په ۳۷۲ هجری پيړۍ کې خپله ارزښتمنه جغرافيه تاليف کړه نومورۍ دسمنګان په هکله داسې ليکي:

" دسمنګان ښار دغرونو په منځ کې واقع دی په هغه ځای کې غرونه ډير دي او تول لکه درخام دکاني په څير سپينې دي او دسيمې خلکو دهغې په منځ کې خونې جوړې کړې .

((هلته د هيکل تراشنې مجللې ودانۍ د زراعتي ځمکو په منځ کې له يو شمېر بت خانو سره ابادي دي او دپای په برخه کې يې لکه دمجللو ودانيو په څير ودانۍ دی چې دسيمه ايزو خلکو له خوا پرې ښکلي انځورونه ترسره شوي دي اوهغه مناطق ډير ښه شراب او ډيره ميوه لري))

ايبک يا سمنګان دافغانستان په شمال کې يوه مهمه منطقه کې واقع شوی دی چې پدې وروستيو کې ورځ په ورځ دتاريخي اثارو دکشف په وجه يې ارزښت ډير

زیات شوی دی لکه چې دکار لنتن کوت چې نومورې دکیندلـو او څیړنـو متخصص دی ددې امریکائي پوه چې دقبل التاریخ په دوره تخصص لري ایبك ته نژدې په قره کمر کې دکیندنو په وجه یې ویلی شو چې د ۳۰ او ۵۰ زره کال م ز په شاوخوا کې دهندوکش ښکاریانو دخپل ژوند لومړی دکاني دورې دهمدې منطقې په غرونـو کې ترسره کړي او دایبك ته نژدې غرونه دکاني ددورې یعنې ترتاریخ مخه خلکـو په افغانستان کې دژوند مرکز وۍ ، سمنګان د غوري اوبغلان یادبغولانګو ، خلم او بلـخ تر منځ ډیر مهم موقعیت لري او دسمنګان شرقي لور ته دسرخ کوتل داورتـون کشف دلویوکوشانیانو په عصر او دمسیحي په لومړۍ پیړۍ کې ددې سیمې په تاریخ ښه رڼا اچوي.

سمنګان ته نژدې یوه بله منطقه داباطك په نوم لرو چې ډیره مشهوره ده او داهم دکوشانیانو په وخت کې اباده وه او ددې عصر اثار او مسکوکات هم هلتـه لیدل شوي دي او بیا همداشان دسمنګان جنوب لور ته په زندان مشهوره دره کې سمځې او ډیره ابادي په نظر راځی چې یوه منطقه پکې دهزارسم په نـوم ډیر ارزښت لـري او پـه نظـر کـې دی چـې ایتالـوي پـلاوی پـدې کـال هلتـه پـه علمـي څېړنـو لاس پوري کړی.

لنډه داچې له دې څو کرښو داسې څرګندیږي چې سمنګان دتاریخ او جغرافیـې له نقطې نظره ډیر ارزښت درلـوداو لـرې یـې اوهمدا راز دهجرت له پخوانیـو دورو څخه راپدې خوا په قبل تاریخ اوتاریخي دوروکې او همداشان دمخه تر اسلام او په اسلامي دورو کې دژوند اومدني مرکزونو څخه دی اوبایدَ ووایو چې دبغلان اوبلـخ دلارې دپاسه موقعیت یې موقف ورلوړ کړی دی.

دحدود العالم دلیکوال د لنډ او وجیز متن دتول لنډوالي سره چې لرې یې دهغو کسانوله پاره چې له پخواني متن سره اشنائي لري ډیر دقیق او جامع دی ځکه چې په څو لنډوټکو کې جغرافیایي او اقلیمي اوضاع او څرنګوالی یې د تاریخي اثارو له شواهدو عمراني ښیګڼو نباتي پیداوارو سره هلته شرح کوي.

ترکومه ځایه چې تول پوهیږو هغه څه چې سمنګان ته د تاریخي اثارو دشهرت په وجه ور حاصل دی هغه له یوکاني څخه جوړه یوه ستره استوپه ده چې دمحل دخلکو په عرف کې د (توپ رستم) په نوم یې شهرت پیدا کړی دی دې استوپې په خپله خواکې یو معبد هم درلـود چې دیو وړوکي غـره په منځ کې جوړ کړای شـو نوځکه په ظاهره نه څرګندیږي او حال داچې دامعبد پدې وړوکي غـره کې دباختر ډیرو مهمو معابدونوڅخه وۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسمنګانو دکانۍ ستره استوپه ۸۰ متره احاطه لري او دپخوانۍ افغانستان دبودايي عصر دمعماری عجيبه نمونه ده.

په وړوکي غره کې دلويې کيندل شوې مجلل معبد دهليزونه دراهبانو اجتماعي اطاقونه او نور ملحقات يې په مراتبو دکانې له استوپې څخه عجيبه دی او يقيناً چې دابادی په مهال به يې دهيواد له ګاونديو هيوادونو څخه ډير خلك ځانته جلب کړی وي.

دورانو شوو کورونو چې پادونه يې دحدود ا لعالم مولف کړې ده همدغه دمعبد خونې او حجرې دي اوٗ په بل تعبير يې هغې ته بت خانه ويلی ده، بت خانې ته په لغوي معنا کې دبودا کور وايي چې په فارسی ژبه کې يې پورتنی بڼه خپله کړې ده او دبودا کور په حقيقت کې همغه خونې او حجرې دي چې په هرې يوې کې يې يوه يا څو دبودا مجسمې له ختو يا کانۍ تراشل شوی يا جوړې شوي ايښې وي.

په هغه متن کې چې پورته موولیکل دحدود العالم مولف په سمنګان کې د کوشکونواو مجلسونو يادونه هم کړې ده، که چيرته کوشك په عام مفهوم دکور يا قصر کلمه ونيسو نو بيا ويلی شو چې استوپې ته نژدې دوړوکې غره په دننه کې خونې کيندل شوي وي او(مجلسونه) دلته حتماً دزينت ورکولو صحنې او هيکل تراشنې دي چې په رنګه او برجسته توګه دخونو په ديوالونو يې وجودلاړه او هغه خاطرې يې حدودالعالم زمونږ تر غوږونو رارسوي، دحدود العالم مولف وايي چې دهندوانو کره وړه دول دول صورتونه په کوشکونو کښل شوی و دلته مقصد له هندوانو څخه دسمنګان سيمه ايز بودايان دي او دهغو نقش کړی رنګه مجلسونه او په ديوالونو يې رنګه تصويرونه پرته له سمنګان څخه په بامیان، فندقستان، غوربند او دهيواد په ډيرو برخو کې مشهور دی.

دحدود العالم مولف دسمنګانو دانګورو او ميوې تعريف هم کوي او دا تعريف يې دير په څای دی ځکه چې دايبك دخوندورو ميوو لرو دخرم باغونه يې دهيواد په شمالي برخو کې دير مشهور دی.

ترکومه ځايه چې شواهد په لاس راغلي څرګنده ده چې ايبك يا پخوانی سمنګان دخپلو حاصلخيزو غرونو، غونديو او جلګو له لرلو له پخوا زمانوڅخه يعنې چې حجر او غارونو اوسيدلوله دورې راوروسته تل دژوند کولو مرکز پاتې شوی، او هغه دکانې استوپه او دغوندی دننه معبد يې چې نژدې ورته دبودايي دورې ډبرې بقاياوې موجودې دي چې فرانسوي ختيځ پيژندونکی موسيو فوشه په عقيده يې تاريخ ۵ مسيحي پيړۍ ګنلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دايبك دكانې استوپه دبهرنيو نړۍ ګرځيدونکو له نظره ډير ارزښت لري خو لکه څنګه چې ايبك دپل ځمري، تاشقرغان، او مزار شريف په لويه لار واقع دی نو ډير مسافرين قصداً له هغه ځايه عبور او مرور کوي، دتپې دننه دمعبد حفاظت او مراقبت دتاريخي اثارو او توريزم له نظره ډيره او جدي پاملرنه غواړي او دا حيف دی چې نړۍ ګرځيدونکي دسمنګان دتپې دمنځ ابادي ونه ګوري نو بايد ووايو چې داطاقونو او دهليزونو پاکول او په ځينو برخو کې يې دخراغو نصب کول او لارښوونه يې يو لړ زحمتونه او لګښتونه غواړي .

۴۱/۵/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهندوکش تهذیب

هندوکش په افغانستان کې دملا دتير حيثيت لري چې ددنيا له بام پامير څخه شروع اودهيواد په منځ کې له شمال شرق نه جنوب غرب په لور اوږد پروت دی او پدې هيواد کې ډير شمير غرونه که په شمال کې واقع دی او که په جنوب کې تقريبا ددې لويې غره شاخونه او لړۍ ګډل کيږي دهمدغو غرونو لوړوالي د افغانستان طبقات الارض برخوته ارتفاع وربښلې ده او دا غر په خپل ټول اوږدوالي کې دګڼ شمير سيلابي اومستو سيندونو سرچينه ګرځيدلې ده

دهندوکش دغرونو په لړۍ کې دايبك په سيمه کې چې دنومورې غره شمالي برخه ده امريکايي لرغون پيژندونکی دقبل التاريخ متخصص داکتر کارلنتن دقره کمر دسمڅې په اړه يو لړ څيړنې ترسره کړې، هغه وايي چې له ۳۰_ ۵۰ زره کالو دمخه داځای ديو شمير بنکاريانو داوسيدلو ځای و چې دمدنيت تر ټولو پخوانۍ (پاله او لي تيك) دوره او دحيواناتو په بنکار مشغول و دا په غرونو کې دکيندنو دسورو ژوند له ډيرو ابتدائي وسايلو سره چې دچقماق له تيګې څخه به يې جوړول تر ټولو دکانې پخوانۍ يا (پاله اوکاتيك) دوره يې منځ ته راوړلې ده.

دهندوکش دغرونو لړۍ دعلمي شواهدوله مخې او دفولکلوري اسطورو او داستانونو په اساس د پخواني افغانستان داوسيدونکو مرکز او د اوسيدلو ځای و. د اوږستا په دريمه فقره کې ددې غره پخوانی نوم (زمياديشت) او په لسمه_ يوولسمه فقره کې (يسناوي) او د (يوپائي ريسنا) په صورت يا (ايشکته يوپائي ري سنا_ يادشوی چې (دعقاب له الوتنې لوړ) يا (دعقاب دالوتنې له حد څخه لوړ) معنی لري. او دا غر د (اپارسين) نه نوم هم ياد شوی او دا پهلوي تسميه عبارت له همغه اوستائي نوم څخه دی چې يورته مو وليدل او په لړ تحول سره د (اپارسين) په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنه راغلی چې دا له دوه کلمو (اپار) یعنې ماورا او پورته (سین) یعنې (عقاب) څخه مرکب دی چې بیا هم ددې عظیم لوړ والي دعقاب له پرواز یا الوتنې څخه پورته بنیي.

د (اپارسین) غر دیونانیانو په نظر کې چې له سکندر سره افغانستان ته راغلي وو ډیر اسرار لرونکی معلومیده او هغه یې دجهان اخر او منتها باله. دهندوکش موجوده نوم اصلاً د (اندیکس) له کلمې څخه منځ ته راغلی او بیا له هغې څخه (هندیکس) او (هندوکش) جوړ کړ.

دهندوکش دغره لړی له تاریخي پخوانیو اوسیدونکو را پدېخوا دښکلو خلکو داوسیدلو مسکن و. چې هغوی ته باید په اروپائي اصطلاح (هوموالپیوس) یعنې (د غره خلك) ووایو. دوی چې هر خوك و خو ددې غره لومړي اوسیدونکي وو. او وروسته دارپائي قومونو ډلې چې له شمالي برخو د سر دریا او آمو دریا دمنځ له حوزې نه دافغانستان په خاورو کې خپاره شوې ددې غره ددواړو خواو په لمنو کې یې ځای ونیو، هندوکش دارپائي لهجو په شهادت که هغه اریاني و او که هندي دواړه په مخلوط ډول دارپائي قبایلو مقر وګرځید او دا خصوصیت یې حفظ کړ او یا تر اوسه دنورو صافو اریائي امواجو چې ددې عظیم غره په لارو کې دی درك کولای شو.

لکه څرنګه چې دهندوکش دړې ژورې او ورتلل یې ستونزمن ؤ اوهمدارنګه کلا ګاني یې ډیرې لوړې وې نو ځکه یې لږو اوسیدونکو ددوه نیم زره کالو په اوږدو کې له خپلو ځایونو حرکت کړی دی او په ځینو برخو کې ځای په ځای پاتې دی او په عموم ډول یې دژوند کړه وړه دپخوا په څیر محافظه کړی دی.

متاسفانه چې دهندوکش دپخوانیو اوسیدونکو دژوند د مراتبو یعنې اجتماعي، فرهنګي هنري او ادبي څرنګوالی جوتول اسان کار نه دی. خو که چیرته ښه دقت وشي، نو لیدل کیږي چې ددې غره د لړی نیمه شرقي خوا له خنجان څخه تر چترال او پامیر پورې تر اوسه د ژوند یوه ځانګړې صبغه لري.

چې دژوند په پخوانیو کوایفو یې لږه ډیره رنا اچوي.

په خنجان، اندراب، شتل، پنجشیر، سالنګ، سنجن، درنامه، ریزه کوهستان، نجرو، تګاب، لغمان، کټار، نورستان، چترال، سوات، باجوړ، او دپامیر په لمنو کې خلك ژوند کوي چې دهندوکش دپخواني تهذیب وارثین دي. په دې ټوله پراخه ساحه کې او په ځانګړې توګه په شرقي برخو کې یې دمعماری طرز یو شمیر عوامل لري چې لوړوارتفاعاتو او غرنیو برخو کې دواورو په وجه منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی دی، دنورستان دلرګیو کورونه چې له تېرو اولرګیو څخه جوړ شوی دی اوکورونوته یې یو ځانګړی استحکام وربښلی دی هغه تر ډیره حده ددې وروستیو دوزن په وجه جوړ کړای شوی دی او په لرګي کې بنکلا لکه په دروازه ، کړکیو او د کور په نورو لوښواودکار په وسایلو کې چې لیدل کیږي هغه یې دهنر دوستی دروح استازی توب کوي. دنورستان خلك چې دختیځ هندوکش اصلي اوسیدونکي شمیرل کیږي په جمیله فونونوکې لکه موسیقۍ کې یې خاصه علاقه درلوده او لري یې. دخلکو پیژندنې ددې نمارکي پلاوي دځیړنو په اساس (هارپ) چې نن ورځ دنورستانیانو په منځ کې رواج لري د (سومریانو) عصر ددې زره کالو ق م یادونه کوي.دنوموړي پلاوي دتحقیق په اساس نه یوازې دنورستانیانو هارپ دسومریانو تر دورې رسیږي بلکې اهنګونه چې نن ورځ یې نر سره کوي هم همغه تاریخي سابقه لري.

لکه څنګه چې دنورستان خلك له نځا ،اتڼ او دنځا له ډولو او ورزش سره علاقه لري دهندوکش ددې یرو درو خلك هم له دې ادابو او رسوماتو سره یو شان وۍ، دنوموړي غړه په ځینو برخو کې دپخوانیو ادابو دلړیدلو علت دښکته درو دخلکو سره تماس دی چې له باندې څخه افغانستان ته راغلی دی.

دهندوکش خلکو حتماً ځانګړی لباس، وسله، دموسیقۍ الات ، بنکار، ګانې، مفروشات، موبل، اثاثیه او دطبخ ډولونه درلودل چې شواهد یې لږ و ډیر دپنجشیر په دره ،نجراو، تګاب او دنورستان په درو کې لیدل کیږي او هر یو یې ځانګړې څرګندونه لري چې دهندوکش اوسیدونکو خپل مدنیت ، فرهنګ او دژوند ځانګړي روش درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوانی نورستان دقانون له نظره

دختیځ هندوکش په سویلي لمنو کې دکابل شمال غرب او دجلال اباد شمالي برخو کې دپنجشیر اوکونړ دسیندونو ترمنځ اودهندوکش او تور غره په لمنو کې شمال او سویل لوري ته یو شمیر کږې وږې دري او یو لړ سخت اوله ځنګل نه ډکې څوکې دي چې ګرځېدل راګرځېدل پرې ډیر ګران دی چې نن ورځ دعاموپه ژبه یې نورستان بولي چې داسیمه ۸۰ کاله دمخه دکافرستان په نوم یادیده. ددې سیمې ختیځو برخو ته یې (بلور) او غربي برخو ته یې (کټار) وایه اودا تقسیمات اوس دلغمان نورستان او داسمار نوړستان او یا هم دلویدیځ او ختیځ نورستان په نومونوبیلولی شو.

نورستان په عام جغرافیائي مفهوم دختیځ هندوکش سویلي لمنې په برکې نیسي او دا یواځنی علاقه ده چې دهندوکش محلي تمدن او فرهنګ پکې تر ډیره مصئون دی او لاس پکې ندی وهل شوی.

نورستان دغرنی اقلیم په لرلو تقریبا دتاریخ په ټولو دورو کې سرپټي او پرځنډه پاتې شواو دا همداسې ژوند یې ددې سبب شو چې عرف ، عادتونه او پخوانی عقیدې تر ډیره وخته په پخوانی بڼه هلته دوام وکړ.

دنورستانیانو دا توکم په اړه د پوهانو رایې توپیر مګر وروسته دخلکو پیژنې دنمارکي پلاوی له ځیړنو څخه ثابته شوه چې هغه وکړي چې شنې سترګې او

خرمائي ويښتان لري او همدارنګه سپين پوستکی لوړه ونه او باريك اندم لري .
دادهندوکش اصلي اوسيدونکي دي او ددې سيمې غرني اريايان شميرل کيږي.

نورستانيانو په لرغونو دورو کې ځانګړې عقيدي او قوانين درلودل چې اصلا مبدا او اساس يې بايد د (هندواروپائي) په لومړی کتلې معتقداتو او (هندو اريائي) کې ولټوو. له احتمال نه ليرې نه ده چې نورستانيانو دخپل ژوند په لومړيو مراتبو کې اقلا لکه د (ويدي دعصر اريايانو په څير دځانګړو خدايانو مجموعه درلوده چې تر ډيره حده له طبيعي عناصرو څخه ترکيب شوې وه، تر دې پورې چې داوستائي دور اصلاحانو او تحولاتو زوراستري خداوندي وحدانيت مروج شو

له سلو کالو را په دې خوا دنورستانيانو دمذهبي عقايدو دتحقيقاتو په اثر داسې څرګنديږي چې دادهندوکش غرنی کتله وګړي ديوه واحد خدای معتقد وۀ. چې هغه به يې د(امرا) په نوم يادواوه، انګريز الفنستون ليکي :

"دکافرانو دين له هيڅ دين سره ورته والی نلری دوی دواحد خدای په وجود اعتقاد درلود او هغه يې د (امرا) يا تسوکوي دګوري په نوم يادواوه او ډير شمير يې دبوتانو او پخوانيو پهلوانانو چې دهغې زمانې استازيتوب يې کاوه ستاينه کوله.

بوتان کانې يا لرګی دې چې مذکر او مونث لري او مجرد به پرې سپور او نمايش به يې ورکاوه.

جنرال کوړتد "الفنستن" يادونې لکه څنګه چې مو ولوستل تائيدوي او دهغوی خدای د (ريمرا) يا (يامري) په نوم يادوي.

يو تن فرانسوي پوه موسيو پول لوری کوثو داسيائي اسطورو په مقالو کې يوه مقاله (دکافرانو اسطوري) ترسر ليك لاندې دپخوانيو استانيانو په عقايدو ليکلي چې په هغې کې دلائدې ليکوالو دنظرياتو شرح ورکوي.

ترکومه ځايه چې ما په خپله په نورستان کې له نورستانيانو څخه اوريدلي او يا مې په کابل کې له نورستانيانو معلومات ترلاسه کړي دامسئله محققه ده چې نورستانيانو په خپلو پخوانيو عقايدو کې دعالم څښتن او دکائناتو خالق د (امرا) په نوم يادواوه او په خپله ژبه او اصطلاح يې هغه (سکوك ميوك امرا) يعنې طلامخي خدای باله او هغه يې لکه ديو انسان دصورت په بڼه مګر فوق العاده لوی تصور کاوه او تر کومه ځايه چې د ختيځ پيژندونکو او دسيمې دخلکو له وينا ووڅخه څرګنديږي وروسته له يوې مرحلې څخه دخدای وحدانيت ته قائل و.
البته دژوند په لومړيو مراحلو کې چې دخدايانو ډولونو ته يې عقيده درلوده نو

دجنګ او پهلوانۍ ځانګړي خدای يې ډير شهرت درلود. مګر د ژوند په تحول سر (امرا)ياواحدتوانا خدای دهغوی په معتقداتوکې ځای نيولی و ډيرو د خدايانوډولونواوپه ځانګړي توګه دجنګ خدای په وړوکي صفت ميدان ته شو.

دنورستان په معتقداتو کې مطالعه يوه ستونزمنه موضوع ده او دکاربنه يې ډير په دې ناحيه کې ده چې داخلک يه خپله ژبه کې ليکلي اثار او کتاب نه لري او دتيرو وختونو له افواهاتو پرته نور څه نلري داريان په مجله کې ديو کتاب په تحشيه او چاپ مشغول يم چې درويش محمد خان غازي (جنګ نامه) يا (صفت نامه) په نوم يادېږي چې دا اثر ۴۰۰ کاله پخوادحکيم مرزا چې دظهير الدين محمد بابر لمسی و، ليکل شوی دی ليکوال د (کټار) نورستانيانو يادپخواني نورستان چې دلغمان دعلينګار او اليشنګ په درو کې ژوند کاوه او پخواني کافران ګڼل کيدل چې د تثليثي نسبت ورکړی شوی دی، د (پاندا) (شروي) او (لامانده) په نومونو هغه جنګونه چې دمسلمانانو او کافرانو ترمنځ واقع شوی دی، کفارو له دې درې تنو معاونت او مرسته غوښتې ده خو دعبارت له متن څخه سهي نه څرګندېږي چې دې درې تنو دپخواني نورستان د کټار په معتقداتو کې څه مقام او مفهوم درلود.

پدې کې شک نشته چې دعظيم الجثه غرنيو پهلوانانو روح يې لکه يوناني (هرکول) يا رستم ددوی په افکارو او تخيلاتو کې ډير دخيل و.

لويه نظريه يې دې مفکورې ته تقويت ورکوي (ګيش) ته يې اعتقاد کول دي چې حتما په لرغونو زمانو کې يې جنګي او ځواکمن کسان وو. او ورو ورو يې دکارنامو لويولودتصوراتو په عالم کې دبشر له حدوداتو ور هغه پلو مقام ورکړی دی.

دنورستان يو شمير خلکو (ګيش) دجنګ ځانګړي خدای دويدي عصر له (اندار) سره تشبيه او تصور کاوه. او داسې فکر يې کاوه چې ديوقوي او توانا پهلوان په دود يې ليندی په غاړه په سختو درو او د غرونو په څوکو ګردځېده

پاتې دې نه وي چې يونانيانو لومړی ځل دافغانستان غرونو ته تمايل ونيو نو دهندوکش په غره کې يې ديو قوي هيکل پهلوان وجود ته اشاره کړې ده چې دغرونو د لوکل په حيث يې يو ډول د (هندوکش هرکول) بڼه ځانته خپله کړې وه، ځيني نورستاني سپين ږيری معتقد دی. چې پخوانی زمانه کې دنورستاني قبايلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ جګړه پیښیده . (ګیش) یې هغه مهال په (کتوي) او (کانتوا) کې لیدلی و چې تل دجنګیالانو په وړاندې مخکښ و

دنورستان په کلیو کې په عموم ډول (امرا) او (ګیش) جلوه ګاه یا نظر ګاه یا (ذبح) درلوده چې د (امره تا) او (ګیشه تا) په نومونو یادیدلو د (امرا) له پاره یې معمولا غوا او ډګیش له پاره یې سپرلي قرباني کاوه. دجګړې په غنیمتونو کې به یې نر حیوانات د ګیش له پاره قرباني کول او بنځې حیواناتي به یې په خپل منځ کې ویشلي.

پخوانیو نورستانیانو دلرګي دهیکلونو اومجسمو د جوړولو عادت درلود پدې مجسمو کې یې ډیر دپهلوانانو او دکورنیو دمشرانو که به هغه نارینه و او که بنځینه دنمایش له پاره جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تور پوشان نورستاني او امير تيمور کورګان

دهندوکش دغره لړۍ چې دافغانستان دملاتير هم ورته ويلی شو له هغو لوړو څوکو سره چې جګوالی يې ۷۰۰۰ مترو ته رسيږي ډيرې مستې تراوتازه دري هم لري چې دخلکو په تمدن او فرهنګ کې يې دافغانستان دسيمه ايزو خلکو لاس وهنه ندی شوی او صاف ساتل شوی دی. ددې غره لمر خاته پلو ته سويلي په لمنو کې يوه علاقه لرو چې نن ورځ ورته په عمومي توګه (نورستان) وايو او دمخه تر ۱۹۰۰ کالو ورته (کفرستان) يا (کافرستان) ويل کيده همدا کافرستان په لمر خاته پلو ته د (بلور) او لمر پريواته خواته د (کټار) په نوم يادیده. پدې دواړو نومونو کې وروستی نوم يعنې (کټار) په ادبي او تاريخي ماخذونو کې ډير شهرت لري.

کټار دجغرافيائي جوړښت له مخې دپنجشير ددرې په پورتنۍ برخه همدا راز دفرچ غان او علينګار ددرې پورتنۍ برخې تشکيلوي دا داسې منطقه ده چې شمال پلو ته يې دمنجان کوتل لمر پريواته خواته يې خاواك او پريان سويل لور ته يې دعليشنګ پورتنۍ برخې او لمر خاته خوا يې دعلينګار درې پورتنيو برخو احاطه کړي دي. دا علاقې دګرځيدلو په لحاظ ډيرې ستونزمنې دي ځکه چې له څلورو خواوو نه لوړو او سختو غرونو احاطه کړی دی چې خلك يې په داسې يوځای کې ايسار ساتل شوي دي چې تر نن ورځې پورې ددې سيمې او ددې سيمې دخلکو په اړه سهي معلومات په لاس کې نشته، پدې کې شك نشته چې دخاواك له خوا او

همدا راز دپريان، عليشنګ، او علينګار له خوا لاړ ور غلي دي خو دا لاړ دکال په ډير وخت کې ددې ډيرو واورو په وجه بند وي او په عموم ډول دسيمې له خلکو پرته او هغه هم داوړې په موسم کې نور څوك هلته ورتللى نشي.

ټول پدې پوهيږو چې دنورستان خلکو که هغه لمر خاته خواته وي او که لمر پريواته خواته او همدا راز که شمال لور ته وي او که سويل لوري ته ټولو پوستکي اغوستل. دغربي نورستان يعنې دکټار خلك هم له دې قانون نه مستثنا نه ؤ بلکې دپوستکي اغوستل پکې ډير دود ؤ او لکه څنګه چې دهغو خلکو پسونه ډير تور رنګ لري او دپسه توري وړې له باندې ډيرې توري ښکاري نو ځکه دوی په (سياه پوش) ښهرت پيدا کړى ؤ. پدې کې شك نشته چې دجامې له مخې توپير کول په ترکانو کې هم دودؤ لکه چې (آقوقورلو) او (قره قوزلو) ددې نظريې ډيره پلوي کوي.

اګر چې له دې سره سره د اوسني نورستان او پخواني کافرستان خلك په جنګ جګړو کې مشهور ؤ او دي مګر دکټار سياپوشان نسبت دنورستان دنورو برخو اوسيدونکو ته ډير زړه ور او جګړه مار ؤ او داصفت يې له ډيرې پخوا زمانې څخه حفظ کړى دى.

اګر چې دنورستان په اړه تاريخي کتابونه او ماخذونه په لاس نلرو خو هغه چې په لاس لرو داسې څرګندوي چې پرته له سلطان محمود غزنوي اوامير تيمور کورګان نه نور څوك نورستان او په ځانګړي توګه کټار ته داخل شوى ندى دالسعدين صحن دمسطلح ويانډ د (کټار) دسياه پوشانو مقابله له امير تيمور کورګان سره په يوه شرح کې ديوه بيت په وينا دسياه پوشانو ټول شجاعت او دځمکې سختي بيانوي.

زشاهان کسی فتح کتور نکرد
چه گويم ز دارسکندر نکرد

له دې بيت څخه چې ادبي اړخ لري داسې استنباط کيږي چې حتى داريوش او سکندر دنورستان په فتح بريالى شوى ندى چې داوينا حقيقت لري او د هيواد د پراختيا په اړه يې ونشوکړاى چې نورستان ته داخل شي هو سلطان محمود غزنوي او سبکتګين وشو کولاى چې يواځې لغمان تابع کړي او کټار ته تللى نه شوو. له تاريخي ماخذونو چې څرګنديږي يواځې لغمانيان تابع وه اودهندوکش له شمالي برخو دنورستان له داخل څخه هيڅ خبر نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دامیر تیمور دلښکر او پخپله دده ورتلل دنورستان کتار ته شرح لري او دا مطلع السعدین د (ذکر غزو کتاروسیاه پوشان) تړ سر لیك لاندې یو لړ مطالب لیکلي دي چې له عین نقل نه یې تیریږو او دمطالبو له روح نه یې یادونه کوؤ. امیر تیمور په بلخ کې دپاچاهۍ تر اعلان ۸ کاله وروسته په ۸۰۰ هجري کې له ماورالنهر نه دواکمنۍ دپراختیا په خاطر دهندوستان په لور وخوځیده کله چې دجیحون له سیند نه راتیر شو بلخ، سمنګان (ایبك) او بیا بغلان ته ورسید، کله چې اندراب ته ورسید دسیمې خلکو د (کتار) دسیاه پوشانو دتجاوزاتو په اړه شکایت وکړ.

داندراب دپورتنۍ برخې اوسیدونکي چې د (خاواك) او (پریان) کوتل تن نژدی اوهلته د (کتار) سیاه پوشان اوسیدل او داندراب اوسیدونکي دهغوی له ناڅاپي حملو نه ډیر په وبره کې و داوخت د (کتار) یعنې سیاه پوشانو کافر و داندراب ددرې مسلمانانو ډیر سخت په تکلیف کړی و او هر وخت به یې حملې کولې. رمې، ګلي او غوایان به یې تړې بیول او باج به یې هم تړې غوښته او حتی میرمنې او ماشومان به یې ترینه داسارت په دود بیول. د (کتار) د خلکو لوړ قدونه ،قوي اندامونه او درشتې څیرې چې لیندۍ به هم ورسره وې او دپوستکي جامې به یې په تن وې داندراب د خلکو په نظر کې عجیبه مخلوق په نظر بریښیده. اولکه څنګه چې السعدین لیکي هغوی یې انسانان نه بلکې دیوان بلل، ځکه چې له دې قوي اندامونو لیندۍ او د پوستکو له البسې سره لکه ددیوانو په څیر سر سخت په خپلې عجیبې غریبې وسلې قوی جثت راتلل او د سیمې خلك به ترې سخت ویریدل. لکه څنګه چې دهغو سیمه سخته او غرنۍ وه نو ځکه هیڅ چا داجرئت نه درلودترڅو دهغوی دکورونو خوا ته ورشي.

لکه څنګه چې امیر تیمور کورګان د (کتار) دکفارو له حال واحوال کردار او ګفتار څخه اګاهي تر لاسه کړه نو دخاواك په کوټل کې یې دکلا دجوړولو امر وکړاو بیا یې دخپلو عسکرو څو ډلو ته کتار علاقې ته دورداخلیدلو امر وکړ.ددې لښکر د نورستان کتار ته د حرکت جزئیات روښانه ندی، خو داسې وایې چې اکثروخلکو خپل اسونه له کمرونو نه درې ته درسیو په واسطه ښکته کول او لکه څنګه دسرطان میاشت وه او دکال توده موسم و بیا هم اسونه د ورځې له خوا په واوره کې خښیدل نو ځکه یې دشپې په یخنۍ کې له یوځای نه بل ځای ته حرکت کاوه او پدې لښکر کې امیر تیمور کورګان هم شامل و او کله چې دهغه قوماندانانو په سهې ډول وړاندې تګ او عملیات ترسره کولای نشو. نو خپله یې شخصاً دجنګ

قوماندہ په لاس کې واخسته څو اسپ سوارانو دهغه اسونه له کمرونو څخه داسپو په واسطه ښکته کړل چې څو اسپې پکې بې وخته لنګې هم شوې ددې منطقې تر ټولو لوی کافر السعدین دعداو عداسو په لقب یادوي چې حتماً اصلاً کومه نورستانۍ کلمه ده چې په فارسي لیك دود کې یې پوهیدل ستونزمن دی لکه څنګه چې په مطلع السعدین کې راغلی دی چې وروسته تر یو لړ سختو جګړو یو شمیر سیاه پوشان په غرونو کې تر شاشول او یوشمیر امیر تیمور ته راغلل او امیر تیمور دیوشمیر ترجمانانو په واسطه داسلام ددین ښودنه ورته وکړه او ډیر شمیر یې مسلمانان شول خوکله چې دوباره غرونو ته وختل مرتد شول او دتیمور په عسکرو یې یرغلونه پیل کړل چې په دې ترتیب دسیاه پوشانو او امیر تیمور د عسکرو ترمنځ سختې جګړې پیښې شوې او لکه څنګه چې په پورتۍ ماخذ کې راغلی دی دکافرانو ډیر زړور جنګیالي ووژل شول او تیمور یې له ککرو څخه منار جوړ کړ اود خپلو فتوحاتو او کامیابۍ خاطرې یې په کانو کې په کیندلو ولیکلې.

نو پدې وجه ۸۰۰ هجري قمري کال دنورستان د (کټار) په تاریخچه کې ډیر مهم کال دی ځکه چې پدې کال کې دلومړي ځل لپاره دهیواد د پراختیا له پاره تیمور نورستان ته ورغلي دي او له سیاه پوشانو سره یې جګړې ترسره کړي دي.

تر کومه ځایه چې وروستۍ پیښې څرګندوي هغه محال چې دکټار سیاه پوشان او دهغوی سیمه فتح شوه اومسلمانان شول خو کله چې امیر تیمور راوګرځید هغوی هم خپل پخواني دین ته واوختل او محمد حکیم میرزا دبابر لمسی چې دعلیشنګ ددرې په پورتنۍ برخه کې جګړې وکړې پدې بریالي نشو چې د (کټار) وګړي مسلمان کړي تر دې پورې چې دا کار دامیر عبدالرحمان خان غازي په لاس صورت ونیو.

۴۱_۸_۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپخواني نورستان دخلکو
دخدايانو ډولونه

دهندوکش دغره لړۍ چې له شمال ختيځ نه جنوب لويديځ ته تقريباً دافغانستان له منځ نه تيريږي نۀ يواځې داچې دکانې يوه لوړه کرښه ده بلکې زمونږ دهيواد دملا دتير حيثيت لري بلکې لوړې څوکې اوتاوراتاو دري يې دپخوانيو وختونومحافظين په غير کې نيولي چې زمونږ اصلي خاطرې، کلتوري فرهنګي او تهذيبي برخې تشکيلوي.

ددې لړۍ په جنوب ختيځه برخه کې شمال ته موازي دلوړو غرونو په برخه کې ننګرهار او دکونړ شمال لور ته سيند په اوږدو يوه غرنۍ برخه واقع ده چې تېرې (اتېرېدل ډيرې ستونزې لري او سخت ځنګل هم لري دامنطقې ته ننورځ نورستان وائي چې ۸۵ کاله دمخه يې نوم (کافرستان) وۀ چې دا وروستۍ تسيمه ۴_۵ پيړۍ دمخه هم دمدارکو په شهادت استعماليدله ددې پراخې غرنۍ سيمې ختيځ لور نه يې (بلور) اولويديځو برخو ته يې (کتار) وايه چې نن ورځ دا دوه برخې دنژديوالي او اداري ويش له مخې د (اسمار نورستان) او د (لغمان نورستان) او يا هم ختيځ او لويديځ نورستان بللی شو.

نورستان چې په عام جغرافيائي مفهوم دختيځ هندوکش سويلي لمنې په برکې نيسي داسيمه دغرنۍ اقليم دلرلو په وجه دګرځيدلو ډيرې ستونزې لري او تقريباً د تاريخ په ټولو دورو کې پرځنډه او سر پتې پاتې شوي ده.، له لويو لارو نه کناره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدل یې همدا سبب شوی دی چې عرف عادتونه او پخواني عقاید له فرهنګي تهذیبي او ادبي مظاهرو سره په لومړي پخواني صورت یاښه پرته له دې چې لاس پکې وهل شوی دی محافظه شي.

ننني نورستانیان اودهندوکش پخواني کافران داریایانو بقایاوي دي چې په خپل اصلي وطن کې پاتې دي او لکه دیو شمیر نورو قبایلو په څیر یې له مهاجرت نه خود داري کړې ده. نورستانیانو په لرغونو دورو کې معتقدات او دخدایانو ډولونه درلودل چې په اصل مبدا کې له هندو اروپائي د هند آریائي ټولنو سره بې ارتباطه نه وه او لکه دویدي دعصر آریایانو په څیر دخدایانو ډولونه یې درلودل چې په هغې کې طبیعي عناصر عمده نقش درلود او وروسته د زرواسټر (زردشت) اصلاحاتو اوتحولاتوچې دوحدانیت روح یې منځ ته راوړو دهغوی په عقایدو کې یې تاثیر پاتې نشو.

دهغو څیړنو له مخې چې له یوې پیړۍ راپدې خوا منځ ته راغلي داسې شمیرل کیږي چې په عین وخت کې چې دهندوکش پخوانیوکافرانو دخدایانو ډولونه درلودل نو دواحد او لوی خدای وحدانیت ته هم رسیدلی وۀ. دې لوی خدای ته به یې امرا وایه.

کله چې الفستن دشاه شجاع دواکمنۍ په وخت افغانستان کې تماس پیداکړ پدې یې عقیده درلوده چې (داکافران له هیڅ دین سره ورته والی نلري او یواځې واحد خدای ته معتقد دي او هغه (امرا) یا سوکوي او یا هم(کوري) نوموی ددې یرو بتانو کلي چې دپخوانیو پهلوانانو استازیتوب کوي هغوی ته عبادت کوي. دا بُتان دلرګي اویادکانې دي. او مذکر او مونث لري همدا راز په مجرده توګه په خره سپاره نمایش ورکوي. یو شمیر نور اروپائي لیکوال لکه جنرال کورت انګریز دالفستن نظریات تائیدوي او دکافرانو لوي خدای یې (امرا) یا (یامري) یادکړی دی.

یو فرانسوي مولف داسیا داسطورو په کتاب کې دنورستان په پخوانیو عقایدو یوه مقاله خپره کړې ده چې لندیز یې همغه مطالب دي چې پورته شرح شول.

کوم څه چې مې پورته وویل ما پخپله په نورستانیانو دمسافرتونو او په کابل کې له نورستانیانو سره دتماس په ترڅ کې اوریدلي دي او د نورستان کتاب چې یو تن نورستاني جنرال محمد صفر غرزي وکیل په خپله لیکلی نوځکه ښه او ثقه معلومات راکولی شي.

هغه څه چې څرګند دی دادی چې پخوانیو کافرانو دعالم څښتن او دکائناتو خالق د (امرا) په نوم یاداوه او دهغو په خپله عامیانه ژبه یې (سور میوک امرا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعني (دخولې په څير مخ لرونکی امرا) باله او هغه يې انسان په بڼه او صورت مګر فوق العاده لوی فکر کاوه.

دجنګ ځانګړی خدای يې دپخوانيو کافرانو دخدايانو په ډولونو کې مجهول نه و او هغه ته به يې (ګيش) ويلز داګيش داندرا يعنې دويدي اريايانودجنګ دځانګړي خدای معادل و اودفوق العاده پهلواني کارونو د سرته رسولوپه وجه هغه له يوناني(هرکول)اويازابلي رستم سره مقايسه کوو.

(امرا) او (ګيش) دپخوانيو کافرانو دخدايانو ددډولونو په منځ کې ډير مهم نقش درلود او دهغوی له پاره يې دغرونو په لمنو کې دقربانی ځايونه او زيارتونه جوړ کړي وو چې د (امره تا) او (ګيشه تا) په نومونو يادیدل دامرا له پاره يې غوا او دګيش له پاره يې سپرلی قرباني کاوه دمحمد درويش خان غازي په جنګ نامه نومې کتاب کې چې دځلورو سوه کالو شا وخوا کې دمحمد حکيم ميرزا دبابر دلمسي په زمانه کې دلغمان په عليشنګ دره کې ليکل شوی په کراتو مراتو يې له دري تنو مفسدانو چې (پانداد) او (لاماندي) نومیدل ددري ډلو په بڼه ياد شوی او دعليشنګ دري دپورتنی برخې کافرانو له مسلمانانو سره په جګړو کې له دې دري تنو مرسته غوښتله دکتاب دعباراتو له فحوا نه واضح معلوميږي چې نومورې دري تنه دپخوانيو نورستانيانو په ذهنونو کې حتی څلور سوه يا پنځه سوه کاله دمخه هم مقدس مقام درلود.

لنډه داچې کافرانو دنورستانيانو نيکونو دهندوکش دنورو اريائي کتل و په ډول او د نورو اريائي قبايلو په څير په اصل مبدا کې دخدايانو ډولونه درلودل او داوستائي عصر په تحولاتو سره (امرا) لوړ او عالي مقام پيداکړی دی. اودهمدغې برتری انعکاس دواحد خدای په بڼه په عقايدو کې لازه وموندله او ډير دخدايانو ډولونه لکه دجنګ ځانګړی خدای او نور دپهلوانانو په بڼه په اسطورو کې راغلل،او په منځنی پيړۍ کې دفکري روش په ښکته راتللو سره دغرونو په څوکو او ددرو په منځ کې ځانته کيدلو سره يو لړ بې نظمي منځ ته راغله او په عقايدو کې يې دري برخې وزيږولې چې انعکاس يې عقلاً دلغمان په نورستان کې څلور يا پنځه پيړۍ دمخه ګورو.

۴۱_۸_۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګرهار اوځيني پخواني ښارونه يې

افغانستان دجغرافيائي موقعيت له مخې په داسې يوه ځلور لارې کې واقع شوی دی چې له پخوا زمانو راهيسې يې داحساس خاصيت ساتلی دی، له دې سره چې ددې محاصري او مدنيت لرونکې ځلور لارې تاريخ ډير پټ او سر بسته پاتې شوی دی خويو څه چې پخوانې سوابق او ارزښت يې ثابتوي هغه يې د وجود نوم ياتاريخي اوجغرافيائي نوم او ننښان دی چې دا نومونه ټول له غرونو نيولی بيا تر رودونو او ښارونو پورې جغرافيايي اوتاريخي کوايف وخت په وخت معرفي کوي، او د (ويد) او (اوستا) له دورو څخه نيولی تر يوناني، بودايي ، کوشاني او داسلامي دورو په مختلفو وختونوکې يې خاطرې او دنومونو په قالب کې نوم او ننښان پريښودی دی.

دافغانستان په ختيزه برخه کې دکابل سيند له سر چينې نه نيولې تر هغه ځايه چې سيند لوی سيند ته ور داخليږي داسې منطقه پرته ده چې له ويدي دورو وروسته دتاريخ په مختلفو دورو کې د (ګندهارا) په نوم يادږي.

دګندهارا په زړه کې يوه بله سيمه ده چې هغې ته ننګرهار وايي او ننګرهار اوس هم دافغانستان ولايت دی.

دننګرهار کلمه په پخوانيو ماخذونو کې دمخه تر اسلامه دلومړي ځل لپاره د (ناکاراهار) په بڼه ليدل شوی.

دوه تنه چينائي ليدونکي فاهبين او هيوان تسنګ دخپلو خبرو په ترڅ کې د (ناګاراهوا) ديوه بنار يادونه د (ناکي لوهو) په نوم کوي.

پدې کې شك نشته چې هيوان تسنګ چيني ليدونکی دعين مواصلت په مهال دهډې اواوسني جلال آباد سيمې ته چې د (ناکار) يا (نګر) په نوم يې يادونه کوي دهغه نه ويناو څخه داسې معلوميږي چې (ناګار) يا (نګر) او يا (نګاراهارا) يوه سيمه او يا هم (نګره هاره) يې مرکز اويا کوم عمده بنار وۀ. هيوان تسنګ د (نګر) دسيمې پراخوالی داسې رابنيې اوږدوالی له ختيځ نه لويديځ ته ۶۰۰ لی اوسور يې له شمال نه سويل لور ته ۲۵۰ لی چې دميل په حساب يې طول ۱۲۰ ميله او عرض يې نږدې ۵۰ ميله کيده.

چينائي ليدونکی له دې پرته ليکي چې ددې سيمې چارچاپيره سختو غرونو احاطه کړی دی. او پايتخت يې ۲۰ لی يعنې ۵ يا ۶ ميله پراخوالی درلود، پاچا هلته وجود نلري ځکه چې داسيمه دکاپيسا مربوط دي، حبوبات او دا نه ډير حاصل ورکوي، هوايي توده او اوسيدونکی يې زړور، خوش خلقه اونسبتاً شتمن دی دخلکو ډيره برخه يې بودايي دی او دنورو ډيرو اديانو پلويان هلته لږ دی، معابدونه او بودايي ابادی په کې ډيرې دي او پيروان يې هم ډير دی، له بودايي معابدونو پرته دنورو معابدونو شميره هم سلو ته رسيږي.

پدې کې شك نشته چې دهيوان تسنګ د (ناګار) يا (نګر) دعلاقې له يادونې څخه مطلب همغه د (ننګر) علاقه ده چې د (هار) دکلمې په ډير والي سره چې د (بنار) معنا ورکوي مرکز ته يې (نګاراهارا) يا (نګرهار) وايه چې وروسته دخلکو په ذهنونو کې د (ننګرهار) په بڼه ثبت شوی دی که چيرته فولکلوري کيسو ته چې دکونړ په دره او چغه سرای کې تر اوسه دخلکو له خاطرو وتلی ندی غوږ ونيول شي نو ليدل کيږي چې شاهي د (ننګرشاه) په صفت يعنې د(ننګر) دسيمې شاه تراوسه دخلکوپه خوله دي.

نوويلی شو چې دننګر تسميه له تاريخي ماخذونو څخه فرهنګ ته ورداخل شوی اوعامه فرهنګ ته ديوې کلمې ورداخليدل خامخا ډير استحکام او ژوره معنا لري.

د (ننګر) مرکز داسې يو بنار وۀ چې هغې ته يې (ننګر) يا (ننګرهار) وايه (ننګرهار) د (ننګرشار) معادل دی، دننګرهار مرکز يو معظم بنار وۀ او لويه ساخه يې درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننګرهار دمشهورو بنارونو له جملې څخه یو هم (هډه) ده چې چینائي لیدونکي داوومې پیړۍ په لومړۍ نیمائي کې د (نارهیلو) په نوم یاد کړی دی کننګهم انګلیس پدې خیال دی چې دهډې موجوده نوم دسانسکرت له کلمې هډه چې دهډوکې په معنا ده اخستل شوی ځکه چې د بودا یو هډوکی دهغه بنار په یوه استوپه کې ساتل شوی وۀ.

دننګرهار په علاقه کې نور بنارونه هم اباد وۀ له هغې جملې څخه یو د (اویاناپور) په نوم یا صفت یاد شوی دی. چې هغه دباغستان بنار ترجمه کوي همدا راز په پخوانیو ماخذونو یوبل بنار د (تاکي) په نوم هم یاد شوی چې هغه یو شمیر مدققین په شیله (ناقي) کې چې لږ څه دجلال ا باد لویدیځ لور ته رانبیي،همدې بنار یوبل نوم هم درلود لکه (پاوماپور) چې هغه یې (دنیلو فردګل بنار) ترجمه کړی او لکه څنګه چې دنیلو فر ګل په بودایي دین او فرهنګ کې دتقدس بڼه درلوده نو ویلای شو چې په بودایي دوره کې نومورې بنار یو متبرك بنار و. همدا بنار په چیني ماخذونو کې د (ګل په بنار) یاد شوی چې دچیني تلفظ دضبط صورت یې (هوا ـ شي ـ شنګ) وۀ همدا راز دګل بنار او دنیلو فرګل بنار حتماً داسې صفات وۀ چې همغه بنار ته یې اطلاق کیده.

په بودایي ماخذونو کې په ننګرهار کې یو بل بنار د (ویپانکارابودا) په نوم یاد شوی او هغې ته یې (ري پاواتي) هم ویلی دی چې معنایې (شعله) او (نور) دی.

ددې لنډې مطالعې نه په څرګنده ویلی شو چې د (ننګر) علاقه چې دافغانستان دختیځ ولایت ننګرهار مرکز دی او پدې نوم شهرت لري داسې سیمه وه چې په هغې کې ډیر بنارونه اباد وۀ اوهر بنار دابادۍ عمراني کارو بودایي مرکزونو، استوپو او معابدو نو ددرلودلو په وجه ډیر شهرت درلود او هر یو په صفا اوښکلو صفاتو یادیده په ډرونټه، سلطان پور ، هډه ټول سرخ رود او چپلیار کې ددې ډیرو حرابو استوپو او معابدونو بقایاوې ددې ادعا ښکاره ثبوت دی.

۲۱_۵_۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چغان غونډی

دکابل شمال ختیځ لورته دشمال په خوا، دجلال اباد شمال ختیځ ته داوسني افغانستان له تحمیل شوي سرحدي خط سره په موازي ډول اوږده دره پرته ده چې معمولاً په (کترا) مشهوره ده او اوبو ته یې دکنړ سیند وائي چې په پورتنۍ برخه کې دچترال په رود مشهور دی اوتر هغې پورته یې خله سرچینه ده چې عبارت له حومه د (یردغبل کوتل) څخه عبارت وي چې دکاشغر درود په نوم هم یادیږي دکونړ سیند د مرستیالان دهغې نه نسی ارخه دافغانستان له خوري نه یو ځای کیږي چې دنورستان له علاقې نه سرچینه ئیسي اومشهور یې (لنډی سیند) او دایچ وبه) دې چې دسلابي سیندونو په صورت په درو کې تاوپیچ سره دختیځ هندوکش په سوېلي لمنو کې رابکته کیږي اوله دې سره سره دنورستان دپورتنۍ برخې همدغه دوه لارې دي چې اوس او په پخوانیو وختونو کې دنورستان له اسرارونودك زړه ته لاري ورغلي دي

لکه څنګه چې دکنړ دره اوږده پرته ده دطبیعي اوضاع له مخې یې په دري برخو ویشي: بنکتنۍ، منځنۍ او پورتنۍ برخه چې په عامه اصطلاح ورته (کوز کونړ) (خاص کونړ) او (بر کونړ) وایي او عمومي مرکز یې د اسعدآباد (چغه سرای) په نوم یادیږي چې دکونړ ددري او پیچ ددري دتقاطع په برخه کې واقع شوی دی او دا دکنړلوی حکومتی مرکز دی.

دمخه مو وویل چې دکونړ مرستیالان یو (لنډی سیند) او بل دپیچ دري اوبه دې دپیچ دره تر تولو لویه فرعي دره ده چې دچغه سرای په مقابل کې دکونړ ددري په

وسطي برخه کې دنورستان دزړه (منځ) په لور تړي لاړه خلاصه شوې ده هغه انشعاب چې په خپل منځ کې يې لري څو خواوو ته لکه لغمان او مربوطو درو ته يې او د نورستان اکثر پورتنيو برخو ته تړي لاړې وتلي دي.

له دې جغرافيايي شرح نه مقصد دهغې نقطې دموقعيت اهميت په ګوته کول دي چې معمولاً دچغان د غونډۍ په نوم يادېږي او محمد ظهيرالدين بابرپه خپل تزک کې هغه د(چغانيان سراى) (چغان سراى) په نوم ياد کړی او دچغه سراى په اوسني نوم کې يې مخفف صورت راغلى دى.

دپيچ ددرې په داخل کې ددرې دواړو خواوو ته دغره په پوزو کې او په ډيرو چې خواته پوزو کې چې ډيرې دکونړ په دره هم حاکې دى داوسني حکومتي ځاى چغه سراى په مقابل کې دمهمو ابادیو پاتې شونې څرګندېږي چې په هغو کې په ډير شمير خښتي، دسنګ مرمر لويې اوپېړې لوحې استعمال شوى دى، تر کومه ځايه چې ددیوالونو او تهدابونو بقاياوې څرګندېږي يوه ورځ په دې سيمه کې ډيرې مهمې ابادى موجودې وې چې له هغې جملې ديوالونو څخه ديوې ودانۍ ديوال په لويو تراشلو خښتو دغره په بغل کې په تورو کانو سره تر نظره کيږي او چارچاپيره يې دنورو ابادیو حکم کوي ددې ابادۍ په ښکتنۍ برخه کې يوه لويه هديره موجوده ده چې لمنه يې دپيچ په دره کې يو نيم کيلو متر اوږده ده او په ډيره پيمانه مرمري لوې خښتې ، مرمري لويې ستنې ښکلى نقش کړاى شوى سرطاقونه هم تر نظره کيږي.

په ظاهري توګه دابادیو بقاياوې ددېرو لوحو له مخې او دعربي او فارسۍ رسم الخط له مخې ديوشمير نومونو لکه ابن عمر، سلطان پکل، بهرام شاه، حيدر علي، ننګر اونورو له مخې داسې اټکل کولاى شو چې ددې ځاى ابادۍ تر اسلامي دورې او هغه هم داسلامي دورې منځنۍ وخت وې ځکه چې ديو شمير نيټو له مخې قوى اټکل کولاى شو او ددې منطقې دابادیو مبدا ته ۶۰۰ کالو دمخه وړاندې بيولى شو او دا حدس مورې دچنګيز دوارثينو چغتائي دورې ته رسوي اود (چغان غونډۍ) دځاى نوم ياد چغان سراى دعامه فوکلور تر ډيره حده ددې نظريې ملاتړ ښکاري. البته له فولکلوري کيسوپرته دچغتائي شهزادګانو رسيدل او وتل دمحلي شهزادګانو چې دمخه تر مغلو يې پدې سيمه واکمني درلوده هم څرګندېږي، لکه څنګه چې وايي په پخوانيو وختونو کې دلته دننګرهارشاه په نوم بو پاچا واکمني درلوده دوه تنو قعلي شهزادګانو سلطان پکل او بهرام شاه يې دواکمنۍ پر ساحه يرغل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا فلکلوري کیسې او تاریخي ارزښت دې په خپل ځای وي د اوس له پاره تړې یوه نتیجه اخلو او هغه عبارت له دینه دی چې دمخه تر مغلو دچنګیز لمسیانوپه چغان غونډۍ کې نورې ابادۍ درلودې او په مهمه سوق الجیشي نقطه دکونړ ددرې په منځ کې دنورستان په یوې مهمې لورې نقطې پخپله ددې حکم کوي چې په پخوانیو لمنو کې دې نورې ابادۍ ولري.

بابر په خپل توزک کې وایي چې په چغه سرای کې دفتوحاتو په مهال دنورستان کافر په داسې حال کې چې دشرابو مشک به یې په غاړه کې وۀ ددې منطقې دخلکو مرستې ته راتلل. دډنمارکي هیئت دخلکو پیژندنې دتحفظاتو په اساس له احتمال نه لیرې ندی چې لوی سکندر کونړ ته دتیریدلو پر مهال دکونړ ددره پیچ دتلاقي په برخه کې یو لویې کلی اویا هم دنورستانیانو یوې جنګي کلاته اور ورته کړی دی.


په دې غالب ګمان کیږي چې دسکندر مقدوني په زمانه کې په همدغه ځای کې چې نن دچغان پۀ غونډۍ کې خرابې واقع دی او دنظامي کلا دپاره یوه ممتازه منطقه شمیرل کیږي یوه کلا وه چې دنورستانیانو نیکونو دوه زره څلور سوه کاله دمخه په همدغه منطقه کې له لوی سکندرسره پنجه وهلې ده او بلاخره یې دادمقاومت قرارګاه ته اور ورته شوی دی

نود (چغان غونډۍ) یا (چغان سرای) دمخه نر دې چې پدې نوم مشهوره شي مهمه ابادي اوموقعیت درلود او هغه لرغوني ټومونه چې په غرونو کې په ورانو کلاګانو اینبودل شوي دي ددې نظریې څرګندې کوي. یوه ورځ به علمي هڅې دې افکارو ته قطعي اویو پلوي ځوابونه ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

PROPERTY OF
ACKU
10838



د دې اثر د ژباړن نور چاپ او ناچاپ آثار

بديع او پښتو شعر		۱۳۷۰هـ ل چاپ
وروستۍ سلګۍ	د لنډو کيسو ټولګه	۱۳۷۱هـ ل چاپ
رژېدلي ګلونه	د شعرونو ټولګه	۱۳۷۱هـ ل چاپ
نومیالی غازي محمد شاه خان بابکر خېل		۱۳۷۳هـ ل چاپ
افغانستان د تاریخ په رڼا کې	همدا اثر	۱۳۸۰هـ ل چاپ
د جهاد خاطرې		ناچاپ
د پښتو ادب کې د ولسي شاعرۍ ارزښت		ناچاپ
د پښتو بیان او معاني		تر لیکنې لاندې
د لغمان مشاهیر		تر لیکنې لاندې
د افغانستان د ولایتونو جغرافیه (ژباړه)		۱۳۷۹هـ ل چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانش خپرندويې ټولنې خپاره کړي:

- تاریخ احمد شاهي
- افغانستان در قرن بیستم
- تاج التواریخ- پښتو
- د افغانستان سقوط
- سقوط افغانستان
- در افغانستان چه میگذشت؟
- افغانستان سیتج بازی بزرگ
- د افغانستان لنډ تاریخ
- تاریخ مختصر افغانستان
- خسارات وارده به فرهنگ...
- شبخون افغان
- در زوایای تاریخ معاصر...
- رجال و رویداد های تاریخی...
- بازی بزرگ
- افغانستان سرزمین اریا
- افغانستان د تاریخ په رڼا کې
- جریانات تاریخی افغانستان
- نقد بر جلد دوم مسیر تاریخ...
- خاطرات حکیم طبیبی
- اسنا دونامه های تاریخی...
- سړې لښکرې په افغانستان کې
- افغانستان څنګه تباه شو؟
- د مرګپر وزرو
- سوځېدلی جنت
- احمد شاه بابا دیوان
- احمد شاه بابا افغان
- د الفت شعري کلیات
- د الفت نثري کلیات
- غرغښت یا ګرشاسپ
- تاریخ خط و نوشته های کهن
- روسیې پراختیا غوښته او ...
- سیمای سینمای افغانی
- میتود های کلینکی طبی

- ګلزار لطایف
- جنسی اړیکې
- رازی راکه نمیخواستم افشا کنم
- د پښتو ادبیاتو تاریخ
- یاداشتهای من
- مدعا و مثل در شعر بیدل
- داود خان د کی.جي.بي په ...
- فن زناشوی
- د ښاپیرۍ ورغوی
- له نرګسه تر نرګسه
- خوږې خبرې
- پلوشې، ژورلیدونه
- افغانستان از جنگ گرم تا جنگ...
- ضرب الامثال و کنایات
- یکدسته ګل
- ستوري د ادب په اسمان کې
- افکار جاوید
- اهنګهای احمدظاهر
- اهنګهای ساربان
- اهنګهای ناشناس
- د خزان طلایي پلونه
- سپوږمی په ځنګل زار کې
- ولسي سندرې
- محمد نور ولسي شاعر
- پاتې شه باران دی
- شین تاغی
- ګټیالی
- ګلستان سندره
- د غزني شابهار او بودایي هنر
- شریک بالاپوش
- کوچیانی پانګه
- منشور کره کتنه
- او نور...

۰۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library